قُدُوری

پښتو

جلد ۲ حصّہ

مصنف

مولانا محمد عبید اللہ الایوبی

القندھاری السلیمانخیلی الحنفی

نظرثانی

مولانا نثار احمد عریف

ترتیب وسرورق

فضل الحق حقانی

فاضل وفاق المدارس ملتان

مکتبۃ القراءۃ والتجوید

کانسی روڈ، شالدرہ، کوئٹہ

فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ مِّنَ النِّسَاءِ مَثْنٰى وَثُلٰثَ وَرُبٰعَ (القرآن)

نکاح قدوری

مولانا الحاج علامه

مُحَمَّد عُبَيْدُ اللّٰه

الايوبي القندهاري السُّليمانخيلي الحنفي

الناشر

مَكتَبَةُ اَلقِرَاءَةِ وَالتَّجوِيد

كانسي رود شالدره كوئته

د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم ——— نکاح قدوري پښتو جلد ۲ حصه ۱

د مصنف نوم ——— الحاج علامه زمان محمد عبيد الله ايوبي قندهاري مدظله العالي

کمپوزر ——— حبيب الحق حقاني

خپرونکې اداره ——— مکتبة القراءت والتجويد کاسي روډ شالدره کوئټه

کچه ——— ۸۱۳۰۱۲۰

د سر ورق ليکونکي ——— محمد فضل الحق حقاني

خبر تيا

د نکاح قدوري د دوهم جلد دوهمه حصه به هم د همدې مکتبې له خوا څخه په ښه خط، ښه کاغذ، او ښه چاپ سره ومينه والو ته ډېر ژر وړاندې سي

خبر تيا

د همدې مکتبې له خوا د فقهي حنفي يو معتمد کتاب،، **آسانه فقه**،، هم وچاپ ته وسپارل سوه مينه وال دي له خپلې نژ دې کتاب پلورنځيو څخه تر لاسه کړي



الله تعالى لره دي حمد وي، او رحمت کامله دي وي د ده پر آخري استاذي حضرت محمد ﷺ او د ده پر ملګرو باندې کوم چې تر مونږ او د دنيا تر کونج کونج پورې يې د اسلام سپېڅلی قانون ورساوه، او د دنيا توري تيارې يې په رڼ صبا سره بدلي کړې، او مونږ ته يې د حلال او حرام اوامر او نواهي راورسول.

محترمو مسلمانانو! دا يو سرګند حقيقت دي چې هيڅ کله ترې سترګې نه سي پټېدلای، چې د نکاح، طلاق، شدې رودلو، او د دي په مثال ډېر داسي بحثونه دي چې عام وګړي د هغو په شرعي حيثيتونو ناخبره دي تر داسي، چې ډېر ځله يو سړی څو واره په خپلو خبرو، معاملاتو کې قسمونو خو لاڅه څو څو طلاقونه اخلي، خو دی په دې خبر نه وي چې دا طلاق په شريعت مطهره کې څه حکم لري، نبي کريم ﷺ فرمايي:- په حلالو شيانو کې هغه زيات د بغض او غضب شی د الله تعالى ﷻ په نزد طلاق دي، خو ډېر ځله يو وګړی وخپلې ښځې ته څو څو طلاقونه ورکړي خو بيا هم د هغې سره يې ازدواجي معاملات برقراره وي، او بيا چې يې بچی وسي نو د حکم نه منلو په صورت کې بيا وايي، زوی مي په خوله نه کوي.

آن تر دې چې زمونږ په معاشره کې څو څو واره طلاقونه زمونږ په خبرو اترو کې د مجلس يوه شېرينه او خوږه مشغله ده، او سره د دې چې د داسي الفاظو څخه د خاوند او ښځې هغه خوږه مينه او محبت د شريعت

په رښا کي د فرقت او جلاوالي سبب وګرځي.

زه د **حضرت علامه عصر مولانا محمد عبيد الله ايوبي سليمان خېلي کندهاري** ډېره زياته مننه او شکريه اداکوم چي ده پر دې موضوع باندي قلم پورته کړ او مسائل د فقهي يې ښه په وضاحت سره وليکل.

هيله لرم چي دې کتاب ته به يې ولس د ډېر قدر په سترګه وګوري او ځان به د داسي کارونو او خبرو اترو څخه وژغوري کوم چي شريعت مونږ ورڅخه منع کړي يو، خداي پاک ﷻ دي د ده دا سعيه قبوله وګرځوي، الله تعالى دي ورته صحت کامله ورکړي تر څو په همداسي سليسه او عام فهمه پښتو کښي زمونږ د وطن اولس په قرآن مجيد او د هغه په تفسير پوه کړي، او د ژمني سره سم " **تفسير ايوبي** " ټول افغان اولس ته تحفه کړي . آمين.

والسلام .

فضل الحق حقاني

مدير مکتبة القراءت والتجويد کوټه

د طبع اعلان

د دې کتاب د طباعت، کتابت، نقل، يا عکس اخستلو ټوله حقوق د مکتبة القرأت والتجويد سره محفوظ دي، د دې قانوني رجسټريشن پر نامه د مکتبة القرأت والتجويد اخستل سوي دي. قانونا اخلاقا هيڅ څوک د طباعت، کتابت، نقل، عکس اخستلو په هيڅ لوي يا کوچني سائز کي نه لري ورنه نرمه واري يې پر خپله غاړه ده

شمس الحق شمس چلونکي د مکتبې

﴿الحمدلله والصلواة على من اصطفى من عباده﴾

﴿پس له حمد او له صلاته﴾ ﴿دارنګ وايم زه وتاته﴾

﴿چي طلب د علم فرض دي﴾ ﴿لازم سوي لکه قرض دي﴾

﴿په پښتو به دين بيان کړم﴾

﴿ستا دپاره بې آسان کړم﴾

(رشيد بيان)

بيانيه فائده

پوه سه:- چي ما عاصي د قدوري اوله حصه تر عباداتو تر اختتامه پوري څو کاله دمخه په پښتو وطني ژبه سره په ښه په زړه پوري تفصيل سره (حتي المقدور) ترجمه او شرح کړې وه، په صحيح نقل د کتابو څخه د مذهب حنيفي، او هغې شرحي دونه لوي مقبوليت په پښتنو ورښو او خوندو کي پيدا کي چي د وقت څخه د چاپ تردې اوسه پوري تخميناً لس زره نسخې چاف سوې دي او هر ځاي چي پښتانه وروڼه او خوندي استوګنه لري تر عربستان تر امريکا تر لندن وغيره ممالکو پوري دا تحفه بې بها او عروس زيبا ورسېده، او د هر ځايه څخه وعاصي ته (احسنت) او ډېر ښه پيغامونه راورسېده حتي که زه هغه مفصل ليکونه ګرده درج کړم ورقي به ډېري په بر کي ونسي، نو پس له مقبوليت د اول جزء شرحي شفاهي او تحريري ليکونه راورسېده چي د نکاح او طلاق وغيره مسئلې هم ډېري دقيقې دي او که ده علماؤ سر په خلاصيږي، خو

عوام الناس که څه ليك لوست يه زده وي مستقيماً د هغه مسئلو څخه بې برخي پاته دي او دوي په دغو کي مسئوله ملايانو ته رجوع کوي او د عوامو دا خيال دي چي ده مساجدو امامان په دغو مسئلو خبر دي او په حقيقت کي داسي نه ده.

پوښتنه:- د نکاح او طلاق وغيره مسائل خو د فقهي شريفي په اوليه کتابو کي موجود دي لکه قدوری، کنز، مختصر وغيره؛ نو څرنګه يو عالم څندي بې برخي کيداي سي؟

ځواب:- دا اوليه کتابونه خو پر ټولو جزئياتو دمسائل مذکوره وو نه دي مشتمل بلکه د مفصل بيان د پاره د دغو مسئلو د جزئياتو شروح مجلده او فتاواوي معتبره سته چي هغو ته د هر امام المسجد رسيدګي نسي کيداي او علاوه د قدوري او کنز مثلاً، کماحقه فهم، تر ډيرو افهامو لوړ دي.

سوال:- چونکه د اول جلد د قدوري د پښتو ژبي ډير کلونه کيږي؛ نو ولي تا کتاب النکاح تردې اوسه څنډولې وه، او د دونه قدر تاخير وجه څه ده؟

ځواب:- چونکه بعض خواهش مندان په دوران کي د دغه تعطل نور کتابونه وبنده ته پيش کړي دي؛ نو د هغو د مشغوليت له کبله د کتاب النکاح پښتو کولو شرحه د تعطل بنکاره سوه مثلاً، ددغه تعطل په دوران کي عاصي (شروط الصلواة) پښتو کړي او هم مي په عربی ژبه (البلاغ المبين في بيان منهيات الدين) تصنيف کړي او علاوه پر هغه پر خيالی باندي يې لويه حاشيه تر پايه پوري وکړه چي د خيالي تر مقام درس وروسته مي پر بياض د خيالي يوه رساله چي محتوی ده پر ټولو جوابو

د وهابيانو تحرير کړه چي نوم يې "سيف القندهاري علي عنق الوهابی" دي، او بل په دغه دوران کي يوه مفصله په پښتو ژبه "نور الايضاح" فتاوی مانده چي درې جلده ده او هر جلد يې پنځه سوه (٥٠٠) صفحې دي تصنيف کړه چي د هغې شرح دوه (٢) جلده د جناب قاری فضل الحق حقانی صاحب په کتابت دل پذير چاف سوي دي او دريم (٣) تر نوشته د کاتب مذکور لاندي دي چي هغه به هم ډير ژر ان شاء الله تعالي د نوشته څخه خلاصه او ده طبع څخه به راووزي، هم دغه وو سبب د تعطل د شرحي د کتاب النکاح د قدوري او په عين دغه اوس وخت کي پښتو کول د کنز الدقائق د اولي حصې هم تر تحرير د عاصی لاندي دي والله الموفق.

بعيت

غرض نقشيت کزما ياد ماند — که هستي رانمي بينم بقائي
مگر صاحبدلي روزي برحمت — کند در حق اين مسکين دعائي

ابيات

الهی يا الهی يا الهی — نه دارم جز اميدت تکيه گاهي
ندارم طاعت مقبول درگاه — بجز اشک ندامت آه آهي
ندارم توشئه راه قيامت — بجز شرمندگي وروسياهي
بحق وحرمت فرقان اعظم — مرا از ذنب خودکن عذر خواهي
شفيع اورده ام روئي محمد ﷺ — کرم کن برمن گم کرده راهي

مقدمه

پوه سه:- چي خداي جل شانه وايي ﴿نساء کم حرث لکم فاتوا حرثکم انی شئتم﴾

ترجمه:- ستاسي ښځي يعني ماينې د کښت ځاي دي تاسي لره، پس تاسي ورځي ودوي ته پر هر کيفيت چي وي.

فائده:- په دې آيت مبارک کې خداي ﷻ ښځې مشابه کړې دي د کښت د مځکو سره يعني لکه په مځکو کې چې دانې د غنمو وغيره کرل کيږي په اميد د حاصلاتو دغه رنګه ده ښځو په رحمو کې توئيږي نطفې د نرو چې هغه په مثال د دانو د کښت دي په اميد د اولاد چې هغه لکه حاصلات د مځکو دي، اشاره ددې آيت څخه دا معلومه سوه چې لواطت دمايني سره ناروا دي، ولې دکښت ځاي خو د مخ خوا دښځې دي يعني فرج دهغې، نه ده شا خوا د هغې يعني کونه ددې.

فائده:- د تعميم د، انّى شئتم، معنا داده چې په ولاړې کار ورسره کوي او که ستوني ستخ يې پرې باسي کار ورسره کوي که د شا د خوا څخه کار ورسره کوي لکن په فرج کې ددې، نه په کونه کې.

فائده:- په دې آيت کې دا اشاره هم راغله چې په جماعو کې د مايني دي صرف او صرف قضاء شهوه ده سړي اراده نه وي بلکه قصد به يې طلب ده اولاد وي، لکه په کښت کرلو کې، علم طب وائي چې ښه طريقه د جماعو داده چې مايني دي ستني ستخ پرې باسي او پښې دي ورتولي کړي او بيا دي يو ګړي خپل ذکر په دالان کې د فرج ددې وښوروي حتي چې ددې سترګې سرې سوې او زنګنونه يې لوړ کړه، نو پوه سه چې ددې شهوت په جوش راغلي، نو په دغه وخت کې ذکر توله ورننه باسه او پر ځيګر ددې ډير زور مه کوي بلکه د کوني پر خوا يې زور وکړي او ښځه دي ښه په ځان پوري ټينګه ونسي او که سړي انزال سو هم دي ذکر نه ځندي راکاږي څو پر دې اودس اوړي، ددې د انزال علامه داده چې انداموني يې ايله سي، او بيا دي پوراً ذکر ځندي راوباسي او ښځې ته

دي ووايي چې پر رسته اړخ واوړه؛ نو که خداي جل شانه په دغو جماعو کې ودوي ته اولاد ورکاوه عيال به نر وي.

فائده:- که سړي داغوښته چې عيال ماته په رنګ سوي وي يعني ماينه يې بدرنګه وه مثلاً، نو دي دي کوښښ وکې چې تر ماينې د مخه ځان انزال کړي او که يې داغوښته چې عيال مي وه ماينې ته په رنګ سوي وي يعني دي بدرنګه وو، نو دي دی ماينه د مخه انزال کړي.

دروښ وايي:- چې دا اشارات طبيبه د احادثو نبويه سره صراحةً سمون لري.

پوه سه:- چې تعميم د انّى شئتم، د پاره د بيان د جواز او د پاره د فراخ کولو د امر د جماعو پر مړو باندي دي، ولې ګاهې د نرو يوه قسم جماعو ته زړه غواړي ګاهې بل قسم ته (ولله الامر جميعا).

قال الله ﷻ﴿تعالى فانكحوا ماطاب لكم من النساء مثنى وثلاث و رباع فان خفتم ان لا تعدلوا فواحدةً﴾ الاية.

ترجمه:- پس تاسي په نکاح کوي چې تاسي ته شرعت حلالوي د ښځو دوي دوي (۲) او دري دري (۳) او څلور څلور (۴) اوکه تاسي ببرېدلاست پردې چې زه به په مابين کې د متعددو عدالت ونه کړم، نو بيا يوه ښځه په نکاح کړه.

پوه سه:- که ده سړي شهوت ډير وو حتي چې پر ځان يې د زنا يا لواطت بيره درلوده، نو که يې د مهر او ساتني وس درلودي، نو پر هغه سړي نکاح واجبه ده او که يې طاقت نه درلودي، نو دي نفلي روژې ډيري نسي په حديث صحيح کې راغلي دي چې عليه الصلوٰة والسلام خوانه طبقه د خپل امت مخاطبه کړه چې، اې ډلې د ځوانانو د چاچې طاقت وي د نکاح کولو هغه دي نکاح وکړي او که څوک طاقت د نکاح

نه لري هغه دي روژې نسي ولي چي روژې دده لپاره لکه خسي ګرت دي، او که سړي معتدل الحاله وو، يعني پر ځان نه بيريدي د زنا او لواطت څخه او وس يې درلودي د هغه سړي د پاره نکاح کول سنت ده، په صحيح حديث کي راغلي دي چي نکاح يو سنت دي زما د سنتو څخه نو څوك چي مخ اړه وي زما د سنت څخه هغه زما د طريقې سړي نه دي، او په بل حديث صحيح کي راغلي دي چي ټوله امت يې مخاطب کړي دي، چي تاسي نکاح کوي او نسل ډيره وي ولي چې زه فخر کوم په تاسي په ورځ د قيامت يعني ستاسي په ډېروالي سره پر نورو امتو.

پوښتنه:- که د سړي دا خيال وي چي که زه نکاح وکړم، نو زه نفلي عباداتو ته نسم فارغه کيداي ولي چي په نفقه پيدا کولو سره به اخته يم او که نکاح نه وکړم او پر ځان هم نه بيريږي، نو به زه ډير ډير نفلي عبادات کوم کومه خوا يې افضله ده؟

ځواب:- نکاح کول يې افضل دي په نيزد د امام الاعظم رحمة الله عليه ولي چي نکاح کول د نژدې تير سوي حديث سره برابر دي او امام شافعي رحمة الله عليه وايي چي تخلي د پاره د نفلي عباداتو افضل دي او بل دليل د مذهب حنيفي دادي چي نکاح کول طريقه ده د ټولو انبياء عليهم الصلوٰة والسلام ده، د وخت څخه د آدم عليه السلام الي زمان محمد عليه السلام په استثناء د يوه نبي صلى الله عليه وسلم.

پوښتنه:- چي په نکاح کي هم معني د عبادت سته کمامر، او هم معني د معاملې ولي چي مهر پکښې لازم دي او که سړي ته دا په دلائلو سره ثابته سوه چي زه عنين يم بيا نکاح کول ورته حرام دي، د عنينيت دليل بيله ناروا کولو دادي چي تصور د جماع په دې سړي کي آله

انتشار هيڅ نه کاوه، نو غالبانه چي څو واره دا تجربه وکړي عنين دي او که يې آله خو آنتشار وکړي، او يو ګړي وروسته مذي خارج سوه او آله يې انتشار پرېښو، دا بله علامه د عنينيت ده، نو هم دغه معني د دې قول د سعدي شيرازي رحمة الله عليه. مردي را بيازماي باز زن کيد، لاما فهمه بعض الناس.

پوښتنه:- چي په خوب کي اودس پر اوښتل علامه د صحت نه ده.

فائده:- بعض کسان د مخه تر واده په دليل مذکور علامه د عنينيت نه وينې لکن چي واده وکړي او د ماينې سره يوځاي سي دا مرض محسوس کړي، نو که يې آله هيڅ انتشار نه کاوه ددې اسباب څو دي، يو دا دي چي ماينه پر مشره وي وده ته دهشت پېښ سي يعني سام پرولويږي، نو آله انتشار نه کوي، بل سبب دا دي چي د ماينې په سبب د بدرنګي دده يا ډيره ځندي کشره وي او د ميړه څخه يې بد راځي هم آله انتشار نه کوي، او که داسي وو چي آله خو به يې منتشره سوه لکن چي ماينې ته به دجماعو دپاره ورنږدې سو قبل الدخول به اودس پر واوښتي دا مريضي ده چي په نامه ده "سرعة الانزال" يادييږي، نو دوا دي وکي او کېداي سي چي يو چا دئ په سحر سره دماينې څخه بند کړي وي چي دې ته محبوس وايي، ددې علاج په دوا نه کيږي د يو عامل سړي څخه تعويز، څانښت واخلي چي د محبوس د پاره قسم قسم اعمال سته چي په "کتاب الرحمة فی الطب والحکمة" چي د علامه جلال الدين السيوطی رحمة الله عليه تصنيف دي، موجود دئ لکن مشکل دئ.

انجير خوردن نه کار هر مرغيست وګفته اندنه هرکه سر بتراشد قلندري داند.

فائده:- هر څو چي سړی خداي ﷻ ته په اذکارو او عباداتو سره نژدي کيږي مردانګي قوت ډيريږي، وهذا هوا السر فی کثرة ازواج الانبياء عليهم الصلواة والسلام" د دې سره په پوهيدو سره دعوام الناس ډيري شبهې د ځوي د زړو ووتې. فافهم وتذکر.

مسئله:- اسقاط د حمل د ښځي خو حرام دي، ولو من الزناء اما که چيري يوه ښځه ناجوړه وي او يا کال په کال لنګيږي، او د عيال تېر و بېر نسي کولاي او ژوند يې ډېر سخت وي، نو دا او ميړه په مشوره دا کار وکي ورته جواز لري چي د يو څو کلو د پاره حمل بند کړي په ډاکټري دواوو سره لکه په ننی زمانه کي دغسي امکانات ستة.

مسئله:- د دې د پاره منصوبه بندي کول يعني عيال راوړل بندول چي عيال چي ډېر سي نو د کمي خوا به روزي ورته برابريږي دا ناجائزه ده ولي چي رازق مطلق خداي ﷻ دي "رزق من يشاء بغير حساب" او دا کار خلاف د هغه حديث نبوي ﷺ هم دي چي وايي "تناکحوا و تناسلوا فانی اباهی بکم الامم يوم القيامة ولو بالسقط او کما قال النبی ﷺ" او په اول صورت کي چونکه عذر وو نو په قرار د قانون فقهي، الضرورات تبيح المحظورات بندول د عيال د څو کالو د پاره جائز دي يعني امتناع د حمل څخه په نيز د ضرورت مذکوره رواه ده. فاعرف الفرق.

کتاب النکاح

دا کتاب دي په بيان کي د نکاح، په درمختار کي وايي چي مور لره داسي عبادت شرعي نسته چي د زماني څخه د آدم ﷺ بيا تر اوسه، او بيا په جنت کي هم وي بيله ايمان او نکاح.

پوه سه:- چي د نکاح د لفظ په معني لغوي کي ډېر لوي اختلاف دي صاحب الصراح وايي چي نکاح ((بکسرالنون مجامعت کردن وعقد زنانشوي کردن آه)) يعني نکاح جماعو ته وايي او عقد ته د ماينې والي او ميړه والي هم وايي، نو بعض اهل لغت وايي چي لفظ د نکاح مشترک لفظي دي په مابين کي د جماعو او عقد، او بعض وايي چي لفظ د نکاح حقيقت دي په عقد کي مجاز دي په وطي کي او دا مذهب د امام شافعي رحمة الله عليه دي، بعض اهل الاصول او بعض فقهاء وايي چي لفظ مذکور حقيقت دي په وطي کي، او مجاز دي په عقد کي او دا مذهب دي د ډېرو مشائخو د حنيفيانو رحمة الله عليه او بعض مشائخ زمور وايي چي د لفظ د نکاح معني ضم يعني جوت والي دي.

درويش وايي:- چي ددې مذهب او د مخني مذهب کوم منافات نسته ولي مطلق ضم عام دي او د جماعو ضم دده فرد دي. ((وقد تقرر فی کتب علم البيان والمنطق ان اللفظ الموضوع الاعم حقيقة فی کل افراده من حيث هو فرده يعنی لامن حيث الخصوصية)) لکه لفظ د انسان چي موضوع دي د پاره د حيوان ناطق، نو دغه لفظ په زيد او عمر وغيرهما کي هم حقيقت دي، نو پر دې تقدير لفظ د نکاح مشترک معنوي دي، مجمع الانهر مع زيادة.

او صاحب جوهره وايي چي صحيح داده چي الفظ د نکاح حقيقت دي په وطي کي او مجاز دي په عقد کي، من قبل اطلاق اللفظ الموضوع للمسبب علی سببه، ولي چي عقد سبب دي شرعاً د پاره د جواز د وطي او پر دې خبره صاحب جوهره دا دليل ويلي دي چي خداي ﷻ وايي" ولاتنکحوا مانکح ابائکم من النساء" وجه داستدلال يې داده چي په دغه آيت کي حتماً جماع مراد ده ولي معقوده د پلار خو يا مور ده يا ميره د هغې نکاح کول زوي لره په

نورو آيتو سره حرام ثابت دي؛ نو دا آيت په باره کي د هغه مينځي د سړي دپلار دي چي پلار به وطي ورسره کړي وي؛ نو زوي ته يې نکاح ناروا ده. انتهى بحاصله مع زيادة.

دروېش وايي:- چي دا آيت خو پر تقدير د اشتراك معنوي هم جوړيږي، كما لايخفى وقد تقرر فى كتب الحكمة انه اذا جاء الاحتمال بطل الاستدلال.

او بل دليل يې دادي چي په حديث شريف کي راغلي دي چي (لعن الله ناكح البهيمة) په دې حدث شريف کي خواه ماخواه وطي مراد دي ولي چي عقد د بهيمې خو ممكن نه دي.

دروېش وايي:- (وفيه مامر من الاعتراض كما لايخفى ولصاحب الجوهرة ان يقول) چي مراد په دليل کي اراده د وطي ده په مذكوره آيت او حديث کي بېله قرينې او شك نسته چي پر تقدير د اشتراك معنوي، لابد من قرينة على ارادة فرد معين كما تقرر فى مقره.

او صاحب الكنز وايي چي لفظ د نكاح په شرع شريفه کي ملك دي د متعې قصدا يعني بېله ملك د رقبې فلايرد السوال بالامة.

قال القدوري رحمه الله "النكاح ينعقد بالايجاب والقبول"

او نكاح غوټه کېږي په ايجاب او قبول سره.

پوه سه:- چي ايجاب هغه اولي خبري ته وايي كه د ميړه د خوا وسي مثلاً يو سړي وښځي ته يا وقريب ته د ښځي وويل چي ته زما سره نكاح وكه او يا ستا لور ماته په نكاح راكړه دا ايجاب بولي په دې سبب چي پر هغه بل طرف يې جواب واجب کړي يا په لايا په نعم سره، او يا ښځه سړي ته ووايي چي زما سره نكاح وكړه يا پلار د ښځي يو سړي ته ووايي

چي ته زما لور په نكاح كړه او قبول دجانب مقابل وجواب ته وايي يا په لايا په نعم سره، كذا فى حواشى الهدايه ومجمع الانهر وردالمحتار وغيره.

پوه سه:- چي د عقد معني غوټه کول دي د دوو شيانو اګرچه غوټه کول خو په محسوساتو کي حقيقت دي، لكن استعمال يې په نكاح کې د سبب د مشابهت دي، يعنى نر او ښځه د مخه تر نكاح ګويا لكه دوې رسۍ چې سره جلا وي او په غوټه کولو سره متصل واحد ګرځي دغه رنګه نر او ښځه په ايجاب او قبول سره متصل وګرځېده.

قال المصنف رحمه الله "بلفظين يعبر بهما عن الماضى"

او دا ايجاب او قبول به وي په دوو (۲) لفظو سره چي په هغه دوو لفظو سره تعبير کيږي د تېر سوي کار څخه.

پوه سه:- چي نكاح ان شاء د عقد ده، او وضع اللغت د انشاء العقد د پاره کوم لفظ نه دي وضع کړي، او انشاء د عقد په شرعه شريفه سره پېژندل سوې ده، په لغت کي لفظ د ماضي او مستقبل موجود وو، لكن چونكه لفظ د ماضي پر تحقق دلالت کاوه، نو ځكه يې لفظ د ماضي د پاره د نقل وه انشاء العقد ته تر مستقبل مختاره کي، بحر، رد.

فائده:- مصنف لفظين وويل ولي چي تلفظ د جانبينو څخه غواړي لكن على التوالى لكن په جوهره کي وايي چي نكاح ګاهى په لفظ واحد هم غوټه کيږي لكه د ښځي د اكازوي چي خپله د اكا لور غواړي، نو په حضور د شاهدانو چي ښځه هم حاضره وي داسي ووايي، تزوجت بهذه آه.

فائده:- مندوب داده چي نكاح دي په اعلان سره وي ولي چي په حديث کي د ترمذي داسي راغلي دي (اعلنوا هذا النكاح واجعلوه فى المساجد واضربوا عليه بالدفوف) تاسي اعلان کوي په نكاح سره او په مسجدو کي دا

عقد کوي، او تاسي پر وهي دريې لکن داسي دريې چي ږنګولې نه وي
ورسره، ردالمحتار.

او بل مندوب ده چي د مخه تر عقد نکاح دي خطبه وايي چي د علما
د طرفه ويل کېږي، او د جمعې ورځ ډېره ښه ده.

تبصره:- مندوبيت د عقد په مسجد کي په زمانه کي د عليه الصلو
والسلام وو، او اوس هم مندوب دي چي صرف الفاظ د عقد وي لکن
اوسنۍ زمانه کي خلګ په وخت کي د عقد النکاح ډوډۍ او غوښې
شير چائي او کلچې وغيره په طور د مهمانۍ راوړي، نو د داسي عقد
پاره مسجد مکروه دي بلکه په يوه کوټه يا سراى کي دي دا مهماني
عقد نکاح تر سره سي ولي چي مسجد د عبادت د پاره دي د اکل
شرب د پاره نه دي ماسوى د معتکف څخه.

مسئله:- د خطبې د نکاح د پاره کومه معينه خطبه خو نسته صرف
حمد وثناء دخداى ﷻ او درود او يو يا دوه يا دري آيته د قرآن کر
کفايت کوي اما هغه خطبه چي طحطاوي رحمه‌الله د حصن حصين څخه
قول د عليه الصلواة والسلام نقل کړې ده هغه ډېره ښه ده او هغه دا ده:
الحمدلله نحمده ونستعينه به ونستغفره ونعوذ بالله من شرور انفسنا وسيئات اعمالنا من يهدى الله
فلا مضل له ومن يضلل فلاهادى له واشهد ان لا اله الا الله واشهد ان محمدا عبده ورسوله.
ايها الذين آمنوا اتقوا الله حق تقاته ولاتموتن الا وانتم مسلمون. يا ايها الناس اتقوا ربكم الذى
خلقكم من نفس واحدة الى رقيباً. يا ايها الذين آمنوا اتقوا الله وقولوا قولاً سديداً يصلح لكم
اعمالكم. الى قوله عظيماً، در، ط، خص.

او دغه رنګه مندوبه ده چي عقد کوونکی د دواړو طرفو به ښه خلاص
ژبې سړې وي، نو د ښځې سره چي يو د نرو قريبانو څخه د دې نه وي د

به عقد نه کوي ولي په سبب د شرمه داخلاصي خبري نسي کولای چي
قريب يې ناست نه وي، او شاهدان د عقد به هم عادلان وي که شهود
فاسقان وه که څه هم زمونږ د حنيفيانو رحمه‌الله په نېز نکاح خو غوټه کېږي
لکن د امام شافعي رحمه‌الله د خلافه د ځان ايستو د پاره عدول شهود
مندوب دي، او د نکاح د پاره که څه هم سړی خپلي روپۍ نه لري خو
پور ورته کول مندوب دي ولي چي د دې پور د ادا ضمان پر خداى ﷻ
دي په ترمذي او نسائي او ابن ماجه کي حديث دي عليه الصلوة والسلام
وايي، ثلاث حق على الله تعالى عونهم المكاتب الذى يريد الاداء والناكح الذى يريد العفاف.
والمجاهد فى سبيل الله تعالى ذكره" دري کسه حق لري پر خداى تعالى ﷻ
يعنى په مقتضى د فضل او کرم ورنه پر خداي پاك هيڅوك حق لازم نه
لري د کومك، يو مكاتب مريي دي چي اراده يې وي چي د بادار د عقد
کتابت پور به ورکوم، او دوهم هغه نکاح کوونکي دي چي نکاح د پاره د
ځان ساتولو د زنا څخه کوي، او دريم مجاهد فى سبيل الله دي، او بل
مندوب دادي چي هغه ښځه چي سړی غواړي په نکاح پخپله ورته کتلای
سي که څه هم دشهوة بيره پر ځان لري، ردمحتار ج/۲/ص/۳۶۰.

او بل دا مندوب ده چي ښځه به تر مېړه کشره وي، يو سبب خو دادي
که ډېره مشره وي بيا ژر وچېږي د اولاد څخه، او بل سبب دادي که
ښځه مساوى العمره وي د مېړه سره او يا لږ مشره وى نو دوي يو او بل
نسي نازه ولای ښځه خو طبعاً د ټازولو د مېړه څخه شرمېږي، او نر هم
شرمېږي په سبب د برابري د عمر يا د مشرتوب د ښځى، نو د دوي د
ګذارې په باب کي خلل واقع کېږي، او دغه رنګه بايد ماينه تر مېړه
کمه وي د پلارګنۍ په شرافت کي، او دغه رنګه به کم وي پخپل کسب

کړي عزت کي، او په مال کي به هم تر مېړه کمه وي د دې سببه که ماینه تر مېړه په فوق الذکر شیانو کي بالاوي بیا د مېړه فرمان برداري نه کوي او د تحقیر په سترګو ورته ګوري، او چی ماینه تر مېړه په مذکوره شیانو کي کمه وي نو بیا د مېړه ډېر عزت او احترام ساتي او ډېر یې په خوله کوي، او دغه رنګه مندوبه ده چي ماینه دي تر مېړه په اخلاقو کي، په ادب کي، په ښایست کي، او په پرهېزګاری کي تر مېړه بالاوي تا چي پر مېړه ګرانه سي او د دې و خبره او ناز ته غوږ و نسي، در، رد، اختيار الزوجه للرجل

په بحررائق کي وایي چي په اسانه مرکه سره پیدا سي او تکلیف د ولور او د کور د کالو یې سپك وي او نکاح د باکرې ښځي تر کونډې ښه ده، په حدیث کي راغلي دي، علیکم بالابکار" پر تاسي لازم ده د باکرو ښځو نکاح، فانهن اعذب افواها" چي د دوي خولې خوږې دي تر کنډیانو، وانقی ارحاما" او رحم د دوي پاك دي، وارضی بالیسیر" او ښه خوشحاله کېږي په لږ شي ولي چي د باکرو مد نظر جماع دي چي دوي یې تر اوسه خوند نه دي لیدلی، او د کونډې شهوة خو فی الجمله سوړ سوي دي نو دا علاوه تر جماعو ښه ښه پېښني کالي غواړي او ښه خواړه، او سړی دي نه په نکاح کوي جګه ډنګره ښځه، او نه دي لنډه قامته ښځه چي ببخي لنډی وي، او نه دي ډېره چاغه لوي خېټې ښځه په نکاح کوي ولي یو خو د هغې جماع په سبب د لوي خیتې تکلیف دي او بل عیال یې ژر نه کېږي په سبب د چاغوالي، او نه دي بد اخلاقه ترینګلې ښځه په نکاح کوي، او نه دي داسي کونډه په نکاح کوي چي د زاړه مېړه څخه اولاد لري، او نه دي داسي ښځه په نکاح کوي چي کلان ساله وي، په حدیث شریف کي راغلی دي، سوداء ولود خیر من حسناء

عقیم" توره ښځه چي لنګېږي ښه ده تر ښائستې وچي ښځي، او که یې قدرت د حُري ښځي د نکاح درلودي مینځه دي هم نه په نکاح کوي ولي د ده عیال مریان ګرځي د مینځي د بادار د پاره او نه دي رنډی زناکاره ښځه په نکاح کوي، اختیار المرئة للزوج" ښځه باید د دینداره سړي سره نکاح وکړي، او بل چي اخلاق یې ښه وي، او بل غني او سخي وي او د فاسق سړي سره دي نکاح نه کوي، او سړئ دي خپل ځوانه لور وه سپین ږېري ته په نکاح نه ورکوي، او سړی دي خپلي پېغلي لور ته ښه زېور او کالي ورکوي چي مرکه والا یې ډېر سي، او چي کفو برابر سي لور دي د ډېر ولور د پاره سړی نه ځنډوي، ولي چي د ډېر ولور د سببه آخر کوټه نسي نو باره د ستی نوم پرکښېږ دي دا ګناه کبیره ده.

واقعه:- د یو کور علمی خاندان یوه پېغله وه چي خلګو به مرکې ورته کولې پلار یې ویله چي دا زما کفوه نه دي رفته رفته ښځه چي عمر یې ډېرې دي مرکې کمېدلې آخر هیڅ چا مرکه نه ورته کوله، آخر یې پر ښځه د ستی نوم کښېښوي، ښځه پاته سوه آخر ډېره معمره سوله او ناجوړې سوله نو قریبان یې پر راټول سول چي ستی بي بي موږ ته وصیت وکړه؟ ښځي ورته وویله چي زما دغه یو وصیت دي هغه پر ځای کړي، چي په کورو کي مو پېغله پیدا سوه کوشش کوي چي ژر یې مېړه ته ورکړي، دې وویله چي زما په دغه ۸۰ کاله عمر کي مېړه د زړه نه دي وتلي خو هر ګوره حیا راباندي غالبه وه او د ستی نوم راباندي بار وو.

قال القدوری" او یعبرو باحدهما من الماضي وبالاخر عن المستقبل مثل ان یقول زوجنی فیقول زوجتک.

او یا تعبیر کړه کیږي په یوه لفظ سره د ماضي څخه او په بل لفظ د مستقبل څخه لکه چې یو د نر او بنځي څخه ووایې ما په نکاح کړه که بنځي وویل، او یا زما سره نکاح وکړه یا ما میړه کړه که نر وویل، او هغه بل ورته وایي ما ستا سره نکاح کړې ده یا ته مي نکاح کړي یې، یا ته مي میړه کړی یې.

پوښتنه:- چې مراد د مستقبل څخه مستقبل نحوي چې مضارع ده نه دي ولي که هغه مراد وي خو هغه صرف یوه وعده ګرځي نو نکاح نه منعقده کیږي، بلکه مراد صیغه د امر ده، در، جوهره.

دلیل د غوټه والي په لفظ د امر او ماضي دادي چې امر هغه بل طرف وکیل په نکاح سره ګرځوی، او هغه بل طرف چې لفظ د ماضي استعمال کړي هغه پرځای د دوو لفظو ولاړ دي یعني توکیل قبول ته زما ماینه یې یا میړه یې یعني یو سړی په نکاح کي اصیل او وکیل دواړه کیدای سي.

پوښتنه:- په ټوله کتابو کي د فقي شریفي راغلي دي چې په عقد کي د بیع یو سړی یعني بائع یا مشتري اصیل او وکیل دواړه نسي کیدای نو د نکاح او بیع څه فرق دي؟

ځواب:- د فقي شریفي په ټولو شرحو کي د متون او په کتابو کی د فتاواؤ وایي چې فرق یې دادي چې ټوله حقوق د بیع و شراء راجع و وکیل ته دي مثلاً که د بائع وکیل وي تسلیم د مبیعی و مشتری ته پر وکیل دي مشتري په اصیل هیڅ کار نه لري، او اخستل د ثمن د مشتري څخه هم د وکیل کار دي وهکذا رد البیع بالعیب، او که د مشتري وکیل وو، ورکړه د ثمن او قبض د مبیعې هم د وکیل کار دي وهکذا نو که یو سړی هم اصیل سي او هم وکیل نو یو سړی به هم مطالب او هم مطلب

سي او دا ممکنه نه ده، او د نکاح حقوق ټوله راجع وه اصیل ته دي وکیل صرف سفیر دي په مابین کي مثلاً غوښتنه د ولور، یا ورکړه د ولور، یا د بنځي ودېده وغیره د وکیل کار نه دي نو که یو سړی هم وکیل او هم اصیل وي نو یو سړی مطالب او مطلب نه ګرځي، فلایلزم المحال وهذا هو الفرق الذي ذکره الفقهاء رحمهم الله باجمعهم.

پوښتنه:- په فقه شریفي کي وایي چې توکیل پر مجلس د عقد توکیل نه دي محصور، او سره د دې په صورت مذکوره کي د نکاح توکیل پر دغه مجلس محصور دي؟

ځواب:- دا خو توکیل مطلق نه دي حتی چې په ماوراء کي د مجلس هم پاته وای. لکه یو سړی چې بل ته ووایي ته زما وکیل یې ماته ماینه راوکړه، بلکه دا توکیل دي په ضمن کي د امر چې زوجني" دي نو داسي توکیل موقوف دي پر کولو د فعل مذکور په داغه مجلس کي، در، تب.

پوښتنه:- مصنف رحمه الله اول ماضي لفظ ووایه او وروسته یې مستقبل لفظ، او سره د دې چې په مثال کي مستقبل تر ماضي د مخه دي یعني زوجني" نو ولي په عبارت کي هم په دغه ترتیب نه ویله؟

ځواب: چونکه اصل په انعقاد کي د نکاح لفظ د ماضي وو کماعرف سابقا نو ځکه یې په عبارت کي ماضي د مخه کړه او په مثال کي خو ماضي د مخه کیدای نه سي لعدم التوکیل ح، فتدبر.

قال القدوری رحمه الله" ولا ینعقد نکاح المسلمین" او نه ټرل کیږي نکاح د مسلمانانو، پاته نکاح د کفارو سوه هغه د دوی په عقیده او مذهب پوري اړه لري نو که د دوي په مذهب کي بې شاهدانو نکاح روا

وه نو رواده يعني که دغه کفار اهل ذمه وي مسلمانان د دوي په عقد نکاح کي بېله شاهدانو مداخله نه سي کولای، در، فتح.

پوه سه:- چي په حضور کي د شاهدانو عقد کول يواځي او يواځي په عقد کي د نکاح شرط دي نه په بيع او شراء وغيرهما کي، په دليل د حديث د ترمذي، زنا کاري او رنډۍ ښځي هغه دي چي خپل ځانونه په نکاح ورکوي بېله شاهدانو، ولما روى محمد بن الحسن رحمه الله مرفوعا لا نكاح الابشهود" دا شرط والي د شاهدانو په وقت کي د عقد نتيجه داده چي که چېري نر او ښځي د نکاح عقد يو په يو سر وکړي لکن وروسته بيا دوی دوه کسه شاهدان خبر کړه چي مونږ خو نکاح سره وکړه دا نکاح نه ده صحيح، مګر هغه وقت صحيح ده چي په حضور کي د شاهدانو تجديد د عقد سره وکړي، كذا فى بعض الفتاوى.

مسئله:- په خلاصه او خانيه او بحر رائق کي وايي که نر او ښځي په شهادت د خدای ﷻ او د رسول ﷺ د نکاح عقد سره وکړي نکاح خو يې نه ده صحيح مګر دواړه کافران هم سوله، ولي چي د دوي دا عقيده ده چي رسول ﷺ په غيب خبر دي، مع ان الغيب لايعلمه الا الله.

الا بحضور شاهدين حرين بالغين عاقلين مسلمين او رجل وامرئتين" مګر نه په حضور د دوو کسانو شاهدانو يعني دا يې ادنى مرتبه ده چي دواړه به حر او ازاد کسان وي نو په حضور کي د مريانو نکاح نه غوښه کېږي کم کانوا، او دواړه به بالغ وي نو په حضور کي د کوچنيانو عقد نکاح نه دي روا، او دواړه به عاقل وي نو په حضور د ليونيانو نکاح نه غوښه کېږي، او دواړه به مسلمانان هم وي نو د کفارو په حضور کي نکاح نه ده روا، او يا به يو نر دوي ښځي وي.

پوه سه:- چي دا قول د مصنف رحمه الله حرين آه" د قسمه د ترقي د ادنى څخه د اعلى ته، فلا يرد انه ينبغى تقدم قوله مسلمين على باقى اشراط، در.

فائده:- د فقي شريفي په کتابو کي وايي چي شهادت په اصل کي نافذېدل دي د قول د شاهد پر بل باندي يعني المدعى عليه نو لهذا قول د مريي يا د نابالغه ياليوني يا د کافر پر مسلمانانو چونکه پر چانه چېرې نو دوي شاهدان د عقد نکاح نه سي ګرځېدلای، لامكان الاختلاف په مابين د ښځي او د مېړه په نکاح يا ولوور وغيره کي، فلابد من آداء الشهادة.

قال القدورى رحمه الله" عدولا كانوا او غير عدول او محدودين فى القذف" نو د نکاح شاهدان که عادلان او که غير عادل ويي او يا دوي ته حد قذف ورکړه سوی وي.

پوه سه:- چي قذف دادي چي يو سړی نر يا ښځي ته ووايي چي تا زنا کړې ده، او هغه بل څوک چي د دغه زنا نسبت ورته وکړي هغه د قاضي په حضور کي د ده څخه طلب د شاهدانو د زنا وکي او دي د شاهدانو څخه عاجزه سي نو قاضي د ته حد قذف ۸۰ درې ورکوي.

فائده:- مصنف رحمه الله چي محدود فى القذف جلا ذكر کړي سبب يې دادي چي د قذف په باره کي خدای ﷻ وايي، ولاتقبلوا لهم شهادة ابدا" نو د خلګو به دا خيال کيدی چي محدود فى القذف په نکاح کي شاهد نه سي ګرځېدای ولي چي مقصود د شاهدی څخه خو قبول دي په وخت کي د خصومت او اختلاف د مېړه او مايني نو د محدود فى القذف شاهدي خو په امر الهی نه قبلېږي نو د ده شاهد ګرځول څه فائده ده.

نو مصنف رحمۃ اللہ علیہ وايي چي محدود فی القذف خو اهل د تحمل د شاهدی دي ولي چي دی او يا بل فاسق چي مراد د غير عدل څخه دي اهل د ولايت پر خپل ځان دي نو پر بل چا هم اهل د ولايت دي ولي غير خو هم د ده د جنس څخه دي که څه هم دوی اهل د قبول د شاهدي په نېز د قاضي نه دي، الاتری ان الفاسق من اهل الامامت الکبری فیکون من اهل الشهادة بالاولی، تب، در، سس، هی.

او امام شافعي رحمۃ اللہ علیہ وايي چي په شاهدانو کي د عقد نکاح عدالت شرط دي، وتفصيل الدلائل في شروح القدوري، وشروح الکنز وغيرهما ولايناسب ايراد بحال المبتدی.

فائده:- عادلان شاهدان افضل او مستحب دي تر فاسقانو بدليلين، الاول فضيلة العادل علی الفاسق کما لايخفی، والثانی الخروج عن اختلاف الشافعی رحمۃ اللہ علیہ.

قال القدوری رحمۃ اللہ علیہ " فان تزوج مسلم ذمية بشهادة ذميين جاز عند ابی حنيفة وابی يوسف رحمهم الله وقال محمد رحمۃ اللہ علیہ لايجوز الاان يشهد بحضور شاهدين مسلمين"

او که چېري په نکاح کړه مسلمان کافره ښځه د اهل ذمه وو څخه يعني چي کتابيه وي ولي چي نکاح د مسلمان د مشرکي سره نه ده روا، نو دا نکاح روا ده په نېز د امام اعظم او ابو يوسف رحمۃ اللہ علیہ او امام محمد رحمۃ اللہ علیہ وايي چي دا نکاح نه ده روا، مګر هغه وخت روا ده چي دوه مسلمانان شاهدان وګرځوي.

پوه سه:- چي په دغه مسئله کي امام شافعی او امام احمد رحمۃ اللہ علیہ او امام زفر رحمۃ اللہ علیہ د امام محمد رحمۃ اللہ علیہ سره هم عقيده دي، کما قال العينی فی شرح الکنز.

پوه سه:- چی چونکه دا پښتو شرحه د نکاح قدوري صرف او صرف د پاره د مبتديانو او د عامو پښتنو ورنړو د پاره ده نو هغه دلائل چي د دوی تر فهم لوړ وي نه يې راوړم صرف حواله د کتابو ورکوم د پاره د خواصو طالبانو نو مذکوره مسئلې د دلائلو د فريقينو تفصيل په درمختار، هدايه، عينی، تبيين او نورو کتابو کي سته.

پوښتنه:- په مذکوره مسئله کي که چېري وروسته تر نکاح اختلاف د مسلمان مېړه او د ذمیه مايني راغلي نو د دوو (۲) ذمي شاهدانو شهادت به قاضي اوري او که څرنګه يعني پر مذهب د شېخينو رحمۃ اللہ علیہ.

ځواب:- که اختلاف د مهر په مقدار کي وو يعني ښځي د ډېر ولور دعوه کوله او مېړه منکر وو نو د دې دوو شاهدانو شاهدي به قاضي نه اوري، ولي چي کافر لره پر مسلمان شاهدي نسته، کما تقرر فی الفقه او که چېري ماينه د ملك متعې يعني د نکاح څخه منکره وه نو قاضي دي د دغو شاهدانو شاهدي قبوله کړي ولي چي دا شهادت د کافر پر کافر دي.

قال القدوری رحمۃ اللہ علیہ " ولا يحل للرجل ان يتزوج بامة ولا بجداته من قبل الرجال والنساء" او نه ده روا سړي لره چي نکاح وکړي د مور سره خپل او نه د اناګانو سره که اناګاني د نر د خوا وي يعنی د پلار د خوا لکه د پلار مور وان سفلت، او که د ښځي د خواه وي يعني د مور د خوا لکه د مور مور وان سفلت.

نو مصنف رحمۃ اللہ علیہ وايې چې محدود فی القذف خو اهل د تحمل د شاهدۍ دي ولي چې دی او یا بل فاسق چې مراد د غیر عدل څخه دي اهل د ولایت پر خپل ځان دي نو پر بل چا هم اهل د ولایت دي ولي غیر خو هم د ده د جنس څخه دي که څه هم دوی اهل د قبول د شاهدي په نېز د قاضي نه دي، الاتری ان الفاسق من اهل الامامت الکبری فیکون من اهل الشهادة بالاولی، تب، در، سس، هی.

او امام شافعي رحمۃ اللہ علیہ وايي چې په شاهدانو کي د عقد نکاح عدالت شرط دي، وتفصیل الدلائل في شروح القدوري، وشروح الکنز وغیرهما ولا یناسب ایراد بحال المبتدی.

فائده:- عادلان شاهدان افضل او مستحب دي تر فاسقانو بدلیلین، الاول فضیلة العادل علی الفاسق کما لایخفی، والثانی الخروج عن اختلاف الشافعی رحمۃ اللہ علیہ.

قال القدوری رحمۃ اللہ علیہ " فان تزوج مسلم ذمیة بشهادة ذمیین جاز عند ابی حنیفة وابی یوسف رحمهم الله وقال محمد رحمۃ اللہ علیہ لایجوز الاان یشهد بحضور شاهدین مسلمین"

او که چېرې په نکاح کړه مسلمان کافره ښځه د اهل ذمه وو څخه یعني چې کتابیه وي ولي چې نکاح د مسلمان د مشرکي سره نه ده روا، نو دا نکاح روا ده په نېز د امام اعظم او ابو یوسف رحمۃ اللہ علیہ او امام محمد رحمۃ اللہ علیہ وايي چې دا نکاح نه ده روا، مګر هغه وخت روا ده چې دوه مسلمانان شاهدان وګرځوي.

پوه سه:- چې په دغه مسئله کي امام شافعی او امام احمد رحمۃ اللہ علیہ او امام زفر رحمۃ اللہ علیہ د امام محمد رحمۃ اللہ علیہ سره هم عقیده دي، کما قال العینی فی شرح الکنز.

پوه سه:- چی چونکه دا پښتو شرحه د نکاح قدوري صرف او صرف د پاره د مبتدیانو او د عامو پښتنو ورنړو د پاره ده نو هغه دلائل چې د دوی تر فهم لوړ وي نه یې راوړم صرف حواله د کتابو ورکوم د پاره د خواصو طالبانو نو مذکوره مسئلې د دلائلو د فریقینو تفصیل په درمختار، هدایه، عینی، تبیین او نورو کتابو کي سته.

پوښتنه:- په مذکوره مسئله کي که چېرې وروسته تر نکاح اختلاف د مسلمان مېړه او د ذمیه مایني راغلي نو د دوو (۲) ذمي شاهدانو شهادت به قاضي اوري او که څرنګه یعني پر مذهب د شېخینو رحمۃ اللہ علیہ.

ځواب:- که اختلاف د مهر په مقدار کي وو یعني ښځي د ډېر ولور دعوه کوله او مېړه منکر وو نو د دې دوو شاهدانو شاهدي به قاضي نه اوري، ولي چې کافر لره پر مسلمان شاهدي نسته، کما تقرر فی الفقه او که چېرې ماینه د ملك متعې یعني د نکاح څخه منکره وه نو قاضي دي د دغو شاهدانو شاهدي قبوله کړي ولي چې دا شهادت د کافر پر کافر دي.

قال القدوری رحمۃ اللہ علیہ " ولا یحل للرجل ان یتزوج بامة ولا بجداته من قبل الرجال والنساء" او نه ده روا سړي لره چې نکاح وکړي د مور سره خپل او نه د اناګانو سره که اناګاني د نر د خوا وي یعنی د پلار د خوا لکه د پلار مور وان سفلت، او که د ښځي د خواه وي یعني د مور د خوا لکه د مور مور وان سفلت.

قال" ولا ببنة ولا ببنة ولده وان سفلت" او نکاح به نه کوي د لور سره، او د لور د اولادو سره د ده که څه هم کښته وي.

پوه سه:- چي ولد نر او ښځي دواړو ته وايي نو سړي ته د لمسی نکاح که د زوي د خوا وي او که د لور د خوا وي نه ده روا، لقوله تعالی حرمت علیکم امهاتکم وبناتکم الآیه"

سوال:- امهات خو په حقیقت کي مور ته وايي او انا ته مور مجازا ویل کیږي نو په آیت کي مور او انا دواړه څرنګه مراد کیدای سي چي په اُصول الفقه کي وايي چي جمع د حقیقت او مجاز ناروا ده، او دغه رنګه بنت خو حقیقة لور ته وايي او لمسی ته لور ویل مجاز دي نو په لفظ که د بنات خو هم جمع د حقیقت او مجاز راغله؟

ځواب:- مراد په آیت کي د امهاتو څخه مطلق اصول دي چي مور او انا دواړو ته شامل دي او مراد د بناتو مطلق فروع دي چي لور او لمسی دواړو ته شامل دي او ودې ته عموم مجاز وايي، کذا فی رد المحتار والعینی والرفر، والتبیین، وغیر من کتب اصول الفقه.

قال القدوری رحمۃ اللہ علیہ" ولا باخته ولا ببنات اخته واخیه" او نه ده روا نکاح د خور سره که د دواړو خواو یې خور وي او که یې فقط د پلار د خوا خور وي، او که یې فقط د مور د خوا خور وي، لقوله تعالی واخواتکم، او نه ده روا نکاح د لونړو سره د خور چي خور زېګاني یې بولي، او نه د لونړو سره د ورور چي ورېرېګاني یې بولي، لقوله تعالی وبنات الاخ وبنات الاخت.

قال" ولا بعمته ولا بخالته" او نه د روا نکاح د عمه سره چي د پلار خور یي ده یعني د هر طرف څخه چي وي، او نه د خاله نکاح روا ده چي

د مور خور یې وي د ده د هرطرفه څخه چي وي، قال فی الجوهرة وکذالك عمة الاب والجد وخالة الاب والجد حرامة" یعنی د پلار دعمه سره او یا د نیکه د عمه او د خاله سره د پلار یا نیکه نکاح حرام ده.

پوښه:- چي په تحریم کي د نکاح د مذکوراتو ښځو حکمت الهی دادي چي سړي باید اهانت او سپکاوي د خپلو اقرباؤو وه نه کړي، او ماینه چونکه د سړي لاندي په وخت کي د جماع پریوځي او دا غایت استخفاف دي کمالا یخفی، نو باید اقارب داستخفاف څخه وساتل سي.

قال قدوری رحمۃ اللہ علیہ" ولا بام امرئة التی دخل بابنتها اولم یدخل" او نه ده روا نکاح د مور د ماینې چي خوابنې یې بولي، هغه خوابنې چي د خول یعني جماعي یې د لور سره د دې کړي وي او که یې نه وي کړي، لقوله تعالی وامهات نسائکم" او د دخول قید خدای ﷻ نه دي ذکر کړي نو معلومه داده چي دخول په لور یې شرط نه دي بلکه په مجرد عقد نکاح د لور سره د خوابنې نکاح حرامه ده که څه هم لور یې قبل الدخول طلاقه کړي یا مړه سي لکن هلته نکاح د خوابنې حرامه ده چي د لور سره یې صحیح نکاح کړې وي، او که یې د لور نکاح فاسده وه بیا د خوابنې نکاح روا ده مګر که یې دخول په لور نه وو کړي، کذا فی الجوهره.

قال القدوری رحمۃ اللہ علیہ" ولابابنة امرئته التی دخل بها سواء کانت فی حجره او فی حجر غیره" او نه دي نکاح کوي د لور سره د ماینې یعني چي د بله مېړه څخه یې وي هغه ماینه چي دې سړي د هغې ماینې سره جماع کړې وي خواه دغه د ماینې لور د ده په تربیه او کور کي وي او که د بل چا په تربیه کي وي.

پوښتنه:- چې په حکم کې د جماعو دي مسحه کول په شهوة سره، او یا په شهوة مچه ځندي اخستل حتی که یوه ښځه د سړي په نکاح کې نه وي لکن ده په شهوة سره مسح کړه د هغې ښځي لور د دغه سړي په نکاح ناروا ده، کذا قال المولی عبدالغفور رحمه الله علیه فی حواشی الهدایه.

پوښتنه:- چې د مایني لور چې د بله میړه څخه وي په عربي ربیبه ورته وایي نو چونکه په قرآن مبارك کې داسي راغلی، وربائبکم التی فی حجورکم" نو مصنف رحمه الله علیه په دغه عبارت کې سواء کانت اه، اشاره ودې ته وکړه چې قید د فی حجورکم په قرآن کې اتفاقي دي او مبنی پر عادت دي شرط د حرمت د نکاح د ربیبې نه دي حاصل دا که یو سړي کونډه ښځه په نکاح کړه چې هغې د بله میړه څخه لور درلوده نودې سړي د مخه تر جماعو د دغې کونډې سره او تر مسح بالشهوة هم د مخه هغه کونډه طلاق کړه نو د لور نکاح یې ورته روا ده.

تنبیه:- د بعض خلګو خوښې ځوانه او ښائسته وي مثلا، نو دې سړي ته ډېر احتیاط په کار دي چې بې کالي د خوښې لاس مچ نه کړي نه بایده چې شهوت مابین ته رانه سي او ماینه ورته حرامه نسي، او دغه رنګه پر خوښې لازمه ده چې زوم خپل لکه د ښځو چې دا عادت دي پر تندي یا مخ مچ نه کړي ولي که د دې د خوا څخه دا کار په شهوت وسي لور یې ورته حرامه وه ګرځول لکن د زمانې خوښیاني دا فعل کوي دوي وایي چې زوم لکه زوي داسي دي، او سره د هغه د دې زړه د شهوت څخه ډك وي په دغه کار کې نادره داده چې خوښې ګاهي یعني بعض خوښیاني په بهانه د دې چې لور مي نابالغه ده نو لور او زوم په یوه ځای کې سره پرې باسي، او دا په خپله د زوم وشاته پرېوزي او زوم یې پر

لور لاس واچوي او غیږ په غیږ سره پرېوزي او خوښې د زوم وشاه ته پر زوم لاس واچه وي.

پوښتنه:- تاته دغه معامله څرنګه معلومه سوې ده؟

ځواب:- زما څخه په دغه باره کې زومانو پوښتنې کړې دي چې ورته کار خو به ناروا نه وي.

قال القدوری رحمه الله علیه" ولا بامرئة ابیه ولا اجداده ولا بامرئة ابنه ولا بنی اولاده" او نه ده روا سړي لره نکاح د پلار د مایني چې دلته مراد ځندي مېره ده، قال الله تعالی ولاتنکحوا مانکح آبائکم الآیه" او دغه رنګه نه ده روا نکاح د مایني سره د نیکه ګانو، یعنې که د پلار د خوا نیکه وي او که د مور د خوا نیکه وي، او دغه رنګه نه ده روا نکاح د مایني سره د زوي چې مړور یې بولي یعنې که څه هم زوي یې طلاقه کړي یا مړ سي، او دغه رنګه نه ده روا نکاح د مایني د زامنو د اولاد د سړي چې لمسیان یې بولي که د زوي د خوا لمسیان وي او که د لور د خوا لمسیان وي.

پوښتنه:- چې اجداد په آباء کې داخل دي چې په قرآن مبارك په تېر سوي آیت کې ذکر سوه، او د لمسیانو د مایني د نکاح حرمت په دې آیت کې داخل دي، وحلائل ابنائکم الآیه" حلیله مایني ته وایي.

احتیاط:- که څه هم خسر د مړور محرم شرعي دي لکن بیا هم خسر دي ډېر احتیاط کوي چې کالي دي د مړور نه مسح کوي، او نه دي د مړور سره یواځي طویل مجلس کوي تاچې شیطان یې په زړه کې وسوسه د زنا د مړور سره ورته پیدا نه کي، چنانچه په بعض ځایو کې د خسر او مړور تر مابین زنا طوعا یا کرها واقع سوې ده.

قال القدوری رحمۃ اللہ علیہ" ولا بامه من الرضاعة ولا باخته من الرضاعة" او نه ده روا نکاح د هغه ښځي سره چي ده ته يې تی ورکړي وي چي دې ښځي ته رضعي مور وايي، او نه ده روا نکاح د رضعي خور سر چي هلك د يوې ښځي تی وره وي د هغې ښځي ټولي لونړي د دغه هلك رضعي خوندي دي نکاح يې نه ده سره روا، اويا هلك او انجلۍ د بلي ښځي تی سره وره وي هم سره رضعي ورور او خور دي نکاح يې نه ده سره روا، قال الله تعالی وامهاتكم التی ارضعنكم واخواتكم من الرضاعة: الايته

مسئله:- لږ رضاع او ډېره رضاع په حرمت کي د نکاح سره برابر دي د امام اعظم ابو حنيفه رحمۃ اللہ علیہ، او د امام شافعی رحمۃ اللہ علیہ او د اصحاب الظواهر په نېز پنځه (۵) واره رضاع شرط د حرمت ده.

فائده:- رضاع چي سبب د حرمت د نکاح ده هغه رضاع ده چي په مده کي د تی رودلو د کوچني واقع سي چي دوه (۲) کاله يا دوه نيم دي على اختلاف مذهب ابی حنيفه وصاحبيه رحمۃ اللہ علیہ، او وروسته تر هغه که يو هلك يا لوي سړي د ښځي شيدې وره وي نکاح يې نه ده سره حرامه بالاجماع.

قال" ولا يجمع بين الاختين بنكاح" او نه دي جمعه کوي دوې خوندي، هر رنګه خوندي چي وي په نکاح کي که څه هم رضعي وي.

مسئله:- که سړي ماينه خپله په طلاق رجعي يا بائن سره طلاقه کړه تر هغو چي د دغي ښځي عده نه وي تېره سوې وده ته د خور سره د هغې ښځی نکاح ناروا ده، نو ځکه خلګ امتحانا پوښتنه کوي چي کوم دي هغه ځای چي نر لره عده وي.

قال" ولا بملك يمين وطيا" او نه دي جمع کوي دوې (۲) خوندي په ملك يمين سره لکن وطي د دواړو سره کوي، او که وطي نه ورسره کوي نو جمع د دوو (۲) خوندو په مينځي توب سره روا ده، حتی که چېري د يوې خور سره وطي وکړي د هغې بلي خور سره وطي ورته ناروا دي، کذا فی کتب الفقه، قال الله تعالی، وان تجمعوا بين الاختين الآيه دا آيت عام دي په وطي مقيد له دی.

قال" ولايجمع بين المرئة وعمتها او خالتها ولا ابنت اختها ولابنت اخيها" او نه دي جمعه کوي سړی په نکاح کي په مابين کي د ښځی او د هغې د عمه يعني چي د پلار خور يې وي، او د خاله سره د هغې دي هم نه جمعه کوي، او نه دي ښځه جمعه کوي په نکاح کي د لور سره د خور د هغې، او يا د لور سره د ورور د هغې، لقوله عليه الصلوة والسلام، لاتنكح المرئة على عمتها ولا على خالتها ولا على بنت اختها ولا ابنة اختها.

سوال:- د دغو ښځو د نکاح حرمت خو په قرآن کي نه دي راغلي او خدای جل جلالہ په قرآن کريم کي پسله بيانه د محرماتو داسي ويلي دي، واحل لكم ما وراء ذالك الآيه" نو دغه مذکوره ښځي خو په ما وراء کي داخلي دي نو ولي نکاح ناروا ده په سبب د حديث مذکور؟

ځواب:- صاحب هدايه رحمۃ اللہ علیہ وايي دا حديث مشهور دي او په حديث مشهور سره زيادت پر کتاب الله روا دي كما تقرر فی اصول الفقه.

قال القدوری رحمۃ اللہ علیہ" ولا يجمع بين امرئتين لو كانت كل واحدة منهما رجلا لم يجز له ان يتزوج بالاخرى"

او جمع دي سړی نه کوي په مابين کي د دوو (۲) ښځو که هره يوه نر فرض سي نکاح د هغې بلي ورته ناروا وي، صاحب جوهره وايي که يې تحريم د نکاح په سبب د نسب وي او که به جهت د رضاع وي وهذا الاصل کلی يتفرع عليه مسائل کثيرة.

پوه شه:- چې په نېز د امام اعظم رحمۃ اللہ علیہ او صاحبينو رحمۃ اللہ علیہ حرمت د نکاح هر طرف چې نر فرض کي شرط دي او که يو طرف چې نر فرض کړي د هغه بل طرف نکاح خو ورته حرامه وي او که هغه بل طرف نر فرض کړي د بل طرف ښځي نکاح ورته حلالوي نو د دغو دوو (۲) ښځو جمع کول روا ده، کما سيأتی فی المسئلة الاتية.

او په نېز د امام زفر رحمۃ اللہ علیہ او حسن بصري رحمۃ اللہ علیہ او د ابن ابی ليلی رحمۃ اللہ علیہ د يو طرف څخه حرمت د نکاح چې نر يې فرض کړي کافی ده په حرمت کي د جمع کولو د دغو دوو (۲) ښځو کما فی المسئلة الاتية عنقريب، مثلا عمه او ورېره يا خاله او خورزه جمع کول په نکاح کي ناروا دي بالاتفاق ولي که عمه يا خاله نر فرض کي د ورور د لور او يا د خور د لور نکاح ورته ناروا ده، او که ورېره يا خورزه نر فرض کړي د پلار د خور او يا د مور د خور نکاح هم ورته ناروا ده نو جمع کول يې په نکاح کي هم ناروا دي.

قال" ولا باس بان يجمع بين امرئة وابنة زوج لها كان من قبل" او باك نسته چې يو سړی جمع کړي په نکاح کي يوه ښځه او د هغې ښځي د مېړه لور چې د مخه د دې مېړه وو يعني د مېړه لور يې د بلي ماينې څخه وه ولي په دې ځای کي که ښځه نر فرض کي نو د دې د مېړه لور چې د بلي ماينې څخه وه د دې هيڅ قريبه نه ده نو نکاح يې

ورته روا ده، البته که دغه بنت الزوج نر فرض کي د پلار ماينه نه ده ورته روا نو په نېز د ائمه ثلثه وو رحمۃ اللہ علیہ زمور جمع د دغو دوو (۲) ښځو په نکاح کي روا ده خلافا للزفر رحمۃ اللہ علیہ وغيره.

درويش وايي:- چې په عيني شرح الکنز او فتح المعين کي وايي چې دا خبره په صحيح روايت ثابته ده چې عبدالله بن جعفر رحمۃ اللہ علیہ جمعه کړې په نکاح کي لور د حضرت علی رضی اللہ عنہ او زوجه د علی رضی اللہ عنہ وکذا جمع ابن عباس رضی اللہ عنہ بين زوجة رجل وابنته من غيرها.

قال القدوری رحمۃ اللہ علیہ" ومن زنى بامرئة حرمت عليه امها وابنتها" او که چا زنا وکړه د يوې ښځي سره حرامه ده پر دغه سړي مور د هغې ښځي او لور د هغې ښځي، او امام شافعی رحمۃ اللہ علیہ وايي چې په زنا سره تحريم د بلي ښځي تعلق نه لري، او زمور په نېز که د چا ماينه وي په نکاح سره، او دا سړی د هغې ماينې د مور سره او يا د لور سره زنا وکړل هغه منکوحه ماينه ورته حرامه ګرځي، او شافعي رحمۃ اللہ علیہ وايي چې په دغه نا سرد مور د ماينې او يا د لور د ماينې خپله ماينه نه ورته حرامېږي د دواړو مذهبو دلائل او جوابونه په شروحو کي او د اصول الفقه او د فتوی وو په کتابو کي وګوره.

قال القدوری رحمۃ اللہ علیہ" واذا طلق الرجل امرئته طلاقا بائنا لم يجزيه ان يتزوج باختها حتى تنقضى عدتها" او که چېرې طلاقه کړه يو سړي خپله ماينه په طلاق بائن سره نو ده ته نه ده روا چې د ماينې خور په نکاح کوي تر هغو چې د ماينې عده يې نه وي تېره سوې، ولي په طلاق بائن سره که څه هم نکاح قطعه سوه لکن حکم د نکاح چې عده ده چون باقی دد نو ګويا نکاح باقی ده نو که دی د ماينې خور په نکاح

کړي د هغې په عده کي جمعه د اختين لازميږی په نکاح کي، ومن هذا علمت ان الحکم فی الطلاق الرجعی کذالک بالطریق الاولی.

قال" ولا یجوز للمولی ان یتزوج امته ولا المرئة عبدها" او نه ده روا بادار لره چي خپله مينځه په نکاح کړي، او نه بنځي ته روا ده نکاح د خپل مريي سره، ولي نر او بنځه چي مېړه او ماينه وي هر يو پر هغه بل باندي حقوق لري او مريي يا مينځه پر بادار هيڅ حق نه لري، لان المملوکية تنا فی المالکية هکذا فی الهدايه" البته که د سړی د خپلي مينځي نکاح خو بنه وي نو هغه دي اول ازاده کړي او بيا دي نکاح ورسره وکړي، او داغه رنګه بنځه دي خپل مريي اول ازاد کړي او بيا دي نکاح ورسره وکړي، در.

قال" ويجوز تزويج الکتابيات ولايجوز تزويج المجوسيات ولاالوثنيات" او روا ده مسلمان لره چي په نکاح کړي کتابيه بنځه يعني يهودي يا نصرانی بنځه لکن د احنافو رحمه الله عليه په نېز که دغه کتابيه حره وي او که د بل سړی مينځه وي، او امام شافعی رحمه الله عليه وايي چي د کتابيه مينځانو نکاح نه ده روا او د حره نکاح يې روا ده، او په ملك يمين سره يعني چي کتابيه د سړي مينځه وي جماع يې ورته روا دي بالاتفاق او نه ده روا نکاح د مجوسيانو بنځو، مجوس هغه طائفه ده چي عبادت د اور کوي او نکاح د محارمو بنځو روا بولی کذا فی الجوهره.

درويش وايي:- چي هغه دليل چي په شرح الاقطع کي راغلي دي په دې عبارت سره" لانهم لاکتاب لهم فدخلوا تحت قوله تعالی ولاتنکحوا المشرکين" د مدعی سره نه دي برابر ولي چي دغه مذکوره آيت خو په باره کي د دې دي چي مسلمانانې بنځي دي وه مشرکيانو ته په نکاح نه

ورکوي او مدعی په متن کي داده چي مسلمانان دي مجوسياني بنځي نه په نکاح کوي، او بله خبره داده چي دې ته ضرورت دي لانه لاکتاب لهم آه، ولي چي مجوسيان خو حقيقة مشرکان دي لما تواتر من مذهبهم انهم يعبدون النار" مګر صاحب شرح الاقطع دا خيال کوي چي مشرك هغه دي چي د بت عبادت کوي لکن د غسي نه ده ولي چي مشرك هغه دي چی خدای ﷻ لره شريك وايي يا په ذات کي يا په صفاتو کي او يا په عبادت کي نو ثنويه او وثنيه او مجوسيه ټوله مشرکان دي، فافهم،

او دغه رنګه نه ده روا نکاح د بت پرستانو بنځو چي وثنيه يې بولي او په جامع المضمرات کي وايي چي وثن هغه شی دي چي جسه او بدن لري که د لرګی وي او که د ډبري وي او که د سپينو زرو وي او که د جوهري شي جوړ وي لکه عقيق فېروزه وغيره، والجمع اوثان قال الله تبارک وتعالی ولاتنکحوا المشرکات حتی يؤمن.

پوه سه:- چي اهل مکه او شاوخوا عرب د مخه تر اسلام ټوله بت فرستان وه وثنيه او مجوسيه په دوي کي نه وه.

قال القدوری رحمه الله عليه" ويجوز تزويج الصابيات ان کانوا يؤمنون بنبی ويقرون بکتاب وان کانوا يعبدون الکواکب ولا کتاب لهم لم يجز مناکحتهم" او روا دي په نکاح کول د صابياتو بنځو که دوي ايمان پر يوه نبي درلو دي او اقرار يې په يوه کتاب هم کاوه، او که دوي عبادت د سترو کاوه او کوم کتاب الهی يې نه درلودي نو د دوي سره نکاح جواز نه لري ولي چي دوي مشرکان دي.

پوښته:- چي په نېز د امام اعظم رحمه الله عليه نکاح د صابياتو روا ده او په نېز د صاحبينو رحمه الله عليه نکاح د صابياتو نه ده روا.

درويش وايـي:- چي دا اختلاف بناء دي پر دې چي مذهب د صابيـنو څه دي لکل افتى بما تقرر عنده من مذهبهم" نو ياران رحمة الله عليه وايي چي دوي مشرکين دي ولي چي دوي عبادت د ستورو کوي، او بعض وايي چي دوي د ملکو عبادت کوي نو د مشرکي ښځي نکاح خو اتفاقا ناروا ده، او امام اعظم رحمة الله عليه وايي چي د دوي کتاب زبور دي او پر داوٗد عليه السلام ايمان لري البته دستورو يا د ملکو تعظيم کوي لکه مسلمانان چي د کعبې شريفى تعظيم کوي نو حاصل دادي چي دا اختلاف په مابين کي د امام اعظم رحمة الله عليه او د يارانو رحمة الله عليه بنا دي پر اشتباه د مذهب ده دوى،

او بعض فقهاؤ رحمة الله عليه د دواړو مذهبو اصلاح او حقيقت داسي بيان کړي دي چي صابئين دوې (٢) ډلي دي يوه حققة د ستورو يا د ملکو عبادت کوي او کوم کتاب الهى ته عقيده نه لري او نه د کوم نبي په نبوت سره اقرار کوي، نو يارانو رحمة الله عليه ته دغه ډله په اثبات رسېدلې ده، او شك نسته داغسي ډله خو مشرکان دي نکاح نه ده روا ورسره، او بله ډله د دوي زبور کتاب خپل بولي او داوٗد عليه السلام ته د نبوت عقيده لري لکن فقط د ستورو يا د ملکو تعظيم کوي، امام اعظم رحمة الله عليه ته دغه ډله په اثبات رسېدلې ده نو دوئ خو په حقيقت کي اهل کتاب دي او نکاح ورسره روا ده نو د دې سببه قدورى رحمة الله عليه د دوي په نکاح او په مذهب کي تردید وکړي، او اختلاف ته د امام اعظم رحمة الله عليه او د يارانو رحمة الله عليه ضمنا اشاره وکړه فلله دره ماادق نظره، در.

قال" ويجوز للمحرم والمحرمة ان تزوج فى حالة الاحرام"
او روا ده محرم نر لره او محرمي ښځي لره يعني چي په حال کي د احرام د حج وي مثلا چي عقد د نکاح وکړي په حال کي د احرام، او امام

شافعي رحمة الله عليه وايي چي محرم او محرمه عقد د نکاح په حال کي د احرام سبى کولای دلېل د ده دادى، قال عليه الصلوٰة والسلام المحرم لاينكح ولاينكح" او مور وايو چي په صحيح حديث کي راغلي دي چي عليه الصلوة والسلام نکاح وکړه د ميمونه رضي الله عنها سره په حال کي د احرام، او حديث د امام شافعي رحمة الله عليه مور پر وطي حمل کړي، كذا فى الهدايه.

قال" وينعقد نكاح المرئة الحرة البالغة العاقلة برضائها وان لم يعقد عليها ولى عند ابى حنيفة رحمة الله عليه بكرا كانت اوثيبا و قالالا ينعقد الاباذن ولى" او غوټه کېږي نکاح يعني روا ده د ښځي نکاح چي حره وي يعني د مينځي نکاح بېله اجازې د مولانه ده روا چي مړاني ته رسېدلې وي يعني چي بالغه وي په خپله نکاح نه سي کولای او عاقله وي د ليونى نکاح هم د دې د خوا څخه نه سي کيدلای په رضاء د دې يعني جبرا يې عقد نه دي صحيح که څه هم عقد نکاح د دې د ولي د خوا نه وي په نېز د امام اعظم رحمة الله عليه که دغه ښځه پېغله او که کونډه وي، او ياران رحمة الله عليه وايي چي نکاح د ښځي نه غوټه کيږي بېله ولي يعني په اجازه د ولي.

پوه سه:- چي په هدايه کي وايي چي په ظاهر الروايه کي امام ابو يوسف رحمة الله عليه د امام اعظم رحمة الله عليه سره موافق دي، او دا مذکور په متن کي يو روايت دي د ابو يوسف رحمة الله عليه څخه او امام مالك رحمة الله عليه او امام شافعي رحمة الله عليه وايي چي په خبرو د ښځو نکاح اصلا نه ده روا، والدلائل والجوابات للفريقين فى الشروح المطوله وكتب الفتاوى.

قال القدورى رحمة الله عليه" ولا يجوز للولى اجبار البكر البالغة العاقلة" او نه دي روا ولي لره يعني که پلار او که نيکه وي يا بل څوك

مجبوره کول د پېغلي نښځي يعني د کونډې دا خو په طريقه اولى روا نه ده ولي چي په روايت کي د ابن عمر ﷺ او جابر ﷺ داسي راغلي دي چي نبى عليه الصلوة والسلام رد کړه نکاح د يوې نښځي دليل دى پر امام شافعي رحمة الله عليه باندي چي دى وايي، اکراه او اجبار د پلار او نيکه روا دي.

قال" واذا استاذنها الولى فسكتت او ضحكت او بكت بغير صوت فذالک اذن منها" او که اجازه د نکاح وغښتل د باکرې بالغې څخه ولي نو دا پټه خوله سوه يعني نه وو، او نه يې يا وويله، او يا يې وخندل او يايې وژړله بېله آوازه يعني مړې اونښکي يې راتوي کړې او بغاري يې نه ووهلى نو داغه د دې اجازه ده.

وان ابت لم يزوجها" او که دې صراحة منع وکړه نو ولي دې په نکاح نه ورکوي، په حديث مبارک کي راغلي دي چي عليه الصلوة والسلام وويله البكر تستاشر" د باکرې نښځي سره دي مشوره د نکاح کېږي، فقيل انها تستحى" نو چا وويله چي پېغله خو شرمېږي يعني چي دابه وايي چي نښه دي، فقال اذنها صماتها وتسكوتها اقرارها" نو عليه الصلوة والسلام وويله چي د دې اجازه کول پټه خوله کيدل دي، او سکوت د دې اقرار دي په راضي والى د نکاح، په دې حديث مبارک سره هغه خبره رد سوه چي سکوت څرنګه دليل د رضا کيداى سي ولي چي ساکت ګاهي راضي وي او ګاهي منکر وي نو په شك سره څرنګه رضا ثابتېږي.

دروېش وايي:- چي علاوه پر حديث عقلا هم سکوت د باکرې په باره کي د نکاح دليل د رضا دي ولي چي د نعم په ويلو کي که څه هم دا

شرمېږي د لا په ويلو کي خوشرم نسته نو چي راضي نه واى نو يې لا ولي نه وايي، او خندا خو تر سکوت لا بالا دليل دي د رضا.

مسئله:- په ژړا کي امام محمد رحمة الله عليه وايي چي دليل د رضا نه ده، او امام ابو يوسف رحمة الله عليه وايي چي ژړا د دې د جهت څخه د سخت حيا د دې دي نو لکه سکوت ده.

فائده:- سکوت ياضحك چي دليل د رضا ګنړل کيږي هلته دي چي په نکاح ورکونکي يې د نښځي ولي لکه پلار يا نيکه وغيرهما، او که نکاح يې غير د ولي څخه وو نو صراحة قول د دې غواړي په راضي والي سره ولي چي د غير ولي نکاح خو د دې د خوا په وکالت سره کيږي او وکالت خو صريح نطق غواړي، اق، كما لا يخفى.

قال القدورى رحمة الله عليه" واذا استاذن الثيب فلا بد من رضائها بالقول" او که ولي اجازه د نکاح وغوښته د کونډې څخه نو پس چاره نسته د رضاء څخه د دې په خبرو سره يعني د دې سکوت يا خندا و غيره د دليل د رضاء د دې نه دي ولي چي کونډه په سبب د نکاح سابق ترشرم په ويلو سره تېره سوې ده نو چي صراحة نښه دي نه ووايي اجازه نه ده، او په حديث شريف کي هم راغلى دي، والثيب تعرف عن نفسها" او کونډه به اظهار کوي يعني په اقرار سره د ځان د خوا.

قال رحمة الله عليه" واذا زالت بكارتها بوثبة: يعني د لوړځايه په راغورځېدو سره، او حيض" او يا په حيض يعني په ډېروالي د وينو د حيض د دي، او جراحة" يعني په سبب د ټپ چي په رحم کي د دې.

او تعنيس" يعني په ډېره زمانه تېرېدو سره.

فهی فی حکم الابکار" یعني سکوت وغیره یې دلیل د رضا دي صریح قول شرط نه دي.

پوه سه:- چې بکارت یوه پرده ده چې په مذکوره آفات سره هم د مابین څخه ځي یعني خیریږي لکه په وطي سره چې د ټولو پېغلانو داده مابین څخه ځي، نو دغه ښځه چې په مذکوره آفات یې بکارت د مابن څخه تللې وي، نو حیا د دې خو د مابین څخه نه ده تللې نو ځکه سکوت وغېره یې دلیل د رضا دي، او امام شافعي رحمۃ اللہ علیہ وایي چې باکره هغه ښځي ته وایي چې عذره یعني پرده یې پرځای وي نو د دغو مذکوره ښځو عذره خو زائل سوې ده نو دوي ثیبات دي، مونږ وایو چې باکره په دې سبب باکره بولي چې وطي کوونکي د دې اول وطي کوونکي وي او دا مذکوره ښځي خو هم داغسي دي ولي چا تر اوسه وطی نه دي وې سره کړي نو چې د دوي سره وطي کوي هغه سړی اول واطی د دوي دي

قال القدوری رحمۃ اللہ علیہ" وان زالت بکارتها بالزنا فهی کذالک عند ابی حنیفة رحمهم الله وقالا رحمها الله هی فی حکم الثیب" او که زائله سوې وه عذره او پرده د دې په زنا نو هغه ښځه هم په حکم کې د باکره ده نو په نېز د امام اعظم رحمۃ اللہ علیہ یعني سکوت وغیره یې رضا ده، او یاران رحمۃ اللہ علیہ وایي چې دغه په حکم د کونډیانو ده یعني صراحة اظهار د رضا یې شرط د نکاح د ولي دي.

پوه سه:- چې امام شافعي رحمۃ اللہ علیہ په نوي قول کې ملګري د یارانو رحمۃ اللہ علیہ دي دوي وایي چې د باکره هغه معنا چې ذکر سوه په دغه زانیه کې نسته ولي چې د دې وطي کوونکي په نکاح سره اول وطي کوونکي نه دي ولي

چې اول وطي کوونکي د دې خو زاني وو، امام اعظم رحمۃ اللہ علیہ وایي چې دغه زنا د دې ښځي یو پټ کار وو، د خلګو په عقیده خو دا باکره ده نو خلګ پر دې عیب د بې حیایي وایي که چېرې دا نطق په رضا د نکاح وکې او دا هم وخلګو ته دا ښکاره کوي چې زه په نطق شرمېږم ولي خو زه باکره یم نو که چېرې تصریح د دې شرط سې په نکاح کې د ولي نو د دې ښځي نکاح به بالکل معطله پاته سي تر آبده پورې نو باید د دغي زانیه ښځي په سکوت وغیره سره اکتفاء وکړه سي، او هغه چې یارنو رحمۃ اللہ علیہ وویل چې د دې ښځي وطي کوونکي خو اول سړی نه دي د هغه ځواب دا دي چې د خلګو په عقیده خو د دې وطي کوونکي د نکاح اول واطي دي.

فائده:- که د ښځي په زنا خلګ خبر سوه او زنا یې شهرت ته ورسېده بیا په اتفاق د مذاهبو د دې حکم د ثیباتو دي او سکوت یې رضا نه ګڼل کیږي بلکه صراحة وینا شرط ده، وهذ کله فی العینی ومستخص ومجمع الانهر"

ولي چې دغه زانیه پس له شهرته د زنا د دې په تصریح بالنکاح سره نه شرمیږي لکه کونډه کمالا یخفی.

قال " واذا قال الزوج للبکر بلغک النکاح فسکت وقالت بل رددت فالقول قولها" یعني خبره د نکاح وه ولي چې دا منکر ده د لزوم څخه د عقد پر دې باندي او مېړه یې مدعی دي او قول په دعا کې خو منکر لره دي، او امام زفر رحمۃ اللہ علیہ وایي قول د میړه دي.

ولا یمین علیها" یعني که مېړه پر سکوت د دې شاهدان نه کړه تېر نو ښځي ته دي قسم نه ورکوي، او دا هم مذهب دي د ابو حنیفه رحمۃ اللہ علیہ او

یاران رحمۃ اللہ علیہ وایي قسم دي ورکوي که ښځي قسم نه اخستي نو قاضي دي پردې حکم وکړي په نه کول سره لکه په نورو دعوو وکي.

قال" ولايستحلف فی النکاح عند ابی حنيفة رحمۃ اللہ علیہ وقالا يستحلف فيه" او طلب د قسم نسته په نکاح کي په نېز د امام اعظم رحمۃ اللہ علیہ او یاران رحمۃ اللہ علیہ وایي چي په نکاح کي هم طلب د قسم سته.

پوه سه:- چي په اته (۸) شیانو کي قسم نسته چي یو د هغو څخه نکاح ده په نېز د امام اعظم رحمۃ اللہ علیہ او په نېز د یارانو رحمۃ اللہ علیہ په دغو اتو (۸) شیانو کي هم قسم سته، وتحقيق هذا الاختلاف والمسائل الثمانية سياتی فی کتاب الدعوی انشاء الله تعالی.

قال" وينعقد النکاح بلفظ النکاح والتزويج والتمليک والهبة والصدقة ولا ينعقد بلفظ الاجارة والاعارة و الاباحة" او غوټه کیږي نکاح په لفظ د نکاح لکه چي نر یا ښځه ووایي، نکحتك بکذا من المهر عند الشهود" او د تزویج په لفظ لکه چي نر یا ښځه ووایي په حضور کي د شاهدانو " تزوجت معك بکذا" او هغه بل طرف ووایي، قد قبلت" او د تملیك په لفظ" لکه چي ښځه ووایي په حضور کي د شاهدانو، قد ملکت نفسی لك بکذا" او نر ووایي قبلت، او په لفظ د هی لك چي ښځه ووایي قد وهبت نفسی لك بکذا من المهر" او نر ووایی قبلت او په لفظ د " صدقه لك، چي ښځه ووایي قد تصدقت نفسی علیك" او نر یې قبله کړي او نه غوټه کیږي په لفظ د اجارې او په لفظ د اعارې او په لفظ د اباحت یعني ښځه ووایي چي زه خپل ځان تاته په اجاره درکوم او یا په عاریت درکوم او یا ځان تاته مباح کړځوم دلیل د دغو مسئلو دادي چي چونکه نکاح خو د همیشه د پاره ده نو هر هغه

لفظ چي پر تملیك موبد دلالت کوي په هغه لفظ غوټه کیږي نو ځکه صاحب هدایه وایي چي په لفظ د بیع هم نکاح غوټه کیږي ولي چي په بیع کي توقیت نسته، او په اصل کي د اجارې او عاریت چونکه توقیت وو نو د مقتضی سره د عقد نکاح منافی دي نو ځکه یې مجاز د پاره د عقد نکاح نه دي روا، او په اباحت کي خو ببخي تملیك نسته.

پوه سه:- چي لفظ د نکاح او لفظ د تزویج صریح دي په عقد کي د نکاح او هغه نور الفاظ مذکوره کنایة او مجاز دي د عقد نکاح څخه دا ټوله مذهب دي د احنافو رحمۃ اللہ علیہ او امام شافعي رحمۃ اللہ علیہ وایي چي نکاح ببله لفظ د نکاح او تزویج نه غوټه کیږي، والدلائل فی الکتب المطوله وهذا حاصل ما فی الجوهرة والعين وفتح المعين ودر.

قال" ويجوز نکاح الصغير والصغيرة اذا زوجها الولی بکرا کانت الصغيرة او ثيبا" او روا ده نکاح د نر کوچني او د ښځي کوچني چي نکاح ور وکړي ولي د دوي، که پېغله انجلۍ وي او که کونډه وي یعني میړه ورغلي وي، لقوله تعالی وانکحوا الایا ما منکم" او لایم بې میړه ښځي ته وایي که لوي وي او که کوچني وي، او په صحیح حدیث کي د بخاري راغلي دي چي علیه الصلوة والسلام په نکاح کړه عائشه رضي الله عنها او دا د شپږو (۶) کلو وه.

قال القدوری رحمۃ اللہ علیہ" والولی هو العصبة" او ولي د نکاح د ښځي عصبه د دې دي یعني په ترتیب سره معنا دا چي حق د نکاح اول نژدې عصبه لره دي لکه پلار او نیکه بیا د هغه څخه وروسته ورور لره حق د نکاح سته وروسته بیا اکا، ثم وثم علی ترتیب العصبات المذکور فی السراجی.

پوه سه:- چی په سراجي کي وايي چي مطلق عصبه هغه څوك دي چي د ده قريب مړ سي په ميراث کي ده ته هغه مال د مړي رسيږي چي د ذوی الفروض څخه پاته سي او که ذوی الفروض وی بيا نو ټوله د مړي ميراث دی وړي، د دې خبري فهم هغه چاته چي سراجي يې نه وي زده کړې ډېر مشکل دي معذرت، دروښ که د عصباتو تفصيل کوي چي هغه د ذوی الفروض پر بيان موقوفه هم دي نو تخمينا نيمه سراجي به رانقل کوي او که يې نقل هم کړی خدای ﷻ خبر دي چي مبتديانو ته به فائده وکړي او که څرنګه لهذا په دغه اجمال سره يې کفايت وکړي.

قال" فان زوجها الاب اولجد فلاخيار لهما بعد البلوغ وان زوجهما غير الاب والجد فلكل واحد منهما الخيار" يعنی وروسته تر بلوغ، انشاء اقام على النكاح وان شاء فسخ" يعنی النكاح.

پوه سه:- چي مصنف رحمه الله د عصباتو تر مابين فرق بيانه وي نو وايي چي که چيري صغير او صغيره ته نکاح پلار يا نيکه کړې وه نو بيا دوي لره خيار نسته وروسته تر بلوغ يعني نکاح پر لازمه ده د ناخوښي ځای پکښي نسته، ولي د پلار او نيکه ولايت کامل دي او پوره شفقت هم لري نو د پلار يا نيکه نکاح داسي ده لکه چي صغير او صغيره يې په خپله وکړي بعد البلوغ جوهره، او که صغير او صغيره ته نکاح غير د پلار او نيکه څخه بل چا ورکړې وه لکه ورور اکا وغيره نو دوي لره پر يوه د صغير او صغيره خيار سته که يې خوښه وي پر هغه نکاح د پريږدي او که يې خوښه وي هغه نکاح دي فسخ کړی لکن فورا پس له مرور د زمانې بيا فسخ نه سي کولای، در.

قال القدوری رحمه الله" ولا ولاية لعبد ولا لصغير ولا لمجنون ولا لكافر على مسلمة" او ولايت نسته د نکاح مريي لره يعني د باکرې ولي د يو چا مريي وي، او نه نا بالغه لره او نه ليوني لره دوي ولايت د نکاح نه سي کولای ولي چي دا مذکوره کسان پر خپل ځان ولايت نه لري نو پر بل چا به يې څرنګه ولري، او نه ولايت لري کافر پر مسلمانه ښځه باندي يعني چي د ښځي پلار يا ورور مثلا کافر وي پر مسلمانه لور يا خور ولايت د نکاح نه لری، لقوله تعالى كن يجعل الله للكافرين على المؤمنين سبيلا.

وقال ابو حنيفة رحمه الله يجوز لغير العصبات من الاقاربة التزويج" يعني چي عصبات نه وي ولي چي سره د وجود د عصباتو خو غير عصباتو په اجماع ولايت د تزويج نسته.

فائده: قال صاحب الكنز رحمه الله وان لم تكن عصبته.
مثل الاخت و الام و الخالته.

پوه سه: چي د امام اعظم رحمه الله مذهب چي په متن کي راغلي دي په روايت د ابو يوسف رحمه الله او محمد رحمه الله د امام اعظم رحمه الله څخه ثابت دي، او په روايت کي د حسن بن زياد رحمه الله د امام اعظم رحمه الله څخه داسی روايت راغلي دي چي تزويج د صغيرې غير عصبه نه سي کولای، والى هذه الرواية ذهب ابو يوسف رحمه الله و محمد رحمه الله وهو مذهب الشافعي رحمه الله ايضا" دليل د دغو دوو (۲) روایاتو په شرح کي د اقطع او عيني کي وګوره.

فائده:- علماء او فقهاء رحمة الله عليه د احنافو وايي که صغيرې انجلۍ لره هيڅ ولي نه وي نو بادشاه يا نائب د هغه ولايت د تزويج کولای سي "لقوله عليه الصلوة والسلام السلطان ولی من لاولی له، ق، در، ع،

قال" ومن لاولی لها اذا زوجها مولاها الذی اعتقها جاز" او هغه ښځه چي ولي هيڅ نه لري يعني د اقرباؤ نسبي څخه چي په نکاح يې ورکړي هغه بادار د دې چي دا يې ازاده کړې وي يعني چي دا مينځه د هغه وه او هغه ازاده کړې وي دا نکاح رواده، ولي چي په سراجي کي وايي چي آخير د عصباتو مولی العتاقه دي.

قال المصنف رحمة الله عليه" و اذا غاب الولی الاقرب غيبة منقطعة جاز لمن ابعد منه ان يزوجها" او که چېرې ولي د صغيرې انجلۍ چي اقرب ولي وو په داسي غيبت غائب وو چي خبر د ده قطعه وو، نو روا ده ولي ابعد لره تر هغه غائب چي دغه صغيره په نکاح چاته ورکړي.

پوښتنه:- څه ضرورت دي چي ولي ابعد د صغيرې نکاح کوي بلکه انتظار دي وکړي يا به ولي اقرب راسي او يا به انجلۍ بالغه سي او يا به خپله څوك وکيل کړي يا به خپله عقد نکاح وکړي.

ځواب:- چونکه نکاح په يو اوږده لار ده او هر وخت کفو د ښځي نه پيدا کيږي نو هم دا اوس چي کفوه پيدا سو نو د صغيرې د قائدې د پاره نه بايد انتظار د ولي اقرب وکړه سي او نه د انجلۍ د بلوغ ولي دا کفو د لاسه وزي په دغه دليل ردیږی قول د امام زفر رحمة الله عليه چي هغه وايي چي تر راتګ د ولي اقرب هيڅوك نکاح د صغيرې نه سي کولای او امام شافعی رحمة الله عليه وايي چي سلطان دې په نکاح ورکړي.

والجواب عنه چي په حديث شريف کي خو داسي راغلي دي چي "السلطان ولی من لاولی له" او دا صغيره خو ولي لري.

قال" والغيبة المنقطعة ان يكون فی بلد لاتصل اليه القوافل فی السنة الامرة" او غيبت منقطعه هغه دي چي دغه ولي اقرب په داسي ښار کي وي چي قافلې و هغه ښار ته نه رسېږي مګر يو وار په کال کي، په هدايه کي وايي چي دا مذهب مختاره د قدوري رحمة الله عليه دي او بعض متاخرين وايي چي ولي اقرب په دغسي ځای کي وي چي ادنی مدت د سفر تر هغه ځايه پوري وي يعني درې (۳) ورځي او بعض فقهاء رحمة الله عليه وايي چي ولي اقرب که دونده ليري وو چي که د ده سره مشوره په باره کي د نکاح د صغيرې کړه کېږي کفو د لاسه وزي نو هغه غيبت منقطعه دي، قال صاحب الهدايه وهذا اقرب الی الفقه لانه لانظر فی ابقاء ولايته" يعني په باقي والي کي د ولايت د ده شفقت پر صغيرې نسته لذهاب الكفو فافهم.

فائده:- قال صاحب الكنز رحمة الله عليه وان لم تكن عصبة فالولاية للام ثم للاخت لاب و ام ثم لاب ثم لولد للام" نو ولايت مورلره دي که مور نه وه بيا ولايت خور لره دي چي د مور او پلار د خوا دواړو خور يي، او که هغه نه وه بيا ولايت د پلار دخوا خور لره دي او که هغه هم نه وه نو ولايت د مور اولاد لره يعني نر او ښځي يې په ولايت کي سره برابر دي، کما فی الميراث او که هغه نه وه بيا نو ولايت ذوی الارحام لره دي په دوي کي اول عمه ګانو لره دي او بيا ماماګانو لره دي بيا خاله ګانو لره دي او بيا لونړو لره د اکاګانو دي، ثم الاقرب فالاقرب يعني په ذوي الارحام کي

لکه په میراث کي، علی مابین فی السراجی، قال ثم للحاکم یعني قاضي یا هغه څوك چي قاضي د ده ولي وي.

فائده:- په نسخ کي د نکاح په خیار بلوغ سره یعني په غیر کي د اب او جد قضاء د قاضي شرط دي، هذا ما فی الکنز و شرح العینی وزاد علیه الفقیر ایضا. ۱۲

قال القدوری رحمۃ اللہ علیہ" وله لکفایة فی النکاح معتبرة" او کفو والی یعني مثل والی د نر د ښځي سره چي دی په نکاح کي معتبر دي یعني د ښځي د پاره نه د نر د پاره ولي که یوه شریف النسب ښځه د یوه نر سره چي په نسب کي ښکاره وي نکاح وکړي نو خلګ وه قریبانو ته د ښځي پېغور ورکوي نو د دې سببه اقرباء د ښځي حق لري چي پر دغه نکاح اعتراض وکړي او په امر د قاضي خپله ښځه د هغه د نکاح څخه خلاصه کړي او دا پېغور د ځان څخه دفع کړي، کذا فی النهایه و در، او که یو شریف النسب نر یوه بې النسب ښځه په نکاح کړي خلګ و قریبانو ته د نر پېغور نه ورکوي ولي ښځه خو لکه فراش ده نو یو سړی که د غالیو د فرش طاقت هم لري لکن پر سترنجي کښېني او ښېدېږي نو خلګ هیڅ حق د اعتراض نه لري، جوهره، ودر،

وقد جاء فی حدیث رواه جابر رضی اللہ عنہ ان النبی ﷺ قال لاتنکح النساء الا من الاکفاء، اقطع.

پوه سه:- که یو سړی شرف د نسب لري فقط او بله ښځه مثلا شرف د کمال علمي اوعملي لري هغه سره کفوه دي مثلا عربي جاهل چي شرف نسبي لري کفوه دي د عجمي عالم، او عالم فقه کفوه دي د غني جاهل، ولهذا اشتهر الحسب کفو النسب، کذا فی الجوهره.

فاذا تزوجت المرئة بغیر کفو فلاولیاء ان یفرقوا بینهما" یو که چېري ښځه پر خپل سر نکاح وکړي دغیر کفوه سره نو قریبان د ښځي دوي سره جلا کولای سي یعني نکاح د دوي فسخ کولای سي د پاره د دفع د پېغور دخلګو.

قال القدوری رحمۃ اللہ علیہ" والاکفاء یعتبر فی النسب والدین" لقوله علیه السلام قریش بعضهم اکفاء بعض" په دیانت او تقوی کي وهذا قول ابی حنیفة رحمۃ اللہ علیہ و ابی یوسف رحمۃ اللہ علیہ وهو الصحیح" ولي چي دینداري او تقوی د لوړو شیانو څخه د فخر ده، او ښځي ته او اقرباوو ته د ښځي خلګ پېغور ورکوي بالاتر هغه چي د نسب په کښته والي سره پېغور ورکوي،

او امام محمد رحمۃ اللہ علیہ وایې چي دینداري او تقوی د کار څخه د اخرت ده، نواحکام د دنیا نه پر بنا کیږي مګر که داسي فاسق چي بازار ته به ووتی کشنیانو په سات په تېراوه او دی به نشه وو په شرابو وغیره نو بیا اعتبار لري عند محمد ایضا کذا فی الهدایه.

والمال وهو ان یکون مالکا للمهر والنفقة" او کفائت فی المال هم غواړي او اکفاء د مال داده چي نر به مالك وي د ولور او د نفقې د ښځي.

پوه سه:- چي مراد د ولور څخه هغه قدر مال دي چي په عرف کي په دسمال کي خلګ ورکوي چي مهر معجل یې بولي او مهر مؤجل هغه ولور دي چي په وخت کي د ارادې د واده یې ورکوي، د مهر قدرت په دې شرط چي هم ولور بدل د بضع د ښځي دي اختلف الفقهاء فی النفقه

بعضی وايي چي د هري ورځي پر نفقه به قادر وي، او بعضي وايي چي په وقت د عقد به قادر وي پر نفقې د يوې مياشتي، او بعضي وايي چي پر نفقې د يوه کال به قادر وي په وقت کي د عقد.

فائده:- کالي د ښځي په حسب د عرف او ضروريات د کور يعني د اوارېدو شی د پرېوتو شی دېګ او داسي نور هم په نفقه کي داخل دي يعني د هغو قدرت هم اکفاء کي معتبر دي.

مسئله:- که زوجه کشنۍ وه چي طاقت د جماع يې نه درلودي بيا نو قدرت د نفقي اعتبار نه لري، کذا فی ذو مجمع، در.

قال" وتعتبر فی الصنائع" او معتبر دی په اکفاء کي صنعت د مېړه يعني د مېړه صنعت او کسب به تر صنعت او کسب د خاندان د ښځي کم نه وي په اظهر روايت کي د يارانو رحمۃ اللہ علیہ،

او د امام ابو يوسف رحمۃ اللہ علیہ څخه روايت دي چي د مېړه کسب به ډېر بېکاره کسب نه وي په عرف کي لکه د وينو کښل يا کمبلې ودل چي حانګ يې بولي په عربي او په پښتو يې جولا بولي.

فائده:- د حضرت الامام الاعظم رحمۃ اللہ علیہ څخه دوه روايته راغلي په يوه روايت کي چي ظاهر روايت هم دي کسب په کفائت کي اعتبار نه لري، ولي پر سړي خو کسب ذليل لازم نه دي بلکه کولای سي چي کسب ذليل به پرېږدي او کسب شريف به مختاره کړي،

او په بل روايت کي اعتبار لري ولي په ذليل کسب کي د مېړه خلګ پېغور ورکوي وماينې ته او اقرباء ته د دې،

او دی کـه هغـه ذلـيل کسـب پـرې همـږدي لکـن تـر ډېـري

زمانې د هغه ذليل نوم نه ځندي اوړي او نـه پېغـور د هغـه د فعـه کېږي نو ځکه په اعتبار د حرفت په کفائت کي ډېرو معتبرو کتابو د مذهب فتوی ورکړه، کذا فی مجمع الانهر، ودر، وفتح.

قال القدوری رحمۃ اللہ علیہ" واذا تزوجت المرئة ونقصت عن مهر مثلها فلاولياء الاعتراض عليها عند ابي حنيفة رحمۃ اللہ علیہ حتی يتم لها مهر مثلها او مربها" او که نکاح وکړه ښځي پر خپل سر د يو چا سره او دې ځان ته کم ولور کښېښوی تر مهر مثل يعني چي د دې د قوم ښځي په هغه نکاح کېدلې نو د دې قريبانو ته حق د اعتراض سته پردې باندي يعني دا نکاح موږ نه منو، په نېز د امام اعظم رحمۃ اللہ علیہ تر څو چي پوره کېږي د دې مهر مثل او يا به مېړه د دې څخه جلا کېږي يعني پرېږدي به يې.

پوه سه:- چي دا فرقت قاضي نه غواړي، او يـاران رحمۃ اللہ علیہ وايي چي قريبان حق د اعتراض نه لري ولي چي ولور د دې خپل حق دي نو ځکه پس له ايښولو د ولور دا يې مېړه ته بخښلای سي بالاتفاق، امام اعظم رحمۃ اللہ علیہ وايي چي ولور تر لس درهمه پوري حق د شرعي شريفي دي نو ځکه تر لس درهمه کمول شرعا ناروا دي او تر مهر مثله پوري حق د اولياوو دي، ولي چي تر مهر مثل کم ولور سره خلګ ودوي ته پېغور ورکوي نو ځکه دوي اعتراض کولای سي او وروسته تر پوره کولو د مهر مثل او د پېغور د دفع والي بيا قبض د ولور بېشکه حق د ښځي دي کـه يـې د مېړه څخه اخلي او که يې وربخښي، مجمع الانهر.

واذا زوج الاب ابنته الصغيرة ونقص من مهر مثلها او ابنه الصغير وزاد في مهر امرئته جاز ذالک عليها ولايجوزذالک لغير الاب والجد" او که په نکاح ورکړه پلار يعني يا نيکه خپله لور چي کوچنۍ وه او تر مهر مثل يې کم ولور ورته کښېښوي، او يا يې کوچني زوي ته کوزده وروکړه او تر مهر مثل بالاولور يې کښېښوي د هغه د ماينې د پاره نو دا عقد پر دوي نافذ دي يعني دوي خيار بلوغ نه لري.

پوه شه:- چي دا مذهب دي د امام اعظم رحمۃ اللہ علیہ دی وايي چي د پلار او نيکه شفقت تر ټولوقريبانو ډېر دي نو پلار يا نيکه چي په دغه کم ولور د لور او يا زيات ولور د زوي راضي سوه نو معلومه ده چي دوي په دې کي يوه فائده ويني،

او نکاح داسي عقد دي چي پټ غرضونه پکښې سته نو د هغو غرضو د لاس ته راوړو د پاره دوي ولور د لور کم کي يا ولور د زوي د ماينې تر مهر مثل بالاکي، او ياران رحمۃ اللہ علیہ وايي چي دا عقد روا ګرسره نه دي ولي خو ظاهر ضرر دي يعني خيار بلوغ ته ضرورت هم نسته، او نه دی روا داسي عقد په کم ولور تر مهر مثل د ښځي د پاره او يا بالاتر مهر مثل د ماينې د صغير د پاره غير ته د پلار او نيکه يعنی نورو قريبانو ته د ښځي او نر.

قال" ويصح النكاح اذا سمى فيه مهرا و يصح النكاح وان لم يسم فيه مهرا واقل المهر عشرة دراهم فان سمي اقل من عشرة فلها عشرة ومن سمى مهرا عشرة فما زاد فعليه

المسمى ان دخل بها اومات عنها" او صحيح ده نکاح که مسمی کړه سو په عقد کي د نکاح ولور، او صحيح ده نکاح که څه هم په عقد کي ولور نه وي معلوم سوی، اوکمه اندازه د ولور لس (۱۰) درهمه ده ولي چي عليه الصلوة والسلام ويلي دي، لامهر اقل من عشرة دراهم" نو که چېرې مسمی کړه سو په عقد کي د نکاح کم تر لس (۱۰) درهمه نو ښځی لره لس درهمه دي حقا للشرع يعني که څه هم د دې مهر مثل زر روپۍ وي مثلا هغه ته اعتبار نسته ولي چي دا تر لس کم راضي ده نو په لس خو په طريق اولی راضي ده.

او چا وتاکي ولور لس (۱۰) درهمه يا زيات تر لس درهمه نو پر هغه سړي باندي لازم دي هغه مهر مسمی چي لس درهمه يا زيات دي، لکن چي دخول په دې وکړي يعني جماعي ورسره وکړي يعني يا خلوت صحيحه ورسره وکړي او يا يې مېړه مړ سي يعني يا ښځه مړه سي.

درويش وايي :- چي دليل د دوهمي مسئلې چي مهر يې نه کي مسمی دادي چي نکاح په لغت کي عقد د انضمام ته وايي او مقصود ورڅخه توالد دي مال نه دي نو انضمام په مېړه او ماينه سره پوره دي نو ذکر د مهر شرط د صحته د نکاح نه دي، لکن سره د هغه مهر واجب دي شرعا د جهته د شرافت د عضو د بضع لکه د سرقی د قطع اليد په نصاب کي.

مسئله:- که سړي په وقت کي د عقد نکاح عدم د مهر شرط کړي هم عقد صحيح دي د حنيفيانو رحمۃ اللہ علیہ په نېز او امام مالك رحمۃ اللہ علیہ وايي چي نکاح سره د نفي د مهر نه صحيح کيږي دی يې پر بيع قياسه وي، مور

وايو چي بيع خو عقد مالي دي او مقصود ځندي مال دي، ولهذا لايصح عند نفی المال بخلاف النكاح كما عرفت.

فائده:- امام شافعي رحمة الله عليه وايي چي هر څه مال چي ثمن دي په عقد كي د بيع كيداى سي هغه قدر ولور هم كيداى سي زمور دليل هغه حديث دي چي د مخه تېر سو، ومزيد التفصيل فی الشروح.

قال القدوری رحمة الله عليه " فان طلقها قبل الدخول بها ولخلوة فلها نصف المسمى"

نو كه دغه سړي طلاقه كړه دغه ماينه د مخه تر دخول په دې سره يعني قبل الجماع او قبل الخلوه نو دې لره نيمی د مهر مسمٰی دي.

لقوله تعالى فان طلقتموهن من قبل ان تمسوهن وقد فرضتم لهن فريضة فنصف ما فرضتم" يعني كه تاسي طلاقي كړې ماينې خپلي د مخه تر مسحه كولو نو پر تاسي باندي نيمی د هغه ټاكلي ولور سته.

قال القدوری رحمة الله عليه " وان تزوجها ولم يسم لها مهرا او زوجها على ان لامهر لها فلها مهر مثلها ان دخل بها او مات عنها"

او كه سړي ښځه په نكاح كړه او ولور يې نه كي معلوم او يا يې داسي په نكاح كړه چي ولور به نه وي دې لره نو دې ښځي لره مهر مثل د نورو ښځو يعني د دې د قوم څخه سته، كه يې دخول په كړي وي او يا يې مېړه مړ سو د دې څخه، په يوه وړد حديث كي راغلي دي چي د عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه د غسي مسئلې په باره كي چا فتوٰی وغوښته نو ده ورته وويل چي دغې ښځي لره ولور د ښځو د دې د قوم دي يعني د قوم څخه به نه كمبوت او نه به بالا بود وي.

قال" وان طلقها قبل الدخول بها او الخلوة فلها المتعة وهي ثلثة ثياب من كسوة مثلها وهي درع وخمار ومسلحفة"

او كه سړي دغه مذكوره ښځه طلاقه كړه د مخه تر دخول په دې سره او تر خلوت يعني په يوه خونه كي د دې سره يوځای كيده ببله مانع شرعي لكه فرضي روژه او ببله مانع طبعي لكه د ناجوړۍ او غير ذالك نو دې لره متعه ده، او متعه درې جامې دي او دا تقدير مروي دي د بي بي عائشه رضی الله تعالى عنها او د عبدالله بن عباس رضي الله عنه او دا درې جامې به د قام څخه د مثل د دې ښځي وي چي هغه نو يو لوي قميص دي او بل پورنی دي چي په كور كې پر سر كوي او بل لوي پونړي چي سر تر پايه پكښي پټې داى سي.

فائده:- مصنف رحمة الله عليه مثلها ووايې مثله يې نه وويل اشاره يې ودې ته وكړه چي په دې متعه كي چي واجبه ده اعتبار حال لره د ښځي دي په غنا او سكنت كي د مېړه حال ته اعتبار نسته، او دا هم قول د امام كرخي رحمة الله عليه دي دی وايي چي دا متعه په ځای كي د مهر مثل ولاړه ده او د مهر مثل اعتبار خو په ښځي پوري اړه لري، لكن قال صاحب الهدايه رحمة الله عليه چي صحيح داده چي حال د مېړه معتبر دي د دې آيت په مقتضٰی، على الموسع قدره وعلى المقتر قدره" يعني دا متعه پر غني سړي په قدر د غنٰی د ده ده، او پر مسكين باندي په قدر د قدرت د ده ده، لكن دا متعه به زياته تر نيمايي د مهر مثل نه وي او تر پنځه درهمه چي نصف د مهر شرعي كمه به هم نه وی، هدايه، ودر.

قال" وان تزوجها المسلم على خمر او خنزير" مثلا ښځه كتابيه وه " فالنكاح جائز ولها مهر مثلها" او كه په نكاح كړه يوه ښځه يوه

مسلمان پر ولور د شرابو او يا د سرکوزي نو نکاح خو روا ده ولي شرط د قبول د خمر او خنزير شرط فاسد دي، او په فقه شريفه کي وايي چي نکاح په شروط فاسده وو نه فاسديږي بلکه شرط يې لغوه دي، بخلاف البيع لانه يبطل بالشرط الفاسدة، نو چون مهر مسمٰی چي خمر او خنزير دي صحيح نه سو، لعدم کونها مالاعند المسلم ولا يقدر المسلم على تسليمهما" نو اصل عوض ته د بطع يعنى فرج رجوع کيږي، وهو المهر المسمٰی.

فائده:- اصل عوض د عضو محترم د ښځي چي فرج دي خو مهر مثل دي لکن تر هغه چي تېرى کېږي په سبب د رضا د نر او ښځي پر مهر مسمٰی باندي، لان العرضى اذا اقتضاه المقام يفوق الذاتى كما قال اهل المعانى فى الحمد لله، تامل.

قال" وان تزوجها ولم يسم لها مهرا ثم تراضا على تسمية مهر فهو لها ان دخل بها او مات عنها وان طلقها قبل الدخول بها والخلوة فلها المتعة" او که يوسړي په نکاح کړه يوه ښځه او مهر يې نه کي معلوم د دې د پاره وروسته بيا دواړه راضي سوه پر معينه ولور نو هغه معين ولور وروسته تر عقد نکاح د ښځي حق دي که يې دخول په وکړي او يا په مرګ د دې څخه جلا سو، او که دغه مېړه ماينې ته طلاق ورکړي د مخه تر دخول په دې سره او د مخه تر خلوت نو دې لره متعه حق ده.

ډروېښ وايي:- چي دا مذهب دي د امام اعظم رحمة الله عليه، او امام ابو يوسف رحمة الله عليه وايي چي نيمى د مهر مسمٰی دي، او د امام شافعى رحمة الله هم دغه مذهب دي دوي وايى چى دلته مهر مسمٰی موجود دي، ولو بعد

العقد والمسمى ينصف عند الطلاق قبل الدخول والخلوة كما هو المقرر فى الفقه" حضرت الامام الاعظم رحمة الله عليه وايي چي اصل العقد خو د مهر مسمٰی څخه خالي وو نو د اصل عقد مقتضى خو مهر مثل وو او مهر مثل خو په وقت کي د طلاق قبل الدخول نه نيمى کيږي بلکه متعه واجبه ده کما مر، او عارضي رضا د نر او ښځي پر ولور معين که څه هم په وخت کي د دخول او يا مرګ د مېړه اعتبار لري، لتمام الملك بهما لکن دا عارض پسله طلاق قبل الدخول اعتبار نه لرى.

قال" وان زاد فى المهر بعد العقد لزمته الزيادة ان دخل بها او مات عنها وتسقط الزيادة بالطلاق قبل الدخول" او که زياتى وکړي مېړه د ښځي په ولور کي د هغې وروسته تر عقد لازم دي پر مېړه باندي هغه مقدار زائد يعني رجوع نه سي کولای، لکن زيادت هلته لازم دي چي دا مېړه جماعي ورسره وکړي او يا دى مړ سي او دا پاته سي يعنى ورثه د مېړه به ټوله ولور سره د مقدار زائد ودې ته ورکوي، او هغه زائد مقدار د مېړه د ذمې څخه ساقطيږي په طلاق قبل الدخول سره.

پوه شه:- چي مذكور فى المتن مذهب دي د امام اعظم رحمة الله عليه او د امام محمد رحمة الله عليه چي د فقهي په کتابو کي دوي دوو ته طرفين وايي دوي وايي هر مبلغ چي د عقد په صلب کي نه وي لکه دلته دا زائد مقدار هغه باطله وي طلاق قبل الدخول، او امام ابو يوسف رحمة الله عليه وايي چي هغه د نورو ائمه ثلثه وو يعني امام شافعي رحمة الله عليه امام مالك رحمة الله عليه او امام احمد رحمة الله عليه مذهب هم دي چي په طلاق قبل الدخول سره لکه اصل ولور چي نيمى کيږي دغه رنګه قدر زائد هم نيمى کيږي ولي دا قدر

زائد خو مېړه او ماينې سره فرض کړي او خدای پاک ﷻ په دې باره کې وايي، فنصف ما فرضتم" مجمع لانهر.

قال" فان حطت من مهرها صح الحط" او که ښځي کم کړي د خپل ولور مقرر فی العقد څخه وروسته تر عقد دا کموالي صحيح دي يعني وروسته بيا دا دعوی د دغه مقدار چي دې کم کړي نه سي کولای ولي ولور حق د دې دي ابتداء وبقاء دا اختيار د ټوله ولور د بخښلو او د بعض د کمولو لري، کذا فی الهدايه.

قال القدوری رحمه الله" واذا خلا الزوج بامرئته وليس هناک مانع من الوطی ثم طلقها فلها کمال مهرها" او که چېري يوځای سو مېړه د خپلې ماينې سره او هيڅ مانع د جماعو نه وو په هغه خلوت کې او بيا دې مېړه داماينه طلاقه کړه نو دې لره پوره ولور سته پر مېړه باندې يعني کې څه هم وطي نه وې ورسره کړي، او امام شافعي رحمه الله وايي چي دې ښځي لره نيم ولور دي ولي چي عقد د نکاح خو د دې پر فرج سوي وو نو د فرج تسليمي خو په وطي سره کيږي او دلته خو وطي نه دي سوي نو پوره ولور يې حق نه دي مور وايو چي ماينې خو تسليم د فرج حتی الوسع وکړي چي موانع يې لري کړه نور نو وطي خو د مېړه کار دي دا خو داسي نسي کولای چي د مېړه ذکر خپل په فرج کي داخل کړي نو د دې پوره ولور حق دي لکه په بيع کي چي بائع مبيعه د مشتري مخ ته ودره وي نو د هغه پوره ثمن حق دي که يې مشتري بوزي او که يې نه.

قال المصنف رحمه الله" وان کان احدهما مريضا او صائما فی رمضان او محرما بحج او عمرة او کانت حائضا فليست بخلوة صحيحة ولو طلقها فيجب نصف المهر. په بيان کی د موانعو د جماعو.

پوه سه:- چی سره د بعض موانعود وجو د خلوت د مېړه د ماينې سره خلوت فاسده بولي او چي ټوله موانع پورته وي هغه خلوت صحيحه دي.

ترجمه:- که چېري وو يو د نر او ښځي څخه ناجوړي يعني داسي ناجوړي چي سره د هغې ناجوړي يې وطي د وسه نه وي پوره چي دې ته مانع عقلي وايې، او يا د يوه د دوي دوو روژه وه په مياشت کي د روژې او يا احرام بنده وه په حج يا په عمره سره، چي دې ته مانع شرعي وايي او يا ښځه په حيض کي وه چي دې ته مانع طبعي وايي نو دغه خلوت صحيح نه دي نو ګه يې طلاق پسله دغسي خلوته ورکړي نو پر مېړه نيمی ولور واجب دي.

مسئله:- که د مېړه يا ماينې معمولي پر سر درد وه يا بدن خوږېدي مثلا نو خلوت يې صحيح دي په صورت کي د طلاق پوره ولور لازم دي.

پوه سه:- چي که يو د مېړه او ماينې څخه صائم وو لکن نفلي روژه يې وه بيا خلوت صحيحه دي، کذا فی الهدايه.

قال" واذا خلا المجبوب بامرئته ثم طلقها فلها کمال المهر عند ابی حنيفة رحمه الله" او که خلوت صحيحه وکړي مجبوب يعني چي خوتي او غنړ يې ځني پرې کړه سوي وو، او بيا يې طلاقه کړه نو د ماينې يې پوره ولور حق دي په نېز د امام اعظم رحمه الله او ياران رحمه الله وايي چي

نیمی ولور یې کیږي ولي چې په مجبوب کي خو مانع د وطي حساً موجود دي چې آله د وطي نه دي، او امام اعظم رحمۃ اللہ علیہ وایي چې په هر عقد کي لازمه داده چې معقود علیه به حتی الامکان پوره وسپارل کیږي وه جانب مقابل ته تا چې د پوره عوض مستحق وه ګرځي، کما فی البیع اذا سلم البائع المبیعة الی المشتری کاملا یستحق الثمن کاملا او فیمانحق فیه" مانع د مجبوب معقود علیه چی د دې بضع او فرج دي په پوره ډول مجبوب ته تسلیم کي نو حق د پوره ولور لري په طلاق کي.

پوښتنه:- چې د مېړه فرضي روژه وي، او یا محرم وي او یا سخت ناجوړ وي او ماینه ځان او بضع ور تسلیم کي او هغه یې طلاقه کړي نو ولي نیمی ولور کیږي سره د دې ښځي خو پوره تسلیم بحسب الامکان وکړي مانع خو د مېړه د خوا دي، کما فی المجبوب فما الفرق بین هاتین المسئلتین؟

ځواب:- په صورت مذکوره کي ماینې حتی الامکان بضع نه ده تسلیم کړې ولي چې موجوده اعذار خو پاي درلو دي نو دې به هلته بضعه ور تسلیم کړې وایي چې د مېړه عذرونه پای ته رسېدلې وایي مثلا چې روژه یې ماته کړي وای دې به بضعه ورپښ کړې وای یا د احرام څخه خلاص سوي وای دې به بضعه ورته ایښې وای او یا جوړ سوې وای او په مسئله کي د مجبوب خو جب (مقطوع الذکر) پای نه لري چې دا یي وه پای ته انتظار وکړي نو په حال د جب تسلیم د بضع تسلیم کامل دي نو حق د پوره ولور لري په وخت کي د طلاق په جوهره کي وایي چې د عنین ماینه چې ببله موانعو مذکوره وو د مېړه سره خلوت وکړي او بیا یې طلاقه کړي پوره ولور یې حق دي ولي چې خلوت صحیحه وکړي، مع ان

العنة ایضا مانع من الجماع" نو څه فرق دي د جب او عنته او سره د دې چې یاران رحمۃ اللہ علیہ د امام اعظم رحمۃ اللہ علیہ سره متفق دي د عنین په مسئله کي، جوهره، ودر،

قال القدوری رحمۃ اللہ علیہ " ویستحب المتعة لکل مطلقة الا المطلقة واحدة وهی التی طلقها قبل الدخول ولم یسم لها مهرا" او مستحب ده متعه یعني د مخه یې بیان تېر سو هري طلاقي ښځي لره مګر یوې طلاقي ښځي لره نه ده مستحب بلکه واجبه ده هغه هغه طلاقه سوې ماینه ده چې طلاق مېړه ورکړي د مخه تر دخول یعني جماعو او مېړه نه وي مسمٰی کړي دې لره ولور.

فائده:- د دې کلیه قاعدې څخه د قدوری رحمۃ اللہ علیہ دا معلومیږي چې هغې طلاقي سوي ښځي لره قبل الدخول چې مهر مسمٰی لري هم متعه مستحبه ده لکن حکم داغسي نه دي، کما قال بدرالدین العینی رحمۃ اللہ علیہ په شرح کي د کنز.

پوه شه:- چې مطلقات څلور (۴) قسمه دی (۱) مطلقه قبل الدخول ولم یسم لها مهر نودی ته متعه ورکول واجب دي کما فی متن القدوري. (۲) مطلقه د بعد الدخول اومهر مسمٰی لري ودې ته متعه ورکول مستحبه ده. (۳) مطلقه د بعد الدخول چې مهر مسمٰی نه لري ودې ته هم متعه مستحب ده. (۴) مطلقه د قبل الدخول چې ولور مسمٰی لري دې ته متعه ورکول نه واجبه ده او نه مستحب ده، جوهره عینی، در.

دروښ وایي:- چې د دې سوال پر عبارت مذکوره د قدوري ځواب دي په شروح کي و لټول سي والله اعلم بالصواب.

قال المصنف رحمه الله" واذا زوج الرجل ابنته على ان يزوج الاخر اخته او بنته ليكون احد العقدين عوضا عن الاخر فالعقدان جائزان ولكل واحدة منهما مهر مثلها"

درويش وايي:- چي داسي عقد ته په اصطلاح کي مخې وای او که يوه سړي خپل لور مثلا په نکاح و بل چا ته ورکړه په دې شرط چي هغه بل سړي به خپله خور يا لور وده ته په نکاح ورکوي په دې معنا چي دغه دوه عقد به يو د بل عوض وي يعني مهر به په مابين کي نه وي نو دواړو عقد صحيح دي او هرې ښځي لره د دغو دوو (٢) ښځو مهر مثل لازم دي، نو مهر مثل د دوي که سره برابر وي او که يو تر بل بالاوی اوامام شافعي رحمه الله وايي چي دواړه عقد فاسد دي ولي چي په حديث شريف چي روايت يې ټولو صحابه وو رضي الله عنهم کړي دي په روايت د نافع د عمر رضي الله عنه څخه چي آنحضرت ﷺ نهي وکړي د شغار څخه چي نوي په مابين کي ولور يعني فرج د فرج بدل وي، او په بل حديث شريف کي راغلي دي په روايت د عبدالله بن عمر رضي الله عنه چي عليه السلام وويل لاشغار فی الاسلام يعني فرج د فرج عوض نه سي کيدای په اسلام کي موږ وايو چي بېله شکه دا شرط خوفاسد دي لکن عقد د نکاح په فاسد شرطو نه فاسديږي مثلا که يو سړي د چا لور په نکاح کړه چي زه به ويني درکوم مثلا، يا بل داسي شي شرط کړي چي هغه مال نه وي عقد يې صحيح دي او ښځي لره مهر مثل د، نو چي عقد نکاح په شرط فاسد نه فاسديږي بلکه شرط لغوه دي نو ګويا نکاح بېله تسميه د مهر ده نو خود مهر مثل لازم دي، او د حديث مروي لاشغار آه، محمل پر هغه نکاح ده چي په وخت کي د جاهليت رواج وه چي په هغې نکاح کي به نه

تسميه د ولور وه او نه بل مال بلکه صرف او صرف تعويض د بضع په بضع سره به وو په شرع شريف کي خو تعويض مذکور لغوه دي بلکه دواړو ښځو لره مهر مثل دي، وهذا فرق دقيق يجب التامل فيه.

سوال:- په پښتنو کي خو هم دا رواج دي بعض وخت پيدا کيږي چي دوي مخې ورته وايي نو د دې عقد هم لزوم د مهر مثل دي او که څرنګه؟

ځواب:- د پښتنو د مخې په عقد کي د هرې ښځي ولور تاکل کيږي يا لږ يا ډېر يعني تر مهر شرعي بالانو په دې عقد کي خو مهر مسمی سته هغه هرې ښځي ته لازم وي نو مهر مثل په دې عقد کي نسته، تبيين، ودر.

قال" واذا تزوج حر امرئة على خدمته سنة او على تعليم القران جاز فلها مهر مثلها" يعني مثلا او يا تعليم د کتاب د فقهي شريفي، او که په نکاح کړه حر سړي يوه ښځه په دې شرط چي دی به د دې خدمت کوي يو کال او يا به تعليم او ښونه د قرآن ورته کوي عقد خو ورته روا دي او دې لره مهر مثل سته ولي چي خدمت د حر خو مال نه دي او دغه تعليم القران هم مال نه دي نو خود مهر مثل لازم دي، او امام محمد رحمه الله وايي چي په صورت کي د خدمت قيمت د يوه کال د خدمت لازم دي او مذکور فی المتن مذهب د شيخينو دي رحمهما الله.

پوښتنه:- په قرآن مبارک کي په قصه د موسی او شعيب عليهما السلام داسي راغلي دي، على ان تاجرنی ثمانی حجج الآيه" نو په عقد کي خو خدمت د حر چي موسی عليه السلام ولور د لور د شعيب عليه السلام وکړځيدي؟

ځواب:- هو، لكنه منسوخ فی ديننا.

قال القدوری رحمۃ اللہ علیہ" وان تزوج عبد امرئة حرة باذن مولاه علی خدمته سنة جاز ولها خدمته" او که په نکاح کړه مريي بنځه حره په اجازه د بادار پر خدمت د ده بنځي لره يو کال، نو بنځي لره د ده خدمت دي ولي چي منافع د مريي که څه هم حقيقت مال نه دي لکن مال دي حکما نو ځکه په ځای کي د ولور مالي دربرې، ج

واذا اجتمع فی المجنونة ابوها وابنها فالولی فی نکاحها ابنها عند ابی حنيفة وابو يوسف رحمهما الله وقال محمد رحمۃ اللہ علیہ ابوها" او که چېرې جمعه سوه په ليونۍ بنځه کي يعني په وخت کي د نکاح د دې پلار او زوي د دې نو ولي په نکاح کي د دې زوی دي په نېز د امام اعظم رحمۃ اللہ علیہ او ابو يوسف رحمۃ اللہ علیہ، او امام محمد رحمۃ اللہ علیہ وايي چي ولي د نکاح يې پلار دي دليل د مذهب د شيخينو دادي چي ولايت د نکاح بناء پر عصوبت دي، او اقرب د عصباتو زوي دي کما تقرر فی علم الميراث، او امام محمد رحمۃ اللہ علیہ وايي د پلار شفقت تر زوی ډېر دي والله اعلم.

قال" ولا يجوز نکاح العبد ولامة الا باذن مولاهما" او نه ده روا نکاح کول د مريي او مينځي مګر په اجازه د بادار د دوي او مالك رحمۃ اللہ علیہ وايي چي مريي ته نکاح ببله اجازې د بادار رواده دي وايي چي مريي خپله ماينه ببله اجازې د بادار طلاقه ولای سي نو نکاح هم کولای سي، مور وايو چي په صحيح حديث کي عليه السلام داسي فرمايلي دي، ايا عبد تزوج بغير اذن مولاه فهوعاهر" هر مريي چي نکاح وکړي ببله اجازې د بادار هغه زنا کاره دي.

قال القدوری رحمۃ اللہ علیہ" واذا تزوج العبد باذن مولاه فالمهر دين فی ذمته ورقبته يباع فيه" او که چېرې مريي کوزده وکړه په اجازه د بادار نو ولور د ماينې يې پور دي په ذمه کي د مريي لکن په سبب د اجازې د باردار دا پور د ده په رقبه پوري مربوط دي نو رقبه د مريي چي حق د بادار ده په کښي خرڅېږي لکه نور پورونه د تجارت چي پر عبد ماذون باندي وي. ج

قال" و اذا زوج المولی امته فليس عليه ان يبوئها بيتا للزوج ولكنها تخدم المولی ويقال للزوج متی ظفرت بها وطئتها" که چېرې بادار په نکاح ورکړه خپل مينځه ويو چا ته نو پر بادار دا نسته چي د مينځي د پاره يوه خونه ورکوي چي دا او مېړه په کښي اوسېږي او خپلي وطي سره کوي ولي چي د بادار حق د مينځي څخه خدمت غوښتل دي اوس هم باقي دي په نکاح د ده حق نه باطلېږي، هدايه. لکن دا به خدمت د بادار کوي لکه په خوا او مېړه ته دې وويل سي چي هر وخت دي پر منځه چي ستا ماينه ده قدرت پيدا کړي وطي ورسره کوه، ولي مېړه لره حق د وطي په نکاح سره ثابت سو نو بادار مېړه د مينځي د وطي څخه د دې نسي منع کولای مګر هغه وخت يې منع کولای سي چي ميړه مهر معجل نه وي ورکړي، او ميړه هم دا حق نه لری چي دا مينځه ماينه خپله د خدمت څخه د بادار منعه کړي ولي چي په نکاح سره صرف وده ته حق د روا والي د جماعو پيدا سو د رقبې د مينځي ملك خو اوس هم د بادار دي.

مسئله:- د دغي مينځي ماينې نفقه پر مېړه نسته ولي چې نفقه خو جزاء د احتباس د ماينې ده د مېړه په کور کې ولم يوجد ، حاصل مجمع الانهر.

قال" وان تزوج امرئة على الف درهم على ان لايخرجها من البلد او على ان لا يتزوج عليها امرئة فان وفى بالشرط فلها المسمٰى وان زوج عليها او اخرجها من البلد فلها مهر مثلها"

او که يو چا په نکاح کړه يوه ښځه په زر درهمه مثلا په شرط د دې چې دا به د ښار څخه نه باسي يعني د عقد نکاح د ښار څخه او يا په دې شرط چې پر دې باندي به نه په نکاح کوي بله ښځه يعني بن، نو که مېړه وفا وکړه په شرط مذکور سره نو دې لره هغه مهر مسمٰى دي ولي په هغه ولور دا راضي سوې ده او هغه هم مهر کيداى سي، او که مېړه بله ښځه پردې باندي په نکاح کړه او يا يې د ښاره څخه وه ايستله نو دې لره مهر مثل دي ولي دا ښځه چې شرط يې وه لګاوه غالبا د دې سببه چې زر روپۍ (١٠٠٠) د دې تر مهر مثل کمي دي نو دغه ښځه په نقصان تر مهر مثل نه ده راضي چې شرط نسي پر ځاى او په دې شرط کې د دې فائده ده کمالا يخفا ، نو مهر مثل د دې پوره کيده غواړي، بالغا مابلغ.

قال القدورى رحمه الله" ولو تزوجها على حيوان غير موصوف صحت التسمية ولها الوسط منه والزوج مخير ان شاء اعطاها ذالک وان شاء اعطاها قيمته" او که چېرې سړي په نکاح کړه ښځه چې ولور يې يو حيوان ورته وټاکي او د هغه وصف يې بيان نه کړي يعني چې جيد به وي يا اوسط يا ادنى نو مسمٰى والي صحيح دي او دې ښځې لره ميانه د هغه حيوان کيږي، او مېړه يې اختيار لري که هغه

وسط حيوان ورکوي او که قيمت د حيوان وسط ورکوى، وجه داختيار د مېړه داده چې که هغه وسط حيوان ورکړي هغه خو ګويا اصل مسمٰى دي او که يې قيمت ورکوي هم روا دي ولي چې حيوان وسط خو په قيمت معلومېږي نو قيمت هم ګويا اصل دي.

پوه سه:- چې مراد د حيوان څخه جنس حيوان نه دي ولي چې په جنس حيوان کې محض تفاوت دي او اوسط يې نه معلوميږي، لاختلاف انواعه فالتسمية اذا باطله ولها مهر مثلها" بل که مراد نوع د حيوان د يعني آس، يا خر، يا اوښ وغيرها چې نوعي اوسط معلوميږي په قيمت سره، او امام شافعي رحمه الله وايي چې په صورت د ارادې د نوع هم تسميه باطله ده، او ښځې لره مهر مثل دي، لفرط التفاوت فى افراد نوع واحد ولهذا لايجوز البيع بجعله ثمنا فى البيع" مور وايو چې د بيع او د نکاح فرق سته ولي چې بناء د بيع پر چنو او ټينګ والي ده نو چې حيوان متعين النوع ثمن وګرځوي نو هم مفضى وه نزاع ته ګرځي چې په وسط کې هم تفاوت سته، او بناء د نکاح او ولور پر مسامحه ده، او يو بل ډېر نه ټينګ ولو باندي ده نو چې حيوان اوسط پېش کړه سي د دواړه طرفو يعنى مېړه او ماينې مراعات پکښې موجود دي نو نزاع تر مابين نه راځي فافهم.

ولو تزوجها على ثوب غير موصوف فلها مهر مثلاها" او که يې ښځه په نکاح کړه پر يوه جامه يعني فقط يې ثوب ذکر کړي او وصف او بيان د جامې نه وکړي چې ابرشمي به وي يا نخي به وي ګلدار به وي يا بېګله بخمل به وي يا خوشبو به وي، الى غير ذالك من انواع الثوب" نو دې لره مهر مثل دي په اتفاق ولي ثوب لفظ شامل اجناسو

ډېرو لره دي نو دلته جنس هم مجهول دي نو د وسط هيڅ حال نه معلومېږي، فلهذا بطل المسمى وجب مهر المثل كذا فى الهدايه.

ونكاح المتعة والموقت باطل" او نكاح د متعې چې اهل ايران يې صيغه بولي او روا يې هم بولي په نېز د اهل السنة والجماعة باطله ده، صورت يې دادي چې يو نر و ښځي ته ووايې، اتمتع بك كذا مدة بكذا من المال" يعنى زه فائده اخلم ستا څخه يعني وطي درسره كوم دونه مده يعني يوه مياشت يا يو كال په دونه روپو يا سل روپۍ يا زر روپۍ او ښځه يې قبوله كړي، فهذا باطل.

پوه سه:- چې د حديثو په كتابو كې راغلي دي چې عليه الصلوة والسلام يو وار اجازه د نكاح متعه وه اصحابو ﷺ ته وركړه او څو ورځې وروسته يې بيرته منعه ځندي وكړه او په بله غزا كې بيا اجازه وكړه لكن وروسته يې د ابد د پاره منعه ځندي وكړه، والتفصيل فى شروح كتب الاحاديث.

مسئله:- كه په متعه كې دونه ډېره مده ذكر كړه چې تر هغو نده مدې پورې غالبا ژوند د دوي نه وو ممكن لكه چې ووايي، اتمتع بك ثلث مائة سنة" نو دا متعه نه ده باطله بلكه دا نكاح شرعي ده او مال يې ولور دي. كذا فى شرح البرجندى رحمه الله.

او نكاح موقت هم باطله ده صورت يې دادي چې يو سړي په حضور كې د شاهدانو د يوې ښځې سره نكاح وكړي يوه مياشت.

فائده:- فرق د متعې او نكاح موقت دادي چې متعه په لفظ، اتمتع بك آه" او نكاح موقت په لفظ د نكاح ياتزوج وي، قاله البرجندي رحمه الله، دليل د بطلان د نكاح موقت دادي چې په دې نكاح كې قلب دي د موضوع د شرعي شريفي ولي چې نكاح په شرعت كې د پاره د ابد يعني

مدة العمر فالتوقيت ينافيه" او بل داچې دوي كه څه هم لفظ د نكاح ذكر كړي دي لكن په معنا كې دا د زنا عقد دي العبرة للمعنى فافهم. در

قال القدورى رحمه الله" وتزويج العبد والامة بغير اذن مولاهما موقوف فان اجازه المولى جاز وان رده بطل" او نكاح وركول د فضولي سړي وه مريي ته د يوچا، يا وه مينځي ته د يوچا بې اجازې د بادار د دوي موقوف ده يعني نه جائز ده او نه باطله بلكه كه مولى اجازه وكړه نكاح روا ده او كه يې رد كړه باطل ده.

پوه سه:- چې مور قيد د فضولي ووايه نو هغه سوال نه واريدېږي چې په دې عبارت كې خو تكرار دي د هغه د مخني عبارت، ولايجوز نكاح العبد والامة الا باذن مولاهما آه" ولي چې د هغه عبارت معنا دا وه چې دوي په خپله عقد وكړي، او د دې عبارت معنا داده چې بل سړي د دوي د پاره عقد نكاح وكړي، جوهر.

قال" وكذالك ان زوج رجل امرئة بغير رضاها" يعني د دې څخه يې رضا او وكالت د نكاح نه وو ترلاسه كړي، او دا غه رنګه رجل بغېر رضاه يعني د ده څخه يې رضا او وكالت نه وو حاصل كړي، او دغه رنګه نكاح د فضولي سړي د يوې ښځې د يو سړي سره بېله رضا د دې يعني دا نه وه په خبره نو دا نكاح هم موقوفه ده كه ښځې پسله خبرېدو څخه اجازه وكړه نو نكاح يې روا ده او كه ښځې هغه نكاح رد كړه نو نكاح باطله ده، او دغه رنګه نكاح موقوفه ده پر اجازه كه يو فضولي سړي وه يوه نر ته كوزده وكړه نو پس د هغه چې نر خبر سو كه يې اجازه وكړه نو نكاح مذكوره نافذه ده او كې رد كړه نكاح باطله ده.

پوه سه:- چې فضولى هغه چاته وايى چې نه اصيل وي او نه وكيل.

سوال:- ولي دا نکاح د فضولي د اول الامر څخه مردود نه ده؟

ځواب:- ښځه او نر چونکه محل د نکاح وي او فضولي هم اهل د عقد د نکاح دي نو صرف رضا د ښځي او نر پاته ده نو ځکه دا نکاح د فضولي د ابتدا څخه مردود نه ده، بلکه تر رضا پوري د دوي موقوفه ده، کذا فی رد المحتار وغیره.

قال" ويجوز لابن العم ان يزوج بنت عمه من نفسه" يعنی په حضور کي د شاهدانو، او روا ده د اکازوي لره چي په نکاح کړي د اکا لور د ځان د پاره، دليل يې دادي چی دغه د اکا زوي خو ولي د ښځي دي چي نور تر ده نژدې عصبات نه وي نو ده لره ولايت د تزويج د اکا د لور ثابت دي، او د فقهي شريفي په ټولو کتابو کي وايي چي يو سړی د دواړو طرفو د عقد يعني ښځه او نر دي کيدای سي که څه هم په بيع کي يو سړی د بائع او مشتري په ځای کي نسي دريدلای،
وجه د فرق داده چي حقوق د بيع لکه تسليم د مبيعې يا طلب د ثمن راجع وه عاقد ته دي نو که يو سړی عاقد د بيع سي نو دي به هم طالب او هم به مطالب سي، وهذا محال بخلاف النکاح" ولي چي حقوق د عقد نکاح لکه طلب د ولور او ولور ردول د ښځي راجع وه عاقد ته نه دي بلکه په خپله مېړه او ماينې ته دي، نو تمانع نه پېښېږي، د دې مسئلې صورت دادي چي يو سړی په حضور کي د شاهدانو دا ووايي چي ما خپل د اکا لور چي فلانۍ يې نوم دي او د فلاني لور ده په زر روپۍ مثلا، ځان ته په نکاح ورکړې ده او زما هم قبوله ده بلکه هغه مخنی عبارت يواځي پر ځای د ايجاب او قبول دريږي، کما فی کتب الفقه.

قال" واذا اذنت المرئة للرجل ان يزوجها من نفسه" يعني دی وکيل کړي نو دې سړي دا عقد نکاح په حضور کي د شاهدانو وکړي روا دي.

قال" واذا ضمن الولی المهر للمرئة صح ضمانه" او که ولي د ښځي د نکاح يعني هر ولي چي وي ضمانت د ولور پر غاړه واخستي و ښځه ته نو دا ضمان يې صحيح دي ولي چي د ولي پر غاړه خو طلب د ولور نسته نو دی د ولور په باره کي لکه اجنبي سړی داسي وي نو خود يې ضمان صحيح دي.

مسئله:- که ولي د ښځي ولور ادا کړي نو که يې ضمانت په امر د زوج وو نو پر مېړه د ښځي رجوع کولای سي اوکه يې امر د زوج نه وو بيا نو دي متبرع دي پر مېړه رجوع نه سي کولای، کذا فی الجواهر.

قال" وللمرئة الخيار فی مطالبة زوجها او وليها" او ښځي لره اختيار دي که طلب د ولور د مېړه څخه کوي او که يې د ولي څخه کوي لکه چي د ټولو کفالاتو چي دغه حکم دي.

قال" واذا فرق القاضی بين الزوجين فی النکاح الفاسد قبل الدخول فلامهرلها" او که قاضي جلا والي په مابين کي د مېړه او ماينې په نکاح فاسده کي راولي د مخه تر وطي د مېړه نو ښځه د ولور حق نه لري ولي چي د ولور وجوب خو په نفس عقد سره نه دي بلکه وجوب د ولور په قبض د منافع د فرج دي چي هغه قبض وطي دي او هغه نه دي پيدا سوي.

پوه سه:- چي عقد فاسد د نکاح لکه چي په درمختار کي راغلي دي هغه عقد نکاح دي چي يو شرط د شرائطو د صحت د نکاح نه وي پکښې لکه نکاح د ښځي سره په عدت د بل مېړه، که د طلاق عده وي او که د وفات عده وي او يا د سړي څلور ماينې وي دی يوه طلاقه کړي او د هغې عده نه وي تېره سوې، دی پنځمه ښځه په نکاح کړي، او يا نکاح ببله شاهدانو وي، او نوري ورته مسئلې چي په بحث کي د عقد فاسد د نکاح راغلي وې.

وكذالک بعدالخلوة" او دغه رنګه تر خلوت وروسته هم دې ښځي لره ولور نسته ولي چي نکاح د دوي چي فاسده ده نو هر رنګه خلوت يې فاسد دي، او ولور چي لازمېږي خو په خلوت صحيحه سره لازمېږي حتی زمور مشائخ رحمة الله عليه وايي چي خلوت صحيحه په نکاح فاسده کي لکه خلوت فاسده په نکاح صحيح کي لکه خلوت د ښځي سره په حال کي د حيض، په جوهره کي وايي چي په نکاح فاسده کي ښځه مېړه مسحه کړي او يا مچه ځندي واخلي او يا يې په کونه کي وطي کي (يعني لواطت ورسره وکړي) هم ښځه د ولور حق نه لري.

پوښتنه:- چي د کوني د خوا کار ورسره وکي نو منافع د ښځي يې قبض کړه نو ولي ولور يې حق نه دي؟

ځواب:- منافع د ښځي په نکاح کي د کوس د خوا کار کول دي کوني لره اعتبار نسته، جوهره، ودر.

قال القدوری رحمة الله عليه" واذا دخل بها فلها مهر مثلها ولايزاد علی المسمٰی وعليها العدة ويثبت نسب ولدها منه"

او که مېړه سره د فاسدي نکاح په ښځه سره دخول کړي وو يعني يمينې وطي يې ورسره کړي وې نو دغي منکوحې لره مهر مثل پر مېړه لازم دي لکن که مهر مثل د دې تر مهر مسمٰی فی العقد بالاوو، بالابود يې حق نه کيږي او پر دې ښځه که قاضي حکم د تفريق وکړي يا يې مېړه طلاقه کړي پر دې باندي عدت تېرول سته او کې عيال پيدا سو نسب يې د مېړه څخه ګنړل کيږي يعني ولد زنا نه ورته ويل کيږي ولي چي د نسب په اثبات کي احتياط کول کيږي تاچي دا عيال په سبب د نسب ژوندي ګنړلای سي، ولي ارمونی په حکم کي د مړه دي نو په دغه نکاح فاسده سره هم نسب ثابتيږي چي دا نکاح فاسده په سبب د وجود د رکن د نکاح چي ايجاب وقبل دي من وجه نکاح ده، نو د اثبات نسب د پاره دغه هم کافي دي، هدايه ودر.

او دليل د عدت پردې دادي چي شبه د نکاح چي په نکاح فاسده کي سته په ځای کي د حقيقت نکاح حسابيږي. للاحتياط فی اشتباه انسب. هدايه.

پوه سه:- چي عدم زيادت پر مهر مسمٰی هلته دي چي مهر مسمٰی معلوم المقدار شی وي او که يې داسي ورته ويلي وه چي يو شی په ولور کي درکوم يا يو څو روپۍ به درکړم نو په دې صورت کي دا نکاح فاسده ده چي مهر مسمٰی مجهول وي نومهر مثل د ښځي بالغا مابلغ دی، كذا فی حاشيه الطحطاوی رحمة الله عليه، ودرايه، چي عدم زيادت د مهر مثل پر مهر مسمٰی په نکاح فاسده په هغه صورت کي دي چي عقد د نکاح د ښځي غير محرم د دې لکه پلار ورور وغيره يعني د اکا زوي مثلا کړي

وي، او کـه محـرم عقـد کـړي وو بـيانو مهـر مـثل بالغـا مـابلغ لازم دي. کذا فی الخانيه.

فائده:- د عقد فاسد مهر مسمّی که تر لس (۱۰) درهمه کم وي هم تر هغه بالاتوب نه کيږي بخلاف النکاح الصحيح چي په هغې که مهر المثل لازم سو او مهر مسمّی تر لس (۱۰) درهمه کم وو لس درهمه به خواه مخواه ورپوره کوي. کذا فی هامش القدوری.

قال القدوری رحمۃ اللہ علیہ "ومهر مثلها يعتبر باخواتها وعماتها وبنات عمها" او مهر مثل د ښځي معتبر دي په خوندو سره د دې او په امه ګانو سره د دې او په نورو سره د اکا د دې يعني د پلار د طرف په ښځو ولي چي هر انسان د قوم څخه د پلار شمېرل کيږي.

پوه سه:- که د ښځي خوندي په يوه اندازه مهر په نکاح ورکړه سوي وې او امه ګانی يې تر هغه مقدار کمي يا بالا په نکاح ورکړه سوي وې نو اعتبار ولور لره د خوندو دي، وهکذا الترتيب فی بنات العم والاخوات والعمات فتامل، در.

قال" ولايعتبر بامها وخالتها اذا لم تكونا من قبيلتها" او اعتبار د مهر مثل په مور سره د ښځي او يا په خاله سره د دې نه کېږي چي مور يا خاله د دې د قوم او قبيلې څخه د دې نه وي حاصل داچي جانب ته د مور اعتبار نسته مګر هلته چي مور يې د قوم څخه د پلار وي لکه چی مور يې د پلار د اکا لور وي نو د مور ولور يې په مهر مثل کي د لور اعتبار لري، کذا فی الهدايه، او ابن ابي ليلی رحمۃ اللہ علیہ وايي چي اعبتار د مهر مثل په مور د ښځي دي او په قوم د مور، ولنا حديث ابن مسعود رضی اللہ عنہ لها مهر مثل نسائها وهن اقارب الاب، کذا فی مجمع الانهر ودر.

قال القدوری رحمۃ اللہ علیہ "ويعتبر فی مهر المثل ان يتساوی المرئتان فی السن والجمال والمال والعقل والدين والبلد والعصر" او معتبرېږي په مهر مثل کي چي سره برابري به وي دغه دوې ښځي يعني دوې خوندي او يا ښځه او عمه او يا ښځه او د اکا لور چي په دغو شيانو کي اول (۱) په سن کي يعني په عمر کي.

پوه سه:- چي مراد د مساوات څخه د سن دا نه دي چي په يوه ورځ او يا په يوه مياشت يا کال کي به دواړي زېږيدلي وي بلکه مراد دادي چي تر مابين د دوي په سن کي دونده فرق نه وي چي په هغه د دوي په مهر کي فرق راسي، دوهم ۲) په ښايست کي.

پوه سه:- چي مراد د مساوات د ښايست حقيقي مساوات نه دي مراد چي د امکان څخه وتلي کار دي، بلکه مراد دادي چي دونه فرق بې په ښايست کي نه وي چي په هغه سره د مهر فرق راځي.

دريم (۳) مساوات دي په مال کي ولو که د پلار ګڼې مال وي يعني داسې به نه وي چي يوه ښځه د ډېر سرمايه داره کور وي او بله د مسکيني کورنۍ وي ولي په دې سره هم ولور فرق کوي او حقيقت برابري د مال هم نه ده مراد کما مر.

څلورم (۴) په عقل او پوهي کي به برابری وي د دې څخه حقيقت برابري نه ده مراد بلکه دومره تفاوت به يې په عقل کي نه وی چي په ولور کي تفاوت راولی مثلا يوه ښځه ليونۍ وي، او يا پاګله په کار وبار د کور نه پوهېږی او بله پر سد وي او په کاروبار پوه وي ولي په دې سره تفاوت په ولور کي راځي.

او پنځم (۵) په دينداري او تقوىٰ کـي برابـري ده د دې څخـه هـم حقيقت برابري نه ده مراد بلکه يوه ښځه لمونځ کوي او روژه نسي وغيره او بله ښځه د لمانځه په غم کي نه وي، وهكذا الصوم وغيره من الامور الدينيه" او شپږم (۶) چي دغه دوې ښځي د يوه ښار وي مثلا ولي چي په ښارو کي هم د ښځو مهر سره متفاوت وي. ووهم (۷) او دا دوې ښځې به د يوه عصر وي ولي چي په تفاوت د زمانې سره هم مهرونه بدلېږي، زما په ياد دي چي تردې اوسنۍ سنه چي ۱۴۲۳ هجري قمري ده، پنځوس کاله د مخه د ښځو غالب ولور لس زره (۱۰۰۰۰) افغانۍ وو چې هغه تخمينا لس (۱۰) کالداري پاکستانۍ کېږي، او په اوسنۍ زمانه کې لږ ولور د ښځي يو لك (۱۰۰۰۰۰) کالداري دي، نو حاصل د دې متن دادي چې په نفس قرابت مذکوره سره د مهر المثل اعتبار نه کول کيږي حتىٰ چي دغه دوې ښځي په مذکور فی المتن شيانو کي سره برابري نه دي.

پوه سه:- چي په فتح القدير کې داهم زياته کړی ده چي په بکارت او ثيبه کي به هم سره بابري وي يعني که يوه ښځه کونډه وي او بله باکره پېغله وي مهر مثل يې نه سره قياسېږي، او په اخلاقو کي به هم سره برابري وي، که د يوې ښځي په ګزاره کي ښه اخلاق وي، او بله بدپوزه بد اخلاقه وي، نو مهر مثل پر يوه اندازه نه کېږي، او په عيال درلودلو کي اونه درلودلوکي به هم سره بربري وي، نو که دوې (۲) دغه قرباني ښځې کونډياني وې او يوې عيال درلودي او بلې نه درلودي مهر مثل يې نه سره قياسېږي ولي چي د عيال داري کونډې څخه د خلګو بد راځي نو ولور يې سپك وي.

مسئله:- که د پلار ګڼې د خوا په ښځو کي اشتراك او برابري په دغه مذکوره او صافو کي نه پيدا کيدله نو اعتبار مهر مثل د بېګانه قوم په ښځو سره کيږي لکن هغه بيګانه قوم چي دغي ښځي ته چي مور په تلاش کي د مهر مثل کي د دې يو په قوميت کي نژدې وي.

قال" ويجوز تزويج الامة مسلمة كانت او كتابية ولايجوز ان يتزوج امة على حرة ويجوز تزويج الحرة عليها" او روا دي په نکاح کول د مينځي که مسلمانه وي او که د اهل کتابو څخه وي يعني يو سړی کولای سي چي مينځه دبل سړي په نکاح کړي.

فائده:- که دغه سړي لره طاقت مالي د نکاح د حري ښځي وي او که نه وي او امام شافعي رحمة الله عليه وايي که يې طاقت د نکاح د حري ښځي وو نو د مينځي نکاح نه ده ورته روا، او د حنيفيانو رحمة الله عليه دليل عموم دي د دغه آيت، واحل لكم ماوراء ذالكم الآية" ولي چي مينځه په ماوراء کی د محرمات داخله ده، او نه ده روا سړي ته چي حره ماينه لري اودی پر هغې باندي مينځه په نکاح کوي، لقوله عليه الصلوة والسلام لاتنكح الامة على الحرة" او روا ده د حري ښځي کول پر مينځه باندي.

پوه سه:- چي په نکاح کي د مسلماني مينځي خو اختلاف نسته ولي چي دا مسلمانه ده نو د مسلماني نکاح رواده لکه حره او په کتابيه مينځي کي امام شافعي رحمة الله عليه زمور څخه مخالف دي، دی وايي چي د کتابيه مينځي نکاح ومسلمان ته نه ده روا زمور دليل هغه آيت سابق دي چي عام دي، او بل داچي د کتابيه مينځي وطي په ملك يمين سره مسلمان ته روا دي نو په ملك نکاح سره په طريق اولي روا دي، او روا ده په نکاح کول د حري ښځي پر مينځه باندي.

قال" وللحر ان يتزوج اربعا من الحرائر والاماء وليس له ان يتزوج اكثر من ذالک" او حر سړي ته روا ده چي په نکاح کړي څلور ماينې که حري وي او که مينځي، او د لره نسته يعني نه ده روا چي بالاتر څلور په نکاح کوي، قال الله تعالى فانكحوا ماطاب لكم من النساء مثنى وثلاث ورباع" او دا تصريح په اعداد مذكوره وسره په مقام د امتنان الهي دلالت کوي پر عدم جواز د زيادت پر څلورو ماينو، كما تقرر فی كتب التفاسير.

فائده:- نکاح د څلورو ښځو که څه هم روا ده لکن که سړی پردې بېرېدی چي زه به عدالت ددغه متعددو ماينو تر مابين مراعات نه کړم نو بيادي يوه ماينه وکړي، لقوله تعالى فان خفتم ان لاتعدلوا فواحدة" يعنی که تاسي بېريدلاست چي زه به عدالت وه نه کړم د ډېرو ماينو ترمابين نو بيا يوه ښځه په نکاح کوي تاچي تر درانه بار د ظلم لاندي رانه سي، په صحيح حديث شريف کي راغلي دي چي هغه سړی چي متعددي ماينې يې درلودلې وي، او عدالت يې ترمابين د هغو نه وي

کړي هغه په ورځ د قيامت داسي حشرګاه ته راځي چي يو اړخ بې ځړېږي.

تجربه:- په اوسنی زمانه کي ماته په تجربه ثابته سوې ده چي د ډېرو ماينو ځښتن هرګز عدالت نه سي کولای الاماشذ ندر، يو سړی ما ولیدي چي اوله ماينه يې ډېره بدرنګه تور وه او څو عياله يې هم ځندي سوي وه نو بيا چي يې دنيا ډېره سوه بله ښائسته ماينه يې وکړه اخير يې هغه بدرنګه طلاقه کړه سره دعيال يې د کوره ويستله.

پوه سه:- چي که څه هم سړی تقوی داره هم وي او قصد د عدالت هم لري لکن ماينې يې عدالت ته نه پرېږدي ولي چي په اوسنی زمانه کي خصوصا په پاکستان کي او بيا په کوټه کي په نامه د ملايانو جادوګران سحر ګران کوډګران سته چي د سلو روپو د پاره مثلا خپل اسلام دلاسه ورکوي او دغه تعويذونه د تفريق او د بغض د مېړه او ماينې ترمابين کوی، كما قال الله تعالى عز سلطانه يفرقون به بين المرء وزوجه" نو ښځي په دغو کوډګرانو آموخته سوي دي او ورته تعويذونه راوړي په خپله غاړه او په مېړه يې چيښي حتی چي د مېړه د دماغ څخه تقوی او عدالت بېخي سلب کړي، په دغسي صرف په نامه ملايانو باندي بايد مور دا بيت ووايو.

برزبانت يا صمد پيدا ودردل يا صنم
ای به باطن کافرو ظاهر مسلماني چي سود.

قال القدوری رحمه الله" ولايتزوج العبد اكثر من اثنتين" او نه به په نکاح کوي مريي بالاتر دوو ښځو ولي نعمت او عذاب د مريي خو نيمی دي د حر سړي، او شك نسته چي نکاح خو نعمت دي، درويش.

قال" فان طلق الحر احدى الاربع طلاقا باينا لم يجزله ان يتزوج رابعة حتى تنقضى عدتها" که حر سړي طلاقه کړه يوه د څلورو ماينو څخه يعني چي د ده په نکاح کي وي په طلاق بائن سره که مخفف وي او که مغلظ وي، نو نه ده روا ده لره چي په نکاح کوي څلورمه ماينه تر څو پوري چي تېرېږي عدت د طلاقي سوي ښځي، د دې مسئلې دليل دادي چي نکاح د طلاقي سوي ښځي که څه هم په طلاق بائن سره پورته سوه لکن چونکه حکم د نکاح چي عدت د باقي

دي نو ګويا نکاح من وجه باقي ده، نو که دی څلورمه ماينه وکړي نو حکما د ده ماينې پنځه سوې، در.

او د هم دې سببه که سړي ماينه طلاقه کړه په بائن طلاق سره نو دغه سړي ته ناروا ده چې د هغې ماينې خور په نکاح کوي تر هغو پوري چې د طلاق کړه سوي ماينې عده يې نه وي تېره سوې. لانه يلزم الجمع بين الختين حكما وهو حرام.

پوه شه:- چې که مېړه هغه ماينه چې ده طلاقه کړه دخول يې نه وو په کړی نو ده ته څلورمه ښځه روا ده، لعدم العدة فيرفع بطلاقها النكاح من كل الوجوه. او همداغه حکم دي په دوو خوندو کي چې طلاقي کړي خور طلاق يې قبل الدخول بها وي لعدم الزوم جمع الاختين حكما ايضا بعدم العدة فافهم. در. ط.

درويش وايي:- چې په دغو دواړو مسئلو کي امام شافعي رحمة الله عليه مخالف دي، والتفصيل فی الشروح المطوله ودلائل الجانبين ايضا يطلب هناك.

قال المصنف رحمة الله عليه " واذا زوج الامة مولاها ثم اعتقت فلها الخيار حرا كان زوجها او عبدا" که په نکاح ورکړه مينځه بادار د دې وروسته بيا دا مينځه ازاده کړه سوه نودې لره اختيار دي که د هغه مېړه سره اوسي يعني چې بادار هغه ته دا په نکاح ورکړي ده او که د هغه مېړه څخه جلا کيږي کې مېړه حروي او که مريي وي، او امام شافعي رحمة الله عليه وايي کې مېړه حر وو بيا دې لره اختيارنسته زمونږ دليل دادي چې بريره چې د عائشه رضي الله عنها مينځه وه او هغې ازاده کړه او دا په نکاح کي د مغيث وه نو عليه السلام بريره ته داسي وويله، ملكت

بضعك فاختاري" يعني ته مالك سوې د خپل بلاګی نو ته اختيار لري، د دې حديث آخر داسي دي چې بريره وويل چې مغيث نه مېړه کوم راوي وايي چې مغيث په بريره پسي ځغاستي او اوښکي يې په ږيره کي بهېدلې چې زما څخه مه جلا کيږه او بريره ويله چې هرګز دي نه مېړه کوم نو عليه الصلوة والسلام وخلګو ته وويله چې تعجب دي وه محبت ته د مغيث د بريره سره او وبغض ته د بريره د ده سره بيا عليه الصلواة والسلام وه بريره ته وويله چې کاشکي ته د مغيث څخه ځان نه کي جلا بريره ورته وويل که ستا دا حکم وي خوزې منم عليه الصلوة والسلام ورته وويل چې حکم نه دي بلکه د مغيث شفاعت درته کوم بريره ورته وويل چې حکم نه دي نو زه مغيث نه مېړه کوم که څه ماته څوك اويازره (۷۰۰۰۰) اوښان راکوي، او عقلي دليل زمونږ دادي؛ کمافی نور الانوار وغيره منكتب الاصول والفقه" چې د طلاق اعتبار په ښځه پوري اړه لري باتفاق آلاراء، يعني که ښځه مينځه وي په دوه طلاقه مغلظه طلاقيږي کې مېړه حر وي او که مريي، او که ښځه حره وه نو طلاق مغلظ د دې دري (۳) طلاقه دی، نوښځه چې مينځه وي او بيا ازاده کړه سي د مېړه ملك پردې سختيږي کې مېړه حر وي او کې ميړه مريې وي يعني په دري طلاقه د مېړه د ملك څخه وځي نو چونکه ضرر ودې ته متوجه دي نو ځکه اختيار د دې دي، او امام شافعي رحمة الله عليه دا دليل وايي چې عائشه رض وايي چې عليه الصلوة والسلام چې بريره ته اختيار ورکړي په دې سبب چې مېړه يې مريي وو او کې مېړه حر واي نو بې اختيار نه وايي ورکړي مورږ وايو چې دا د عائشه رض اجتهاد وو نو د صريح نص سره مقابله نه سي کولاي يعني ملكت بضعك فاختاري.

دروبش وايي:- هذا ما اخذته ولخصته من كتب متعددة من الاحاديث والفقه والاصول.

قال القدوری رحمۃ اللہ علیہ " وكذا لک المكاتبة"او داغسي حكم دي د مكاتبي مينځي چي په اجازه د بادار يې مېړه کړي وي او بيا آزاده سي يعني هغه هم د خپل ځان اختيار لري.

قال المصنف رحمۃ اللہ علیہ " وان تزوجت امة بغير اذن مولاها ثم اعتقت صح النكاح ولاخيار لها" اوكه چېري مينځي مېړه وکړي بېله اجازې د بادار ددې نو بيا آزاده سوه هغه نکاح چي دې کړې وه هغه صحيح سوله لكن دې لره خيار عتق نسته، وجه د صحت د نکاح داده چي مينځه خو عاقله بالغه ده اهل د تصرف ده په ځان او مال کي لكن د بادار حق مانع د صحت د نکاح وو د اول الامر څخه حتى چي د دې دغه نکاح موقوفه وه پر اجازه د بادار نو چي دا آزاد سوه هغه مانع زائل سو نو ځکه هغه د دې نکاح نافذه سوه، او خيار عتق چي نه لري په دې سبب چي نفوذ د نکاح ددې خو پسله عتق څخه د دې حاصل سو او پسله حريت د دې خو پردې ملك د مېړه نه سختېږي بلکه د حري ښځي طلاق ددې برخه دی او اختيار وه مينځي ته چي وو خو په سبب د ازدياد الملك وو كما مر و لم يوجد هنا ذالك فافهم، دروبش.

قال القدوری رحمۃ اللہ علیہ " ومن تزوج امرئتين فی عقدة واحدة احداهما لايحل له نكاحها صح نكاح التی يحل له نكاحها وبطل نكاح الاخری" او كه يو سړی په نکاح کړي دوې ښځی په يوه عقد سره او يوه د د غو ښځو څخه داسي وه چي نکاح يې وده ته نه وه

روا مثلا رضاعي خور يې وه نو صحيح ده نکاح د هغې ښځي چی نکاح يې وده ته روا وه او باطله ده نکاح د هغې بلي ښځي.

پوښتنه:- په كتاب البيوع كي وايي چي كه يوچا حر او مريي په يوه عقد پر بل چا خرڅ کړه د دواړو عقد باطل دي حر خو په دې سبب چي دي محل د خرڅېدو نه دي، او د مريي عقد په دې باطل دي چي بائع قبول د حر، د مريي په بيع كي شرط وګرځاوه ولي چي عقد د دواړو يو دي نو په دې دوو ښځو كي هم بايد د دواړو عقد باطل وايی ولي چي په دې نکاح كي خو هم قبول د محرم ښځي شرط د نکاح د حلالي ښځي ګرځول سوي دي، لاتحا دالعقد فما الفرق؟

ځواب:- اشتراط په عقد نکاح كي خو هم موجود دي لكن په اتفاق سره عقد نکاح په شروط فاسده وو نه فاسديږي او بيع په شرط فاسد فاسديږي، كذا فی الهدايه ثم قال فی الهدايه چي هغه مهر مسمی توله د حلالي ښځي حق دی په نيز د امام اعظم رحمۃ اللہ علیہ او په نيز د يارانو رحمۃ اللہ علیہ مهر مسمّی دي د دې پر مهر مثل وويشي هر څونه چي د حلالي ښځي حق سو هغه دي ودې ته ورکړي باقي ساقط دي.

قال المصنف رحمۃ اللہ علیہ " واذا كان بالزوجة عيب فلاخيار لزوجها" كه چېري وو په ماينه كي يو عيب يعني داسي عيب چي مانع بالكليه د جماع نه وي كه څه هم يوځه خلل په جماعو كي واقع كوي نو خيار مېړه لره نسته يعني كه عقد نكاح باقي پرېږدي او كې فسخ كوي ولي د مېړه حق پر ماينه باندي د عقد له سبب خو وطي دي او عيب خو وطي بيخي د مابين څخه نه وړي، كما قلنا البته څه خلل په وطي كي راولي مثلا داسي عيب وي چي د مېړه به په سبب د صحت او ځوانی

دروبش وايي:- هذا ما اخذته ولخصته من كتب متعددة من الاحاديث والفقه والاصول.

قال القدوری رحمۃ اللہ علیہ " وكذا لک المكاتبة"او داغسي حكم دي د مكاتبي مينځي چي په اجازه د بادار يې مېړه کړي وي او بيا آزاده سي يعني هغه هم د خپل ځان اختيار لري.

قال المصنف رحمۃ اللہ علیہ " وان تزوجت امة بغير اذن مولاها ثم اعتقت صح النكاح ولاخيار لها" اوكه چېري مينځي مېړه وکړي بېله اجازې د بادار ددې نو بيا آزاده سوه هغه نکاح چي دې کړې وه هغه صحيح سوله لكن دې لره خيار عتق نسته، وجه د صحت د نکاح داده چي مينځه خو عاقله بالغه ده اهل د تصرف ده په ځان او مال کي لكن د بادار حق مانع د صحت د نکاح وو د اول الامر څخه حتی چي د دې دغه نکاح موقوفه وه پر اجازه د بادار نو چي دا آزاد سوه هغه مانع زائل سو نو ځکه هغه د دې نکاح نافذه سوه، او خيار عتق چي نه لري په دې سبب چي نفوذ د نکاح ددې خو پسله عتق څخه د دې حاصل سو او پسله حريت د دې خو پردې ملك د مېړه نه سختېږي بلکه د حري ښځي طلاق ددې برخه دی او اختيار وه مينځي ته چي وو خو په سبب د ازدياد الملك وو كما مر و لم يوجد هنا ذالك فافهم، دروبش.

قال القدوری رحمۃ اللہ علیہ " ومن تزوج امرئتين فی عقدة واحدة احداهما لايحل له نكاحها صح نكاح التی يحل له نكاحها وبطل نكاح الاخری" او كه يو سړی په نکاح کړي دوې ښځې په يوه عقد سره او يوه د د غو ښځو څخه داسي وه چي نکاح يې وده ته نه وه

روا مثلا رضاعي خور يې وه نو صحيح ده نکاح د هغې ښځي چی نکاح يې وده ته روا وه او باطله ده نکاح د هغې بلې ښځي.

پوښتنه:- په كتاب البيوع کي وايي چي که يوچا حر او مريي په يوه عقد پر بل چا خرڅ کړه د دواړو عقد باطل دي حر خو په دې سبب چي دي محل د خرڅېدو نه دي، او د مريي عقد په دې باطل دي چي بائع قبول د حر، د مريي په بيع کي شرط وګرځاوه ولي چي عقد د دواړو يو دي نو په دې دوو ښځو کي هم بايد د دواړو عقد باطل وايی ولي چي په دې نکاح کي خو هم قبول د محرم ښځي شرط د نکاح د حلالي ښځي ګرځول سوي دي، لاتحا دالعقد فما الفرق؟

ځواب:- اشتراط په عقد نکاح کي خو هم موجود دي لكن په اتفاق سره عقد نکاح په شروط فاسده وو نه فاسديږي او بيع په شرط فاسد فاسديږي، كذا فی الهدايه ثم قال فی الهدايه چي هغه مهر مسمی ټوله د حلالي ښځي حق دی په نيز د امام اعظم رحمۃ اللہ علیہ او په نيز د يارانو رحمۃ اللہ علیہ مهر مسمی دي د دې پر مهر مثل وويشي هر څونه چي د حلالي ښځي حق سو هغه دي ودې ته ورکړي باقي ساقط دي.

قال المصنف رحمۃ اللہ علیہ " واذا كان بالزوجة عيب فلاخيار لزوجها" كه چېري وو په ماينه کي يو عيب يعني داسي عيب چي مانع بالكليه د جماع نه وي كه څه هم يوځه خلل په جماعو کي واقع کوي نو خيار مېړه لره نسته يعني كه عقد نکاح باقي پرېږدي او کې فسخ کوي ولي د مېړه حق پر ماينه باندي د عقد له سبب خو وطي دي او عيب خو وطي بيخي د مابين څخه نه وړي، كما قلنا البته څه خلل په وطي کي راولي مثلا داسي عيب وي چي د مېړه به په سبب د صحت او ځوانی

سره هره شپه وطی زړه غواړي او د ماينې په سبب د عيب چې په دې کې سته طاقت يې نه لري، او چې په مرګ سره د ماينې نکاح نه فسخه کېږي، نو په خلل د وطي به څرنګه مېړه خيار د نسخي د عقد ولري، نو بناء علی هذا که ماينه ګوډه وي او يا رنده وي يا کنړه وي مثلا مېړه لره خيار د فسخي نسته ولي په دغو عيبو کې خو خلل په خدمت د کور راځي وطي خو کولای سي.

پوښتنه:- مېړه څه ضرورت لری وه خيار الفسخ ته کې د عيب سره نه وه خوښه خو طلاقه دې کړي ځان دي ځندي خلاص کړي؟

ځواب:- په طلاق کې خو د ميړه تاوان دي ولي که يې قبل الدخول طلاقه کړي نيمي ولور پر لازم دي، او کې بعدالدخول طلاقه کړي پوره ولور پر لازم دي او په فسخه کې د عقد خو د ته دنياوي هيڅ تاوان نه راجع کيږي.

قال القدوری رحمه الله" واذا کان بالزوج جنون او جذام او برص فلا خيار للمرئة عند ابی حنيفة رحمه الله وابی يوسف رحمه الله وقال محمد رحمه الله لها الخيار" او که په مېړه کې لېونتوب وو يعني ليونی وو او يا اتشك وو چې هغه يو مايوس العلاج مرض دي چې پوست يې سره چوي او او به ترتوپږي او غوښې د اندامو يې توپږي اعاذنا الله من المرض المذکور،

او يا پيس وو چې يو معلوم مرض دي چې نه په يوناني دوا وو جوړيږي او نه په عصري ډاکټري علاج ښه کېږي نو په درو سرو عيبو کې ښځي لره خيار د فسخي د عقد نسته په نزد د شيخينو رحمه الله او امام محمد رحمه الله وايي چې ښځي لره خيار دفسخي د

عقد سته امام محمد رحمه الله دغه مرضونه پر جب او عنت قياسه وي کما سياتی لپاره د دفع د ضرر د ښځي څخه بايد دې لره خيار د فسخ وي بخلاف د دې چی په ماينه کې دغه عيبونه وی نو مېړه لره خيار د فسخ نسته ولي که ددغو عيبو په سبب د ماينې څخه خوا ګرځي خو په يو لږمالي تاوان يعني طلاق قبل الدخول به ځان ځندي خلاص کړي او ماينه خو د طلاق حق نه لري، شيخان رحمه الله وايي چې دا قياس مع الفارق دي ولي چې په جب او عنت کې خو هغه مطلب چې نکاح د هغه د شروع د بالکليه فوت دي يعني وطي او جماع نو ځکه ماينې لره خيار سته او په دغو امراضو کې خو مېړه وطي ورسره کولای سي د ماينې به بد ځندي راځي نو که دې لره خيار جائز سي د مېړه حق چې وطي دي بالکليه د مابين څخه ځي، کذا فی الهدايه، ودر.

قال القدوری رحمه الله" واذا کان الزوج عنينا اجله الحاکم حولا فان وصل فی هذه المدة فلا خيار لها والافرق بينهما ان طلبت المرئة ذالک والفرقة تطليقة بائنة ولها کمال المهر اذا کان قد دخل بها" او که ميړه عنين وو.

پوه سه:- چې عنين هغه چاته وايي چې د جماعو قدرت نه لري نو بعض خلګ د اصل خلقت څخه عنين وي چې د هغه هيڅ علاج نه سي کېدای نه په دوا او نه په تعويذ او ثابنت،

او بعض خلګ د جهت څخه د ناجوړی يا د جهته د ضعف جماع نه سي کولای د هغه علاج په دوا د طبيبانو کيږي چې د مرض دوا ورکړي يا د قوت دوا ورکړي او بعض دکبر سن په سبب چې ډېر سپين ږری وي او د دې علاج هم نه کيږي

مګر په لوی مصرف د روپو چې ډاکټران د ده د بلاګي سره تخته ټړی چې سیده سي او بیا هره ورځ په زر زر کالداري پېچکاري ورلګوي، او په بعض خلګو نر یا ښځي جادو کړي وي او د جماعو څخه یې بند کړي وي ددې علاج په قرآني آیاتو سره کیږي کما جربناه مرارا،

او بعض خلګ د خپلي مایني سره جماع نه سي کولای او د بېګانه ښځي سرې کولای سي هغه نو د مایني د خوا څخه یو جادو په سوي وي چې د دې بد ځندي راځي نو د ځانه څخه یې بند کړی وي د دې غرض داوي چې ګوندي طلاقه مي کړي بل مېړه به وکړم د دې علاج په تعویذه او ځابښت سره کیږي کما جربته مرارا ایضا، او بعض د کونډي سره وطي کولای سي ولي چې د ده غټر ډېر کلك نه دریږي نو د کونډي بلاګئ خو فراخه وي نو مړ ژوندي غټر هم په ننوزي، او د پېغلي سره جماع نه سي کولای ولې د هغې کوس خو تنګ وي د ده آله نه په ننوزي د دې علاج په طبي دوا وو کېږي چې آله ورسخته کړي وهذا اقسام العنین، نو عنین ته دي مهلت ورکړي حاکم یعني قاضي یو کال نو که مېړه د یوه کال په دوران کي دې ته ورسېدي یعني وطي یې ورسره وکړې نو خیار نسته ښځي لره ولي د دې مطلب چې وطي، وې پوره سو،

اوکې په یوه کال کي جماع نه وکړه نو قاضي دي حکم په جلاوالي د دوي دوو وه کړي، که ښځي طلب د جلاوالي کاوه یعني که مایني طلب د فرقت کاوه ولي چې وطي خو حق ددې دي نو دا چې تر خپل حق تېره سوه نو قاضي څه کار په لري او که قاضي تفریق وکړي دا تفریق طلاق بائن دي او مایني لره پوره ولور سته که چېرې مېړه د دې سره خلوت صحیحه کړي وو، ولي چې ښځي خو

خپله بضع مېړه ته په خلوت سره تسلیم کړه نور نو وطي خو د ده کار دي نو دې چې معوض تسلیم کړي نو دا د پوره عوض حق داره ده چې ولور دي. فی الهدایه تحت قول المصنف رحمه الله جلد الحاکم آه" چې د اقاجیل مروي دي د عمر او علی او د ابن مسعود رضی الله عنه څخه، او عقلي دلیل د تاجیل دادی چې مایني لره خو حق د وطي ثابت دي شرعا، او د مېړه وطي نه کول شاید د آفت اصلي او خلقي څخه وي او شاید دا امتناع د وطي به عارضي وي، نو د دې دوو آفتوو د پېژندنې د پاره مدت غوښت غواړي نو چونکه کال مشتمل دي پر څلور فصله (۱) دوبی (۲) ژمی (۳) منی (۴) پسرلی، نو که عارضي آفت وو نو د فصلو په تبدُل به یې د فعه وسي نو چې کال تېر سي او آفت دفعه نه سي نو معلومه داده چې دا آفت اصلي دي او قابل د جبران نه دي نو امساك بالمعروف د ښځي خو فوت سو نو پر مېړه ایله کول بالاحسان لازم سو، قال الله تعالی فامساك بمعرف او تسریح باحسان" نو چې مېړه مایته نه ایله کوي نو قاضي په ځاي کي د ده ولاړ دي هغه دي تفریق د دوي دوو تر مابین وکړي، او فقهی قانون دي چې هر تفریق چې د قاضي د خوا وسي هغه طلاق بائن دي، فکذا هذا انتهی مع زیادة ونقصان.

قال القدوری رحمه الله" وان کان مجبوبا فرق القاضی بینهما فی الحال ولم یوجله" او که مېړه مجبوب وو یعني په بېخ کې غټر او خوتي دواړه ځندي پرې کړه سوي وي کما فی البنایه نو قاضي دي دستي تفریق وکړي او مهلت دي نه ورکوي لعدم الفائدة.

ولخصی یوجل کما یوجل العنین" او خصي ته یعني چې ذکر یې پاته وی صرف یې خوتی څند قطع کړي وي مهلت ورکوي لکه چې عنین

ته يې ورکاوه ولي شايد د خصي يورګ د شهوت پاته وي او هغه رګ به ژوندی سي او د ده غنړ ته به حرکت ورکړي او وطي به وکړای سي که څه دا ډېره نادره خبره ده لکن احتمال يې سته، او قاضي دي په تفريق کي د مېړه او ماينې ډېر احتياط وکړي نو د يوه کال په تېرېدو سره دا احتمال هم قطعه کيږي، در.

قال المصنف رحمه الله عليه " واذا اسلمت المرئة وزوجها كافر عرض عليه القاضى الاسلام فان اسلم فهى امرئته وان ابى عن الاسلام فرق بينهما وكان ذالک طلاقا بائنا عند ابى حنيفة ومحمد رحمهما الله وقال ابو يوسف رحمه الله عليه هو الفرقة بغير طلاق" او که اسلام راوړی ښځي او مېړه يې کافر وو نو پېش دي کړي پر ده قاضي دين د اسلام يعني ورته وه دي وايي چي ته کلمه ووايه مسلمان سه نو که هغه اسلام قبول کړی نو هغه ماينه دده چي د مخه مسلمانه سوې وه دده ماينه ده او کي منع وکړه د اسلام څخه نو قاضی دي دوي دوه سره جلا کړي، او دغه د طلاق جلا کول د قاضي طلاق بائن دي يعنی که وروسته بيا مسلمان هم سي وه ماينې ته رجوع نه سي کولای او احکام د طلاق پر مرتب دي لکه عدت د ماينې په نېز د طرفينو رحمه الله عليه، او امام ابو يوسف رحمه الله عليه وايي چي دا جلا کول جلا کول دي ببله طلاقه يعني احکام د طلاق نه پر مرتبېږي ولي چي ماينې لرې عدت نسته.

دروېش وايي:- چي زمونږ د مذهب دليل هغه واقعه ده چي په خلافت د امير المومنين عمر بن الخطاب رضي الله عنه ببنبه سوه چي يو سړي د بني تغلب

څخه چي ماينه يې نصرانيه وه هغې ايمان راوړي نو عمر رضي الله عنه يې وه مېړه ته وويل چي ته مسلمان سه ورنه ماينه دي در څخه جلا کوم هغه اسلام نه کي قبول نو حضرت عمر رضي الله عنه يې ماينه څندي جلا کړه، وعن ابن عباس رضي الله عنه مثل تلك الواقعه" او دا فيصله د عمر رضي الله عنه په حضور کي د صحابه کرامو رضي الله عنهم صادره سوه هېڅ چا انکار پر ونه کړي فكان اجماعا منهم على ذالك، او امام شافعي رحمه الله عليه وايي که اسلام د ښځي قبل الدخول وو نو د مېړه څخه بائن سوه فى الحال، او که اسلام د دې بعد الدخول وو نو د دې بينونت د عدې تر تيريدو پوري معطل دي نو که په دغه وقت د عدې کي مېړه مسلمان سو نو د ده ماينه ده، او کې عده تېره سوه مېړه يې مسلمان نه سو نو فرقت ددوی تر مابين واقع سو.

قال القدوری رحمه الله عليه " وان اسلم الزوج وتحته مجوسية"

پوه سه:- چي مصنف رحمه الله عليه مجوسيه وويله د دې سببه که ماينه د مسلمان جديده کتابيه وه پر هغې عرضول د اسلام نه غواړي ولي چي نکاح د کتابيه خو مسلمان ته روا ده، ابتداء فبقاء اولى بخلاف المجوسيه" چي د هغې نکاح وه مسلمان ته نه ابتداء روا ده او نه بقاء.

قال" عرض عليها الاسلام فان اسلمت فهى زوجته وان ابت فرق القاضى بينهما ولم تكن الفرقة طلاقا" ولي چي دا فرقت خو د ښځي د خوا پيښ سو او ښځه حق د طلاق نه لري.

"فان كان دخل بها" يعني وطي يې ورسره کړي وې.

فلها كمال المهر" ولي چي په وطي سره ولور ټينګ سو"

وان لم يكن دخل بها فلا مهر لها" ولي خو دا مفارفت ددې د خوا پيدا سو نو لكه ردت د دې دي او يا د مېړه د زوي سره وطي وكړي.

ترجمه:- كه چېري مېړه مسلمان سو او دده ماينه مجوسيه يعني اتش پرسته وه نو قاضي دي پېش كړي وه ماينې ته دده اسلام كه چېري دې اسلام قبول كي نو دا د مېړه ماينه ده، او كه ښځي د اسلامه څخه منع وكړه نو قاضي دې جلا والى وكړي تر مابين د دوي، او دا جلاوالى طلاق نه دي نو كه چېري مېړه د دې سره په وقت كي د كفر وطي كړي وې نو دې لره پوره ولور دي او كه يې وطي نه وي ورسره كړي نو دې لره ولور نسته، مجمع الانهر هدايه، درويش.

قال المصنف رحمة الله عليه" واذا اسلمت المرئة فى دار الحرب لم تقع الفرقة عليها حتى تحيض ثلث حيض فاذا حاضت بانت من زوجها" او كه اسلام راوړي ښځي يعني چي د كافر ماينه وه پردې جلاوالي د مېړه څخه نه واقع كيږي تر هغو چي دري حيضه ودې ته ورځي او چي دري حيضه وره غله دا د مېړه څخه بائنه سوه، په هدايه كي وايي چي اسلام د دې خو سبب د فرقت نه دي ولي چي اسلام خو حافظ د حقوق دي سالب د حقوق نه دي، بلكه سبب د فرقت اباء د جانب آخر د اسلام څخه او اباء د جانب آخر په عرض د قاضي د اسلام پر جانب آخر راځي او په دار حرب كي خو دا عرض ممكن نه دي ولي چي هلته خو قاضي نسته اونه ولايت د اسلام سته او فرقت خو ضروري دي ولي چي نكاح د مسلماني ښځي د كافر سره نه ابتدا رواده او نه بقاء نو د مجبوريت د كبله مور شرط د فرقت چې دري حيضه دي په ځاى كې

د فرقت ودر وي، نوچې دري حيضه تېر سي نو داده كافر مېړه څخه خلاصه سوه په دې مسئله كي د مدخول بها او غير مدخول بها فرق نسته، او كه چېري ښځي ته حيض نه ورتلى په سبب د كوچنوالى او يا د سپين سرتوب په سبب نو بيا دري مياشتى وروسته پردې فرقت د مېړه واقع كېږى، هدايه، درويش، مجمع الانهر.

قال المصنف رحمة الله عليه" واذا خرج احد الزوجين الينا من دار الحرب مسلما وقعت البينونة بينهما" او كه راووتى يو د مېړه يا ماينې څخه زمور دار الاسلام ته د دار الحرب څخه چي مسلمان سوى وو، واقع سو جلا والى په مابين كي د دوى دوو او امام شافعي رح وايي چي په اختلاف د دار الاسلام او دار الحرب بينونت فرقت نه راځي، و الدلائل فى الشروح المطوله.

وان سبى احدهما وقعت البينونة بينهما وان سبيا معًا لم تقع البينونة" او كه يو د مېړه او ماينې څخه په مينځي توب يا مريي توب ونيول سول جدايي يې واقع سوه او كه دواړه په سبي كي ونيول سول جدايي نه ده واقع.

په اوله مسئله كي چي يو ددوى دوو څخه په سبي راوستل سي كه څه هم پر يوه دين وي لكن چي دار مختلف سو نو منافع د نكاح يې سره قطع سوه نو په بقا كي د زوجيت ددوى څه فائده ده.

او په دوهمه مسئله كي چي دواړه په سبي راوستل سي هم يې دين سره يو دي او هم يې دار سره يو دي نو د قطع د نكاح هيڅ وجه نسته.

قال" واذا خرجت الينا مهاجرة جاز لها ان تتزوج فی الحال فلا عدة عليها عند ابی حنيفة رحمه الله فان كانت حاملا لم تتزوج حتى تضع حملها" او كه ښځه يعني ماينه د يو كافر مور ته يې هجرت وكړي يعني دار اسلام ته راغله معنا دا چې مسلمانه سوي وه او مېړه دوري په دار حرب كي پاته سو نو دې ته روا ده چې دستي بل مېړه وكړي او پر دې باندي عدت هم نسته په نېز د امام صاحب رحمه الله تعالى ولي چې هم دين بدل سو او هم دار او عده خو د پاره د احترام د نكاح ده، د كافر نكاح احترام نه لري او كه چيري دې حمل درلودي د كافر مېړه څخه نو تر هغو پوري به نكاح نه كوي چې لنګه سوې نه وي

دروېش وايي:- چې دا د امام اعظم رحمه الله څخه صحيح روايت دي او په بل روايت كي وايي چې نكاح كول ورته روا دي مګر مېړه به وطي نه ورسره كوي تاچې د بل پر كښت دی اوبه ونه لګوي چې دا په شريعت پاك كي ناروا ده، او كه مېړه د ښځي هجرت وكړي او ښځه په دار كفر كي پاته سوه بيا په اتفاق د درو سره امامانو زمور د مذهب پردې باندي عده نسته ولي چې عده اسلامي حكم دي په دار كفر كي نه اجراء كيږي، او د منځي د هجرت په مسئله كي ياران رحمه الله وايي چې پردغه ښځه عده سته ولي چې ددې قطع د نكاح هلته وسوله چې دار اسلام ته داخله سوه نو پردې مراعات د اسلامي احكامو لازم دي، يعني چې عده ده، او امام اعظم رحمه الله وايي چې عده خود جهت څخه د احترام ده، او بتباين الدار لم يبق النكاح حتي يلزم عليها احترامه ،كذا فی مجمع الانهر وكذا فی در والهدايه.

قال القدوری رحمه الله" واذا ارتد احد الزوجين عن الاسلام وقعت البينونة بينهما وكانت الفرقة بينهما بغير طلاق" او داهم مذهب دي د شيخينو رحمه الله او امام محمد رحمه الله وايي كه ردت د مېړه د خوا وو نو طلاق دي ولي مېړه اهل د طلاق دي او كه ردت د ښځي د خوا وو بيا طلاق نه دي ولي ښځه اهل د طلاق نه ده، او امام اعظم رحمه الله وايي چې ردت خو منافي د نكاح دي او طلاق خو رافع د نكاح دي، فالجمع بينهما كالجمع بين الضب والنن، جوهره، زياده.

ترجمه:- كه مرتد سو د اسلام څخه يو د مېړه او ماينې څخه واقع سوه جدائي په مابين كي د دوي او جدائي هم بې طلاقه ده، وقد مر ههنا عنقريب والاختلفا فيه.

فان كان الزوج هو المرتد وقد دخل بها فلها كمال المهر" ولي چې مهر قرار پيدا كړي په دخول سره.

وان لم يدخل بها فلها نصف المهر" ولي چې دا فرقت د مېړه د خوا پېښ سو د مخه تر دخول نو حكم يې د طلاق قبل الدخول دي، جوهره.

وان كانت المرئة هي المرتدة فان كان قبل الدخول فلا مهر لها" ولي چې دې خپله بضعه د مېړه څخه منع كړې په ارتداد سره نو حكم د طلاق قبل الدخول نه وركول كېږي ولي چې طلاق خود ښځي د خوا څخه نه وي.

وان كانت الردة بعد الدخول فلها المهر" ولي چې په دخول سره مهر مستحكم سو په ردت نه باطليږي.

ترجمه:- که مرتد سو یو د میړه او ماینې څخه د اسلام څخه جدائي خو واقع سوه او دا جدائي هم طلاق نه دې نو که میړه مرتد وو او وطي د دې سره کړي وي نو دې لره پوره ولور سته او کې وطي نه وي ورسره کړي، نو دې لره نیمی ولور حق دي او که ښځه مرتده سوې وه نو که د مخه تر وطي دا مرتده سوې وه نودې لره هیڅ ولور نسته او که ردت د ښځي بعد الوطی وو نو دې لره پوره ولور دي وقد مر الدلائل لتلك المسائل.

قال المصنف رحمه الله "ولو ارتدا معا ثم اسلما معا فهما على نكاحهما" او که مرتد سوه میړه او ماینه دواړه یو ځاي او بیایي وروسته اسلام راوړي یو ځاي نو دوي پر خپل نکاح پاته دي، وفی شرح الاقطع والهدایه، چي دا حکم استحساني دي او قیاسي حکم دادي چي فرقت دي واقع سي، والیه ذهب زفر رحمه الله والشافعي رحمه الله د استحسان دلیل دادي چي پسله وفاته د آنحضرت ﷺ بعض قبائل د عربو مرتد سوه نر او ښځي یعني د زکوة د فرضیت څخه یې انکار وکړي، کما فی البخاری نو ابو بکر صدیق رضي الله عنه اراده وکړه چي لښکر ورواستوي او د دوي سره غزا وکړي نو حضرت عمر رضي الله عنه وه حضرت ابو بکر رضي الله عنه ته وویل، کیف تقاتلهم وهم یقولون لااله الاالله الی آخر الحدیث بقوله في البخاري، وروسته تر دلائلو حضرت عمر رضي الله عنه هم اتفاق ورسره وکړي پر جنګ د دوي نو لښکرونه چي یې ورواستول هغو جنګ نه وکي اسلام یې از سر نو قبول کړي، یعني د زکوٰة فرضیت یې ومانه نو حضرت ابوبکر رضي الله عنه او اصحابو رضي الله عنهم د مړو او ماینو تر مابین تفریق ونه کړي فکان اجماعا علي ذالك.

سوال:- دغه قبائل د عربو چي مرتد سوي وه نو دا څه معلومه ده چي نر او ښځي یو ځاي مرتد سوي وه او بیایې یو ځاي ایمان راوړي؟

جواب:- چونکه پر ارتداد د دوي ډېر وخت تېر سو او تاریخ د ارتداد د نر او ښځو یې مجهول وو نو مونږ څکه دا فرضه وو چي ارتداد د نر او ښځو د دواړه وو، کما فی السراجی فی بحث الغرقی والحرقی والهدمی، یعني یو خاندان په اوبو کي غرق سي یا په اور کي وسوځي او یا خونه پر راوه نړېږي که څه هم د دوي په روح ختلو کي پس وپېش وي لکن د سبب د جهالته د تاریخ د دوي د مرګ داسي حکم کیږي چي ګویا دوي معًا یوځاي مړه دي نو د دوي میراث پر پس ماندګانو وېشل کیږي او دوي یو د بل میراث خواره نه بلل کیږي، فارجع الی شرح سید رحمه الله علی السراجی وغیره من کتب المیراث.

قال المصنف رحمه الله "ولا یجوز ان یتزوج المرتد مسلمة ولا مرتدة ولا کافرة وکذالک المرتدة لا یتزوجها مسلم ولا کافر ولا مرتد" او نه ده روا چي په نکاح کوي مرتد مسلمانه ښځه او نه په نکاح کوي مرتده ښځه اونه کافره ښځه، او داغسي حکم دي د مرتدي ښځي چي نه به یې نکاح کوي مسلمان سړي او نه کافر سړی او نه مرتد سړی، د دې اولي مسئلې دلیل دادي چي مرتد والي ټوله املاك زائله وي نو ملك نکاح فائده نه لري سره د وجود د ردت نو ردت لکه مرګ دي او بله خبره داده چي په ردت سره بقاء د نکاح پورته کیږي نو ابتداء د نکاح خو په طریق اولی نه ده روا.

او د دوهمي مسئلې دلیل دادي ﴿قال الله تعالی ولا تنکحوا المشرکات﴾ وهو عام قاله الاقطع رحمه الله

او دا دليل غلط دي ولي چي د ښځي ارتداد خو په دې هم راځي چي يهوديه يا نصرانيه سي، د کتابيه نکاح خو مسلمان ته روا ده آيت خو صرف د مشرکاتو ښځو نکاح منع کړې فکيف يصح وهو عام، بلکه صحيح دليل دادي چي په ارتداد د ښځي پخواني نکاح د مابين څخه ځي نو نوې نکاح به دا څرنګه وکړي.

قال" واذا كان احد الزوجين مسلما فالولد على دينه" او که يو د مېړه او ماينې څخه مسلمان وو نو کوچني عيال د هغه پر دين دي، دليل دادي چي عيال به يا د کافر تابع کوي يا د مسلمان لکن چونکه عليه السلام وائي، الاسلام يعلوا ولا يعلى" د اسلام دين غالب دي مغلوب نه سي کيدلي نو غلبه د اسلام داده چي ولد تابع د مسلمان سي.

وكذالک ان اسلما احدهما وله ولد صغير صار ولده مسلما باسلامه" او داغسي حکم دي که يو د مېړه او ماينې څخه نوی اسلام راوړي او د لره ولد صغير وي نو دده ولد دده په اسلام مسلمانېږي فرق د اولي مسئلې او د دې مسئلې دادي چي په اوله مسئله کي مراد اسلام اصلي دي لکه چي د مسلمان سړي ماينه کتابيه کافره وي او دوهمه مسئله په اسلام عارضي کي ده يعني اولادواړه کافران وي بيا يو مسلمان سي.

سوال:- په اسلام عارضي کي خو کيدای سي چي مېړه او ماينه دواړه دي کافران وي په هره نوعه د کفر چي وي بيا دي يو مسلمان سي نو کوچني بچي يې د هغه په اسلام سره مسلمان بلل کيږي لان الولد يتبع اشرف الوالدين" اما په صورت د اسلام اصلي داسي خو کېدای سي چي

پلار د کوچني دي مسلمان وي او مور دي کتابيه کافره وي نو کوچنی په اسلام د پلار مسلمان دي او داسي خو نه سي کيداي چي مور دې مسلمانه وي او پلار دې کافر وي کما مر نو څرګه مصنف رحمه الله د مخه په متن کي وويل، اذا كان احد الزوجين آه" بلکه پکار دا وه و اذا كان الوالد مسلمًا آه.

جواب:- قانون د متن سابق خو کلي دي يعني هر يو د زوجينو چي مسلمان وي ولي د هغه تابع دي والصورة المذكورة امتناعها لامر خارج وهو ان الاسلام يعلو ولا يعلى.

دوهم (۲) جواب دادي چي اذا كان احد الزوجين الخ قضيه مهمله آه، په صدق د يوه فرد هم مهمله صادق ګڼل کيږي كما تقرر فى المنطق معذوره، دوهم جواب که څه هم د ډېرو متعلمانو تر فهم ډېر لوړ دي لکن بعض طلباء به شايد فائده ځني واخلي.

قال المصنف رحمه الله" وان كان احد الزوجين كتابيا والاخر مجوسيا فالولد كتابى" که چېرې يو د مېړه او ماينې څخه کتابي يعني د اهل کتابو څخه وو او هغه بل ددې دوو څخه آتش پرسته وو نو ولد صغير يه کتابي ګڼل کېږي ولي چي کتابي يو څه فضيلت لري پر مجوسي.

قال" واذا تزوج الكافر بغير شهود او في عدة كافر وذالک فى دينهم جائز ثم اسلما اقرا عليه" او که چېرې کافر نکاح وکړه بېله شاهدانو او يا په عده د بل کافر او دا هم په دين کي د دوي روا وه او بيا دواړه مسلمانان سوه پر هغه نکاح دې پرېږدي، او که چېرې دغه دوې نکاح وي ددوي په دين کي هم نا جائزي وې نو پسله اسلامه دې پر

نکاح نه پرېږدي بلکه تجديد د نکاح ديې وکړي، مجمع الانهر، ودر، او قرار پر نکاح اوله په اول صورت کي مذهب د امام ابو حنيفه رحمه الله دي. وهو الصحيح لانهم غير مخاطبين بفروع الاسلام" او ياران رحمهم الله وايې چي په صورت د نکاح په عده کي د بل مېړه تجديد د نکاح دي وکړي لان ذالك حرام بالاجماع، ق.

قال" وان تزوج المجوسي امه او بنته ثم اسلما فُرق بينهما" که چېري په نکاح کړې وه يوه مجوسي خپله مور او يا لور چي د محارمو ټولو نکاح د دوي په دين باطل مغلظ کي روا ده ولي چي نکاح د محارمو لکه مور لور خور وغيره نکاح ابتداء وبقاء په اسلام کي په اجماع د امه مرحومه ناروا ده، مجمع.

قال" وان كان للرجل امرئتان حرتان، او يا دري يا څلور فعليه ان يعدل بينهما فى القسم" او که وي يو سړي لره دوي ماينې چي ازادي وي نو پر ده واجبه ده چي ددوي تر مابين به عدالت او برابري کوي په وېش کي.

پوه سه:- چي قسم د ماينو دادي چي د ماينو په مابين کي په اختياري کارو کي برابري کوي يعني په خوراکي شيانو، د چښلو په شيانو، په کالو کپړو کي، او په شپه تېرولو کي د هري ماينې په خونه کي.

تنبيه:- په محبت قلبي سره د يوې ماينې مېړه ماخوذه نه دي ولي محبت بې اختياره شئ دي او په دې کي هم ماخوذه نه دي چي د يوې ماينې سره د هغې په وار کي وطي کوي او د بلي په وار کي د هغې سره وطي نه کوي ولي داهم اختياري کار نه دي ولي يوه به ځوانه او ښائسته

وي او بله به بدرنګه يا سپين سړې وي نو غنم خو دده په اختيار کي نه دي چي بد رنګي سپين سري ته نه پورته کيږي او ځواني ښائستې ته پورته کيږي، اما وجوب القسم، په دې حديث سره ثابت دي، من كانت عنده او له امرئتان فمال الى احدهما جاء يوم القيامة وشقه مائل" که چا لره دوې ښځي وې او ده ميل وکړي وه يوې ته ددوي دوو، دي به په ورځ د قيامت راسي چي طرف به يې ځوړنده وي، يعني دا يې علامه د عذاب يې على حده ده، اما عدم الوجوب التسويه فى الحب وغيره، فلحديث عائشه رضى الله عنها ، چي رسول الله ﷺ خو عدل کوي په مابين کي د ازواجو رضي الله عنهن او دا به يې هم ويله، يا الله جل جلاله دا خو زما قسم دي په هغه شى کي چي زما په وسه پوره دي نو ته يا الله جل جلاله ما مه نسي په هغه شي سره چي زما په وسه نه وي پوره لکه زياده محبت د يوې ښځي وغيره كذا فى الهدايه.

قال" بكرين كانتا او ثيبتين او احداهما بكرا والاخرى ثيبا" که دواړې ماينې يې پېغلي وې او که دواړې کونډيانې وې او که يوه باکره وي او بله کونډه، وزاد فى بعض الحواشى چي پخوانۍ ماينه او نوې ماينه هم سره برابري دي.

درويش وايي:- چي په اوسنۍ زمانه کي د مسلمانانو په اکثرو کي داغه حال نه دي، بلکه بدرنګه او زړه ماينه د کوره څخه بېخي وه باسي د ښائستې نوي ماينې سره ژوند کوي او د هغه بلي وخوا ته په مياشتو او کلو نه ورتېرېږي.

قال" وان كانت احداهما حرة والاخرٰى امة فللحرة الثلثان وللامة الثلث"

او که يې يوه ماينه حره وه او بله مينځه وه نو حري لره دوې حصې دي يعني په قسم کي او مينځي لره يوه حصه ده.

ولاحق لهن فی القسم فی حالة السفر" او حق نسته ماينو لره په قسم کي په حال د سفر د مېړه يعني د مېړه اختيار دي هره يوه چې ورسره بيايي.

ويسافر الزوج بمن شاء منهن والاولى ان يقرع بينهن فيسافر بمن خرجت قرعتها" او اولى داده چې په مابين کي د دوي قرعه اندازي وکړي چې په پښتو پچه ورته واي يا اسکه نو دى سفر کوي په هغه ماينه چې د هغې قرعه اندازي راووزي.

پوه سه:- چې دا قرعه اندازي د دوي د زړو د خوشحالۍ د پاره ده وبس او پردغه تطيب القلب باندي محمول دي هغه حديث د عائشه ﷺ چې بخاري او مسلم يې روايت کړي دي چې عليه الصلوة والسلام چې به اراده د سفر وکړه نو به يې قرعه اندازي وکړه په مابين کي د ښځو خپلو نو د هري يوې قرعه چې به وختله هغه به يې ورسره ببوله سفر ته، والقرينة عليه ان النبى ﷺ لم يكن التسوية بين النساء واجبا عليه بالاجماع فى الحضر مع انه يفعله تفضلا منه وتطيبا لقبولهن"

دروښ وايي:- چې په حديث د عائشه ﷺ دليل ويل د امام شافعي رحمه الله پر دې چې د سفر په حالت کي قرعه اندازي واجبه ده پر مېړه تام نه دي، والله اعلم بالصواب.

قال" واذا رضيت احدا الزوجات بترک قسمها لصاحبتها جاز ولها ان ترجع فى ذالک" او که راضي سوله يوه د ماينو په

پرېښولو سره د خپلي برخي وبلي ته د دې روا ده ليکن دې لره حق د رجوع سته، په حديث کي د بخاري راغلي دي چې آنحضرت ﷺ چې اراده وکړه وطلاق ته د سوده بنت زمعه ﷺ نو دې ورته وويل چې ما مه طلاقه وه يعني د دې لپاره چې په اخرت کي ستا د ازواجو ﷺ په ډله کي وه پاڅېږم نو زه به خپل نوبت وه عائشه ﷺ ته وبخښم نو عليه الصلوة والسلام دا خبره ومنل او دا يې نه کړه طلاقه وروسته به ﷺ د عائشې ﷺ په حجره کي دوه شوا روزه تېرول او د نورو ښځو په کورو کي به يې يو شبانه روز تېرول، او بل روايت د حديث چې فقهاء يې روايت کوي داسي راغلي دي چې عليه الصلوة والسلام سوده ﷺ په طلاق رجعي طلاقه کړې وه دې ورته وويل چې ماته رجوع وکړه الى اخير الحديث، او حق د رجوع چې لري، لما فى الهدايه لانها اسقطت حقا لم يجب بعد فلا يسقط" يعني دې ساقط کي هغه حق د دې چې تر اوسه واجب نه وو يعني معدوم دي نو په اسقاط د دې نه ساقطيږي يعني قسم په تدريج سره پيدا کيږي، يوما فيوما والمعدوم لا يقبل السقوط فافهم.

دروښ وايي: چې د کتاب النکاح څخه په خير او عافيت پر څلور نيمي بجې د ماسپښين د يکشنبې په ورځ د جمادى الاول په څلورمه ورځ، په سنه ۱۴۲۳ هـج فارغ سوم فلله الحمد على توفيقه اياى لذالك هم دا اوس کتاب الرضاع شروع کيږي ان شاء الله.

خوشخبري

د مفسر العصر حضرت ايوبي مدظله العاليه تفسير پر (۱۵) جلدو مشتمل به ان شاء الله دېر ژر شائقينو ته وړاندي سي.

کتاب الرضاع

دا کتاب په بیان کي د شدو ورکولو یعني چي رضاع په باره کي د نکاح د جواز او عدم جواز څه تاثیر لري.

پوښتنه:- تا په پخوا کي پر عربي درسي ګرانو او مشکلو کتابو باندي حاشیې کولې اوس دا یو څو کاله کیږي چي د عربي آسانه کتابو ته لکه شروط الصلوه، قدوری صلوة، قدوری نکاح، نور الایضاح په درې (۳) جلده کي، نور الظلم، ابو المنتهی، وپښتو ژبي ته را اړولي دي او بعض کتابونه دي په دري ژبه لیکلي دي لکه شهادت الحسنین، نو زما پوښتنه داده چي دغه مذکوره کتابونه خو په عربي ژبه کي ډېر آسانه وه چي هر امام او طالب به کوچنیانو ته درسول نو پښتو کولو ته یې څه ضرورت وو؟

جواب:- اول خو دغه کتابونه چي دروښ پښتو کړي دي صرف په لفظي ترجمه د عربي په پښتو باندي اکتفاء نه ده کړې بلکه د نورو علمي کتابو څخه د فقهي او عقایدو یې ډېري مسئلې پر بالا کړي تاکه څوک عربي لوي کتابونه نه سي مطالعه کولي او یا نه په پوهیږي لکه د ښوونځي وړونه او خوندي چي پښتو خط یې زده وي د دغو کوچني کتابو د فقهي او عقائدو څخه به د لویو کتابو مسائل زده کړي، ته فکر وکړه که د دروښ لفظي ترجمه غرض وای او دعلم فقهي لمن یې نه فراخه کولای په شرحه د دغو کوچنیو کتابو، نور الایضاح چي هرچا ته معلومه ده چي یو کوچنی کتاب د فقهي دي شرحه به یې ولي درې جلده (۱۶۰۰) صفحې ته رسېدلای وهکذا دوهم د دنیا د حالاتو ته په فهم

نیولو سره دروښ ته دا خاطر محسوس سو چي خداي ناکرده د عربي مدرسو دروازې به ډېري بندي سي اخر الامر به خلګ د دغه پښتو شرحو څخه به عقائد او اعمال زده کوي یعني په اوسنۍ زمانه کي چي ټولو مسلمانانو ته دا معلومه ده چي کافرانو د اسلامي ديني مدرسو بندولو ته لستونې راپورته کړي دي چي په دې ذریعه د دوي په زعم فاسد به اسلام براي نام پاته سي او مسلمانان به په عقائدو او اعمالو کي ددوي پر مسلك روان سي او له درسته د کفارو وه مسلمانانو ته سره زر او سپین زر ورکول دي، کما هو المعلوم فی هذا الزمان، او کافران یو اندازه په دې پالیسي کي په بعض ځایو کي ببله نوم اخستلو کامیابه سوي هم دي چي خپل زر خرید همخیاله خپل یې په مسلمانانو کي پیدا کړي هم دي، نو خداي جل سلطانه دي دا مرض د طاعون په شکل نه عامه وي په اسلامي نړۍ کي.

اللهم انصر الاسلام والمسلمین ودمر واهلك اعداء الدین آمین.

پوه سه:- چي په مسائلو د رضاع باید سړي ډېر غور وکړي ولي جواز او عدم جواز د نکاح د رضاع د لارې پر دغو مسئلو موقوف دی اوباید ملا صاحب په جواز او نه جواز کي نکاح چي په رضاع پورې اړه لري په حکم ورکولو دي تلوار نه کوي ولي چي مسئلې د رضاع دومره ساده نه دي چي هر امام مسجد دي په وه پوهیږي نوباید "فاسئلوا اهل العلم ان کنتم لاتعلمون ط" څخه دي کار واخلي او په لاادری کي دي ځان ته شرم نه دروي بلکه په صورت کي د نه پوهېدو دي وبل عالم کامل ته خبره راجع کړي، ولي چي امکان لري په صورت کي د عجلت او شرم ناروا ښځه د رضاع د لارې د روا تر حکم لاندي رانسي، وبالعکس کس ګفته

اند نه هر که سر بتراشد قلندري داند، ونيز گفته اند، انجير خوردن نه کار هر مرغي است.

سوال:- بايد مصنف رحمه الله باب الرضاع ويلي واي ولي چي کتاب په عرف کي د فقهاء هغه مبحث ته واي چي مشتمل پر انواعو مختلفوو وي مع ان الرضاع نوع واحد وليس کالجنس قاله الامام الطحطاوي رحمه الله

ځواب:- نعم امر د رضاع خوداغسي دي لکن چونکه رضاع د محرماتو سببيه څخه وو لکه محرمات نسبيه کما مرت لکن د رضاع داسي مسئلې دي چي د مسائلو د محرماتو نسبيه وو څخه يې ډېر تفاوت درلودي کما سياتي، نو گويا هره مسئله د رضاع نوع علحده ده نو ځکه يې په عنوان د کتاب راوړي، کذا فی ملتقی الابحر.

قال القدوری رحمه الله" قليل الرضاع وكثيرة اذا حصل فی مدة الرضاع تعلق به التحريم" لږ تی ورکول او ډېر تی ورکول چي موجود سي په مده کي د رضاع تعليق په هغه پوري نسي تحريم کما سياتی تفصيله ان شاء الله.

پوه سه:- چي دا مذهب دي د جماهيرو علماؤ د ليل يې دادي چي آيات قرآنيه چي په باره کي د محرميت د رضاع راغلي دي تولې عام دي، وامهاتكم التی ارضعنكم واخواتكم من الرضاعة" او احاديث نبويه هم په دې باره کي مطلق اوعام دي، قال عليه الصلوة والسلام تحرم من الرضاعه ما تحرم من النسب" او امام شافعي رحمه الله وائي چي پنځه (۵) واره رضاع هغه هم په مارۀ نس تحريم راولي په کم تر هغه تحريم نسته، والحجة عليه ماذكرناه تفصيل المقام، په بخاري شريف کي وايې چي په ابتداء کي په قرآن شريف کي داسي آيت نازل سوي وو، عشر رضعات

يحرمن، ثم نسخ ونزل بدله خمس رضعات يحرمن" بي بي عائشه رض وايي چي امر د رضاع پر دغه پنځه واره پاته سو نو امام شافعي رحمه الله هم مذهب د عائشه رض ته تللي دي، او جمهور وائي چي خمس رضعات هم منسوخ سوي دي، حضرت عائشه رض ته علم د نسخي گويا نه وو، والدليل عليه، چي قرآن مبارك چي په اجماع د صحابه کرامو رضي الله عنهم په زمانه کي د خلافت د ابوبکر صديق رضي الله عنه، او بيا په زمانه کي د حضرت عثمان رضي الله عنه جمع سوي دي په هغه کي د پنځو رضعاتو آية نسته بلکه آيات قرآنيه چي په دې باب کي کما مر مطلق راغلي دي، والله اعلم.

فائده:- په رضاع کي دا شرط دي چي د ښځي به يقين وي چي دغه شدې و نس ته د رضيع ورسېدې درويش وايې د مذاهبو شاذه وو څخه دا مذهبونه دي بعض وايې چي رضاع تر (۱۵) کاله پوري تحريم پيدا کوي او بعض وايې چي رضاع تر اخيره د عمره تحريم پيدا کوي او زفر رحمه الله وايې چي تر دري کاله پوري تحريم راولي.

والجواب:- چي په حديث شريف کي راغلي دي چي رضاع هغه معتبر ده چي فتق او فراخي د کلمو په راسي يعني غذاء د کوچني وگرځي او پس له مده څخه د رضاع داسي نه کيږي، او که امام شافعي رحمه الله ووايې چي آيت د خمس رضعات آه منسوخ التلاوة دي حکم يې باقي دي نو جواب دادي چي په نفس احتمال سره خو حکم نه ثابتيږي.

قال" ومدة الرضاع عند ابی حنيفة رحمه الله تعالی ثلثون شهرا وعندهما سنتان"

او مدت د رضاع يعني تر دغي مدې به بالاتئ نه ورکوي د هرش مياشتي دي يعني دونيم کاله په نيز د امام اعظم رحمه الله او په نيز د يارانو دوه کاله دي.

پوه سه:- چي قول د يارانو رحمه الله هو الاصح، فتح، وبه يفتى تصحيح القدوري.

مسئله:- پس له دونيم کاله تئ ورکول حرام دي وعليه الفتوى كذا فى الدر المختار، والدليل قولهما قوله تعالى، والوالدات يرضعن اولادهن حولين كاملين" وايضاً قال الله وحمله وفصاله ثلثون شهراً" نو چونکه اول مدت د وضع حمل شپږ مياشتي دي نو رضاع ته دوه کاله پاتيږي وهذا قول الائمة الثلاثة الشافعى، واحمد، ومالك رحمهم الله.

دروېش وايي:- چي د امام اعظم رحمه الله د مذهب ډېر معقول دليل سته هغه دادي چي مونږ منو چي اصل رضاع خو دوه کاله كما ورد فى الاية لكن، طفل رضيع خو په يوه پلا د تي څخه نه بنديږي او نه په يوه وار د ډوډۍ په خوراك اموخته کيږي نو بايد تر دوه کاله يوځه مده نور ده ته مور ګاه ګاه تى ورکوي او ګاه ګاه ډوډۍ ورکوي تاچي رفته رفته د تي عادت پرېږدي او د ډوډۍ د خوراك سره عادت ونسي، نو امام اعظم رحمه الله ودغه ته ادنى مدت د حمل چي شپږ مياشتي دي متعين کړي دي نو د يك لخته تي څخه د پرې کېدو مده دوه نيم کاله سو، لكن ياران وايي مونږ چي مده د رضاع دوه کاله ټاکلې ده ددې دا معني نه ده چي په دې دوه کاله کي به مور وخپل کوچني ته ببله شيدو خپلو بل شئ نه ورکوي بلکه په دوران کي د دوو (٢) کلو دي مور هم خپلي شيدې ورکوي او هم دې په ډوډۍ وغيره عادت کوي لکه ښځي چي اوس دا

غسي کوي چي کوچني ته لږ زمانه وروسته ګاهي په لاس کي ډوډۍ ورکوي او ګاهي په چايو کي په کاچوغه يې په خوري او ګاهي بسکوټ ورکوي بلکه ګاهي ګاهي د وخت موجودي مېوې ورکوي چي په دغه سبب په دغو دوو کلو کي د تي د مور الفت ډېر پکښي کم سي نو چي پر دوه کاله يې يك لخته د تي څخه بند کړي کوم تاوان بدني و کوچني ته نه پېښيږي، والتجربة شاهدة لذالك، والعلم عند الله.

قال" واذا مضت مدة الرضاع لم يتعلق بالرضاع التحريم"

او چي تېره سي مده د رضاع نو تعلق نه لري په رضاع پوري هيڅ تحريم، لقوله عليه السلام لا رضاع بعد الفصال" رضاع نسته يعني حكم د تحريم وروسته تر پرېکولو د کوچني، او بل حرمت خو په اعتبار د نشو او نما د کوچني وو په شيدو د ښځي او دا معلوم خبره ده چي پس له مدت څخه نشو او نما د مور په شيدو نه کېږي.

قال" ويحرم من الرضاع ما يحرم من النسب الا ام اخته من الرضاع فانه يجوز ان يتزوجها" او حرامېږي د رضاع د لاري هغه څوك چي د نسب د لاري حرامه وي لكه مور او خور وغيرهما مګر مور د خور د سړي د رضاع څخه ولي چي سړي ته روا ده چي په نكاح کړي هغه.

دروېش وايي:- وايي چي په مذكوره عبارت كي دوه احتماله دي.

(١) يا به خور د سړي رضعي وي يعني يو هلك او نجلۍ د بېګانه ښځي شيدې سره رودلي وې نو د هغې نجلۍ مور وده ته روا ده چي د سړي هيڅ نه کيږي.

(۲) او یا مور د سړي رضعي وي یعني یو سړي نسبي خور لري او هغه خور یې رضعي بېګانه ښځه مور لري نو د هغې د مور نکاح وده ته رواده.

قال" ولا یجوز ام اخته من النسب" اونه ده روا نکاح د خور نسبي د مور سره ولي هغه به یا د ده هم مور وي، او یابه د ده میره وي د دواړو نکاح نه ده روا، او یا به یې مور د نسب د خوا وي نو بیا خو د هغې مور خور دده خاله کیږي نکاح یې نه روا ده.

قال المصنف رحمه الله " واخت ابنه من الرضاع یجوز ان یتزوجها ولا یجوز ان یتزوج اخت ابنة من النسب"

او روا ده خور د زوي د سړي د رضاع څخه یعني د یو سړي ماینې ویو کوچني ته شیدې ورکړي نو دا سړی خو د دې کوچني رضعي پلار دي نو د هغه کوچني خور ودغه سړي ته روا ده ولي چي دي د دې هیڅ نه دي او دا سي نه ده روا چي خور د نسبي زوي په نکاح کوي ولي چي دغه خور د نسبي زوي یا به د ده لور وي او یابه د سړي د کونډې ماینې لور وي چي د ده ربیبه کېږي، او په قرآن شریف کي راغلي په محرماتو کي وربایبکم الآیه.

قال المصنف" ولا یجوز ان تزوج امرئة ابنه من الرضاع کما لا یجوز ان یتزوج امرئة ابنه من النسب" او نه ده روا چي څوك په نکاح کوي ماینه د خپل زوي چي د رضاع د لاري وي یعني د ده ماینې شدې ورکړي وي ولي چي دا ښځه دده مړ ور ده، لکه څګه چي نه ده روا چي سړي په نکاح کوي ماینه د نسبي زوي چي دا هر څوك مړور بولي

قال القدوري رحمه الله" ولبن الفحل"

پوسه:- چي مراد د لبن الفحل څخه دانه دي چي د نر د تیو څخه شیدې راووزي او یوې شیر خوري نجلۍ ته دا شیدې د خپل تي ورکړي ولي چي په دغه ارضاع پوري تحریم تعلق نه لري بالاجماع حتی چي دغه نجلۍ وده ته رواده، فتح، بلکه اضافت د لبن فحل یعني نر ته یې اضافت دي د مسبب وه سبب ته یعني هغه د ښځي شیدې چي د نر په سبب پیدا سوې چي ده وطي کړې وه او هغه امیدواره سوه او لنګه سوه او شیدې یې پیدا سوې هذا حاصل ما فی العنایه.

یتعلق به التحریم" یعني هغه نجلۍ چي دغه شیدې ورودې وده ته نا روا ده، او امام شافعی رحمه الله وایې چي په دغو شیدو پوري تحریم تعلق نه لري ولي شیدې د ښځي جزء دي نه د نر جزء، والتفصیل فی فتح القدیر وغیره.

قال" وهو ان ترضع المرئة صبیة فتحرم هذه الصبیة علی زوجها وآبائه وابنائه ویصیر الزوج الذی نزل لها منه اللبن ابا للمرضعة" او صورت د لبن الفحل دادي چي یوه ښځه شدې ورکړي وه یوې نجلۍ ته نو پس حرامه ګرځي دغه نجلۍ پر مېړه د هغې ښځي او پر پلار او نیکه ګانو د هغه سړي او پر ځامنو او لمسیانو د هغه سړي او دغه سړي چي د ښځي شدې پیدا سوي د ده لخوا چي ده وطي ورسره وکړې او دا لنګه سوه، پلار ګرځي د دغي شیر خوري نجلۍ یعني رضعي پلار یې دي.

قال" ويجوز ان يتزوج الرجل باخت اخيه من الرضاع كما يجوز ان يتزوج باخت اخيه من النسب" او روا ده چي په نکاح کړي يو سړی خور د ورور چي رضعي ورور يې وي يعني دوو هلکانو د يوې ښځې شدې رودلي وې نو دوي دوه خو رضعي ورونه سوه نو هر يو چي نسبي خور لري هغه بل ته روا ده، لکه څنګه چي روا ده چي سړی نکاح وکړي د خور سره د ورور چي نسبي ورور يې دي، صورت د دې مسئلې دادي چي يو سړی ورور لري د پلار د خوا څخه او هغه ورور يې خور لري د مور د خوا څخه يعني د بل مېړه لور يې وي نو دغه نسبي ورور ته روا ده چي هغه خور دا بل ورور چي د مور د خوا دي فقط په نکاح کړي عينی شرح الکنز، لکه مصنف رحمه الله چي هم داغه صورت په دغه عبارت سره بيان کړي دي.

فقال" وذالک مثل الاخ من الاب اذا كان له اخت من امه جاز لاخيه من ابيه ان يتزوجها" قال فی الجوهره لانه ليس بينهما مايوجب تحريرا. وترجمة العبارة قد مرت ناقلا من العينی آنفا.

قال القدوری" وكل صبيين اجتمعا على ثدی واحد لم ينجز لاحداهما ان يتزوج بالآخر" اوهر دوه کوچنيان چي جمع سي پر يوه تي يعني د يوې ښځې شيدې وروي يعني که د دوې دوو د يوه مور وي او که بېګانه ښځه وي نه ده روا هغه يوه لره چي نکاح وکړي د هغه بل سره.

پوښتنه:- صبيين خو تثنيه د صبي ده، صبی خو نر کوچني ته وايي نو د دوو نرو کوچنيانو نکاح خو هيڅ صورت نه لري؟

جواب:- مراد د صبيين څخه صبي او صبيه ده مګر تغليبا يې صبيين ورته ويلي دي، كما فی القمرين للشمس والقمر باب التغليب يجيئ فی كثير من المواضع مثل الوالدين والابوين وغير ذالك، دليل دعدم جواز د نکاح دادي چي دوي دوه سره ورور او خور دي رضاعا.

قال" ولا يتزوج المرضعة احدا من ولدالتی ارضعت ولا يجوز ان يتزوج الصبی المرضع اخت زوج المرضعة لانها عمته من الرضاع" او نه دي په نکاح کوي شير ورکونکي ښځه هيڅ څوک نر د اولاد څخه د هغه هلک چي دې تی ورکړي وي ولي خو د دې لمسيان دي او داغه رنګه نه ده روا هغه هلک شير خور ته خور د مېړه د شير ورکونکي ولي هغه خو د ده عمه ده من الرضاع.

قال القدوری" وَاِذا اِختلط اللبن بالماء واللبن هو الغالب يتعلق به التحريم فان غلب الماء لم يتعلق به التحريم" او که ګډي سوي شدې د ښځي يعني دې د خپل تي څخه ولوشلې او په اوبو يې ګډي کړلي او کوچني ته يې ورکړې، نو که شدې غالبي وې پر اوبو يعني په خوند کي او په رنګ کي او په بوي کي نو د دغو شدو سره تحريم تعلق نسي يعني حرمت راولي او که اوبه غالبي وې نو تحريم نه راولي، ان الاعتبار للغالب" نو په اول صورت کي ګويا کوچني خالص شدې د ښځي وچنبلې او په دوهم صورت کي ګويا خالص اوبه يې وچنبلي.

قال" واذا اختلط بالطعام لم يتعلق به التحريم وان كان اللبن غالبا عند ابی حنيفة رحمه الله وقالا رحمهم الله يتعلق

به التحريم" يعني په صورت کي غلبه د شدو، او که ګډي سوي شدي د بنځي د خورك په شي کي لکه ډوډۍ نو په هغه سره حرمت نه راځي که څه هم شدي غالبي وي په نيز د امام اعظم رحمه الله او ياران وايي چي تحريم تعلق پوري نسي.

پوه سه:- چي قول دياڼو چي تحريم تعلق پوري نسي چي شدي غالبي وي په هغه صورت کي دي چي پر اور نه نه سي پخي او که پر اور طعام او شدي سره پخي سوي بيانو تحريم تعلق نه پوري نسي بالاجماع، هدايه. د امام اعظم رحمه الله د قول دليل دادي چي ډوډۍ چي شدو ته واچوي که څه هم لږ ډوډۍ وي قوت د شيدو د مابين څخه ځي نو ګويا طعام غالب دي ، او ياران رح وايي چي شيدي چي غالبي وي نو شيدي اصل دي او طعام يې تبع ده نو ځکه تحريم په واقع کيږي لکه د اوبو په مسئله کي، کذا في العيني شرح الكنز.

قال" واذا اختلط بالدواء واللبن غالب تعلق به التحريم" اوکه ګډي سوي شدي د بنځي د دوا سره او شدي پر دوا غالبي وي په دغو شيدو سره تحريم راځي، ولي چي په دي صورت کي دا معلوميږي چي اصلي مقصود شيدي دي، دوا به د دي لپاره په ګډه سوي وي چي شيدي قوت په پيدا کړي او مقصودي ځاي ته يې ورسوي او که دوا غالبه وه بيا تحريم نه راولي، هدايه.

قال القدوري" واذا حلب اللبن من المرئة بعد موتها فاوجر به الصبى تعلق به التحريم" او که چېري چا شيدي ولوشلي د تيرې څخه د بنځي وروسته تر مرګه او بيا يې په کاچوغه د کوچني په حلق کې توي کړي تحريم تعلق پوري لري، يعني اصول او فروع د دغي بنځي

ودغه کوچني ته ناروا دي دليل يې دادي چي دغه خو شيدي حقيقي دي لکه په حال د ژوند کي او امام شافعي رحمه الله وايي چي په دي سره تحريم نه راځي والدليل والجواب فى مجمع الانهر.

قال القدوري" واذا اختلط اللبن بلبن شاة وهو الغالب تعلق به التحريم فان غلب لبن الشاة لم يتعلق به التحريم" او که ګډي سوي شيدي د بنځي په شيدو سره د ميږي يعني مثلا او غالبه شيدي د بنځي وي يعني په مقدار کي، تحريم تعلق پوري نسي او که د ميږي شيدي غالبي وي تحريم تعلق نه پوري نسي، په سبب د اعتبار د غالب لکه د بنځي شيدي چي د اوبو سره ګډي کړي او اوبه غالبي وي، كذا فى الهدايه.

قال المصنف رحمه الله" و اذا اختلط لبن امرئتين يتعلق التحريم باكثر هما عند ابى يوسف رحمه الله وقال محمد رحمه الله تعلق بهما التحريم" او که ګډي سي شيدي د دوو بنځو يعني بيا دغه مخلوطي شيدي ويوه کوچني ته ورکړي نو تحريم په اکثر سره د دغو شيدو تعلق لري يعني د هري بنځي شيدي چي په مقدار ګڼي ډېري وي هغه حراميږي فقط، او دا روايت دي د امام اعظم رحمه الله څخه، دى وايي چي مغلوب تبع د غالب دي نو ده لره اعتبار نسته لکه په مسئله کي د اوبو، اود امام محمد رحمه الله د قول دليل دادي چي دغه هم قول د زفر رحمه الله دي چي شيئ چي نابوديږي په غير جنس کې د ده، او په خپل جنس کي نه ورکيږي نو د دواړو بنځو شيدي حقيقةً موجودي دي نه بايد د يوې بنځي شيدي به لږ وي او په رضاع کي خو لږ او ډېر فرق نه سره لري.

قال" واذا نزل لبن البكر فارضعت صبيا يتعلق به التحريم"
او كه د پېغلي ښځي تر تيو شدې راووتې او بيا دې ويو كوچني ته
وركړې نو تحريم تعلق پوري نسي ولي دغه انساني شدې سبب د نشو
نماء د كوچني ګرځي لكه د لنګي ښځي شيدې نو خود تحريم په
ثابتيږي، كذا في الهدايه.

واذا نزل للرجل لبن فارضع به صبيا لم يتعلق به التحريم"
او كه راووتلي شيدې د نر د تيو څخه نو ده ويو كوچني ته وركړې تحريم
تعلق نه پوري نسي ، ولي چې دا شيدې حقيقه شيدې نه دي بلكه اوبه
دي په رنګ د شيدو ولي چې حقيقتي انساني شيدې د هغه چا دي چې
د دې څخه ولادت ممكن وي.

مسئله:- په جوهره كي وايې كه د نر ښځي تر تيو شيدې راغلې او
ويوه كوچني ته يې وركړې نو كه د نر خوا په دغه نر ښځي كي غالبه وه
تحريم تعلق نه پوري نسي او كه د ښځي خوا غالبه وه تحريم تعلق پوري
نسي اوكه خنثى مشكل وو يعني د نر او د ښځي اسباب يې سره برابر وه
نو د دې حكم ونورو ښځو ته سپارل كيږي كه هغو وويل چې دا دغسي
شيدې دي لكه د لنګو ښځو شيدې نو تحريم تعلق پوري نسي او كه
دوي وويل چې دا صرف نري اوبه دي په رنګ د شيدو نو تحريم تعلق نه
پوري نسي.

قال القدوري" واذا شرب صبيان من لبن شاة فلا رضاع
بينهما" او كه وچښلې دوو كوچنيانو يعني نر او ښځي د مېږي شيدې
نو د دوي تر مابين حرمت د رضاع نسته، ولي په دغو شدو سره نه مېږ د
دوي مور ګرځي او نه د هغې مېږي عيال د دوي ورور او خور ګرځي

بلكه شيدې د حيواناتو حكم د طعام لري ، ګوا دې دوو كوچنيانو
يوطعام په ګډه سره وخوړي، كذا في الجوهره شرح القدوري، والهدايه.

حكايت:- د تاريخ په كتابو كي وايې چې څه وخت امام بخاري رحمة الله عليه
بغداد ته وارد سو او خليفة الوقت ډېر لوړ اختړام د ده وكړي او د ده
لپاره يې رياست د علوم دينيه وټاكي، نو په سبب د دې چې امام بخاري
رحمة الله عليه په بخاري شريف كي بعض اهانت اميزه ردونه پر امام اعظم رحمة الله عليه
باندي كړي وه، او په بعض الناس يې د امام اعظم رحمة الله عليه څخه تعبير كړي
وو چې علماء په دې پوهيږي چې دا لفظ د اهانت دي، دليل يې دادي كه
په عالم كبير پسې بل يو سړي نعره وكړي چې اې سړيه هغه عالم بد په
وړي او خپل اهانت يې بولي، نو د دې سببه حنيفي علماؤ رحمة الله عليه د بغداد
په دغه اعراز د خليفه و امام بخاري رحمة الله عليه ته ناراض سوه، نو ابو حفص
كبير رحمة الله عليه چې د حنفي مذهب لوي عالم وو په بغداد كي يوه ورځ داسي
مسئله نوشته كړه او امام بخاري رحمة الله عليه ته يې ورواستوله، چې څه حكم
كوي امام المسلمين فى الحديث په دې موضوع كي چې دوه كسه وه د
ډوارو ماينې مړې سوي او شير خور بچيان يې پاته سول يونر او يوه
ښځه نو دوي په ګډه يوه مېږ رانيوله او دادوه نر او ښځه كوچنيان په
شيدو د دې ميږي لوي كړه آيا د دغه نر او ښځي نكاح سره رواده او كه
نه بينوا توجروا، امام بخاري رحمة الله عليه چې مضمون د پوښتنې
مطالعه كړي، نو يې داسي حكم صادر كي چې په حديث شريف كي
راغلي دي چې دوه كوچنيان چې پريوه ثدي سره جمع سي د هغو نكاح
سره ناروا ده، ابو حفص كبير رحمة الله عليه چې دا جواب د امام بخاري رحمة الله عليه
ورسيدي هغه فورا خليفة الوقت ته ورغلي چې تا څرنګه رئيس د اشرافو

دينيه وو محمد بن اسماعيل رحمة الله عليه مقرر کړي او ده هغه تر اوسه پوري عربي ژبه نه ده زده، او دا مسئله يې ورته کښېښولې چې په حديث شريف کې لفظ د ثدي راغلي دي او ثدي لفظ د ښځې وتي ته وايي او د حيواناتو تي ته ضرع وايي نو امام بخاري رحمة الله عليه تر اوسه د ثدي او ضرع په فرق نه پوهيږي، هغه وو چې خليفة الوقت د خپلې ورسپارل سوي عهدې څخه بر طرف کړي او امام بخاري رحمة الله عليه په بغداد کې ضرب المثل وګرځېدي آخر الامر يې بغداد ته الوداع وويله.

قال القدوري" واذا تزوج الرجل صغيرة وكبيرة فارضعت الكبيرة الصغيرة حرمتا علي الزوج" او که په نکاح کړه يو سړي شير خوره نجلۍ، او بله لو ښځه او دې لوي ښځې شدې ورکړې کوچنۍ نجلۍ ته نو پر مېړه دواړې حرامې سوي ولې دوي دوې سره مور او لوردي د رضاع د لارې او جمع د دوي ناروا لکه جمع د لور او مور د نسبت څخه، هدايه.

پوه سه :- چې د لوي ښځې شدې د دغه مېړه د خوا نه دي ولې چې دا وروسته ترديد نه صحيح کيږي فان کان لم يدخل آه، بلکه دا لويه ښځه کونډه وه او د بل مېړه څخه يې کوچني پر تي وو، فافهم.

قال المصنف" فان كان لم يدخل بالكبيرة فلا مهر لها وللصغيرة نصف المهر" نو که يې دخول يعني وطی د کبيرې سره نوې کړي نو دې لره هيڅ ولور نه سته ولې چې دا فرقت د دې د خوا څخه پيدا سو د مخه تر دخول نو داسې مثال يې دي لکه دا ښځه چې مرتده سي قبل الدخول، ط، ع، ق. او که يې دخول او وطی ورسره کړي وې نو په هغه دخول سره که څه هم يو وار وې پوره ولور پرده لازم دي، او

صغيرې لره نيم ولور دي ولې فرقت د دې قبل الدخول دي او د دي د خوا هم نه دي، هدايه.

قال" ويرجع به الزوج على الكبيرة ان كانت تعمدت به الفساد فان لم يتعمد الفساد فلا شيئ عليها" او رجوع به کوي نر په هغه نيم ولور چې د کوچنۍ جنلۍ ته ورکړي پر لوي ښځې ولې دا فرقت خو دي واقع کړي که چيرې دې اقرار وکړي چې ما په قصد شيدې ورکړې چې دا نکاح فاسده سي، او که هغې وويل چې زه په فساد د نکاح نه پوهيدم اتفاقا چونکه دا انجلۍ وړې وه نو ما شيدې ورکړې نو بيا پر کبيرې تاوان ده ولور د صغيرې نسته.

قال القدوري" ولا تقبل فى الرضاع شهادة النساء منفردات وانما يثبت بشهادة رجلين او رجل و امرئتين" او نه قبليږي په رضاع کې شاهدي د ښځو چې يوازې وي يعني که څه هم ډيرې وي، بلکه رضاع ثابتيږي په شاهدي د دوو نرو او يا د يوه نر او د دوو ښځو.

مسئله:- په در مختار کې واى چې تفريق د ميړه او مايې چې رضاع يې ثابته سي په شرعي ډول وروسته تر نکاح قاضي به يې کوي او امام شافعي رحمة الله عليه وايې چې رضاع په شاهدۍ د څلورو ښځو هم ثابتيږي دوې ښځې په ځاى کې د يوه نر دربرې، مور وايو چې رضاع خو داسې پټ شى نه ده لکه لنګېدل د ښځې چې نر هلته نسي ورتلاي نو شاهدي د يوازې ښځو پکښې منظور ده بلکه رضاع خو محارم د ښځو هم وينې، او قانون فقهي دي چې هغه کار چې اطلاع د نرو پکښې ممکنه وي يوازې شاهدي د ښځو نه ده منظور، كما فى الامور المالية كالبيع والشراء والاجارة وغيرها، قد تم كتاب الرضاع.

کتاب الطلاق

يعني دا کتاب ثابت دي په بيان کي د احکامو او د اقسامو د طلاق.

پوه سه:- چي فقهاء رحمة الله عليه وايي چي ابغض د مباحاتو کارو په نېز د خداي ج طلاق لري د دې معنی داده چي بېله ضرورته دي سړي وماينې ته طلاق نه ورکوي، دروېش.

.قال القدوری رحمة الله عليه " الطلاق علی ثلثة اوجه احسن الطلاق وطلاق السنة وطلاق البدعة، فاحسن الطلاق ان يطلق الرجل امرئته تطليقة واحدة فی طهر واحد لم يجامعها فيه ويتركها حتی تنقضی عدتها" طلاق پر درې قسمه دي (۱) يو احسن الطلاق دي يعني تر ټولو ښه طلاق دي (۲) او بل طلاق سنت دي يعني دا خو هم ښه طلاق دي ليکن اول پر ښه دي (۳) او بل طلاق بدعت دي يعني د سنت طريقې څخه مخالف دي.

نو احسن الطلاق دادي چي طلاق ورکړي نر و خپلي ماينې ته يو طلاق د دې فائده داده چي که وروسته سړی پښېمانه سي بيله تجديده د نکاح به رجوع ورته وکړي او دا طلاق به په يوه طهر کي وي ولي چي په حيض کي طلاق ورکول خو بدعت دي چي مېړه د دې سره جماع نه وي کړي په دغه طهر کي د دې فائده داده، چي ښځي خپل د عدت حال معلوم کي، ولي که يې په دغه طهر کي وطی ورسره وکړې نو دا نه پوهېږي چي زه مېندواره سوي يم چي عده به مي وضع حمل وي، اوکه حامله سوي به نه يم چي عده به مي حيضونه وي البته د بل حيض تر وخت دې ته دا درک نه معلوميږي وروسته به معلوم سي او دا ښځه دي پرېږدي تر هغو چي

عده يې تېرېږي يعني بل طلاق دي نه ورکوي ولي چي عده يې تير سو او دا په خپله باينه سوه، د دې طلاق د احسنيت وجه داده چي د ابراهيم النخعي څخه روايت دي چي د صحابه کرامو رضي الله عنهم دا خوښه وه چي طلاق دي تر يوه بالانه ورکوي وښځي ته ترهغو چي عده يې تير يږي کذا فی شرح الکنز.

قال القدوری رحمة الله عليه " وطلاق السنة ان يطلق المدخول بها ثلثا فی ثلاثة اطهار" او طلاق سنت دادي چي مدخول بها ښځي ته يعني چي وطي يې ورسره کړي وي دري طلاق په دري طهره کي ورکړي په مدخول بها يې متعين کړه ولي چي غير مدخول بها کي تفريق ممکن نه دي.

سوال:- د طلاق السنت معنی خو په اصطلاح کي داده چي ثابت په سنت نبوي رحمة الله عليه سره وي نو احسن الطلاق خو هم طلاق السنت دي په دغه معني کما فی الفتح القدير، نو طلاق السنت يې په دې طلاق پوري ولي خاص کړي؟

جواب:- هو احسن الطلاق خو هم سني وو کما مر فی الرواية ابراهيم النخعي رحمة الله عليه، ليکن چونکه احسن الطلاق سني باجماع الصحابه رضي الله عنهم و الائمه رحمة الله عليه ووٗ نو تصريح ته يې په سنيت د هغه ضرورت نه وو، بخلاف طلاق السنة ولي چي د هغه په سني والي کي امام مالك رحمة الله عليه مخالف دي چي هغه وايي چي دغه طلاق هم بدعت دي نو تصريح په سني والي چي وکړه احتراز يې د مذهب څخه د مالك رحمة الله عليه وکړي نو په تصريح د سني والي د دې طلاق فائده داده چي دغه طلاق زمونږ په نيز سني دي نه په اجماع بخلاف الاول، کذا فی مجمع الانهر، ودر.

او تفصيل د دليل د امام مالك رحمة الله عليه او زمونږ د جواب په عيني شرح الكنز او نورو شرحو كي مطالعه كي.

دروېش وايي:- چي د تفصيل څخه په بعض مسئلو اختلاف فيه كي ډډه كوي په مراعات د حال د مطالعه كونكو چي اكثره مبتديان دي او يا اميان خط پوهېدونكي ورونه او خويندي دي.

قال المصنف رحمة الله عليه" وطلاق البدعة ان يطلقها ثلثا بكلمة واحدة او ثلاثا فى طهر واحد فاذا فعل ذالك وقع الطلاق وبانت امرئته منه وكان عاصيا" او طلاق بدعت يعني مخالف السنة دادي چي مېړه طلاق وركړي ماينې ته دړې طلاقه په يوه كلمه يعني داسي ورته ووايې چي ته پر ما په دړې طلاقه طلاقه يې، او يا دړې طلاقه په يوه طهر كي وركړي يعني په تفريق سره نو كه سړي داغسي وكړي نو ماينه جلا سوه د ده څخه يعني په بينونته غليضه چي بيا نو ده ته نه روا كېږي بېله بل مېړه، او دى ګناه ګار هم سو په سبب د مخالفت د سنت نبوي ﷺ.

پوه سه:- چي دړې طلاقه ورکول بدعت دي كه په طهر كي وي كه په حيض كي وي او داغه رنګه بدعت دي يو طلاق په حيض كي او داغه رنګه بدعت دي دوه طلاقه په حيض كي، او داغه رنګه بدعت دي دوه طلاقه په طهر كي او يو په حيض كي، او امام شافعي رحمة الله عليه وايې چي د درو طلاقو پر يو ځاى وركولو سره ګناه كار نه دي ولي چي ماينه د ده ملك ده نو د ته هر رنګه تصرف روادي.

قال القدورى" والسنة فى الطلاق من وجهين سنة فى الوقت و سنة فى العدد فالسنة فى العدد يستوي فيها المدخول بها وغير المدخول بها" او سنت په طلاق كي د دوو طريقو څخه سته يو سنت دي په وقت كي يعني په څه وخت كي به سړي ماينې ته طلاق وركوي، او بل سنت دي په عدد كي يعني څو طلاقه وركول سنت دي، نو سنت په عدد كي يعني چي يو طلاق دي په سنت كي برابره ده مدخول بها ښځه يعني چي وطي يې ورسره كړي وي، او غير مدخول بها يعني د دواړو سني طلاق يو طلاق دي، لقوله تعالى فتلقوهن لعدتهن" وجه د استدلال په دغه آيت داده چي د ابن مسعود او ابن عباس او ابن عمر رضي الله عنهم څخه روايت دي چي معنى د دې آيت داده چي د مخه د عدت ښځي تاسي طلاق وي، وهو عام مدخول بها او غير مدخول بها" دواړه پكښې داخلي دي، القطع.

والسنة فى الوقت تثبت فى حق المدخول بها خاصة" او سنت په وخت ثابت دي په حق كي د مدخول بها خاصه ولي چي غير مدخول بها په يوه طلاق بائن ګرځي، فلايمكن فيها تفرق التطليقات على الاطهار.

وهو ان يطلقها واحدة فى طهر لم يجامعها فيه" او هغه سنت د وخت چي خاص په مدخول بها سره دي دادي چي مېړه بې په يوه طلاق طلاقه كي په طهر او پاكي د ښځي د حيض څخه او داسي طهر به وي چي په هغه كي يې وطي هم نه وي ورسره كړي، تاچي دې ته د خپلي عدې درك دستي معلوم سي چي عده زما په حيضو ده.

قال القدوری" وغیر المدخول بها یجوز ان یطلقها فی الطهر والحیض" او چې د ښځې سره دخول او وطي نه وي سوي روا دي چې طلاق ورکړي مېړه که په طهر کي وي او که په حیض یعني دواړه وخت یې سني دي ، ولي شوق د مېړه و غیر مدخول بها ته په دواړه حال کې تازه دي او د وطي سودا د ده سره ورسره ده تر څو چې غوولې یې نه وي، بخلاف د مدخول بها ولي چې وه هغې ته د مېړه سودا په حیض کي نسته ولي ده زړه په سور کړي دي په حال کي د طهر نو څه وخت چې دا ده حیضه څخه خلاصه سي نو ده ته نوي رغبت ورپیدا کیږي نو سره د هغه چې دي طلاق ورکړي نو دا معلومه سوه چې دی وطلاق ته ضرورت لري سره د تجدد د رغبت، و بهذا یرد قول د زفر رحمۃ اللہ علیہ چې هغه وایې د غیر مدخول بها طلاق په حیض کي هم بدعت دي دي قیاسوي پر مدخول بها باندي، وقد عرفت الفرق بینهما هذا حاصل ما فی الهدایه.

قال المصنف" واذا کانت المرئة لاتحیض عن صغر او کبر فاراد ان یطلقهاللسنة طلقها واحد فاذا مضی الشهر طلقها اخری واذا مضی الشهر طلقها اخری" او که ښځې ته یعني د یو سړي مایني ته حیض نه ورتلي په سبب د کچنوالي یعني بالغه نه وه او یا په سبب د سپین سر توب ، او مېړه یې اراده وکړه چې د طلاق سنت پر طریق یې طلاقه کي نو یو طلاق خو ده ورکړي نو بیا چې میاشت تېره سوه بیا دي بل طلاق ورکړي او بیا چې بله میاشت تېره سوه بیادي بل طلاق ورکړي غرض دا چې په طلاق سني کي میاشت ددې د یوه حیض په ځای کي درېږي.

قال المصنف رحمۃ اللہ علیہ" ویجوز ان یطلقها ولا یفصل بین وطیها وطلاقها بزمان" او روا ده چې سړی ماینه طلاقه کړي او فصل یعني جلا والي نه وي په مابین کي د وطي او د طلاق د دې په زمانه سره.

پوه سه:- چې مراد د ضمیر مونث څخه په دغه عبارت کي هغه ښځه ده چې حیض نه ورځي ولي چې د دغې ښځې سره چې وطي وکړي نو احتمال د حمل خو نسته ولي چې بېله حیضه خو عمل نه پیداکیږي، نو ددې ښځې عده نه مشتبه کیږي بلکه عده یې یقینا په میاشتو ده.

وطلاق الحامل یجوز عقیب الجماع" او طلاق د حمل داري ښځې روادي وروسته تر جماع ددې سره ولي دا وطي خو سبب د اشتباه ددې د عدې نه ګرځي ولي چې ددې عده خو یقینا وضع الحمل دي او داغه رنګه وطي ددې سره سبب د سرد دلي د مېړه نه ګرځي بلکه زمانه د حمل تر پایه پوري زمانه د رغبت ددې جماعو ده ولي چې د مېړه عیال د دې په رحم کي دي نو رغبت دده په وطي سره ددې څخه نه لږېږي، محصل الهدایه.

قال ویطلقها للسنة ثلاثا یفصل بین کل تطلیقتین بشهر عند ابی حنیفة وابي یوسف رحمۃ اللہ علیہ وقال محمد رحمۃ اللہ علیہ لا یطلقها للسنة الا واحدة" او دغه حامله ښځه به مېړه طلاقه وي د سنت پر طریقه درې طلاقه په مابین کي د هرو دوو طلاقو به فصل د یوې میاشتي وي په نیز د امام اعظم او ابو یوسف رحمۃ اللہ علیہ او امام محمد رحمۃ اللہ علیہ وایې چې نه دي طلاق وي د سنت د اجراء لپاره مګر یو طلاق به ورکوي.

پوه سه:- چي مذهب ته د امام محمد امام زفر رحمۃ اللہ علیہ هم تللي دي د دوي دا دليل دي چي مدت د حمل د دغي ښځي خو ګرده يو طهر دي نو په طهر کي خو تفريق د طلاقو صورت نه لري لکه بعض ښځي چي حاملې هم نه وي لکن طهر يې اوږد وي يعني دوې درې يا بالا مياشتي حيض نه ورځي نو دغي ښځي ته چي مېړه طلاق سني ورکوي په دغه اوږد طهر کي خو دري طلاق نه سي ورکولای، فکذا الحامل المذکورة لانها بمنزلة تلک المرئة الممتدة الطهر، شيخان رحمۃ اللہ علیہ وايي چي حاملې لره خو امکان د حيض نسته حتی که په مده کي د حمل دا وينه ووينه هغه استحاض دي، نو د دې مثال لکه د آيسه ښځي دي، يعني د حيض څخه نا اميده وي بخلاف ممتدة الطهر ولي هغه ته خو هر وقت احتمال د حيض د ورتلو سته ولي عادت د ښځو خو بدليږي، مجمع الانهر ودرويش.

قال القدوری" واذا طلق الرجل امرئته فی حالة الحيض وقع الطلاق و يستحب له ان يراجعها فاذا طهرت وحاضت وطهرت فهو مخير ان شاء طلقها وان شاء امسكها"

او که طلاقه کړه يوه سړي ماينه خپله په حال کي د حيض يعني طلاق بدعي يې ورکړي طلاق خو واقع سو لکن مستحب ده دغه سړي لره چي رجوع دي وروته وکړي يعني د پاره د رفع د بدعت نو چي دا د هغه حيض څخه پاکه سي چي دي ته مېړه طلاق پکښې ورکړي وو او بيا بل حيض ورغلي او چي د هغه حيض څخه پاکه سي نو مېړه يې اختيار لري که يې خوښه وو بېرته دې طلاقه کړي چي طلاق يې پر سنت برابر سي او که يې خوښه وي ماينه دي کړي.

فائده سنيه:- پوه سه چي وقوع د طلاق په حال کي د حيض مذهب دي د جمهورو علماء وو مګر بعض علماء وايې چي طلاق په حال کي د حيض لغوه دي ولي چي د داسي طلاق څخه نهي راغلي دي بلکه علاوه پر دغه دا ډله داهم وايې چي درې طلاقه په يوه کلمه هم نه واقع کيږي لورود النهی عنه ايضا والجواب فی نور الانوار، او په نورو کتابو کي د فقهي شريفي وايې چي په مابين کي د نفي او نهي فرق سته په دي په دې معني چي نفي امکان د منفي نه غواړي او د وقوع سره د منفي منافي دي او نهي دا غواړي چي منهي عنه به متصور الوجود وي، والا فلا معنی للنهی عنه، او فائده د نهي تحريم دي د منهي عنه والنهي عن ايقاع الطلاق حالة الحيض لانه زمان مدة الشهوة فلعله اوقع الطلاق لذالک وكذا النهی عن ايقاع الطلاق الثلثة لاجل انه لعله يندم علی الطلاق" نو بيا خو پر رجوع قدرت نه لري بلکه زوج آخر غواړي، وقد تقرر فی الفقه" چي نهي چي د معنی فی غيره د سببه وي هغه نه منع کوي وقوع د منهي عنه لکه بيعه په وقت کي د آذان د جمعې.

فائده:- قدوري رحمۃ اللہ علیہ تصريح په استحباب وکړه ليکن صاحب هدايه رحمۃ اللہ علیہ وايې چي رجوع ورته کول واجب دي، لانه عليه الصلوة والسلام امر کي ابن عمر رضی اللہ عنہ چي هغه په حيض کي ماينه طلاقه کړې وه په رجوع سره، او په اصول الفقه کي وايې چي امر مطلق د پاره د وجوب دي او ندب وغيره معنی مجازي ده بېله قرينې نه مراد ږي ، او بل دا چي د معصيت د مېړه څخه دفعه وسي حتی الامکان، يعني اثر د هغه طلاق منهي عنه په رجوع سره پورته سي، او بل داچي د ښځي څخه به هم ضرر د تطويل العدة دفعه سي ولي که دي رجوع ونه کړي داغه موجوده حيض

چي طلاق پکښي وافع سوي دي ددې دعده څخه نه شمېرل کېږي نو درې حيضه به نور تېروي.

دروېش وايي:- چي يو د دغه دروو وجهو کافي دي د پاره د وجوب د رجوع، فکيف اذا اجتمع الثلثة.

فائده:- قدوري رحمه الله طهر ثاني شرط کړي په مبسوط کي د سرخسي هم داغسي عبارت موجود دي، وقال فيه وهو ظاهر الرواية عن الامام الاعظم رحمه الله وهو قولهما" اوفقهيه امام جعفر الطحاوي رحمه الله وايې چې په طهر متصل کي هم طلاق ورکولای سي، او په تحفه کي د امام کرخي رحمه الله څخه نقل کړي دي چي طحاوي رحمه الله چي ويلي دي هغه د امام اعظم رحمه الله دي او هغه چي په مبسوط کي ذکر سوي دي هغه قول د يارانو رحمه الله دي، او قول د امام اعظم رحمه الله د هغه قانون سره برابر دي چي طلاق دي په داسي طهر کي ورکوي چي جماع يې نه وي پکښي کړي، والطهر المتصل كذالك، مجمع، ودروېش.

قال القدوری" ويقع طلاق كل زوج" يعني كه حر وي او كه مريي په خپل خوښه طلاق ورکوي او که په زوره، د زړه واي او که مسخري کوي، لقوله عليه الصلوة و السلام ثلثلة جدها جد وهز لها جد ذكر ههنا الطلاق، يعني واقع کېږي طلاق د هر مېړه.

اذا كان عاقلا بالغا" يعني په عقل مميزه سره، نو نائم او او ليوني خارج سو، بالغا يعني چي بلوغ ته رسېدلي وي نو کوچني خارج سو.

ولا يقع طلاق الصبی والمجنون والنائم" نو نه واقع کېږي طلاق د کوچني چي بالغ نه وي او ليوني او د ببده ولي دغه کسان نه لري قول

صحيح اختياري، په جوهره کي وايي چي د معتوه طلاق هم نه واقع کېږي.

فائده:- معتوه هغه سړي بولي چي بعض خبري يې د عاقلانو پر طريقه وي او بعض خبري يې د لېونيانو پر وزم وي چي داسي سړي په پښتو کي پاګل وايي.

پوه سه:- چي د معتوه طلاق هلته نه واقع کېږي چي په وقت د عته طلاق ماينې ته ورکړي ، او که يې په حالت کي د صحت ورکړي نو صحيح داده چي طلاق يې واقع کېږي، او که د سړي د بېهوښي په حالت کي طلاق د ماينې تر خوله ووتي هغه هم نه واقع کېږي.

قال القدوری رحمه الله" واذا تزوج العبد باذن مولاه وطلق وقع طلاقه" اوکه نکاح وکړه مرييې اجازه د بادار او بيا يې طلاقه کړه طلاق يې واقع کېږي.

دروېش وايي:- چي فرق په مابين کي د نکاح د مريې چي اجازه د مولی غواړي او د طلاق د ده چي اجازه د مولی نه غواړي دادي چي د مريي د نکاح په صورت بادار ته تاوان رسېږي (۱) اول ولور خو په رقبه پوري د مريي تعلق لري رقبه د مريي خو ملك د مولاده او (۲) دوهم نفقه د ماينې د مريي خو هم پر مولاده (۳) دريم مريي چي ماينه ولري څه نا څه د مولی په خدمت کي قصور راځي نو د دې سببو پر بناء په نکاح کي اجازه د مولا غواړي، او په صورت کي د طلاق بضع د بنځي خو د مريي ده او مريي عاقل وبالغ هر کلام د ده صحيح دي، او په طلاق مولی ته ضرر هم نه رسېږي نو ځکه د اجازې ته ضرورت نسته، كذا فی الهدايه ومجمع الانهر والعينی وغيره.

قال القدوری" ولا یقع طلاق مولاه علی امرئته" او نه واقع کیږي طلاق د بادار پر ماینه د مریې ولي ملك النکاح خو حق ده مریي دي نه د مولانو اسقاط یې هم په مریي پوري اړه لري نه په مولا پوري، هدایه.

والطلاق علی ضربین صریح وکنایه، فالصریح قوله انت طالق او مطلقة او طلقتک فهذا یقع به الطلاق الرجعی ولا یقع به الا واحدة وان اکثر من ذالک ولا یفتقر فی هذه الالفاظ الی نیة" او طلاق پر دوه قسمه دي صریح دي یعني چي مراد یې هر چاته ظاهر وي، او بل قسم کنایه دي یعني مراد یي پټ وي د ویونکي په ارادې پوري اړه لري او یا په قرینه پوري، نو صریح الفاظ د طلاق دادي چي مېړه وماینې ته ووایي چي ته طلاقه یې، او یا ته مطلقه یې او یا ماته طلاقه کړې یې، والفرق بین هذه العبارات دادي، چي اول او دوهم جمله اسمیه دي اول چي طالق د مجرد د باب دي او دوهم د مزید د باب دي، او دریم جمله فعلیه ده او په د غو الفاظو طلاق رجعي واقع کیږي یعني چي پس له د غو الفاظو ویلو مېړه بېرته د عده په دوران کي ماینې ته رجوع کولاي سي یا په قول یاپه عمل چي مچه ځندي واخلي یاوطي ورسره وکړي او تجدید ته د نکاح ضرورت نسته، سبب دادي چي طلاق چونکه خلاف د ملك نکاح دي نو په د غو الفاظو سره ادنی طلاق ثابتیږي چي رجعي دي، او نه واقع کیږي په دغو الفاظو مګر یو طلاق ولي چي مصدر د دغو الفاظو خو صراحة نه دي ذکر سوي چي طلاق دي بلکه په مقتضی د مشتقاتو ګویا دي مذکور دي، او قانون فقهي دي

چي پر لفظ چي مذکور اقتضاءً وي هغه په قدر ضرورت یې معني اراده کیږي او ضرورت خو په اقل سره دفعه کیږي چي هغه متیقن دي فلا حاجت الی اثبات الاکثر، که څه هم د سړي مراد اکثر تر یوه طلاق وي ولي لفظ د مصدر یې احتمال نه لري، والاصل فیه قوله تعالی الطلاق مرتان فامساك بعروف او تشریح باحسان" یعني طلاق چي د رجوع حق ورسره سته دوه واره دي وروسته ترهغه به یا امساك د ماینې کوي یعني رجوع به ورته کوي لکن پر شرعي ډول، یعني رجوع به یې د دې لپاره نه وي چي پسله رجوع څخه یې بیرته طلاقه کړي د پاره د اضرار د ښځي چي عده پر اوږده کړي، کما کان اهل الجاهلیة یفعلون ذالك" او یابه ایله کوي ماینه په ښه طریقه یعني رجوع دي نه ورته کوي پرې دیږدي چي عده یې تېره سي پخپله د مېړه څخه خلاصه سي لیکن دا ټوله په مدخول بها کي دي او غیر مدخول بها چونکه عده نه لري او په یوه طلاق بائن ګرځي نو مېړه پس له طلاقه حق د رجوع نه لري. مجمع الانهر هدیه عیني درویش.

قال القدوری رحمة الله علیه" وقوله انت الطلاق او انت طالق الطلاق او انت طلاق طلاقا فان لم یکن له نیة فهی واحدة رجعیة وان ثنتین لایقع الا واحدة وان نوی ثلاثا کان ثلثا" او دا قول د سړي چي ماینې ته ووایې چي ته طالق الطلاق یې، یعني مصدر معرفه ذکر کړي ، او یاووایي چي ته طلاقه یي یعني یوازي مصدر ذکر کړي ، او یا ووایي چي ته طالقه یې طلاقا یعني مصدر نکره ووایي.

پوه سه:- چي قوله مبتداء ده او دا جمله شرطیه یعني فان لم یکن آه، جز د مبتداء دي نو که د ده په نیت کي هیڅ شي نه وو نو یو طلاق رجعي واقع کیږي ولي چي دمخه تېره سوه چي صریح لفظ د طلاق واحد

رجعي دي او که يې د دوو (۲) طلاقو نيت وو نو دوه نه واقع کيږي مګر يو طلاق ، او که يې نيت ي د دروو (۳) طلاقو وي بيا دريې طلاقه واقع کيږي.

درويش وايي:- چي حل د دې مقام موقوف دي پر دې چي لفظ د طلاق چي په دغو عباراتو کي صراحة ذکر دي اسم جنس دي او جنس دوه قسمه افراد لري، يو يې فرد حقيقي بولي چي يو فرد دي، او بل يې فرد اعتباري بولي چي ټول افراد د هغه جنس دي نو ګويا دا مجموعه اعتبارا يو فرد دي لکن دا هلته چي مجموع افراد د جنس محصور وي لکه طلاق چي ټوله افراد يې دريې دي نو په مثل د رجل فرد اعتباري نه جوړيږي، الااذا دخله لفظ د کل مضافا الى اسم الجنس المعرف بالام نحو کل الانسان لايسعه هذه الدار" نو په مانحن فيه چي د سړي نيت نه وي نو ففرد حقيقي د طلاق مراد چي يو طلاق دي ودغه رنګه کي نيت د يوه طلاق وو، او که يې نيت د دوو طلاقو وو نو نيت يې نه دي صحيح ولي چي دوه طلاقه نه ففرد حقيقي دي او نه فرد اعتباري مګر هغه وخت که يې ماينه مينځه وه، ولي د هغې د طلاق ټوله جنس دوه دي کما تقرر فی کتب الفقه، نو يو طلاق په دې سبب واقع کيږي چي نيت د دوو چي لغوه سوه نو لفظ د طلاق مطلق پاته او په مطلق طلاق سره واحد رجعي طلاق واقع کيږي، او که يې نيت د دروو طلاقو وو نو بيا دريې طلاقه واقع کيږي ولي چي دريې طلاقه فرد اعتباري دي لفظ يې احتمال لري او په نيت سره تائيد وسو.

پوه سه:- چي دا تفصيل هلته دي چي عربي الفاظ استعمال کړي کما فی عبارت المصنف رحمه الله عليه

فائده دروېش وايي:- که څه هم مذکور تفصيل د مبتديانو تر فهم لوړ دي او دغه د خط پوهانو اميانو تر پوهېدو هم لوړ دي ليکن دروېش د پاره د حل د مقام ودې تفصيل ته مجبور سو، البته طالبان ښه نفعه پر اخيستلي سي کما لا يخفى فافهم، دروېش.

قال القدوری" والضرب الثانی الکنايات"

پوه سه:- چي کنات جمع د کنايه ده چي هغه مشتق د کنی څخه دي چي د کنې معنې ده پټ والي دي نو دا هغه الفاظ دي چي د طلاق هم احتمال لري او د بلي معنې احتمال هم لري نو د دې سبب په دغو الفاظ طلاق نه واقع کيږي بېله قرينې د طلاق، در.

ولا يقع بها الطلاق الا بالنية" ولي چي په دغه الفاظو کي احتمال د غير د طلاق هم سته کما سياتی.

او بدلالة الحال" لکه حال د جنګ د مبړه او ماينې وغير ذالك.

وهی علی ضربين منها ثلثة الفاظ يقع بها الطلاق الرجعی ولا يقع بها الا واحدة" او کنايات پر دوه قسمه دي بعض د کنايا تو دريې لفظه دي چي په هغو طلاق رجعی واقع کيږي او نه واقع کيږي په هغو سره مګر يو طلاق.

وهی قوله اعتدی واستبرئی رحمک وانت واحدة" او هغه دا دريې کلمې دي اعتدی دا قول ده احتماله لري يو دا چي ته وشمېره نعمتونه د خداي ﷻ پر تا باندي، او بل دا چي زما د نکاح څخه عده تېر کړه نو چي دی نيت د دوهمي معنی وکړي نو عده تېرول خو پسله طلاقه وي، نو ده ګويا داسي ورته وويله چي ته دي خپله عده تېره کړه ولي چي

ما طلاقه کړې يې او د طلاق د لفظ وروسته خو رجوع صحيح ده، او بل لفظ استبرئی، يعني ته دي پاك کړه رحم دا لفظ هم احتماله لري يو داچي ته خپل رحم پاك کړه د حيض څخه چي زه وطي درسره وکړم، او بل دا معني کيدلي سي چي ته رحم پاك کړه چي زه دي طلاقه کړم، نو چي دوهمه معني د ده مراد وي خو بيا صريح لفظ د طلاق مابين ته راغلي او تر هغه وروسته خو رجوع صحيح کما مر مرارا، او دريم لفظ انت واحدة دا لفظ هم دوه احتماله لري يو داچي ته يوه ښځه يې په قوم کي په ښائست يا په کمال سره، او بل داچي واحدة صفه د مصدر محذوف ده يعني تطليقة واحدة او مفعول مطلق خو فعل عامل غواړي ګويا د داسي وويل، طلقتك تطليقة واحدة، او تر صريح لفظ د طلاق رجوع وروسته صحيح کوي، نو چونکه دغو دروو لفظو دوه احتماله درلوده نو ځکه حاجت وه نيت ته لري، او طلاق هم يو او رجعي دي ولي د طلاق لففظ چي ښکاره و وايې خو طلاق يې يو او رجعي دي نو چي محذوف وي لکه فيما نحن فيه کي نو په طريق اولى واحد رجعي دي.

پوښتنه:- بعض علماء وايې چي په انت واحدة چي معني اوله مراد وي نو خو خبره د انت ده نو بايد مرفوع وويل سي کما لا يخفى، او که معني ثاني مراد سي بايد منصوب وويل سي ولي چي صفت د مصدر محذوف دي او هغه مفعول مطلق دي او مفعول مطلق خو منصوب وي کما تقرر فی النحو نو پوښتنه داده چي په دې لفظ کي دوه احتماله چېرې دي که يې مرفوع ووايې هم يو احتمال دي او که يې منصوب ووايې هم يو احتمال لري؟

ځواب:- بعض شارحان دا جواب ورکوي چي دا دوه احتماله په حال کي وقف دي، ليکن صحيح داده لکه صاحب هدايه رحمة الله عليه چي وايې چي د مشائخو رحمة الله عليه په نېز اعتبار اعرابو لره نسته ولي چي عوام د وجوهو د اعراب په فرق نه پوهيږي البته نحوي سړي يې په فرق پوهيږي، والاعتبار للاكثر وهم العوام.

سوال:- د مخه تېره سوه چي د طلاق په لفظ کي نيت د دروو طلاقو صحيح دي دلته تطليقه محذوف دي بايد نيت د دروو طلاقو صحيح واى؟

جواب:- هو ليکن دلته چونکه قائل تصريح په وحدت وکړه نو د دروو طلاقو نيت کول د مابين څخه ولاړل.

قال القدوری" وبقية الكنايات اذا نوىٰ بها الطلاق كانت واحدة بائنة" او باقي مانده کنايات چي نيت د طلاق په دوي سره وکړه سي نو طلاق يې يو او بائن طلاق دي چي رجوع د مېړه نه ده صحيح البته په نکاح جديده ورته رواکېږي ولي چي طلاق يې مغلظ يعني ثلاثه نه دي ولي ثلاثه په نيت پوري اړه لري، او نيت د طلاق چي غواړي ددې وجهي چي دا الفاظ هم د دوو معنى و احتمال لري، فلابد من النية كما مر وسياتی احتمالان عند ذكر كل لفظ انشاء الله تعالى.

قال" وان نوىٰ ثلاثا كان ثلاثا وان نوىٰ ثنتين كانت واحدة" او که يې نيت د درو (۳) وو نو دري طلاقه واقع کېږي او که يې نيت د دوو (۲) طلاقو وو نو يو طلاق واقع کېږي، او نيت د دوو طلاقو نه دي صحيح، او امام زفر رحمة الله عليه وايي چي نيت د دوو هم صحيح دي، زمونږ

دلیل دادي چي بینونت د عدد احتمال نه لري او دوه په حق کي د حرۍ عدد دي نو چي احتمال د عدد نسته نو نیت یې هم نه دي صحیح.

سوال:- درې خو هم عدد دي نو ولي یې نیت صحیح دي؟

جواب:- د دروو نیت په حیث د عدد نه دي صحیح بلکه په دې حیث صحیح دي چي نوعه واحده غلیضه بینو نه ده نو ددې سببه که ماینه د سړي مینځه وي نو نیت د دوو (۲) طلاقو صحیح دي نه من حیث العدد بلکه په دې حیثیت چي دوه طلاقه نوع واحده غلیضه ده بینونه ده په حق کي د مینځي کمامر، لکه درې په حق کي د حري ښځي، هذا حاصل مافی الجوهره.

قال القدوری رحمۃ اللہ علیہ" وهذه مثل قوله انت بائن و بته وبتلته وحرام" او هغه الفاظ لکه دا قول د مېړه مینې ته چي ته بائینه یې، په لفظ کي دوه احتماله سته یو داچي ته جلا ښځه یې د قوم څخه خپل، او بل احتمال یې دادي چي ته زما د نکاح څخه جلا یې نو چي دي دوهم قصد وکړي نو یو بائن طلاق یا درې طلاقه پر ښځه واقع کیږي ولي چي په رجعي طلاق کي جلاوالي نسته لامکان الرجعي، او بته او بتلته چي د دواړو معني قطعه ده هم دوه احتماله لري یو دا چي ته مقطوع یه د هر کار څخه د خیر او یا مقطوع یې د پلارګني څخه، او بل داچي ته زما د نکاح څخه بري یې نو چي نیت د دوهمي معني وکي نو طلاق بائن واحد یا بائن مغلظ په واقع کیږي ولي چي په رجعي کي قطع د نکاح نسته لامکان الرجوع، او د حرام د لفظ هم دوې معني وي دي یو دا چي ته حرام په غیر زما او محترمه یې پر ما باندي، او بل داچي ستا وطي وماته حرامي دي، فاذا نوی الثانی یقع البائن الخفیف او الغلیظ ان

نوی الثلثة، ولي چي په طلاق رجعي ماینه نه حرامیږي بلکه په وطي سره د ده رجوع ثابتیږي.

قال القدوری" وحبلك علی غاربك" ماینې ته مېړه ووایې چي ستارسي ستا پر غاړه ده.

پوه سه:- چي اوښ یا اوښه چي مالك یې نه غواړي چي پر ځای څړ وکړې نو یې رسي په موږي پوري وتړي نو دا اوښ په په قدر د طول د رسي شاوخوا څړ کولای سي وبس، او چي مالك وغواړي چي دا اوښه هر ځاي چي یې زړه وغواړي څړ دي کوي نو رسي پر غاړه ورپېچي او ایله یې کړي نو هغه اوښه پرهر ځای چي د دې مرضي وي څړ کولای سي د مالك د خوا مانع نسته، نو دلته مېړه خپله ماینه مشابه کوي د هغي آزادي اوښي سره لیکن د دې ازادي دوه احتماله دي چي که د مېړه نیت داوي چي ما دي رسي د نکاح پر غاړه در وپېچله هر چیري چي مېړه کوي وې کړه نو پر دې تقدیر طلاق بائن دي، او داهم احتمال لري چي مېړه دي وماینې ته اختیار ورکوي چي د پلار کره ځي او که د ورونو کره ته مختاره یې زما د خوا قید نسته که یې دا نیت وي نو طلاق نه دي، نو ځکه د طلاق نیت غواړي چي دا معني یې اولی حاصل وو.

قال" والحقی باهلك" او ولاړه سه خپلو خپلوانو ته.

پوه سه:- چي دا لفظ هم دوه احتماله لري یو داچي زما د خوا فارغه یې د نکاح څخه ولاړه سه خپلو قریبانو ته، او بل داچي ولاړه سه د خپلوانو کره یو څو شپې به وکړې طبعیت به دې رسته سي، ولایقع الطلاق الا بالنیة الاولی کما لایخفی.

قال" وخلیة وبریة" او ته خالي یې یا خلاصه یې.

پوه سه:- چي دا دوه لفظه هم دوې معني وي لري يوه دا چي ته خالي يې د عقل او ادب څخه او خلاصه يې د کور د کار څخه، او بله دا معنی چي ته خالي يې زما د نکاح څخه يا خلاصه يې زما دزوجيت څخه، ولا يقع الطلاق الا بالنية الثانية، نو ځکه نيت ضروري دي.

ووهبتك لاهلك" ماته بخښلې يې وخپلو قريبانو ته، دا لفظ هم دوې معنا وي لري يا دا چي ته مابخښلې يې ستا و قريبانو ته د هر قريب کړه چي ځې تلای سي، او يا ما بخښلې يې ستا قريبانو ته ولي زما څخه طلاق او بائن يې، والطلاق يقع بالنية الثانية.

پوه سه:- چي امام اعظم رحمة الله عليه په دې لفظ کي په زړه پوري تحقيق لري، هغه دا چي که مېړه وويله، وهبتك لاهلك، او لابيك او لامك او للازواج فهو طلاق" که يې نيت د طلاق وو ولي چي بښځه چي پس له طلاقه ودغو کسانو ته رديږي، او بل څوك د دې مېړه کړځي پس له طلاقه.

دروېش وايي:- چي آخر د فکر ځای دي فتامل، او که يې داسي وويله، وهبتك لاخيك او لعمك او لخالك او لفلان الاجنبی لم يكن طلاقا" يعني که څه هم نيت د طلاق وي ولي په طلاق بښځه پر دغو کسانو نه رديږي، كذا فی الجوهره.

قال" وسرحتك" ماته ايله کړې يا معنا دا ده چي د ماينه توب څخه مي ايله کړې يې او يا معنا داده چي ماته خپل سر ته ايله کړې هر څه تصرفات چي زما په مال کي کوې او په بازار کي چکر وهي، طلاق په صورت اول کي واقع کيږي.

واختياری" يا معنا داچي ته د ځان د پاره خپل مېړه خوښ کړه نو په دې صورت کي طلاق دي،

او يا معنا دا چي ته ځان ته کالي، سره زر، يا امبل وغيره خوښ کړه نو په دې صورت کي طلاق نسته.

وفارقتك" يامعنا دا چي زه ستا څخه په عقد نکاح کي جلا سوم، نو طلاق دي او يا معنا داده چي زه د ناجوړۍ د سبب څخه تا د ځان څخه جلا کوم او يا د سفر په وجه تا د ځان څخه جلا کوم.

وانت حرة" ته ازاده يې يعني زما د نکاح څخه نو طلاق دي، يا ته ازاده يې په دنيائي تصرفاتو کي نو طلاق نه دي.

وتقنعی" ته مخ پټوه، يا معنا دا چي زما څخه مخ پټوه نو طلاق دي يا چي د کوره ووځې مخ پټوه نو طلاق نه دي.

واستتری" ځان پټوه د بېګانه وو څخه نو طلاق نه دي، يا ځان پټه وه د ما څخه نو طلاق دي.

واغربی" د ما څخه لېرې سه ولي چي په خوله مي نه کوي، يا لېرې سه ولي د ما څخه بائنه يې نو طلاق دي.

وابتغی الازواج" طلب کوه د مېړه چي زما څخه بائنه يې نو طلاق دي، يا ته تلاش وکړه د مړو د بښځو چي زما غوندي بښه مېړه بله بښځه لرې نو طلاق نه دي.

قال" فان لم يكن له نية الطلاق كما ذكرنا لم يقع بهذ الالفاظ الطلاق، لان النية ضرورى فی الكنايات كما مر الاان يكونا فی مذاكرة الطلاق فيقع بها الطلاق فی القضاء ولا يقع فيما بينه وبين الله الاان ينويه" مګر په دغو کناياتو کي طلاق واقع کيږي که چېرې مېړه او ماينه په حال کي د ذکر د طلاق وه، يا ماينې

ورته ويل چي ما طلاقه کړه، يا زما بن طلاقه کړه نو مېړه يوه د دغو کناياتو څخه ورته ويل نو طلاق واقع سو په حکم کي د قضاء يعني که مرافعه د دغه ماجرا وقاضي ته وسوه قاضي به ميړه ته وايې چي دغه ستا ماينه په طلاق بائن پر تا طلاقه ده، ولي چي قاضي خو وظاهر ته ګوري ظاهرا مذاکره د طلاق قرينه پر ارادې د طلاق که څه هم مېړه ووايې چي زماغرض په دغه کنايه کي هغه معنا مراد وه چي طلاق نه په واقع کيږي، او که خبره داغسي پاته سي اومرافعه وه قاضي ته نه وسي، نو په مابين کي د ده اودخداي ﷻ طلاق نه واقع کيږي يعني وطي او جماع يې ورته روا دي مګر که يې نيت د طلاق وو او معامله تر قاضي نه ورسيدله، نو صرف د ده د خولې په وينا چي زما نيت د طلاق وو ماينه ورته حرامه ده، لانه تعالى ينظر الى السرائر.

قال القدوري" وان لم يكونا فى مذاكرة الطلاق وكانا فى حالة الغضب والخصومة وقع الطلاق بكل لفظة لا يقصد بها السب والشتيمة ولم يقع بما يقصد بها السب والشتيمة الاان ينويه" او که نه وه مېړه او ماينه په حال کي د مذاکرة الطلاق بلکه په غضب او دجنګ وه نو طلاق واقع کيږي په کنايانو چي په هغو سره نه قصد کړه کيږي ښکنځل او بد ويل، او نه واقع کيږي طلاق په کناياتو چي په هغو کي احتمال د ښکنځلو وي، البته که په هغو کي د مېړه د طلاق نيت وو، نه د بد ويلو بيا طلاق واقع سو، تفصيل دادي چي په انت حرام، او بائن، او بته، او بتله، او خليه، او بريه، او اعتدى، او استبرئ رحمك" نو که يو د دغو الفاظو څخه مېړه په حال کي د مذاکرة الطلاق استعمال کړي نو طلاق په واقع کيږي، او که دي ووايې چي زما

غرض طلاق نه وو قاضي به يې تصديق نه کوي او د دغو کناياتو څخه يو په حال کي رضا ووايې نو که يې نيت د طلاق وو ماينه پر طلاقه سوه او که ده وويل چي زما غرض طلاق نه وو نو قاضي به يې تصديق کوي، او که دغه کناياتې ده په حال کي د غضب استعمال کړي نو په ټولو کي طلاق واقع کيږي که څه هم دي ووايې چي زما غرض طلاق نه وو، مګر په پنځو (۵) کناياتو کي د دغو مذکوره کناياتو چي مېړه دعوه وکړي چي زما طلاق نه وو غرض ښکنځل وه وماينې ته، ولي دغه پنځه احتمال د ښکنځلو لري بخلاف بقيه الکنايات المذکورة چي په هغو کي احتمال د ښکنځلو نسته، هغه پنځه الفاظ چي احتمال د ښکنځلو لري دادي، انت حرام" يعني ته حرامي توب کوي د مېړه حقوق نه منې، انت بائن" ته د دين څخه وتلې ښځه يې، انت بتة" ته د غيرت انساني څخه قطع ښځه يې، انت بتلة" ته د خير د کارو څخه بېخي خالي يې، انت برية" ته د دين او اسلامه بېزاره ښځه يې نو چونکه حال د غضب دي نو ظاهرا د ميړه په دغو الفاظو ښکنځل غرض دي، او بيا هم که دی ووايې چي زما طلاق غرض وو طلاق په دغو کناياتو سره هم واقع کيږي.

دروېش وايي:- چي په دې باب کي مزيد تفصيل په عيني شرح الکنز او په رد محتار او جوهره کښې يې مطالعه کړي ولي چي مبتدي د ډېر تفصيل د درك وس نه لري او دا تفصيل چي دروېش وکړي د دې چاره نه وه په فهم د عبارت قدوري چي دلته يې ذکر کړي دي او علماء وايې، ما لا يدرك كله لا يترك كله" يعني ټوله تفصيل د سړي د ادراك وس نه په رسيږي، نو يك لخته تفصيل دي نه پرېږي يعني چي حل د مقام پر موقوفه وي كما فى نحن فيه.

قال" و اذا وصف الطلاق بضرب من الزيادة كان بائنا مثل انت طالق بائن او انت طالق اشد الطلاق او فحش الطلاق او طلاق الشيطان و البدعة" معطوف دي پر شيطان يعني طلاق البدعت، او طلاق البدعت تفسير دي د طلاق الشيطان كما يفهم من الهدايه، چي دى وايي چي سنت خو طلاق رجعى دي نو بدعت طلاق الشيطان دي، او په هدايه كي يې داهم زياته كړې ده چي، او اخبث الطلاق او اسوء الطلاق" او كا لجبل او ملاء البيت"

د عبارت ترجمه:- كه موصوفه كړه سو يعني د مېړه د خوا اطلاق په يو قسم زياتوب سره نو طلاق بائن دي يعني يو طلاق دي لكن بائن، ولي چي زياتوب د طلاق ګاهي په بائن توب سره وي چي تر رجعي زيات دي، او ګاهي په عدد سره وي لكه دري طلاقه نو بائن خو متيقن دي چي په دري طلاقه كي هم بينونت سته، فاخذنا بالمتيقن وهو الواحد البائن" او داهم قول د امام اعظم رحمة الله عليه دى په دې ټولو الفاظو كي، او امام ابو يوسف رحمة الله عليه په بعض الفاظو كي څندي مخالف دي، كما فى شروح الكنز وغيرها.

قال القدورى رحمة الله عليه" كمثل ان يقول انت طالق بائن" په مثال د دې چي مېړه ووايي ته طلاق بائنه يې نو د بائن لفظ يې زيات كړي چي پر زيادت دلالت كوي، كما لايخفى.

او انت طالق اشد الطلاق" او يا ته طلاقه يې په سخت طلاق سره.

او طلاق الشيطان والبدعة" او يا طلاقه يې په طلاق د شيطان او بدعت سره.

اوكالجبل او ملاء البيت" يا طلاقه يې د غره په شان طلاق سره، او يا په دومره طلاق طلاقه يې چي خونه په ډكېږي، امام ابو يوسف رحمة الله عليه وايي چي كه مېړه داسي ورته وويل، انت طالق كحبة الخرذل" هغه بائن طلاق نه دي بلكه رجعي دي، امام اعظم رحمة الله عليه وايي چي كه د ده طلاق رجعي مراد واي نو تشبيه ته څه ضرورت وو هغه خو په طلاق سره هم حاصليږي.

سوال:- په دې تشبيه كي خو دلالت پر زيادت نسته؟

ځواب:- زيادت سته په اعتبار د كيف څونده دي.

قال" واذا اضافت الطلاق الى جملتها او الى ما يعبر به عن الجملة وقع الطلاق" او كه نسبت وكړي مېړه د طلاق وټولي ښځي ته او يا وداسي جزء ته چي په هغه لفظ ګاهي تعبير د ټولي ښځي څخه كيداي سواى، نو طلاق د ښځي يقيني دي.

مثل ان يقول انت طالق" ولي چي تا د خطاب عبارت د ټوله مخاطب څخه دي.

او رقبتك طالق" ولي لفظ د رقبې د انسان څخه تعبير كيداي سي، قال الله تعالى فتحرير رقبة" د رقبې څخه مراد ټوله مريي دي.

او عنقك طالق" ولي چي لفظ د عنق هم د ټوله شخص څخه عبارت كيداي سي، قال الله تعالى قطلت اعناقهم" يعني ټوله دوي.

او روحك طالق" وفى المحاورة العربية هلك روح فلان اى نفسه.

او بدنك او جسدك طالق" ولي چي بدن او جسد د ټوله شخصه څخه تعبير كيداي سي وهو ظاهر.

او فرجك طالق" ولي چي فرج هم د ټوله شخص څخه تعبير کيداي سي، کما ورد فی الحديث النبوی لعن الله الفروج علی السروج" نو مراد د فروج څخه ټوله ښځه ده يوازي فرج يې نه دي.

او وجهك طالق" ولي په لفظ د وجه د ټوله شخصيت څخه تعبير راغلي دي، په عربوکي وايې فلان وجه العرب" او په هدايه کي لفظ د دم هم پر زيات کړي دي، کما يقول دمك طالق، ولي په لفظ د دم هم تعبير د ذات څخه روا دي، کما يقال فلان دمه هدر يعني د فلاني وينه لغوه ده، وکذالك لفظ د نفس نحو نفسك طالق وهو ظاهر.

قال القدوری" وکذالک ان طلق جزء شائعا منها مثل ان يقول نصفک او ثلثک طالق" او داغه رنګه ښځه طلاقه کېږي که يې مېړه نسبت ددې و جزء شائع ته وکړي، يعني هغه جزء ته چي د دې په بدن کي هر طرفته ويل کيداى سي لکه چي مېړه ووايې چي ستا نيمی او يا ستا دريمه حصه طلاقه ده، ولي چي نيمی يا ثالث د ماينې طلاق سي هغه حرام سو په صريح طلاق نو ټوله ښځه حرامه سوه ولي چي حرمت د ماينې تجزيه نه قبلوي.

قال الدوری" وان قال يدک طالق او رجلک طالق لم يقع الطلاق" او مېړه که وماينې ته وويل چي ستا لاس طلاق دي او يا ستا پښه طلاقه ده، نو نه واقع کيږي طلاق ولي چي په لاس يا پښه سره د ټوله څخه تعبير د کل نه کيږي او نه دا دوه جزء شائع دي، او زفر رحمة الله عليه او نور ائمه ثلاثه رحمة الله عليه وايې چي طلاق واقع کيږي ولي چي پر لاس د ماينې او په پښه د ماينې نفع اخستل کيږي په سبب د نکاح، رمز، در.

سوال:- په لفظ د يد خو تعبير د کل څخه کيداى سي، قال الله تعالی تبت يدا ابی لهب" يعني نفس ابو لهب، وقال ايضا، لاتلقوا بايديکم الی التهلکة ای بانفسکم علی ماذکره المفسرون؟

جواب:- مصنف رحمة الله عليه د مجمع الانهر وايې چي نفس استعمال په ذات کي د طلاق په باره کي کافی نه دي بلکه د طلاق په وقوع کي دا شرط دي چي هغه استعمال به هم شائع وي، او استعمال د يد په کل کي نادر دي نو ځکه طلاق نه په واقع کيږي.

دروېش وايې:- چي د اول ايت په جواب کي داسي هم ويل کيداى سي چي په يوه حديث طويل کي راغلي دي، چي آنحضرت ﷺ چي د قريش قبائل د صفا پر غره سره راجمع کړه او کلمه توحيد يې پر عرض کړه نو ابو لهب په دواړو لاسو کي شګي را اخستي وې او عليه الصلوة والسلام يې په ووشتي او داسي يې وويله، تبا لك سائر اليوم آ لهذا جمعتنا فنزلت هذه السورة فعلی يدا ليس لفظ يدا تعبيرا عن نفس ابی لهب.

قال القدوری رحمة الله عليه" ولو طلقها نصف تطليقة او ثلث تطليقة کانت تطليقة واحدة" او که سړي ماينه طلاقه کړه په نيم طلاق او يا په دريمه د طلاق، دروېش وهکذا په څلورمه په پنځمه په شپږمه د طلاق الی غير النهايه" نو يو طلاق يعني رجعي په واقع کيږي ولي چي طلاق خو تقسيم او تجزيه نه قبلوي، لانه معنی من المعانی، او کلام د عاقل حتی الامکان بايد سړي لغوه ونه بولي، نو ادنی طلاق چي يو رجعي طلاق دي بايد واقعه سي.

قال" وطلاق المکره" پر صيغه د اسم مفعول" والسکران واقع"

او طلاق د هغه چاچي بل په زور سره د ده تر خولې لفظ د طلاق وباسي، او داغه رنګه طلاق د نشه سړي په خمر وغیره سره واقع دي.

دروېش وايي:- د مکره طلاق چې واقع کيږي په دې سبب چې د ده خو عقل پر ځای دي ليونې نه دي، او په لفظ د انت طالق هم پوهيږي بيده نه دي او انت طالق يې په اختيار او اراده سره ووايې ولي مکره په صيغه د اسم فاعل ده ته پېش رو وکړي چې يا به ماينه طلاقه وې او يا دي زه لاس در پرې کوم مثلا او يادي وژنم نو ده ښه فکر وکړي چې ماينه خو بله پيدا کيږي لاس او ژوند خو نه پيدا کږي، نو د ماينې طلاق ته يې ترجيح ورکړه، البته په طلاق د ماينې راضي نه وو نو په دې کي اراده او اختيار د طلاق موجود دي رضا نه ده موجوده او طلاق د اختيار او ارادې سره کار لري، واما وقع طلاق السکران د هغه سبب دادي چې سکران په عين وقت کي د سکر مکلف په لمونځو او روژو دي او ټوله اوامر او منهيات وده ته متوجه دي حتی چې د هغو لمونځو چې ده په حال کي د سکر نه دي کړي قضا يې پر لازمه ده چې پر سد سي او داغسي روژې هم نو د دې څخه دا معلومه سوه چې شرعي شريفي دی په ځای کي د سليم العقل نازل کړې دي، تشديدا کلية فی استعماله المسکر.

فائده مهمه:- فقهاء رحمة الله عليه کما فی الدر المختار د پاره د حق د زوجه تفسير د سکران په مذهب د امام اعظم رحمة الله عليه کړي دي چې سکران په باب کي د طلاق هغه سړي دي چې د نشې د سببه آسمان، مځکه، نر او ښځه نه سره پېژني وهو المعتمد، در. او په باب د وجوب د حد يې زجراله مذهب د يارانو رحمة الله عليه مختار کړي چې سکران هغه سړي دي چې په ډېرو

خبرو ك چتياتي او بېهوده خبري کوي، او په باره کي د اودس د ماتېدو يې تفسير د سکران داسي کړي دي چې په تلو راتلو کي خلل وي، کذا فی الحاشيه الطحاوی رحمة الله عليه د نشې اسباب، په دې زمانه کي، هيروئن" چرس، د امو بنګو اوبه چنبل، او تارياق، حتی که نبيذ التمر يا زبيب حد ته د نشې ورسيږي هم يې مسکر بولي، قال فی الدر المختار وبه يفتی.

قال المصنف رحمة الله عليه " ويقع الطلاق اذا قال نويت به الطلاق" او واقع کيږي طلاق که سکران وويله چې زما نيت په دغه سره طلاق وو.

پوسه:- چې دا عبارت د مصنف رحمة الله عليه معرکة الآراء د شارحينو رحمة الله عليه ګرځېدلي دي حتی چې بعض احناف رحمة الله عليه وايې چې دا عبارت سهوه د کاتب ده، دوي وايې چې زمونږ د عامو احنافو رحمة الله عليه مذهب دادي چې طلاق د سکران بېله نيته واقع کيږي زجرا، او بعض شارحان وايې چې مصنف رحمة الله عليه د امام کرخي رحمة الله عليه او امام طحاوي رحمة الله عليه مذهب مختار کړي دي چې هغه وايې چې نفس سکر په طلاق کي تاثير نه لري نوکه سکران چې په هوش کي راغلي او دا يې وويل چې زما اراده د طلاق وه نو طلاق واقع کيږي، او دا هم مذهب د يارانو دي په نېز د دغو دوو امامانو رحمة الله عليه فتفکر وخذ ما صفا ودع ماکدر.

قال" ويقع طلاق الاخرس بالاشارة" او واقع کيږي د ګونګي طلاق په اشاره سره يعني چې خلګ په دې پوه سي چې د ده مراد طلاق دي ولي چې اخرس په اشاراتو سره بيعه او شراء کوي نو د ده اشاره لکه د روغو خلګو عبارت ده نو طلاق په واقع کيږي، نو که اخرسه يوه ګوته اشاره د طلاق وکړه واحد رجعي طلاق واقع کيږي او که يې په درو ګټو

اشاره وکړه ثلاثا طلاق کړئي او د دوو کتو اشاره چي دوو طلاقو ته يې وکړه نه ده صحيح بلکه واحد رجعي طلاق واقع کيږي، کما فی الشخص الناطق علی ما مر من قبل فتذکر.

قال القدوری رحمۃ اللہ علیہ " واذا اضاف الطلاق الی النکاح وقع عقيب النکاح مثل ان يقول ان تزوجتک فانت طالق او قال کل امرئة اتزوجها فهی طالق" او که چيري نسبت وکړي يو سړي د طلاق ونکاح ته واقع کيږي هغه طلاق وروسته تر نکاح لکه چي يو سړي ويوي معينی ښځی ته وايې که چيري ما ته په نکاح کړي، نو ته پر ما طلاقه يې، او يا داسي ووايې چي هره ښځه چي زه يې په مستقبل کي په نکاح کړم هغه پر ما طلاقه ده.

دروښ وايي:- چي فرق د دغو دوو مثالو دادي چي په اول مثال کي هغه معينه ښځه پسله نکاح پر ده طلاقه ده، او په دوهم مثال کي هره ښځه چي په مستقبل کي دي په نکاح کړي هغه پر ده طلاقه ده.

فائده:- دا مذهب د احنافو رحمۃ اللہ علیہ دي، او په صحابه رضی اللہ عنہم وو کي قول د امير المؤمنين عمر رضی اللہ عنہ دي، اوداغه رنګه قول د عبدالله بن مسعود رضی اللہ عنہ دي، او امام شافعي رحمۃ اللہ علیہ وايې چي داسي نسبت نه دي روا او دا لغوه خبره ده، والدلائل والجوابات فی الکتب المبسوطة لا يليق ايراد ها للمبتدين

قال" واذا اضافة الی الشرط وقع عقيب الشرط مثل ان يقول لامرئته ان دخلت الدار فانت طالق" او که نسبت وکړي سړي د طلاق ويوه شرط ته يعني که يې طلاق جزاء د يو شرط وکړخاوه نو دا

طلاق وروسته تر هغه شرط واقع کيږي ، لکه د ټولو جزاءګانو او شرطو دعه حکم دي چي جزاء به تر شرط وروسته او متصل په هغه پوري به واقع کيږي، کما تقرر فی النحو.

قال" ولا يصح اضافة الطلاق الا ان يکون الحالف مالکا او يضيفه الی ملکه" او نه دي صحيح نسبت کول د طلاق يعني و يوه شرط ته مګر هغه وخت صحيح ده چي دا ويونکي چي حالف يې بولي مالکا د ښځي يعني بالفعل دي او يابه يې نسبت کوي وملکه ته خپل بان يقول ان ملکتك فانت طالق، يا ان تزوجتك فانت طالق، کمامر.

قال الدوری رحمۃ اللہ علیہ " فان قال لاجنبية ان دخلت الدار فانت طالق ثم تزوجها فدخلت الدار لم تطلق" يعني بناءً علی الاصل المذکور ، که يو سړي وويله بېګانه ښځي ته چي ماينه يې نه وو که ته سراي ته ورغلې ته پر ما طلاقه يې وروسته يې هغه ښځه په نکاح کړه او هغه ښځه سراي ته ورغله نو طلاق نه پر واقع کيږي ولي چي دا تعليق د طلاق د ملك په وخت کي نه دي، ولي خو اجنبيه وه او نه يې نسبت وملك ته سوي دي.

دروښ وايي:- چي د تعليق په باب کي يوه ډېره مهمه مسئله سته چي امامان د مساجدو يې حل ته حيران دي هغه داده چي که يو سړي وويل که ما د افلاني کار وکړي نو يې ماينه پر ما دري (۳) طلاقه نو طلاقه ده ليکن کلما يې نه ووايه وروسته وه هغه کار ته دا سړي مجبوره سو، نو امامانو ته که دا مسئله هغه سړي پېش کړي هغه ورته ووايې چي که دي هغه کار وکړي ماينه دي په ثلاثا درباندي طلاقه سوه نو دا

به يو وار عدت تېروي ستا د طلاق څخه، نو بيا که ستا زړه غوښتله چې
بېرته يې زه ماينه کړم نو دا به بل مېړه کوي او هغه به هم خوا مخوا
وطی ورسره کوي او ولور به ورکوي او بيا به يې هغه مېړه طلاقه وي او
بيا د هغه وروسته به بله عده تېروي نو بيا وتاته روا کېږي بله لار د حل
نسته، او ستا هم ودې بل مېړه کولو او د هغه غولو ته د غيرت د لازي
زړه نه غوښتي، نو د حل لاره داده که څه هم تکليف پکښې دي ليکن د
بې غيرتيا څخه خلاصه ده، نو ته داسي وکړه چې يو وار هغه کار مه کوه
وه چې د ماينې طلاق ثلاثه دي پوري مربوط کړي دي، بلکه ماينې ته يو
طلاق رجعي ورکړه او بيا د اسبابو څخه د رجوع ځان ساته، يعني مچه
مه ځندي اخله، په يوه ځاي کي مه ورسره بيدېږه، او لمس بالشهوة يې
هم مه که، او حاصل دا چې لکه پردې ښځه داسي ورته ګوره څو چې
پردې ښځه دري حيضه تېرسي، که حيض ورتلي که نه دري مياشتي به
پردې تېرېږي، او که حامله وه خو لنګېږي، نو په دغه ډول دا ښځه ستا
څخه بالکل بېګانه سوه. ولي چې د طلاق رجعي عدت يې تېر کي،
وروسته ته هغه کار وکړه نو پر هغه ښځه چې ستا په خوا ماينه وه ستا د
خوا دري طلاقه نه پر واقع کيږي ولي خو دا بېګانه ښځه ده وروسته،
نوې نکاح په حضور د شاهدانو په يوه اندازه ولور ورسره وکړه نو ستا
بېرته ماينه سوه، نو تر بې غيرتيا که څه هم دا کار وړد دي يعني دري
حيضه انتظار غواړي يا دري مايشتي ليکن زړه يې ښه مني او دهغه
حديث د لعنته هم سړي په خلاصيږي چې رسول کريم ﷺ فرمائلي دي.،
لعن المعلل والمعلل له" دروېش باګناه محمد عبيد الله ايوبي کندهاري.

قال" و الفاظ الشرط ان و اذا و اذاما وکل و کلما و متی
ومتی ما" او الفاظ د شرط، ان دي، او اذا دي، او اذا ما دي، کل دي،
کلما دي، متی دي، او متی ما دي، په بنايه کي وايې چې مصنف رحمة الله عليه
حروف الشرط نه وويل بلکه الفاظ شرط يې وويل، ولي حرف فقط ان
دي، او دا نور ټوله اسماء دي د شرط په معنا راځي، تفصيل ددې
الفاظو په مجمع الانهر کي داسي بيان کړي دي، چې ابتداء يې مصنف
په ان سره وکړه ولي چې دي فقط حرف شرط دي يعني معنا د وقت
نسته پکښې او دا نور د ملحقاتو څخه د ان دي نو اذا ګاهي په قرينه د
شرط په معنا د شرط راځي او ګاهي صرف ظرف زمان په معنا د وقت
دي، نو که په معنا د شرط وو نو جزاء هم غواړي "نحو اذا کانت الشمس
طالعه فالنهار موجود" او که په معنا د وقت وو نو جزاء نه غواړي نحو
"اتيك اذا طلعت الشمس" او متی د پاره د وقت مبهم دي نحو "متی
القتال" او د مجازات د پاره هم استعماليږي لکن سره د مراعات د معنا
وقت نحو "متی تذهب اذهب" وتفصيل البواقی فی الجوهره.

قال القدوری" ففی کل هذه الالفاظ ان وجد الشرط انحلت
اليمين ووقع الطلاق" نو په دې ټولو الفاظو کي چې شرط پيداسي
خلاص سو يمين يعني تعليق د طلاق مثلا يو سړي وويل ماينې ته ان
دخلت الدار فانت طالق، نو ښځه دار ته ورغله نو يو طلاق خو واقع سو
لکن تعليق چې په فقه کي يمين ورته وايې خلاص سو، يعني که ښځه
بل وار دار ته ورسي بل طلاق نه پر واقع کيږي او که مېړه داسي ماينې
ته وويل " کلما دخلت الدار فانت طالق، نو هغه هر وار چې سراي ته

ورسي طلاق پر واقع کېږي څو چي دري طلاقه پوره کېږي او که هغه ښځه چي دري طلاقه پر واقع سوه پس له عدت څخه يې بل مېړه وکړي او هغه هم وطی ورسره وکړي او بيا يې طلاقه کړه پس له عدت تېرېدلو څخه اول مېړه په نکاح کړه او دا بيا سراي ته ورغله هيڅ شئ نه واقع کېږي ولي چي تطليقات او تعليقات ديوې نکاح پر هغې نکاح محصور دي بلي نکاح ته تجاوز نه کوي، وهذا معنا قول المصنف رحمه الله عليه.

قال" الا فی کلما فان الطلاق یتکرر بتکرر الشرط حتی یقع ثلث تطلیقات فان تزوجها بعد ذالك وتکرر الشرط لم یقع شئ"

درويش وايي:- چي لفظي ترجمه د دغه عبارت ظاهره ده، پس له بيان سابق څخه او پاته نور الفاظ بېله کلما څخه چونکه هغه د تکرار مقتضی نه وه په لغت عربی کي نو په يوه وار وجود د شرط طلاق واقع سو او شرط پاي ته ورسېدي.

پوه سه:- چي په پښتو کي سړي ماينې ته ووايې چي هر پلا چي ته سراي ته ورغلې پر ما طلاقه يې، دا مثال د کلما دي او که يې داسي ورنه وويل که ته سراي ته ورغلې پر ما طلاقه يې دا مثال د هغو نورو الفاظو دي، جوهره، درويش.

قال المصنف رحمه الله" وزوال الملك بعد الیمین لا یبطلها فان وجد الشرط فی ملك انتحلت الیمین ووقع الطلاق وان وجد فی غیر الملك انتحلت الیمین ولم یقع شئ" او زائلېدل د ملك نکاح پسله يمين او تعليق څخه يمين نه باطلوي نو که شرط موجود سو

په ملك کي نو يمين خلاص سو او طلاق واقع سو، او که شرط په غير ملك کي پيدا سو نو يمين خو خلاص سو په وجود د شرط لکن شی نه واقع کېږي، ولي چي ښځه په دغه وخت کي وجود د شرط محل د طلاق نه ده ولي چي د ده ماينه نه ده،

صورت د مسئلې دادي، چي سړي ماينې ته ووېل که ته سراي ته ورغلې پر ما طلاقه يې نو بيا ده يو طلاق ورکړي او ښځي عده تېره کړه نو ملك خو زائل سو ليکن تعليق باقي دي، ولي شرط چي دخول دار دي هنوز نه دي پيداسوي نو جزاء چي طلاق دي هم پاته دي په بقا د يمين سره، نو که دې سړي بيرته هغه ښځه په نکاح کړه او شرط پيدا سو په ملك کي يمين خومنحل سو مګر طلاق واقع سو لمحليه المرئة للطلاق، او شرط چي دخول الدار دي په هغه وخت کي پيدا سو چي د سړي ملك پر ښځه نه وو نو يمين خو منحل سو لوجود الشرط او طلاق نه واقع کېږي ولي چي ښځه په دغه وخت کي محل د طلاق نه ده.

فائده:- دا مسئله پر هغه تقدير بناء ده چي زوال د ملك په يوه يا دوه طلاق سره سوي وي، او که په دري طلاقه سوي وو بيا تعليق باطل دي کما مر سابقا، جوهره.

قال" اذا اختلفا فی وجود الشرط فالقول قول الزوج فیه الا ان تقیم المرئة البینة" او که اختلاف راغلي په مابين کي د مېړه او ماينې په وجود کي د شرط يعني ماينې ووېل چي شرط پيدا سوي دي نوزه طلاقه يم، او مېړه ووېل چي شرط نه دي پيدا سوي نو ته طلاقه نه يې پس قول قول د مېړه دي په دې باره کي، مګر که ښځي شاهدان تېر کړه پر وجود د شرط، دا مسئله پر دې خبره بناء ده چي نر مدعي د اصل

دي چي نکاح ده لکه پخوا، او ښځه مدعي د زوال په وجود د شرط چي د هغه علم یوازي په دې پوري خاص هم نه دي لکه د خول د دار نو ددې قول بېله شاهدانو نه قبلیږي کما تقرر فی الفقه من ان القول قول من یدعی الاصل فی الدعاء الاان یقیم الجانب الآخر البینة علی خلافه.

قال القدوری رحمه الله "فان کان الشرط لا یعلم الا من جهتها" لکه حیض "فالقول قولها فی حق نفسها" او که داسي شرط وو چي وجود دهغه نه معلومیدي مګر نه د جهت د ښځي نو پس قول په وجود کي د شرط قول ددې دي، ولي چي قانون کلي دي چي هر څوك امین دي په بارہ کي د خپل ځان چي بل چا ته نه معلومیږي نو ښځه په بارہ کي د هغه شرط چي علم د دې خاص په دې پوري وي آمینه ده، تا چي مېړه یې په حرام کي واقع نه سي چي وطی دي سره د زوال د ملك، بر، در.

قال "مثل ان یقول" ای الزوج "فانت طالق ان حضت فقالت قد حضت طلقت" مثال یې دادي چي مېړه ووائي یعني ماینې ته چي که تاته حیض درغلي ته پر ما طلاقه یې نو دې ورته وویل چي ماته حیض راغلي نو طلاقه سوه.

دروېش وایي:- چي فائده د هغه قول د مصنف رحمه الله فی حق نفسها مصنف په دې عبارت کي ښکاره کړه.

وان قال لها اذا حضت فانت طالق وفلانة فقالت قد حضت طلقت هی ولم تطلق فلانة" او که مېړه داسي وویله چي که تاته حیض درغلي نو ته طلاقه یې او زما فلانۍ ماینه، وروسته دې وویله چي ما ته خو حیض راغلي نو دا خو طلاقه سوله، لکونها امینة فی

حقها کما مر فی الاصل الکلی، او نه طلاقیږي فلانۍ ولي دا خو د فلانۍ په باره کي صرف شاهده ده، او د یوې ښځي شاهدي بېله بعض خاصو ځایو بل ځاي نه قبلیږي بلکه سره د هغه دا متهمه ده په حق کي د بُني، مجمع الانهر مع الزیاده.

واذا قال لها اذا حضت فانت طالق فرئت الدم لم یقع الطلاق حتی یستمر الدم ثلثة ایام فاذا تمت ثلثة ایام حکمنا بوقوع الطلاق من حین حاضت" او که مېړه وویله وه ماینې ته چي هر کله تاته حیض درسي نو پر ما طلاقه یې، نو ماینې یې وینې ولیدلي نو طلاق نه واقع کېږي پردې ولي طلاق خو مېړه معلق ګرځولي وو په حیض سره، او اقل مدت د حیض خو درې (۳) ورځي دي نو د مخه تر درې ورځي د پوره کیدو احتمال لري چي دا وینه دي استحاض (مرض) وي نو ځکه تر هغه وخته پوري طلاق نه واقع کېږي چي وینې درې ورځي استمرار او همیشه توب کوي، نو چي درې ورځي د وینو پوره سي نو مور حکم په وقوع د طلاق کوو ولي چي شرط چي حیض وو موجود سو نو جزاء چي طلاق دي هم واقع کیږي، او طلاق هم د هغه وخت څخه واقع دي چي دې وینه لیدلې وي ولي پسله درو ورځو دا معلومه سوله چي وینې ابتداء هم د حیض وې، هذا حاصل ما فی الهدایه.

واذا قال لها اذا حضت حیضة فانت طالق لم تطلق حتی تطهر من حیضها" او که مېړه ماینې ته وویله چي تاته حیض درسي یو وار نو ته پر ما طلاقه یې، نو تر هغو پوري نه طلاقیږي چي دا د حیض څخه پاکه نسي.

پوښتنه:- چې د صرفو په کتابو کې چې فعلت وزن د پاره د مرئة دي، يعني د حيضة معنا داده چې يووار حيض، او يووار حيض هلته پورې کيږي چې ښځه پاکه سي بخلاف مسئلة السابقة يعني اذا حيضة آه، ولي هلته شرط د حيض وجودوو او وجود د حيض په ظهور د وينو دي ليکن د درو ورځو استمرار چې مونږ هوري شرط کړي ددې لپاره چې معلومه سي چې هغه وينه چې ښکاره سوي وه د حيض وينه ده فافهم الفرق.

قال المصنف رحمه الله "وطلاق الامة تطليقتان وعدتها حيضتان حراً كان زوجها او عبداً وطلاق الحرة ثلاثة حراً كان زوجها او عبداً" او طلاق د مينځي دوه طلاق دي، يعني په دوو طلاقو مغلضه طلاقيږي چې بيرته نکاح يې وبل مېړه ته ضرورت لري، او عدت ددې دوه حيضه دي يعني که حيض ورتلي، او که چيري حيض نه ورتلي نو بيا دوي مياشتي دي په صحيح حديث کې راغلي دي " طلاق الامة ثنتان وعدتها حيضتان" نو که يې مېړه حُر وي او که مريي، او طلاق د حُري ښځي درې دي که يې مېړه حر وي که مريي وي، يعني په درې طلاقه دا مغلظه طلاقيږي،والسر فيه چې نعمت او فقمت د حُري ښځي او مينځي پر نيمائي دي نو پر دې بناء بايد طلاق د مينځي يو نيم واي او عدت يې هم يو نيم واي، ليکن چونکه طلاق او عدت تقسيم نه قبلوي نو ځکه مونږ هر يو دوه کړه.

سوال:- اعتبار د طلاق ولي په ښځي پوري دي په مېړه پوري نه دي ؟

جواب:- چې ښځه حُره وي مېړه چې يې هر څوك وي ددې په حُريت د مېړه ملك پر دې تنګيږي، او که دا مينځه وي او مېړه يې حُر وي نو که اعتبار د مېړه وحريت ته ورکړل سي نو پر ملك د مېړه محکم کيږي،

ولي چې په دوه طلاقه دا دمېړه د ملك څخه نه وځي بلکه په درې طلاقه سره، او چې اعتبار ددې وحال ته سي مينځه ده نو په دوه طلاقه د ملك د مېړه وځي، وعلى هذا فقس العدة للحرة والامة،

نو که ښځه حره وي او مېړه يې هم حر وي نو په اعتبار کې د حال د نر او ښځي فرق نه راځي، او داغه رنګه فرق نه راځي چې مېړه عبد وي او ښځه هم مينځه وي، او که يې مېړه حُر وي او ښځه مينځه وي يابالعکس نو په اعتبار کې د حال د نر او ماينې په طلاق او عدت کې فرق راځي، نو زمونږ او د نورو امامانو رحمهم الله چې اعتبار حال ته د مېړه ورکوي په دوو اخيرو مسئلو کې اختلاف دي،فتامل حتى يكون ذوقياً لك، دروښ خوشه چين از خرمن فقهاء رحمهم الله"

قال" واذا طلق الرجل امرئته قبل الدخول وقعن عليها" او که طلاقه کړه سړي خپله ماينه د مخه تر جماعو په درې طلاقه يعني په يوه کلمه " مثل ان يقول انت طالق ثلاثا ، نو درې سره طلاقه پر واقع کيږي، يعني که بيا دي د نکاح اراده ورته وکړي زوج آخر غواړي وهذا مذهب الجمهور رحمهم الله او امام محمد رحمه الله وايې چې دغه حکم د عليه الصلوة والسلام څخه مروي دي او د علي رضي الله عنه او ابن عباس رضي الله عنه او د ابن مسعود رضي الله عنه څخه هم مروي دي، او عقلي دليل يې دادي چې اصلا پر ښځه چې واقع کيږي هغه خو مصدر دي د طالق او هغه مصدر موصوف دي په ثلاثا او قانون دي چې د صفت او موصوف وقت به يو وي، نو ګويا ده داسي ورته وويل چې انت طالق طلاقا ثلثا نو په دې سبب درې سره واقع کيږي او بعض فقهاء رحمهم الله وايې چې يو طلاق واقع کيږي ولي چې سړي وويل انت طالق " حساب ته نارسيده ماينه بائنه سوه، نو ښځه د عدد د

ذکر په وخت کي محل د طلاق نه ده، مجمع، دروبش، وهدايه.

قال القدوری رحمۃ اللہ علیہ" وان فرق الطلاق بانت بالاولی ولم یقع الثانیة والثالثة" او که طلاقونه سره جلا جلا کړي يعني داسي ووايې انت طالق" طالق" طالق، نو دا غير مدخول بها ښځه په اول طلاق سره بائنه سوه دوهم او دريم طلاق نه پر واقع کيږي لعدم المحل.

دروبش وايي:- چي په پښتو کي د اولي مسئلې الفاظ دادي چي ته طلاقه يې په درې طلاقه، او د دوهمي مسئلې لفظ ته پر ما طلاقه يې طلاقه، طلاقه يې، دروبش ددې د پاره په پښتو عبارت بيان کړي چي پښتانه خو په عربی جملو سره ماينې ته طلاق نه ورکوي او نه هم په پوهيږي.

قال المصنف رحمۃ اللہ علیہ" وان قال انت طالق واحدة وواحدة وقعت علیها واحدة" او که مېړه ماينې ته وويله چي ته طلاقه يې يو طلاق او يو طلاق، نو پر دې واقع سو يو طلاق ولي چي اول طلاق خو پر دې واقع سو چونکه دا غير مدخول بها ده نو د بل طلاق دا محل نه ده.

ولو قال لها انت طالق واحدة قبل واحدة وقعت واحدة" او که وويل مېړه ماينې ته چي ته طلاقه يې يو طلاق د مخه تر يو طلاق نو واقع کيږي يو طلاق ولي چي په،انت طالق واحدة، دا بائن سوه، او قبل واحدة لغو خبره ده.

قال" وان قال انت طالق واحدة مع واحدة او معها واحدة وقعت ثنتان" او که مېړه وويل ماينې ته چي ته طلاقه يې په يوه طلاق سره د يوه طلاقه، يا داسي چي د هغه سره بل طلاق هم سته نو دوه

طلاقه واقع کيږي ولي چي لفظ د مع که ضمير ورسره وي او که نه وي د پاره د مقارنت دي نو دواړه يو ځای واقع کيږي، او غير مدخول بها د دوو طلاقو پر ځای محل ده.

قال المصنف رحمۃ اللہ علیہ" وان قال لها انت طالق واحدة قبلها واحدة وقعت علیها اثنان" او که مېړه وويل وغير مدخول بها ماينې ته چي ته طلاقه يې يو طلاق چي تر هغه د مخه يو طلاق بل دي، نو واقع کيږي پردې دوه طلاقه دليل يې دادي چي واقع کونکي د طلاق پر ښځه دغه ملفوظ اولی دي وهو قوله انت آه" وروسته چي ده وويل چي د مخه تر هغه بل طلاق سته، او د مخه خو ده هيڅ طلاق نه دی ويلی نو حفظا لکلام العاقل من الالغاء، دواړه طلاقه يو ځاي واقع کيږي.

قال" وان قال انت طالق واحدة بعد واحدة وقعت علیها ثنتان" او که مېړه وويل وماينې ته چي ته طلاقه يې په يوه طلاق، سره د يوه طلاقه، ياداسي چي د هغه سره بل طلاق هم سته نو دوه طلاقه واقع کيږي ولي چي لفظ د مع که ضمير ورسره وي او که نه د پاره د مقارنت دي نو دواړه يو ځاي واقع کيږي او غير مدخول بها د دوو طلاقو پر يوه ځاي محل ده.

قال المصنف رحمۃ اللہ علیہ" وان قال لها ان دخلت الدار فانت طالق واحدة وواحدة فدخلت الدار وقعت علیها واحدة عند ابی حنیفة رحمۃ اللہ علیہ وقالا یقع ثنتان" او که وويل مېړه وماينې ته که ته سراي ته ورغلې ته طلاقه يې يو طلاق او يو طلاق، نو دا سراي ته ورغله نو واقع سو پر دې باندي يو طلاق په نېز د امام ابو حنيفه رحمۃ اللہ علیہ، او ياران

وايي چي واقع سوه دوه طلاقه، والی مذهبهما ذهب الائمة الثلثة رحمة الله عليه" ام اعظم رحمة الله عليه وايي چي طلاق چي معلق په شرط پوري وي داسي دي لکه فی الحال طلاق په وقت کي د وجود د شرط او د وقوع د طلاق، او منجز حالی خو هغه وو چي مبړه ويلي واي " انت طالق واحدة وواحدة " وقد مر انه يقع عليها واحدة فكذا المعلق" او ياران رحمة الله عليه وايي چي طلاق معلق بالشرط په نېز د وجود د شرط يو ځاي واقع کيږي بلا تقدم او تاخر او د مخه تېره سوه چي غير مدخول بها صالح او محل ده د دوو بلکه د دروو طلاقو چي پر يوه ځاي وي .

فائده:- امام کرخی رحمة الله عليه وايي چي په طلاق معلق بالشرط کي فرق نه سته په مابين د عطف بالواو او عطف بالفاء، لکن صحيح هغه قول دي چي فقيه ابو الليث رحمة الله عليه وايي چي که عطف بالفاء وو نو يو طلاق واقع کيږي ولي چي کلمه د فاء ترتيب غواړي نو په ترتيب کي خو غير مدخول بها محل د دوهم طلاق نه ده، فتح.

قال القدوری رحمة الله عليه" وان قال لها انت طالق بمكة فهی طالق فی الحال فی كل البلاد وكذا لک ان قال لها انت طالق فی الدار" او که وويل مبړه وماينې ته چي طلاقه يې په مکه کي نو دا طلاقه ده فی الحال په ټولو ښارو کي، او داغه رنګه که يې ورته وويل چي ته طلاقه يې په سراي کي يعني دغه ښځه په داخل او خارج کي دسراي طلاقه ده، ولي قانون کلي دي د شرعي شريفي چي طلاق تخصيص په مکان دون المکان پوري نه لري بلکه ښځه چي په يوه قريه کي مثلا طلاقه سوه په ټوله نړۍ کي طلاقه ده، او که مبړه داووېل چي زما نيت دا وو چي ته داخله سي مکې ته، ياته داخله سي سراي ته نو پر

ماطلاقه يي، نو بينه و بينه تعالی خو دده تصديق کيږي چي محتمل دي کلام دده داغه هم ده، لکن قاضي دې تصديق نه کوي ولي چي دا نيت اراده د خلاف الظاهر ده، او وحذف ته فعل ضرورت لري يعني، اذا دخلت مكة او دخلت الدار فانت طالق فبارادة هذا الحذف نيته هذه خلاف ظاهر كلامه كذا فی الهدايه.

قال المصنف رحمة الله عليه" وان قال لها انت طالق اذا دخلت بمكة لم تطلق حتى تدخل مكة" او که يې ورته وويل چي که ته مکې ته داخله سې نو ته طلاقه يې، نو نه طلاقيږي ترهغو چي دا مکې ته داخله سوې نه وي، ولي چي دا طلاق خو معلق په شرط سره سو نو د مخه تر وجود د شرط نه واقع کيږي، كذا فی الجوهره.

قال القدوري رحمة الله عليه" وان قال لها انت طالق غداً وقع الطلاق عليها بطلوع الفجر الثانی" او که يې وويل وماينې ته چي ته طلاقه يې صبا نو طلاق پر دې واقع کيږي په نېز د راختلو د صبح صادق د صبا ورځي، دليل يې دادي چي د صبا ورځ ټوله د ده طلاق ظرف وګرځوله، نو د اوله څخه د صبا ورځي دا طلاقه ده، تاچي ټوله ورځ ظرف د طلاق ددې وګرځي، او که مبړه وويل چي زمانيت اخير جزء د صبا وو، صدق ديانةً، ولي چي ده په عام لفظ کي د غه اراده د تخصيص چي اخير جزء دي وکړه، والعام يحتمل التخصيص لكنه خلاف الظاهر فلا يصدق قضاءً، كذا فی الجوهره والهدايه والعيني والفتح.

قال القدوري رحمة الله عليه" وان قال لامرئته اختاری نفسک ينوی بذالک الطلاق" او که مبړه وويل ماينې ته چي ته مختاره کړه خپل

ځان او نيت يې د طلاق وو، نيت ته په دې ضرورت سته چې دغه د عبراتو څخه د کنايې دي، او کنايه خو نيت ته ضرورت لري کما مر.

دروبش وايي:- که حال د مېړه غضب وو پر ماينه او يا حال د مذاکره د طلاق وو نو هغه قائم مقام د نيت کېدای سي، وان لم يقل انوی بذالك الطلاق.

قال" او قال لها طلقی نفسك فلها ان تطلق نفسها" يعني په دواړو صورتو کي، مادامت فی مجلسها ذالك" که چېرې مېړه وويل ماينې ته چې ته طلاق کړه خپل ځان، نو دې ته اختيار د طلاق سته تر څو چې په داغه مجلس کي وي، ولي چې مخيره ښځي ته خيار مجلس سته په اتفاق د صحابه وو ﷺ.

قال" فان قامت منه او اخذت فی عمل آخر خرج الامر من يدها" او که دا ولاړه سوه د هغه مجلس څخه، او يايې شروع وکړه په يو بل کار، نو ووتي امر د طلاق ددې د لاس څخه يعني وروسته تر هغه دا ځان نسي طلاقه ولای ولي چې قيام د مجلس څخه يا شروع په بل عمل دليل د اعراض دي.

فائده:- په بحر الرائق کي وای چې مراد د عمل څخه مطلق عمل نه دي بلکه هغه عمل دي چې هغه دلالت کوي پر اعراض د ښځي د مېړه د تخيير مثلا مېړه چې دې ته تخيير ورکړي دا داغسي ناسته وو، وروسته دې په دغه مجلس کي د څرخ کار شروع کي، يا پخلي ته ولاړه سي يا سر وغوړوي، او يا نور ورته کارونه يې شروع کړه، نو دا کارونه دليل د اعراض ددې دي، او په دي کار سره ددې اختيار قطع سو، او که يې اوبه وچښلې دا دليل د اعراض نه دي ولي دا به مخته ترې وه نو د پاره د

فکر وهلو د مېړه په خبره کي به فکر وهي،او يا چې مېړه دې ته اختيار ورکړي دې پوړني پر سر کي، داهم دليل د اعراض نه دي ولي چې ممکنه ده چې دا به دباندي وځي شاهدان به راغواړي چې د هغو په مخ کي ځان د مېړه څخه جلا کړي.

پوه سه:- چې مذکوره بيان د مصنف رحمه الله عليه په هغه صورت کي دي چې د مېړه تخيير مطلق وي يعني وقت يې نه وي ورته ټاکلي، او که يې وقت ورته ټاکلي وو، يا يوه ورځ يا هفته يا مياشت مثلا نو د ښځي اختيار نه باطلېږي تر هغه وخته پوري چې هغه معين وقت باقي وي که څه هم د مجلس څخه ولاړه سي يا په عمل شروع وکړي، بحر، دروبش.

قال" وان اختارت نفسها فی قوله اختاری نفسک کانت واحدة بائنة ولايکون ثلثا وان نوی الزوج ذالک ولابد من ذکر النفس فی کلامه او کلامها" او که ښځي مختاره کړي خپل ځان په داسي قول کي د مېړه، اختاری نفسك، نو طلاق بائن واقع کېږي يعني بېله نوي نکاح وده ته نه ده روا، او دې طلاقه نه ګرځي که څه هم د مېړه نيت د دروو طلاقو وي، او چاره نسته د ذکر څخه د نفس د لفظ يا د مېړه په کلام کي يا د ښځي په کلام کي.

المقصد الاول (١) طلاق ولي بائن دي سبب يې دادي چې اختاري نفسك" د کناياتو څخه دي ولي دا احتمال هم لري چې ته د ځان د پاره نفع مختاره کړه، او يا يو قسم کالي مختاره کړه، او يا سراي د اوسېدو مختاره کړه، او داهم احتمال لري چې ته ځان مختاره کړه که زما دنکاح څخه ځان خلاصه وې او که زما سره پاتېږي، او د مخه تېره سوه چې

کنایه نیت غواړي، او د ځان اختیار په طلاق بائن کي دي په رجعي کي نه سته.

المقصد الثاني (۲) طلاق ولي سره د نیت ډ مېړه دري نه واقع کېږي؟ وجه يې داده چي طلاق خو دلته اقتضاءً ثابت دي، او په اصول الفقه کي وايي چي مقتضی لره عموم نسته، او امام شافعي رحمۃ اللہ علیہ وايي چي په نیت د دروو دري طلاقه واقع کېږي، او که يې هیڅ نیت نه وو بیا رجعي طلاق واقع کېږي، او امام مالك او امام احمد رحمۃ اللہ علیہ وايي چي بېله نیته او سره د نیته دري طلاقه واقع کېږي، کذافی مجمع الانهر.

المقصد الثالث (۳) د نفس ذکر ولي غواړي؟ وجه يې داده چي لفظ د اختاري چي طلاق پېژندل سوی دي په اجماع د صحابه کرامو رضی اللہ عنہم او اجماع ددوي په لفظ مفسر کي راغلي يعني چي لفظ د اختاري په کښې وي او لفظ د نفس هم د يو طرف څخه پکښې وي، کذا فی الحاشیه الطحطاوی، حتی که مېړه ماينې ته وويله، اختاري هغې وويل اخترتُ فهو باطل، کذا فی الهدایه.

قال" وان طلقت نفسها فی قوله طلقی متی شئت فلها ان تطلق نفسها فی المجلس وبعده" او که مېړه وويل وماينې ته چي ته طلاق کړه خپل ځان هر وخت چي دي خوښه وي، نو دا ځان طلاقه ولای سي په هغه مجلس کي او وروسته تر مجلس هم، دليل يې دادي چي لفظ د متی د پاره د عموم دي او قانون دي، کمامر فی علم النحو.

پوښتنه:- که ښځي پر ځان دري طلاقه واقع کړه، او مېړه وويل چي زما يو طلاق رجعي مراد وو، نو په نېز د امام اعظم رحمۃ اللہ علیہ هیڅ طلاق نه پر واقع کېږي لاختلاف نیت الزوج وفعل الزوجة، او په نېز د يارانو يو طلاق واقع کېږي. اعتباراً لنیة الزوج، جوهره دروېش، وعيني.

قال" وان قال لها طلقی متی شئت فلها ان تطلق نفسها فی المجلس وبعده" او که مېړه وويل وماينې ته چي ته طلاق کړه خپل ځان هر وخت چي دي خوښه وي، نو دا ځان طلاقه ولای سي په هغه مجلس کي او وروسته تر مجلس هم، دليل يې دادي چي لفظ د متی د پاره د عموم دي او قانون دي، کمامر فی علم النحو.

پوښتنه:- چي يو وار ښځي مشیت د طلاق ظاهر کړي نو شرط پیدا سو، او جزاء چي طلاق دي هم واقع سو، نو د اینده د پاره مشیت د طلاق ددې د لاسه څخه ووتی، کما تقرر فی النحو ان لفظ لاتقتضی التکرار، ج، در،ع.

قال القدوري رحمه الله" واذا قال لرجل طلق امرئتى فله ان يطلقها فى المجلس وبعده وان قال طلقها ان شئت فله ان يطلقها فى المجلس خاصة" او كه چېري وويل مېړه د بنځي ويو سړي ته چي زما ماينه طلاقه كړه، نو هغه سړي ته دا اختيار سته چي كه يې په دغه مجلس كي طلاقه وي او كې وروسته، ولي داخو تو كيل دي د مېړه دخوا او كُهمك غوښتل دهغه څخه، او توكيل خو پر مجلس منحصر نه دي، بخلاف قوله لزوجته طلقي نفسك" ولي هغه تمليك دي تو كيل نه دي نو پر مجلس منحصر دي لكه ايجاب او قبول د بيعي.

پوه سه:- چي مېړه ته روا ده چي د مخه تر عمل دوكيل رجوع وكړي د هغه توكيل څخه، لان التوكيل لايلزم، هدايه، دروښ،

او كه مېړه وبل سړي ته وويل چي زما ماينه طلاقه كړه، كه ستا خوښه وي نو وكيل يې صرف په دغه مجلس كي طلاقه ولاى سي نه وروسته، ولي چي مېړه تعلق وركړي طلاق ته د ماينې په خوښه پوري د هغه بل سړي، نو دا تمليك دي توكيل نه دي، او تمليك پر مجلس منحصر دي او په دغه مجلس كي مېړه رجوع هم نه سي كولاى مجمع الانهر.

قال" وان قال لها ان كنت تُحبنى او تبغضنى فانت طالق فقالت انا احبك او ابغضك وقع الطلاق وان كان فى قلبها خلاف ما ظهرت" او كه يو سړي ماينې ته وويل كه ته زما سره محبت لري، او يا يې داسي ورته وويل چي كه ته زما سره بغض لري نو ته طلاقه يې بنځي په جواب كي ورته وويل چي زه ستا سره محبت لرم، او يا زه ستا سره بغض لرم نو طلاق واقع سو پر بنځه باندي.

دليل ددې مسئلې دادي چي اگرچه محبت او بغض خو صفت قلبي دي، لكن علم پر قلبي شي ممكن نه دي، نو سبب ظاهر د هغه چي اخبار دي په ځاي كي د عمل قلبي ودراوه، لكه خوب د سړي چي سبب ظاهر د حدث دي نو په حال كي د حدث درېږي او په خوب اودس ماتېږي.

مسئله:- كه مېړه ماينې ته وويل چي كه ته زما سره محبت قلبي لري نو پر ما طلاقه يې بنځي په جواب كي ورته وويل چي زه ستا سره محبت قلبي لرم، او دايه هم درواغ ويله، په نېز د شيخينو رحمه الله طلاق پر واقع كېږي لتعذر الاطلاع على حقيقه الحب القلبى فالاخبار عنه يقوم مقامه، او امام محمد رحمه الله وايي چي كه دا كاذبه وه طلاق نه واقع كېږي، لعدم الشرط، ج ،در.

قال القدوري رحمه الله" وان طلق الرجل امرئته فى مرض موته طلاقا بائنا فمات وهى فى العده ورثت منه وان مات بعد انقضاء عدتها فلا ميراث لها" او كه طلاقه كړه يو سړي ماينه خپله په مرض موت كي (يعني د هغې ناجوړې پس مړسو) په طلاق بائن سره يعني كه يې رجعي طلاق وركړي بيا خو رجوع ورته كولاى سي، او مصنف رحمه الله وويله چي د هغه مرضه څخه مړ سو، ددې لپاره چي كه دي د هغه مرضه چي ماينې ته يې طلاق بائن پكښې وركړي وو جوړ سو، او وروسته مړ سو طلاق خو واقع سو او بنځي لره ميراث نسته كه څه هم عدت يې نه وي تېر سوي، نو په اول صورت كي ماينه ميراث وړاى سي چي دا په عده كي وي، او كه دى مړ سو پسله تېربدو د عدې ددې نو بنځه بيا په ميراث كي حق نه لري.

مسئله:- که ماینه غیر مدخول بها وه بیا خو میراث نه لري، ولي چې عدت نه لري.

پوه سه:- چې ابن ابي لیلی رحمۃ اللہ علیہ او امام احمد رحمۃ اللہ علیہ او اسحاق رحمۃ اللہ علیہ او ابي عبید رحمۃ اللہ علیہ وایي چې دغه ښځه پس له عدې څخه هم میراث لري ځو بل مهره یې نه وي کړي، او د امام مالك رحمۃ اللہ علیہ او لیث څخه روایت دي چې دغه ښځه په میراث کې د هغه میړه چې دا یې په مرض موت کې طلاقه کړه حق د میراث لري که څه هم ډېر مړونه وکړي، او امام شافعي رحمۃ اللہ علیہ وایي چې په هیڅ وجه دغه ښځه مطلقه حق د میراث نه لري، مجمع، منا، در.

قال القدوري رحمۃ اللہ علیہ " واذا قال لامرئته انت طالق انشاء الله تعالى متصلا لم يقع الطلاق عليها " او که سړي وویله ماینې ته چې ته طلاقه یې که د خدای جل جلالہ اراده وه او متصل یې وویله، نو طلاق نه واقع کېږي پر دې.

فائده سنیه:- خصوصاً لعوام الناس، اولاً (١) ان الوفا بالعهد واجب، فان وعد احد مع احد بشيئ، لكن متصل يي ان شاءالله تعالي وويل بيا ايفاء پر ده نه ده واجبه،

ثانیاً (٢) څوك چې قسم پر یو شي واخلي چې ولله افعل كذا" نو که هغه کار دی ونه کړی سو کفاره پر لازمه سوه، او کې متصل د قسمه سره ان شاء الله تعالي وويل نو دي حانث نه ګرځي که هغه کار څه هم ونه کړي، وثالثاً (٣) فلان العوام پر هره خبره د ماینې طلاق اچوي، بعض صریح طلاق بعض په کنایه طلاق، او بعض درې واره طلاق، نو که دوي

انشاء الله تعالى د طلاق په وخت کې بلکه په عمومي خبرو کې خپل عادت وګرځوي، نو هیڅ وخت به هیڅ طلاق پر دوي لازم نه سي.

پوه سه:- چې په ایماني شیانو کې ان شاء الله مه وایې مثلاً چاورته وویل چې ته مسلمان یې؟ ته به ورته وویه چې هو زه مسلمان یم، داسي به نه ورته وایي چې مسلمان یم ان شاء الله تعالى، وهكذا چادرته وویل چې خداي جل جلالہ یو او بې شریکه دي، یا جنت حق دي، یا دوزخ حق دي، ورځ د قیامت حق ده وامثال ذالك، په دې ټولو کې به ان شاء الله نه وایي، بلکه صرف په هو به جواب ورکوي.

قال القدوري رحمۃ اللہ علیہ " وان قال لها انت طالق ثلثا الا واحدة طلقت ثنتين وان قال ثلاثا الا ثنتين طلقت واحدة" او که سړي ماینې ته ویل چې ته طلاقه یي په درې طلاقه مګر یو کم نو دوه طلاقه پر واقع کېږي، او که یې داسي ورته وویل چې ته په درې طلاقه طلاقه یي مګر دوه کم نو یو طلاق پر واقع کېږي ولي چې د دروو څخه یو کم کې دوه پاتېږي، او د دروو څخه چې دوه کم کړې یو پاتېږي.

فرعه:- او که یې داسي ورته وویل چې ته په درې طلاقه طلاقه یي په درې طلاقه کم نو درې سره طلاقه پر واقع کېږي، ولي د دروو څخه خو درې نه کمېږي نو اثنتنا لغو ده، او هغه اول درې طلاقه واقع سوله، دروېش، ومنافع، وعيني.

قال القدوري رحمۃ اللہ علیہ " واذا ملك الزوج امرئته او شقصا منها" که مالك سو مېړه د ماینې ټولي او یا ددې د یوې حصې لکه نصف یاثلث یاربع، یعني د سړي ماینه مینځه وه د یو چا او ده ته یي په نکاح

ورکړي وه، وروسته مېړه ټوله مينځه ماينه يادد ي يوه حصه په بيع د مالك څخه د مينځي رانيوله.

او ملكت المرئة زوجها او شقصا منه وقعت الفرقة بينهما"

او يا مالكه سوه ماينه د مېړه يا د يو حصې دده، صورت يې دادي چي ښځه حره وه او مېړه يي د يو چا مريي وو نو دې دا خپل مېړه ټوله او يا يوه حصه د مالك څخه دده رانيوله، نو واقع سو جدا والي په مابين كي ددوي يعني نكاح يې فسخه سوه، په اول صورت كي چي مېړه د ماينې مالك سي ددې سببه چي ملك نكاح پر حره باندي د جهت څخه د بقاء د نسل انساني وو نو چي ملك يمين يعني مينځي توب پيدا سو نو ضرورت د ملك نكاح نه سو پاته، نو ځكه ملك نكاح نه صحيح كېږي، او په (۲) دوهم صورت كي چي ماينه د مېړه مالكه سي فلعدم جواز المالكية والمملوكية فى شخص واحد، يعني ماينې چي مېړه رانيوي نو دا مالكه سوه او مېړه يي مملوك سو، نو كه ملك نكاح پاته سي نو خو مېړه مالك د ماينې ګڼل كېږي، نو مېړه هم مملوك سو هم مالك، ددي دوو صورتو فرق دادي چي مېړه په اول صورت كي كه څه هم نكاح فسخه سوه په ملك يمين ددغي ښځي وطي كولای سي، او په دوهم صورت كي يي وطي نه دي ورته روا، ولي چي ملك يمين د ښځي د خوا د مريي وطي نه روا كوي. قال القدوري رحمة الله عليه"

بَابُ الرَّجْعَة

دا باب دي په بيان كي د رجوع د مېړه وخپلي ماينې ته چي ده طلاقه

پوه سه: چي چونكه رجوع خو پسله طلاقه كېدلای سي نو ځكه مصنف رحمة الله عليه باب الرجعة تر طلاق وروسته راوړي، او لفظ د رجعت په كسره سره د را او په فتح د را دواړو راغلي دي، او ګاهي متعدي وي چي مصدر يي رجع ده، او ګاهي لازمي وي چي مصدر يي رجوع ده، دُر، دَر، او فتح يي افصح ده، ط.

او رجعت په لغت كي راګرځولو ته وايي "مجمع الانهر" در، او په شرع شريفه كي دوام وركول دي ونكاح ته پر پخواني حال تر څو چي مطلقه ماينه په عدت كي وي، ولي چي وروسته تر عدې خو پخوا نی مېړه او اجنبي سړی سره برابر دي يعني چي نكاح جديد غواړي او دعدت په دوران كي خو د مېړه ملك قائم دي ولي چي عدت د اثارو څخه دملك ده.

پوه سه:- چي په رجوع كي د مېړه رضا د ښځي شرط نه ده، والاصل فيه قوله تعالى وبعولتهن احق برد هن.

فائده:- احق لفظ چي اسم تفضيل دي پر خپله معنا نه دي پاته فتدبر.

قال المصنف رحمة الله عليه" اذا طلق الرجل امرئته تطليقة رجعية او تطليقتين فله ان يراجعها رضيت المرئة بذالك ام لم ترض"

كه سړي طلاقه كړه خپله ماينه په يوه رجعي طلاق او يا دوه طلاقه سره قيد بذالك، ولي كه دري طلاقه وركړي بيا دغه ماينه ود ته حرامه ده په حرمت غليظه سره نو رجوع نه ده ورته روا، بلكه په نكاح جديده سره به يې هم نه سي ماينه كولای تر څو چي بل مېړه وكړي، كمامر فى باب الطلاق، او طلاق يي مقيد كي په رجعي سره ولي كه طلاق بائن وي لكه د كناياتو په صورت كي كما مر بيا رجوع مېړه نه سي ورته كولای بېله نوي نكاح په رضا د ښځي او ولور او شاهدانو، او په رجعي طلاق كي نه

نکاح جدیده غواړي او نه رضا د ښځي غواړي، لما مر من الآية الكريمة حيث لم يذكر فيها رضى المرئة.

قال القدوري رحمۃ اللہ علیہ " والرجعة ان يقول لها راجعتک او راجعت امرئتی" او رجعت دادي چي مېړه ماینې ته ووایي چي ما تاته رجوع کړې ده، یعني که دا حاضره وه، او یا مارجوع کړې وه خپلي ماینې ته که دا غائبه وه، په هدایه کي وایي چي دا رجوع ده په اتفاق د ائمه اربعه وو رحمۃ اللہ علیہ.

قال المصنف رحمۃ اللہ علیہ " او يطا ها او يقبلها او يلمسها بشهوة او ينظر الى فرجها بشهوة" او یا یې وطي ورسره وکړي، په مجمع الانهر کي وایي چي که وطي په دُبره کي د ښځي وي که په کوس کي وعليه الفتوىٰ، او یا مچه ځندي واخلي او یایي مسحه کړي په شهوت سره، او یایې کوس ته وګوري په شهوت سره.

پوه شه:- چي دا زمونږ مذهب دي، او امام شافعي رحمۃ اللہ علیہ وایي چي رجوع نه ده صحیح بېله قوله وتفصيل الدلائل فی الهدایه.

ويستحب ان يشهد على الرجعة شاهدين وان لم يشهد صحت الرجعة" او مستحب ده مېړه ته چي پر رجعت دوه کسه شاهدان ولري یعني چي عادلان وي او یا یو نر دوې ښځي، دلیل د استحباب دادي چي په وروسته کي یعني د عدې تر تېرېدو وروسته ماینه منکره نه سي د رجوع څخه او که یي شاهدان ونه درول هم رجعت صحیح دي، قال الله تعالى (وتشهدوا ذوى عدل منكم) او صورت د شاهدانو درولو دادي چي دی دي شاهدانو ته ووایي چي تاسي شاهدان اوسي چي ماخپلي

ماینې ته رجوع کړې ده.

فائده: امام شافعي رحمۃ اللہ علیہ او امام مالك رحمۃ اللہ علیہ وایي چي رجعت بېله شهادته نه دي صحيح، لما مر من الآية، ولي په هغه آیت امر دي په شاهدانو درولو او امر خو د پاره د وجوب وي، مونږ وایو چي په دې پاره کي نصوص مطلق دي يعني انتها د قيد نسته پکښې، قال الله تعالى فامسكوهن بمعروف" يعني تاسي وساتي مطلقاتي ښځي په شرعي طريقه يعني بېله قصده د اضراره رجوع ورته وکړي، وقال، وبعولتهن احق بردهن" نو د اطلاق څخه د دغو آیتو دا معلومه سوه چي په ایت مذکوره کي امر د پاره د استحباب دي، دریم.

قال" واذا انقضت العدة فقال الزوج قد كنت راجعتها فی العدة فصدقته فهی رجعة وان كذبته فالقول قولها ولا يمين عليها عند ابی حنيفة رحمه الله" او که عدت تېر سو او مېړه وویل چي ما دې ته رجوع کړې وه په عدت کي په قول یا په فعل، او ماینې دده تصدیق وکړي نو رجوع صحیح ده ولي په تصادق سره د نر او ښځي نکاح ثابتېږي، نو رجعت په طریقه اولی ثابتېږي، او که ښځي تکذیب د مېړه وکړی په رجعت کي نو قول ددې دي، قول په دعاوي کي قول د منکر دي چي مدعي شاهدان نه لري، او قسم ودې ته نسته په نهز د امام اعظم رحمۃ اللہ علیہ او یاران وایي رحمۃ اللہ علیہ چي پر دې قسم اخستل لازم دي، لقوله عليه الصلوٰة والسلام (البينة على المدعى واليمين على من انكر)

درویش وایي: چي دا یوه د هغو اتو مسئلو ده چي امام اعظم رحمۃ اللہ علیہ په هغو کي استحلاف د منکر نه وایي او یاران رحمۃ اللہ علیہ یې وایي.

قال القدوري رحمة الله عليه " واذا قال الزوج قد رجعتک فقالت مجيبة له قد انقضت عدتی لم يصح الرجعة عند ابی حنيفة رحمة الله عليه " دليل د دې مسئلې دادي چې رجعت خو بنا پر عدت دي او قول خو قول د ښځي دي په باره کې د عدې فکذا فيما يبتنی عليها.

ترجمه:- او که مېړه وويله چې ما تاته اوس رجوع وکړه دي په جواب کې ورته وويل چې زما خو عده تېره سوله، نو رجوع د مېړه نه ده صحيح په نېز د امام اعظم رحمة الله عليه او ياران وايي چې رجوع يې صحيح ده، ودليلها فی الهدايه، در، ه، ع

قال" واذا قال زوج الامة بعد انقضاء عدتها قد كنت راجعتک فی العدة فصدقه المولی وكذبته الامة فالقول قولها عند ابی حنيفة رحمة الله عليه " او که وويله مېړه د ښځې وروسته تر تېرېدو د عدې ددې، چې ما وتاته رجوع کړې وه چې ته په عده کې وې، نو بادار دده تصديق وکړي يعني چې تا رجوع ورته کړې وه، او خپله مينځې تکذيب وکړي يعني چې تا ماته رجوع نه ده کړې په عده کې، نو قول قول د مينځې دي په نېز د امام اعظم رحمة الله عليه او ياران وايي چې قول د مولی معتبر دي، ولي چې بضع د مينځې خو مملوکه د مولی ده، او مولی اقرار وکړي په خپل خالص حق کې چې دا د مېړه دي يعني د هغه ماينه ده چې رجوع يې ورته کړې ده، او امام اعظم رحمة الله عليه وايي چې رجوع بناء پر عدت ده او په عدې کې خو قول قول د ښځې معتبر دي، کما مر فکذا فيما يبتنی على العدة وهو الرجعة " كذا فی الهدايه.

قال " واذا انقطع الدم من الحيضة الثالثة لعشرة ايام انقضت الرجعة وانقضت عدتها وان لم تغتسل وان انقطع الدم لاقل من عشرة ايام لم تنقطع الرجعة حتى تغتسل او يمضی عليها وقت صلوة اوتتيممت وتصلی عند ابی حنيفة وابی يوسف رحمهما الله تعالى عنهما وقال محمد رحمه الله اذا تيممت المرئة انقضت الرجعة وان لم تصلی" او که ويني ددريم حيض د مطلقې ودرېدلې پر لس ورځې رجوع د مېړه قطعه سوه، او عده د ښځې تېره سوه کې څه هم غسل نه وي کړي، ولي حيض خو تر لس ورځې بالانسته نو صرف په انقطاع دم دا د حيض څخه ووتله او عده يې تېره سوه نو رجعت هم قطع سو، هدايه.

او که يې وينه تر لس ورځې کمه ودرېدله نو رجعت نه دي قطعه ولي چې په کم کې تر لسو ورځو احتمال د بيا راګرځېدو د وينو سته تر هغو پورې چې دا يا غسل کوي او يا تېرېږي پر دې وخت د کامل لمانځه او يا دا تيمم کوي چې اوبه نه وي او لمونځ کوي، يعني په دغو درووکارو سره دا حکم د طاهراتو اخلي نو ځکه عده يې تېره سوه، او رجعت قطه سو.

مسئله:- که ښځه کتابيه وه نو دهغې عدت په مجرد انقطاع دم سره تېرېږي، که پر اقله مده وي او که پر اکثره مده، واي چې غسل وغېره پر دې لازم نه دي ولي چې دا مکلف په فروع سره ددين نه ده پر مذهب صحيح، او امام محمد رحمة الله عليه وايي چې دې نفس تيمم وکړي رجعت قطع

سو که يې څه هم لمونځ نه وي کړي، ودلائل الطرفين فی الجوهره والهدايه والعينی ورد المحتار.

قال المصنف رحمه الله" وان اغتسلت ونسيت شيئًا من بدنها لم يصبه الماء فان كان عضواً كاملاً فما فوقه لم تنقطع الرجعة وان كان اقل من عضو انقطعت الرجعة" او که مطلقې ښځې په طلاق رجعي سره غسل وکړی او ددې هېر سوی وو يو ځای د بدن څخه ددې چې هيڅ اوبه نه وې ورسېدلي، نو که غير مغسول پوره اندام وو او يا بالاتر پوره اندام نو حق د رجوع د مېړه نه دي قطع سوي، ولي عادةً او غالباً پوره اندام د ښځې څخه نه هېرېږي، او پوره اندام که سړي پرېمنځي ژر وچېږي هم نه، نو مونږ احتياطاً وايو چې حق درجوع نه دي قطع سوي، او دې ته تزوج د زوج آخر نه دي روا ولي غسل يې نه دي کړی، او که چېرې هغه غير مغسول تر يوه اندام کم وو نو حق د رجوع د مېړه قطع دي ولي کم تر اندام ژر وچېږي نو مونږ وايو چې دې به پرېولی وي او وچ سوي به وي، نو غسل ددې پوره کړو نو قطع د حق د رجوع چې په غسل پوري اړه درلوده قطع سو، مجموع الانهر.

فائده: مصنف رحمه الله د هېرې قيد ووايه ولي که ښځې په قصد سره کم د عضوی پرېښوي حق درجعت نه قطع کېږي، ولي چې غسل يې تام نه دي.

قال المصنف رحمه الله" والمطلقة الرجعية تتشوف وتتزين" **پوه سه**:- چې تشوف خاص په مخ پوري دي، او تزين عام دي، يعني طلاق رجعي ولا ښځه دي سرخې وسپېدې کوي او شونډان دي سره کوي او تر دې د مخه دي مخ پاک په صابونه مينځي او سترګې دي توره وي

او ښه کالي دي اغوندي، سبب دادي چې رجعت د مېړه خو مستحب کار دي او تشويق او تزين باعث پر رجعت دي نو خود دې داکوي چې د مېړه شوق پر راسي او رجوع ورته وکړي.

قال المصنف رحمه الله" ويستحب لزوجها ان لايدخل عليها حتى يستا ذنها ويسمعها خفق نعليه" او مستحب دي مېړه لره يعني که يې قصد د رجوع نه درلودي، چې نه ورځي کور ته يعني هلته چې مطلقه موجوده وي، حتى چې اجازه ونه غواړي يعني د مطلقې څخه، چې ووايي چې درغلم او په دې واوري ترپي د چوټو په دروازه کي،او يادي غاړي تازه کړي دادې د پاره چې که دي ناپامه ورننوزي شايد ددې به عورت او د اشتها ځاي لځ وي، او دده سترګي پر ولګېږي، نو د ده به بې اختياره رجوع ورته وسي نو بيا بې بېرته طلاقه وي ، نو پر ښځه خو بيا عدت وږدېږي، رمز، در.

قال" والطلاق الرجعی لايحرم الوطی" او رجعي طلاق نه منع کوي وطي د مېړه د مطلقې سره او امام شافعي رحمه الله وايي چې وطي يې نه دي ورته روا تر هغو پوري چې رجوع بالقول ورته ونه کي، ولي چې زوجيت خو باطل سو په سبب د طلاق قاطع، مونږ وايو چې زوجيت نه دي باطل تر څو چې دا په عده کي وي، ولي مېړه ته رجوع روا ده ودې ته ښله رضا ددې اجماعاً، ولي رجعت خو حق د مېړه دي چې دی پر قول د طلاق پښېمانه سي، نو چې زوجيت قائم دي نو مېړه ته رجوع په قول او په عمل دواړو سره رواده، هدايه، دروښ.

قال المصنف رحمه الله " وان كان طلاقا بائنا دون الثلث فله ان يتزوجها فی عدتها وبعد انقضاء عدتها" او که چېري طلاق بائن وو او کم تر دري طلاقه وو نو مېړه ته روا ده چي دا ښځه په جديده نکاح په نکاح کړي، خو که په عدت کي وي ښځه او يا يې عدت تېرسوي وي ولي چي په بائن طلاق سره خو د مخه ئکاح يك لخته ختم سوه ښځه بېګان ښځه سوه، د بېګانه ښځي سره هر وخت نکاح روا ده لکن د ښځي په رضاء په حضور د شاهدانو په نوي مهر " دروېش .

قال المصنف رحمه الله " وان كان الطلاق ثلثا فی الحرة او اثنتين فی الامة لم تحل له حتى تنكح زوجاً غيره نكاحاً صحيحاً ويد خل بها ثم يطلقها او يموت عنها" او که چېري دري طلاقه وه په حره ښځه کي او يا دوه په مينځه کي، ولي د مينځي مغلظ طلاقه دوه دي لکه د حري دا چي دري دي کما مر، نو نه رواکېږي د مخه مېړه ته تر هغو چي دا به د بله مېړه سره نکاح کوي او نکاح به يې هم صحيح وي و قد مر الفرق بين الصحيح و الفاسد فی كتاب النكاح، او بيا به هغه مېړه هم دخول په وکوي يعني وطي به ورسره کوي حقيقةً او بيا به يې طلاقه وي او يا به دوهم مېړه مري او دا به پاتېږي، نو اول مېړه ته يې نکاح روا ده.

فائده:- د دوهم مېړه صرف دخول د ذکر شرط دي انزال نه دي شرط، ولي انزال خو مبالغه ده په وطي کي او په صحيح حديث کي داسي راغلي دي ، کما رواه مسلم وبخاري، چي رفاعه قريظي رضي الله عنه خپله ماينه په دري طلاقه سره طلاقه کړه هغې وروسته تر عدې د عبد الرحمٰن بن

زبير بفتح الزا، سره نکاح وکړه وروسته هغه ښځه و عليه السلام ته راغله، فقالت كنت عند زماعة فطلقنی وبت طلاقی فتزوجت مع عبد الرحمٰن بن الزبير ومامعه الاكهدبة ثوبی هذا" يعني چي ذکر يې نه لکې دي چي زماپه فرج يي ننه باسي، نو عليه السلام ورته وويل، اتريدين ان ترجع الی رفاعة قالت نعم فقال عليه السلام لا حتى يزوق من عسيلتك وتذوق من عسيلته" په دې حديث کي دلالت پر دې دي چي انزال شرط نه دي، ولي چي عليه السلام نفس خوند ځکل شرط کړه ددواړو طرفو څخه، او مړتيا چي انزال دي شرط يي نه کړه، او بل عليه السلام لفظ د تصغير چي عسيله دي ووايه يعني لږ عسل چي هغه په نفس دخول سره پيدا کيږي، او په بل صحيح حديث کي راغلي دي چي عليه الصلوٰة والسلام چي پر منبر ناست وو، چا پوښتنه ځندي وکړه چي يو سړي ماينه په دروو طلاقو طلاقه کړه هغه ښځه بيا بل چا په نکاح کړه، او دواړه په يوه خونه سره ننوته او دروازه يي بنده کړه پر ده يې واچول او ښځي پورني د سره څخه ليري کړي، او بيا يي طلاقه کړه آيا اول مېړه ته رواده؟ عليه الصلوة والسلام ورته وويل چي، لاتحل للاول حتى تزوق عسيلة الآخر.

فائده:- ددوهم مېړه وطي عامي دي که په حيض کي وي او که په نفاس کي، او که په روژه کي د ورځي او که په احرام کي وي، پسله طلاقه اول مېړه ته رواده که څه هم دغه تولي وطي حرامي دي کما لايخفی.

فائده:- په اشتراط کي د وطي توله ائمه سره متفق دي، يو سعيد بن المسيب رحمه الله مخالف دي او فقهاء رحمهم الله وايي چي د هغه قول ته اعتبار نسته، حتى که قاضي فتوىٰ پر ورکړي حکم يي نه دي نافذ.

د ابن المسيب رحمه الله دليل دادي چي په قرآن مبارك كي خو داسي راغلي دي، حتى تنكح زوجاً غيره" او د نكاح معنا خو عقد دي، نو د شرط والي د وطي زيادت پر قرآن دي، وهو لايجوز بالحديث، د جمهور رحمه الله دليل داي، (۱) اول چي حديث د عسيله مشهور دي او په مشهور حديث زيادت پر قرآن روا دي كما تقرر فى اصول الفقه،

(۲) دوهم په ايت مبارك كي خوداسي رغلي دي (فلا تحل له حتى تنكح زوجاً غيره الآيه" نو عقد خو د زوج د لفظ وفهمېدي نو د نكاح څخه مراد حقيقةً دا لفظ دي چې وطي دي، نو وطي د اشاره څخه د آيت وفهمېدي.

دروېش وايي:- چي مذكوره تفضيل د بخاري، مسلم، در مختار، ردمحتار، هدايه، جوهره، او نور الانوار وغيرها څخه ماخذ دي.

دروېش وايي:- چي د كوټي په بنار كي يو كتاب فروش دي چي نوم اخستل يي مناسب نه دي، او دى خپله په هيڅ علم كي برخه نه لري صرف ګويا دي كتب خانه لري، هغه د يو بل عالم چي په قوم بلوڅ دي مولوي بركت علي يي نوم دي اوسيدونكي د مشكاف دي او د دروېش شاګرد هم دي داسي ويلي وه، چي مولوي عبيد الله خوښه عالم دي لكن دا يو عيب لري چي د كتابو څخه غلا كوي، نو بركت علي صاحب ورته ويلي وه چي كه نقل د كتابو څخه غلا وي، نو ستا په مذهب كي ټوله مصنفين غله دي، ولي چي قديماً وحديثاً نقل د مصنفينو تر مابين يو د بله څخه جاري دي، بركت علي صاحب ورته ويلي وه چي ته كتابونه د تفاسيرو لكه روح المعاني، روح البيان، تفسير كبير وغيرها او كتابونه د فقهي شريفي لكه هدايه، رد محتار، فتح القدير، وغيره وهكذا

كتابونه د اصول الفقه وغيرها مطالعه كړه چي څونده نقل يو د بله پكښې دي، بلكه بناء ددين او د شريعت پر نقل ده "چشم بد انديش كه بر كنده باد، عيب نمايد هنرش درنظر.

قال المصنف رحمه الله" والصبى المراهق فى التحليل كالبالغ"

او كه كوچني چي مراهق وي يعني بلوغ ته نيژدې وي او جماعي كولای سي، او بعض فقهاء رحمه الله وايي چي مراهق هغه كوچني دي چي غنږ يي پورته كېږي او غوولو ته يي شوق كېږي، چي شمس الائمه السرخسي رحمه الله وهغه ته لس كاله عمر ايښي دي، كما فى مجمع الانهر.

پوښتنه:- د مراهق تحليل څه فائده كوي ولي دى خو ماينې ته طلاق نه سي وركولای ؟

جواب:- فائده يي داده چي كه دا مرهق مړ سي نو بنځه و اول مېړه ته روا ده، او يا مراهق په دې بنځي يو وار دخول وكړي او بيا يي پرېښول كار يي نه ورسره درلودي چي بالغ سو بيا يي طلاقه كړه، دروېش

قال المصنف رحمه الله" ووطى المولى امته لا يحلها"

او وطي كول د بادار د مينځي نه روا كوي مينځه ومېړه ته،

صورة المسئلة، د يو سړي مينځه وه بل سړي ته يي په نكاح وركړې وه، او مېړه هغې مينځي ته دوه طلاقه وركړه چي هغه مغلظ طلاقه دي د مينځي كمامر، او وروسته تر تېرېدو د عدې مولى د هغې سره وطي وكړې، نو په دې وطي سره دا نه روا كېږي وه اول مېړه ته ولي چي خداي پاك جل جلاله خو داسي وايي، حتى تنكح زوجا غيره" او بادار خو زوج نه بلل كېږي په شرعه شريفه كي، عنايه، در

قال المصنف رحمۃ اللہ علیہ" واذا تزوجها بشرط التحليل فالنكاح مكروه فان طلقها بعد وطيها حلت لاول" او که يي په نکاح کړه مطلقه ښځه يو چا په شرط د تحليل يعني په روا والي د زوج اول ته، معنا دا چي يا دا نوي مېړه ښځي ته ووايي چي زه صرف ستا سره د روا کولو د پاره ومېړه اول ته، او يا ښځه ووايي چي زه ستا سره نکاح کوم صرف د دې د پاره چي زه اول مېړه ته رواسم نو نکاح يي مکروه ده، لقوله عليه الصلوٰة والسلام، لعن المحلل والمحلل له" صاحب هدايه وايي چي معنا د حديث شريف هم دغه محلل او محلل له دي چي نکاح په داسي شرط وکړي، يعني نه مطلق محلل او محلل له، نو که هغه مېړه هغه ښځه طلاقه کړه پس له وطي څخه ښځه روا سوه واول مېړه ته، دليل يي دادي چي نکاح په شرطو فاسدوو سره نه فاسدېږي، نو دخول او وطي په نکاح صحيح کي راغلي دي وهو الشرط.

پوښتنه: چي د امام ابو يوسف رحمۃ اللہ علیہ څخه روايت دي چي هغه مذهب قديم د شافعي رحمۃ اللہ علیہ هم دي، او مذهب د امام مالك رحمۃ اللہ علیہ او امام احمد رحمۃ اللہ علیہ هم دي، چي داسي نکاح فاسده ده او اول مېړه ته نه روا کېږي ولي نکاح په شرط د تحليل لکه نکاح موقت ده، او هغه خو فاسده ده، مونږ وايو چي عين نکاح موقت خو نه ده ولي چي د نکاح موقت صورت خو دادي چي سړی وښځي ته ووايي چي زه ستا سره نکاح کوم د يوې مياشتي د پاره په دونده ولور او نکاح په شرط د تحليل که څه هم مشابه ده صورةً د نکاح موقت سره لکن دا خو نه ده لازم چي مشبه او مشبه به په ټولو احکامو کي سره شريك دي کما تقرر في النحو والمعاني، مجمع الانهر، دروښ.

قال القدوري رحمۃ اللہ علیہ" واذا طلق الرجل الحرة تطليقة او تطليقتين وانقضت عدتها وتزوجه بزوج آخر فدخل بها ثم عادت الى الاول عادت بثلث تطليقات" او که چېري طلاقه کړه يو سړي ماينه چي حره وه په يوه طلاق او يا دوه طلاقه سره، او عده يې تېره سوه او دې بل مېړه وکړی او هغه هم وطي ورسره وکړي بيا ورسته دا اول مېړه ته راغله او اول مېړه په نکاح کړه يعني دوهم مېړه دا طلاقه کړه او عده يي تيره سوه، بيا يي د اول مېړه سره نکاح وکړه، نو حکم يي دادي چي اول مېړه ته دا په درې طلاقه راګرځي يعني هغه د مخه دوه يا يو طلاق د اول مېړه لغوه سوه اوس بيا اول مېړه د دروو طلاقو مالك دي، يعني داسي نه ده چي يو طلاق يي په نکاح قديم کي ورکړي وو نو په دې نکاح کي چي دوه طلاقه نور ورکړي نو مغلظه ګرځي، او يا يي دوه طلاقه په پخواني نکاح کي ورکړي وه اوس چي يو طلاق بل ورکړي نو مغلظه ګرځي، عنايه، دروښ.

قال القدوري رحمۃ اللہ علیہ" ويهدم الزوج الثانى مادون الثلاث كما يهدم الثلث عند ابى حنيفة وابى يوسف رحمهما الله تعالٰى وقال محمد رحمه الله لايهدم الزوج الثانى مادون الثلث" او نږوي يعني لغوه کوي دوهم مېړه کم تر درې طلاقه لکه چي لغوه کوي دري طلاقه په نېز د شيخينو رحمۃ اللہ علیہ، دليل يي دادي چي درې طلاقه چي اغلظ طلاقه وه، په زوج ثانى لغوه سو، نو کم تر درې چي نسبةً سپك طلاق دي بايد په طريق اولى په زوج ثاني لغوه سي، او امام محمد رحمۃ اللہ علیہ وايي چي کم تر درې په زوج ثاني نه لغوه کېږي بلکه زوج اول په نکاح

ثاني کي مالك د مابقی من الطلقات دي، يعني که يي يو ورکړي وو د دوو مالك دي او کې دوه ورکړي وه د يوه مالك دي حتی که مجموع درې ته ورسيده ښځه مغلظه سوه، والتفصيل فی فتح القدير.

قال القدوري رحمه الله " واذا طلقها ثلثا فقالت قد انقضت عدتی وتزوجت بزوج آخر ودخل بی الزوج الثانی وطلقنی وانقضت عدتی والمدة تحتمل ذالک جاز للزوج الاول ان يصدقها اذا كان غالب ظنه انها صادقة" او که سړي طلاقه کړه ماينه په دې طلاقه سره څه مده وروسته هغه ښځه راغله اول مېړه ته يي وويل، تاچي زه طلاقه کړم ماخپله عده تېره کړه او بيا مي بل مېړه وکړي او هغه هم زما سره وطي وکړي او بيا هغه هم طلاقه کړم او د هغه د طلاق عده مي هم تېره کړه مطلب يي دا وو چي اوس ستا سره نوې نکاح کوم، ولي چي شرط د حلال والي وتاته پيدا سو، او دغه مده چي د اول مېړه د طلاقه څخه تر اوسه بيان پوري د ښځي ګنجائش ددې ټولو ذکر سوي کارو پوري درلودي، نو روا ده زوج اول ته چي ددې تصديق وکړي که يي غالب ګمان د مېړه دا وو چي دا رشتيا وايي، يعني نوي نکاح د هغې سره ورته روا ده، بخلاف ما اذا ذكرت مدة قليلة لاتحتمل الامور المذكورة لان كذبها متيقن.

پوه سه: چونکه ايلاء په وروسته کي طلاق بائن ځندي جوړېږي لکه چي بيان بې راسي ان شاء الله تعالي، لکه د طلاق رجعي چي پس د مروره د عدې بائن پيدا کېږي، نو ځکه مصنف رحمه الله وروسته تر کتاب الطلاق کتاب ايلاء راوړي، منح.

واوره: چي ايلاء په لغت کي نفس قسم ته وايي نحو "انی يوبی ايلاء عنايه، او په شرحه شريفه کي قسم اخيستل دي د جماعو څخه د ماينې سره چي مده يي څلور مياشتي ده د حري د پاره او دوي مياشتي ده د مينځي ماينې د پاره، ملتقي. نو قدوري وايي.

کتاب الايلاء

دا کتاب دي په بيان کي د احکامو د ايلاء يعني په شريعت کي در.

قال" اذا قال الرجل لامرئته والله لااقربک اولااقربک اربعة اشهر فهو مول " او که وويل يو سړي يعني مېړه خپلي ماينې ته قسم واخلي، چي زما دي په خداي عزوجل قسم وي چي زه تاته نه نژدې کېږم يعني وطي نه درسره کوم، يعني مقيد په زمانه پوري يي نه کړه، چي دې ته ايلاء مطلق وايي، او يا يي داسي وويل حري ماينې ته چي زه نه درنژدې کېږم څلور مياشتي، چي دې ته ايلاء مقيد وايي نو دا سړی شرعاً ايلاء کونکي دي.

پوه سه:- چي د قِربان معنا وطي ده، قال الله تعالی، ولاتقربوهن حتی يطهرن.

مسئله:- او کې داسي قسم واخستي چي قسم په خداي عزوجل دي که زه تاته نژدې سم يعني وطي درسره وکړم چي ته په حيض کي يي داسي مولي نه دي، ولي دي خو په حال کي د حيض د وطي څخه بې قسمه ممنوع دي.

مسئله:- که سړي ببله قسمه ماينې ته وويل چي زه ستا سره وطي نه کوم مُولي نه دي، در.

قال" فان وطئها فی الاربعة الاشهر حنث فی یمینه ولزمته الکفارة" نو که ده وطي کړه ماینه په څلور میاشتو کي دننه حانث سو په قسم کي، او لازم سوه پر ده کفاره یعني د یمین.

وسقط الایلاء" او قسم ختم سو ولي چي قسم خو په حنث سره ختمېږي، قال الله تعالی ﴿للذین یؤلون من نسائهم تربص اربعة اشهر الآیة﴾

وان لم یقربها حتی مضت اربعة اشهر بانت منه بتطلیقة واحدة" او که ده وطي نه ورسره وکړي حتی چي څلور میاشتي تېرې سوې، نو ماینه پر ده په یوه طلاق بائن سره طلاقه سوه معنا دا چي په رضا د ښځي نکاح جدید ورسره کولای سي.

پوهه لسه:- چي بعض مړونه څلور میاشتي بلکه بالاتر هغه د ماینې سره وطي نه کوي، یا یي د لاسه نه کېږي، او یا پهلوان وي پهلوانۍ ته ځان تکړه کوي، په دې کي پر ده طلاق نه لازمېږي او په صورت کي د ایلاء چي پر ده طلاق بائن لازمېږي په دې سبب چي ده ماینه ازار کړه په منع سره د حق د دې چي وطي دي په قول سره، نو شرعي شریفي وده ته جزاء ورکړه په زوال د نعمت د نکاح، په جوهره کي وایي چي دا مذهب دي د عثمان ﷺ او د علي ﷺ او د عبد الله بن عباس ﷺ او د عبد الله بن مسعود ﷺ او د عبد الله بن عمر ﷺ، چي عبادله ثلاثه یي بولي، او مذهب دي د زید بن ثابت ﷺ او نور، ج، در.

قال" فان کان حلف علی اربعة اشهر فقد سقطت الیمین" نو که مېړه پر څلور میاشتي قسم اخستي وو نو قسم هم خلاص سو، ولي

چي په قسم چي سړی هانث سي هغه قسم ختمېږي بیرته په خپله نه راګرځي.

قال" وان کان قد حلف علی الابد فالیمین باقیة" او کې قسم د ابد د پاره واخستي یعني داسې وویل چي زه ستاسره ابداً وطي نه کوم، نو قسم پاته دي ولي خو ده ابد قید ویلي دي نو فائده د پاتي والي یي داده چي مصنف رحمة الله علیه یي تشریح کړې ده او وایي.

فان عاد فتزوجها عاد الایلاء فان وطئها لزمته الکفارة" پس که مېړه دې ته عود وکړي او په نکاح یي کړه یعني وروسته تر څلور میاشتو تېرېدو چي دا بائنه سوه، او عده یي هم تېره سوه، نو بېرته ایلاء راوګرځېده ولي خو یمین په سبب د تابید باقي دي، نو که یي په نکاح جدیده کي وطي ورسره وکړې کفاره د یمین پر لازمه سوه.

قال" و الا وقعت بمضی اربعة اشهر تطلیقة اخری" او که یي وطي نه ورسره وکړې بلکه څلور میاشتې بیا بې وطي پرېښول نو واقع سو پر ښځه بل طلاق، لان الایلاء موبد.

قال " فان تزوجها ثالثا عاد الایلاء ووقعت بمضی اربعة اشهر تطلیقة اخری" نو کې دریمه پلا بیا په نکاح کړه یعني پسله تېرېدو څخه د عدې ایلاء بېرته راوګرځېده لکونه موبد" دا عبارت دلته محذوف دي په قرینه د دمخه عبارت یعني په دریمه نکاح کې په څلور میاشتي کي دننه وطي ورسره وکړې نو کفاره د یمین پر لازمه سوه ولي چي یمین خو د همېشه لپاره وو، او که یي په دریمه نکاح کي هم

څلور مياشتي پربښوله نو پسله تېرېدو څخه د څلورو مياشتو پر ښځه دريم طلاق واقع سو.

فائده:- نو دري طلاقه چې پر ښځه واقع سوه نو دا خو مغلظه طلاقه سوه، بېله زوج آخر او وطي د هغه او د طلاقه د هغه او د تېرېدو د عدې وده ته نه روا کېږي نو ځکه مصنف رحمۃ اللہ علیہ وايي.

قال" فان تزوجها بعد زوج آخر لم يقع بذالک الايلاء طلاق واليمين باقية فان وطئها كفر عن يمينه" نو که يې په نکاح کړه هغه ښځه څلورمه پلا پس له عدې څخه او پس له نکاح د زوج آخر يعني وروسته تر وطي د هغه او وروسته تر طلاق د هغه او وروسته تر عدې تېرېدو، نو نه واقع کېږي په ايلاء پخوانۍ سره طلاق، ولي طلاقونه د پخوانۍ ايلاء خو پوره سوه او ښځه يك لخته دده د ملكه ووته او ايلاء لكه طلاق بېله ملكه نه ده صحيح، مثلاً بېګانه ښځي ته سړي ووايي والله لااقربك ازبعة اشهر" دا ايلاء نه ده نو کې وروسته په نکاح هم کړي نو په هغې ايلاء سره طلاق پس له څلورو مياشتو نه واقع کېږي، او قسم يې باقي دي نو کې وطي ورسره وکړې کفاره يمين به ورکوي او امام زفر رحمۃ اللہ علیہ وايي چې پسله څلورم وار نکاح ايلاء باقي ده په سبب د بقا د يمين ولنا ماقلنا آنفاً.

قال القدوري رحمۃ اللہ علیہ" فان حلف على اقل اربعة اشهر لم يكن موليا" او که مېړه قسم پر عدم وطي د مايني کم تر څلور مياشتو واخستي مثلا داسي وويل والله لااقربك شهرا" نو داسړی مولی نه دي، او دا هم قول د ابن عباس رضی اللہ عنہ دي او امام اعظم رحمۃ اللہ علیہ دمخه وويل چې دا سړی هم مولی دی لکن څه وخت چې فتوی د ابن عباس رضی اللہ عنہ و امام اعظم رحمۃ اللہ علیہ

ته ورسېدله خپل د اول قول څخه يې رجوع وکړه، كذا رمز، در.

قال" وان حلف بحج" يعني پر مايې حج لازم که ماستا سره وطي وکړې، په جوهره کې وايي چې داغسې حکم دي کې وويل چې پر ما عمره لازمه که ما ستا سره وطي وکړې "او بصوم" يعني که ما ستا سره وطي وکړې پر ما پنځه (۵) ورځې مثلا نفلي روژه لازمه ده.

او بصدقة" يعني که ما ستا سره وطي وکړې پر ما دونده اندازه مثلا (۱۰۰) روپۍ خيرات لازم دي. او عتق" يعني داسې وويل که ما ستا سره وطي وکړې پر ما عتق د مريي لازم دي. او بطلاق" يعني داسې وويل چې که ما ستا سره وطي وکړې پر ما ماينه طلاقه ده، يعني يا بله ماينه يا داغه ماينه. فهو مولى" نو داسړی مولی دي معنا داده که مېړه په څلور مياشتو کې دننه وطي ورسره وکړې خو حج يا روژې يا خيرات يا آزاد والی يا طلاق پر لازم سو، او دغه تعليق لكه قسم منحل او خلاص سو ولي چې د مخه تېره سوه چې يمين په حنث سره ختم کېږي فكذا ماهو فی حكم اليمين لكه دغه تعليقات، او که يې څلور مياشتي وطي نه ورسره وکړې د كفارة اليمين څخه خلاص دي لكن ماينه يې په طلاق بائن سره طلاقه سوه كما مر من قبل من حكم الايلاء" دليل د دغو تولو مسئلو دادي چې ده الفاظ د شرط او جزاء ذكر کړه يعني كه ما ستا سره وطي وکړې دا شرط دي، نو پر ما مثلا حج لازم دي دا جزاء ده، لكه په حقيقت يمين کې مثلا والله لااقربك اربعة اشهر، نو ددې معنا هم شرط او جزاء ده يعني كه ما وطي در سره وکړې نو پرما كفاره لازمه ده، نو د كفاري د تكليف په سبب ده ځان د وطي څخه منع کړی، فكذا فی

هذه التعليقات، دی ځان منع کوي د وطي څخه په سبب د لزوم د تکليف د حج ولي په حج کي غالباً تکليف مالي او بدني وي او عمره لکه حج تکليف مالي او بدني لري، وهكذا الصدقة والعتق والطلاق.

مسئله:- که يي په اعتکاف سره تعليق وکړی، يعني داسي يي وويل که ماستا سره وطي وکړې نو پر مادرې (۳) ورځي مثلا اعتکاف لازم دي هغه سړی هم مولي دي ولي چي اعتکاف خو بې روژو نه دي روا.

مسئله:- که سړي تعليق په لمانځه وکړی يعني داسي يي وويل چي که ماستا سره وطي وکړې نو پر ما دوه (۲) رکعته نفل لمونځ مثلا لازم دي نو هغه سړی مولي نه دي په نېز د امام ابو حنيفه او امام ابو يوسف او امام محمد رحمه‌الله، او د امام زفر او حسن بصري رحمه‌الله په نېز مولي نه دي، و الدلائل للفريقين فی المطولات، وشروح القدوري.

قال القدوري رحمه‌الله" وان آلى من المطلقة الرجعية كان موليا وان آلى من البائنة لم يكن موليا" او که سړي ايلاء وکړه د هغې مايني سره چي ده په طلاق رجعي سره طلاقه کړې وه يعني د مخه تر تېرېدو د عدې نو دی مولي ګڼړل کېږي، ولي د دوې تر مابين زوجيت قائم دي او وطي ومېړه ته روا دي نو منع د وطي راجع وايلاء ته ده، او که يي ايلاء وکړه د مطلقې بائنې سره دی مولي نه ګڼړل کېږي ولي چي د دوي دوو تر مابين زوجيت زائل دي، او وطي يي بېله جديدي نکاح ورته نا روا دي، نو منع د وطي يي راجع وه قسم ته ايلاء نه دي.

مسئله:- که عده د مطلقة رجعية د مخه تر تېرېدو د مدت د ايلاء چې څلور مياشتي ده تېره سوه، ايلاء ساقطه سوه ولي د عدې په تېرېدو سره محل د ايلاء نه سو پاته ولي بښځه بائنه سوه، هدايه، درويش، جوهره.

قال القدوري رحمه‌الله" وايلاء الاٰمة شهران" او ايلاء د مينځي دوې مياشتي ده ولي په شرعه شريفه کي نعمت او قسمت د مينځي ماينې پر نمايي د حري ماينې ده ځکه په دوه طلاقه مغلظه طلاقېږي او عده يې هم دوې مياشتي ده.

وان كان المولى مريضا لا يقدر على الجماع او كانت المرئة مريضة" يعني داسي مريضه وه چي د جماع طاقت يي نه وو، او كانت رتقاء او صغيرة لا يجامع مثلها او كانت بينهما مسافة لا يقدر ان يصل اليها فی مدة الايلاء ففئة ان يقول بلسانه فئت اليها فان قال ذالک سقط الايلاء وان صح فی المدة بطل ذالک الفی وصار فيئته الجماع" او که ايلاء کونکي مريض وو چي قدرت د جماعو يي نه درلودي او يا بښځه ناجوړې وه او يا بښځه رتقاء وه، يعني بېله بَولو کولو يې کوس د غنړ د ننوتلو ځاي نه درلودي، او يا يي ماينه دونده کوچنۍ وه چي د دغسي کوچنۍ سره وطي نه سوې کيدلای، او يا په مابين کي د مېړه چي ايلاء يي کړې ده او د ده د ماينې دومره مسافت وو چي په مدت کي د ايلاء چي څلور مياشتي د مېړه ماينې ته نه سواى رسېدلای چي وطي يې ورسره کړي واى ځان يې حانث کړی واي، نو رجوع او فيئ د ده داده چي په ژبه ووايي مارجوع کړې ده ماينې ته نو کې داسي وويله ايلاء ساقطه سوه يعني ده ګويا جماع وکړه او ځان يي په قسم کي حانث کړی نو کفاره د يمين به ورکوي او بښځه نه ځندي بائنه کېږي، او که مېړه جوړ سو په مده کي د ايلاء يعني په دننه څلورومياشتو کي نو هغه دخولي رجوع يي باطله سوه او رجوع دده په

جماعو سره ده نو که يې جماعي ورسره وکړي نو حانث سو کفاره د يمين پرسته او که يې وطي نه ورسره وکړې ماينه ورڅخه بائنه سوه، کماهو حکم الايلاء علی مامر، دروېش عاصی غفرله،

حاصل د کلام، پوه سه: چې فيئة په لغت کې رجوع او پښيمانی ته وايي نو چونکه د ايلاء په سبب مېړه د حق د ماينې مانع ګرځېدلی وو چې وطي وې په مده کې د څلورو مياشتو، او دی بېرته پر خپل قسم پښېمانه سو او بېرته يې د ماينې وحق ته د وطي غاړه کښېښوله، نو که پر وطي قادر وو خو وطي په دننه کې د څلورو مياشتو کې ورسره وکې او د قسم کفاره به ورکړي خبره خلاصه سوه، نو ځکه ودې کارته د مېړه فيئ وايي يعني ده رجوع وکړه د ترک څخه د وطي په سبب د ايلاء و وطي ته د ماينې، ا که سړی خو پښېمانه وو لکن په سبب د ناجوړی يې قدرت د جماعو نه درلودي يا په سبب د ناجوړی يا د رتقاء والي او يا د صغر د کبله ښځې قدرت پر وطي د مېړه نه درلودي، نو ددغه سي سړي د پاره فيئ قولي په ځای کې د فيئ عملي چې وطي دي درېږي، قدوري رحمۃ اللہ علیہ خو په فيئ قولي کې دا قدر وويله فئت اليها" او د امام اعظم رحمۃ اللہ علیہ څخه روايت دي چې دغه سړی د شاهدانو په مخ کې ووايي "اشهدوا انی قد فئت الی امرئتی او راجعت زوجتی او ابطلت الايلاء" ليکن پوه سه چې د فيئ قولي د پاره خو شاهدان شرط نه دي لکن امام اعظم رحمۃ اللہ علیہ د احتياط د پاره اشهاد ويلي دي، ولي چې ممکنه ده چې څلورمياشتې بېله وطي پر دغه معذور سړي تېرې سي او دی ماينې ته ووايي چې ماتاته رجوع قولي کړې وه په مدت کې دننه او ښځه يې تکذيب وکړي، نو دي به شاهدان تېر کړي او خپله خبره به ثابته کړي او ماينه به يې د

لاسه نه وځې ، ولله دره ما ادق نظره، او په نېز د امام شافعي رحمۃ اللہ علیہ رجوع د ايلاء څخه بېله وطي نه کېږي، مونږ دا وايو چې خداي پاک جل جلالہ وايي، لايکلف الله نفسا الا وسعها" نو ځکه د ګونګې په طلاق او نکاح او په بيع او شراء کې دده واشاراتو ته اعتبار شريعت ورکړي دي، او سره ددې چې دا عقود مذکوره خو قولي شيان دي.

مسئله: که مېړه مجبوب او يا په داسي محبس کې بندي وو، او يا ښځه بندي وه چې قدرت پر جماعو ممکن نه وو او يا ښځه ناشزه وه يعني مېړه ته يې ځان نه ورکاوه، او په داسي ځای کې چې د مېړه قدرت نه وو چې هغه ځای ته ورسي نو په دې صورتو کې فيئ بالقول کافي دي کذا قال الکرخي رحمۃ اللہ علیہ.

مسئله: که د مېړه عجز د وطي څخه حساً خو نه وو لکن شرعاً يې د وطي قدرت نه درلودي، لکه سړی چې څلور مياشتې محرم وي، او يا يې څلور مياشتې روژه پر ځان نذر کړي وي، او يا بل څه دغسي وه، په نېز زمونږ (احنافو) فيئ دده په وطي سره دي ولي چې د فيئ د پاره قدرت حسي شرط دي هغه خو لري، او امام زفر رحمۃ اللہ علیہ وايي چې په مذکوره صورتو کې هم فيئ بالقول صحيح ده، دی وايي چې منع لحق الله لکه منع حسي ده، ج، در.

قال القدوري رحمۃ اللہ علیہ" واذا قال لامرئته انت علی حرام سئل عن نيته فان قال اردت الکذب فهو کما قال وان قال اردت به الطلاق فهی تطليقة بائنة الا ان ينوی الثلاث وان قال ارت به الظهار فهو ظهار وان قال اردت به التحريم او لم ارد به

شيئا فهى يمين يصير به مولياً" او که يو سړي وويل خپل ماينې ته چې ته پر ما حرامه يي، سوال دي وکړه سي د نينت په باره کي د سړي، يعني چې ستا په دغه خبره کي څه قصد وو، نو که ده وويل چې زما ايراده درواغ ويل دي نو لکه دی چې وايي هغه اراده صحيح ده ولې ماينه خو حلاله ده نو انت حرام" داسي يو خبر دي چې د واقع سره نه دي برابر نو خود درواغ دي، عنايه" او بعض فقهاء رحمة الله عليه وايي چې که مرافعه وقاضي ته وکړل سي قاضي دده دغه نيت ته اعتبار نه ورکوي، ولي د عرف عمومي څخه خلاف که څه هم حقيقت د لفظ دي، او که ده وويل چې زما طلاق مرادوو نو يو طلاق بائن پر واقع کېږي ولي چې په رجعي طلاق کي خو حرمت نه سته، مګر که يي نيت د درو طلاقو کړي وو بيا دري طلاقه واقع کېږي، ولي چې دري طلاقه نوع غليظ د حرمت ده، او که ده وويل چې زما ظهار غرض وو نو بيا ظهار دي لکن دا په نېز د شيخينو رحمة الله عليه او امام محمد رحمة الله عليه وايي چې ظهار نسي کيداى ولي چې په ظهار کي خو تشبية بالمحارم غواړي لکه چې" انت على كظهر امى او بطن امى الى غير ذالك من المحارم، او په انت على حرام کي خو تشبية بالمحارم نسته، شيخان رحمة الله عليه وايي چې په ظهار اصلي کي خو تحريم سته دلته که څه هم ده مطلق حرمت ويلي دي لکن اراده مقيد د مطلق څخه رواده په نېز د نيت د مقيد، جوهره، دروښش، او که ده وويل چې زما فقط تحريم غرض وو او يا مي هيڅ شئ غرض نه وو، نو داقسم دي په دې سره دى مولي ګرځي ولي تحريم د حلال زمونږ په نېز قسم دي، ولي چې په حديث کي د بخاري چې حديث ډېر ورد دي عليه الصلوة والسلام عسل پر ځان حرام کړي وه، نو خداي پاك جل جلاله داسي ورته

وويل (قد احل الله لكم متحله ايمانكم) كذا فى الهدايه نو چې قسم سي نو ګويا ده د ماينې وطي په قسم سره ځان ته حرامي وګرځولې وهو المعنى الايلاء نو که يي په څلور مياشتي کي وطي ورسره وکړې کفاره د يمين به ورکوي نوره خبره خلاصه سوه يعني په حنث سره يمين د مابين څخه ولاړې او که يي په څلورو مياشتو کي وطي نه ورسره وکړې نو ماينه يي څندي باينه سوه، كما هو حكم الايلاء على مامر مرارا فتذكر.

كتاب الخلع

دا کتاب دي په بيان کي د مفهوم او احکامو د خلع.

پوه سه:- چې قانون د کتابو د عمومي فقهي شريفي دادي چې کتاب لفظ په هغو مسئلو کي عنوان ګرځوي چې د انواعو مختلفه وو څخه وي چې مصنف رحمة الله عليه پخپله په کتاب الطهارات کي د دغسي مسائلو عنوان ګرځولي دي، چې طهارت د اوداسه طهارت د غسل طهارت د ثوب طهارت د مکان ته شامل دي، اما په کتاب النکاح حصه کي يې د هغه مخالف طرز بيان مختار کړي دي يعني د يوې نوعي مسئلو ته يې کتاب عنوان ګرځولي دي لکه" كتاب الايلاء، كتاب الخلع، كتاب الظهار وغيره" نو پکار خو دا وو چې دغه مباحث په عنوان د باب راوړى واى، لکه باب الرجعة البته كتاب الطلاق چې پر انواعو مختلفه وو مشتمل وو يعني د طلاق رجعي مسائل، د طلاق بائن مخفف مسائل، د طلاق مغلظ مسائل وغير ذالك د اصطلاح قديمي سره برابر وو، لكن لا جرح ولا مضايقه فى ذالك لان المصنفين يتفنون فى كتبهم حسب ما شاؤا.

فائده:- مصنف رحمة الله عليه خلعه تر ايلاء ورسته کړه د دوو سببو په جهت

(۱) اول داچي په ايلاء کي چونکه مال نسته نو طلاق ته نيژدې ده تر خلع چي په هغې کي مال مشروط سته.

(۲) دوهم داچي د ايلاء سبب د نر د خوا څخه نافرماني د حق څخه د ماينې چي وطي دي، او د خلع سبب غالبا نافرماني د ښځي د خوا د مېړه د حقوقو څخه، نو د نر خوا يي د مخه کړه، عنايه.

پوه سه:- چي د خلع معنا په لغت کي زائلول دي د يو شي د بل شي څخه، لکن دا لفظ په معنا شرعي چي رابسي په دې سبب استعمال سو چي خداي ﷻ د مېړه او مايني په باره کي وايي "هن" يعني ماينې "لباس لکم" يعني لکه ستاسي کالي چي ستاسي عيبونه په دوي خوندي دي "وانتم" يعني تاسي مړونه "لباس لهن" لکه کالي د ماينو چي د دوي عيبونه په تاسي سره پټ دي، نو چي مېړه او ماينه خلع سره وکړي ګويا دواړو ځانونه بربنډ کړه، مجمع الانهر، او خلع په شريعت کي ازاله د ملك د زوجيت د مېړه په مال د ماينې دخوا، برجندي.

قال القدوري رحمه الله "واذا تشاق الزوجان وخافا ان لا يقيما حدود الله فلا باس ان تفتدى نفسها منه بمال يخلعها به فاذا فعل ذالک وقع الخلع تطليقة بائنة ولزمها المال" او که چېري مخالفت واقع سو په مابين د مېړه او ماينې خواه ملامت هر يو وي او دوي دواړه ببرېدل چي مونږ پر ځاي نه کړو احکام د خداي ﷻ يعني حقوق د مېړه والي او ماينې والي چي خداي ﷻ ددوي په زمه کي ټاکلي دي، ولي چي د شرعي شريفي د نکته نګاه څخه هر يو د مېړه او ماينې پر يو بل باندي حق نه بلکه حقوق لري، کما بينت فی موضوعه، او که چېري نشوذ نه وي د يوې خوا او خوف هم نه وي بلکه صرف ښځه بد

رنګه وي نو مېړه ته اخيسته د مال مکروه دي، هکذا فی الجوهره" نو پروا نه لري يعني ګناه نسته نه پر ښځه چي روپۍ وغيره ورکوي د ځان د خلاصه ولو د پاره اونه پر مېړه د مال قبلولو په باره کي چي ښځه فديه ورکوي يعني مال نقود وغيره ورکوي د خپل ځان په باره کي يعني د ځان د خلاصولو په باره ومېړه ته په مال سره چي مېړه دا پرېږدي په دغه مال سره لقوله تعالى "فلا جناح عليهما فيما فتدت به.

پوښتنه:- په آيت کريمه کي نفي د ګناه د مېړه او ماينې دواړو څخه بيان سوه، او مصنف رحمه الله يوازي وښځي ته نسبت وکړي يعني فی قوله "فلا باس ان تفتدى آه؟

جواب:- هو ګنا خو پر يوه هم نسته، لکن مصنف رحمه الله چي نسبت وښځي ته وکړي ولي غالبا نشوذ او نافرماني د ښځي د خوا راځي ولي چي نر تحمل صله او غيرت لري او ښځه پر عکس د نر ده، هم دا وجه ده چي د طلاق واګي او اختيار خداي ﷻ ونر ته سپارلي دي، او ښځه يي ددې حقه څخه محرومه ساتلې ده نو چي مېړه داغسي وکړي نو پر ښځه بائن طلاق واقع سو او مال موعود پر دې لازم سو، دليل ددې چي طلاق بائن په واقع کېږي دادي چي ښځه چي مال ښندي د طلاق رجعي د پاره خو يي نه ښندي، ولي چي ددې غرض خو ځان خلاصيده دي د مېړه څخه او په طلاق رجعي کي خو دا د مېړه څخه نه خلاصېږي، نو د مال ښندنه قرينه ده پر دې باندي چي ددې او د مېړه د دواړو طلاق بائن غرض دي، بلکه مشائخ وايي چي د مېړه نيت ته د طلاق بائن ضرورت هم نه نسته ولي لفظ د خلعي په سبب د غلبه الاستعمال په طلاق بائن کي لکه صريح لفظ د طلاق بائن دي، او په ظاهر الروايت کي چي لفظ د

"خالعتك على الف" مثلا د كنایاتو څخه دي نو نیت ته د مېړه ضرورت ستە، الاان الفتوى على ما قلنا سابقًا، او كه مېړه وويل چي زما طلاق نه وو غرض قاضي دې تصديق نه كوي لكونه خلاف الظاهر، كذا فى مجمع الانهر، ودر.

او پر ښځه مال په دې لازم دي چي دې د مال التزام كړي دي، او مېړه هم په خروج د بضعې دده د ملكه ببله ماله راضي نه دي.

قال" وان كان النشوذ من جانبه كره له ان ياخذ منها عوضًا" او كه نافرماني او بد وضعتي د مېړه د خوا وه نو مكروه ده دته چي د ماينې څخه عوض اخلي لقوله تعالى "وان اردتم استبدال زوج مكان زوج الى ان قال فلا تاخذوا عنه شيئًا" اي عن المال المذكور، او بله خبره داده چي مېړه بايد دونده ظلم ونه كړي چي يووار يي په طلاق ماينه خوابدې كړه او بل وار يي د مال په اخستو سره ددې څخه.

قال القدوري رحمه الله" وان كان النشوز من قبلها كره ان ياخذ اكثر مما اعطاها فان فعل ذالك جاز فى القضاء" او كه نشوذ يعني نافرماني د ماينې د خوا څخه وه، نو مكروه ده مېړه ته چې ډېر نقود تر هغه مبلغ چي ده ودې ته په ولور كي وركړي دي ځندي اخلي، او كه يي داغسي هم وكړه يعني بالابود روپۍ يې ځندي واخستلې په قضاء كي روا دي او د تقوى د لاري مكروه دي، په حديث شريف كي راغلي دي چي د ثابت بن قيس ماينه وعليه الصلوٰة والسلام ته راغله او داسي يي ورته وويل "يارسول الله لاانا ولاثابت" يعني نه سره جمع كېږو زه او ثابت نو عليه الصلوٰة والسلام ورته وويل "اتريدين عليه حديقته" آيا ته ثابت ته وركوې بېرته هغه باغچه چي ده په ولور كي تاته دركړې وه

ښځي وويل "نعم وزيادة" هو باغچه خو يي وركوم، او نوري روپۍ هم وركوم عليه الصلوٰة والسلام ورته وويل "اما الزيادة فلا.

فائده:- په جامع صغير كي راغلي دي چي زيادتي پيسې هم بې كراهته مېړه ته روا دي ولي چي دا آيت مطلق راغلي دي، فلا جناح عليهما فيمافتدت به، جوهره.

دروېش وايي:- اګر چي آيت مذكوره مطلق دي لكن په حديث د ثابت بن قيس د زوجي جواز نه مقيد كېږي، لانه خبر واحد لكن لاقل من ان الحديث يفيد الكراهة والآية يفيد الجواز، فافهم مثل ذالك كثير.

قال" وان طلقها على مال فقبلت وقع الطلاق ولزمها المال وكان الطلاق بائنا" او كه يي طلاقه كړه ماينه په عوض كي د مال يعني معين، او دې هم قبول كړي هغه مال په عوض كي د طلاق نو طلاق د مېړه د خوا پر واقع كېږي او پر ښځه مال لازمېږي او طلاق يي بائن دي.

فائده:- د خلع او طلاق على مال فرق دادي چي خلع په لفظ د خالعتك على كذا من المال او دا لفظ كنايه ده د طلاق څخه كمامر سابقا، او طلاق على مال صريح طلاق دي.

فائده:- پر قبول د ښځي ولي موقوف دي، ددې سببه چي مېړه معلق كي طلاق ددي په وجوب پوري د مال پردې، نو خود ددې قبول غواړي لكه په نور عقود ماليه كي.

فائده:- طلاق ولي بائن دي د دې وجهي چي ښځه مال ښندي خو ځان ددې مېړه څخه خلاصه وي، نو په رجعي كي خو نسي خلاصېداى، ولي خو مېړه به بېرته رجوع ورته وكړي، د ښځي روپۍ عبث ولاړې.

قال" وان بطل العوض فی الخلع مثل ان یخالع المرئة المسلمة علی خمر او خنزیر فلا شیء للزوج والفرقة بائنة"
او که عوض د خلعي باطل سو لکه چي یو مېړه د مسلماني ماینې سره خلع وکړي پر شرابو او یا پر سر کوزي، نو مېړه ته هیڅ شئ نسته او جلاوالي هم بائن دي، ددې مسئلې دلیل دادي چي ښځه خو مېړه نه ده غلولې، ولي خو هغه خمر او خنزیر عوض د خلعي پر دې کښېښو، او دادوه عوضه خو پر ښځه نه واجبېږي ولي خو ښځه مسلمانه ده، او نه بل مال پر دې لازم دي ولي دې خو التزام د بل مال نه دي کړي، او طلاق بلا مال خو هم مشروع دي او طلاق بائن په دې دي ولي چي د خلعي حکم طلاق بائن دي کمامر.

قال القدوري رحمه الله" وان بطل العوض فی الطلاق کان الطلاق رجعیا" یعني طلاق پر مال باندي لکه چي داغه دوه شئ یاد کړي په طلاق صریح علی مال کي، او که باطل سو عوض په طلاق کي نو طلاق یې رجعي دي ولي طلاق صریح چي عوض و نه لري لکه مانحن فیه هغه حتماً رجعي دي بائن نسي کیدای، جوهره در.

قال" وما جاز ان یکون مهراً فی النکاح جاز ان یکون بدلا فی الخلع" او هغه شيء او مال که نقود وي او که متاع وي او که حیوان چي مهر کیدای سي په نکاح کي هم هغه شیان بدل د خلع کیدای سي.

پوه شه:- چي بضع د ښځي په نکاح کي که څه هم جزء د انسان ده لکن متقوم د ضرورة بقاء النسل او په وقت د خروج د ملك څخه تقوم نه

لري، لعدم الضروة فی ازالة الملك عن جزء الآدمی" نو پس هغه مال چي د متقوم شي په عوض کي راسي یعني د نکاح په وقت کي هغه د غیر متقوم شي عوض په طریق اولی کیدای سي، در، جوهره.

قال" فان قالت خالعنی علی ما فی یدی فخالعها ولم یکن فی یدها شیئ فلا شیئ علیها" او که ماینې مېړه ته وویل چي زما سره خلع وکړه پر هغه شئ چي زما په موټه کي دي، مېړه خلع ورسره وکړه، نو دې موټ ورته خلاص کړي، هیڅ شی د ماله څخه د دې په لاس کي نه وو نو مېړه لره هیڅ شی نسته پر دې باندي، ولي چي دې د مال نوم نه دي ورته اخستي او نه یي د شي نو خلع صحیح ده لکن رایګانه.

وان قالت خالعنی علی ما فی یدی من مال فخالعها ولم یکن فی یدها شیئ ردت علیه مهرها" او که یې مېړه ته داسي وویل چي ته زما سره خلع وکړه پر هغه شي چي زما په موټه کي دي د مال څخه نو مېړه هم خلع ورسره وکړه او ددې په لاس کي شي نه وو، ښځه په هغه مهر چي مېړه دې ته ورکړی دي هغه دي ورکړي بیرته،

دلیل یي په هدایه کي داسي وایي چي دې مېړه په طمع کي د مال، نو دی بېله عوضه په زوال د ملك البضعی راضي نه دي، مال مسمي خو نسته نه یي قیمت د هغه ولي چي مسمي مجهول دي، او مهر مثل چي اصلي قیمت دي د بضع هم پر دې نسي لازمې دای، ولي چي بضع په وخت کي د خروج د ملك څخه قیمت نه لري، نو ددفعي د ضرر د مېړه څخه باید هغه ولور چي ده ورکړي دي هغه ور رد کړي او بیرته یي ورکړي.

قال " وان قالت خالعنی علی ما فی یدی من دارهم اومن الدراهم" فرق ددغو دوو لفظو د معرفې او نکرې دي.

ففعل فلم یکن فی یدها شیئ فعلیها ثلثه دراهم" او که ماینې وویل چې ته زما سره خلع وکړه پر هغه شي چې زما په لاس کې دي د دراهمو څخه او مېړه هغه سي وکړه، نو نه وو په لاس کې ددې هیڅ شي، نو پر دې باندې دري درهمه لازم دي ولي د جمعي معرفې او نکرې اقل درجه دري دي.

قال " ولو قالت طلقنی ثلاثا بالف فطلقها واحدة فعلیها ثلث الالف" او که ماینې وویل مېړه ته چې ما طلاقه کړه په دري طلاقه سره په زر (۱۰۰۰) روپۍ نو مېړه یو طلاق ورکړي، نو پر ماینه دریمه حصه د زرو روپو لازمه ده، دلیل هذا" چې کلمه د با په عقود کې د پاره د مقابلې ده، یعني دري طلاقه مقابل د زرو روپو وګرځېدله، نو مقابل د یوه طلاق بالضرورة دریمه د زرو روپو وګرځېدله.

فلهذا لزمها ثلث الالف"

مسئله:- هغه یو طلاق چې پر ښځه واقع سو هغه رجعي طلاق دي، ولي چې لفظ د خلع نه دي ذکر سوي چې مقتضی دي بائن طلاق سي بلکه لفظ د صریح طلاق یې ذکر کړي نو مېړه چې یو طلاق ورکړي نو یو طلاق صریح نه دي مګر رجعي.

فائده:- که دغه سړی تر دغې واقعې د مخه ښځې ته دوه طلاقه نور ورکړي وه نو دا پلا چې یو طلاق ورکړي ښځه په حرمت غلیظه حرامه سوه، نو پر دې باندې زر روپۍ پوره لازمې دي، ولي د دې غرض د ذکر

څخه د دري طلاقو حرمت غلیظه وو هغه حاصل سو، مجمع الانهر، در.

قال" وان قالت طلقنی ثلاثا علی الف فطلقها واحدة فلا شیئ عند ابی حنیفة رحمه الله تعالی وقالا رحمهما الله تعالی،علیها ثلث الالف" او که وویل ښځې مېړه ته چې ماته دري طلاقه راکړه په زر روپۍ، او هغه یو طلاق ورکړي نو هیڅ شي نسته پر ښځه.

فائده:- او طلاق یې هم رجعي دي، او دا په نېز د امام اعظم رحمه الله دي، دی مبارك وایي چې کلمه د علی د شرط د پاره ده ګویا دې داسي ورته وویل "ان طلقنی ثلاثا فلك الف" نو دې شرط د استحقاق د زرو روپو دري طلاقه وګرځوله او په شرط کې ددې فائده هم ده ولي چې د مېړه څخه په طلاق اغلظ خلاصه سي، نو چونکه مېړه شرط نه کي پر ځاي نو حق د عوض پر ښځه هم نه لري، او یاران رحمهم الله چې د امام شافعي رحمه الله هم داغه قول دي چې پر ښځه دریمه حصه د زرو روپو لازمه ده کما فی المسئلة الاولی، ګویا د یارانو په نېز کلمه د علی هم د پاره د مقابلې ده، کالباء.

قال" ولو قال الزوج طلقی نفسک ثلاثا بالف او علی الف فطلقت نفسها واحدة لم یقع شیئ من الطلاق" او که مېړه ماینې ته وویل چې ته ځان طلاق کړه په دري طلاقه یا په زر روپۍ او یا پر زر روپۍ او ښځې ځان ته یو طلاق ورکړي، نو پر دې هیڅ نوع د طلاق نه واقع کېږي نه یو او نه دري، یعني مېړه هم پر دې د روپو حق نه لري. دلیل ددې مسئلې دادي چې مېړه چې دا خبره وښځې ته کوله معلومه

خبره ده چي دی نه دي راضي په جلا والي د ماينې مګر په پوره زر روپۍ، نو دي اجازه نه ورکوي ماينې ته د وقوع د طلاق په بعض د الف.

پوښتنه:- که يو طلاق رجعي پر ښځه واقعه وي د مېړه څه تاوان دي خو ښېرته به رجوع ورته وکړي؟

جواب:- د مېړه تاوان په دې کي دي که څه هم دي رجوع وکړي خو د اينده د پاره دا طلاق پر ده حساب دي، حتى که يي په وروسته کي دوه طلاقه ورکړي پر ده حرامېږي په حرمت غليظه.

قال" والمبارئة كالخلع" او لفظ د مبارئت چي باب د مفاعلې دي او برائت چي معنا يي بېزاري ده او خلع چي معنا يي خالي والي د شي د شي څخه ده، نو د برائت او خلع معنا يو شي ده.

والخلع والمبارئة يسقطان كل حق لكل واحد من الزوجين على الآخر مما يتعلق بالنكاح عند ابى حنيفة رحمه الله" او خلعه او مبارئت ساقطه وي هر حق د هر يوه د مېړه او ماينې چي پر هغه بل طرف د اينده د پاره وي چي تعلق په نکاح پوري لري، په نېز دامام اعظم رحمه الله د قيد د حق نکاح دا فائده ده که چېرې د مېړه پر ماينې پور باندي وي او بالعکس هغه نه ساقطېږي ولې هغه د حقوق څخه د نکاح نه دي، حتى که ماينې د مېړه څخه هيڅ ولور نه وو اخستي هغه ټوله ولور ساقط سو، او که مېړه ماينې ته څه روپۍ د ولور ورکړي وي پر ماينې رجوع نه سي کولای، چي هغه خو پاته حق د نکاح نه دي هغه خو تر خلع او مبارئت د مخه وو، او داغه رنګه مېړه حق د نفقه ماضيه پر ماينه نه لري يعني هغه نفقه ښېرته راکړه.

پوښتنه:- د عدې د شپو نفقه او سکنې خو پر مېړه لازمه ده او سره ددې چي د اينده حقوقو څخه د نکاح ده؟

جواب:- هغه په نص صريح سره ثابته ده.

وقال ابو يوسف تسقط وقال محمد رحمهما الله لاتسقط الا ما سميا، اي الحقوق دون الخلع" او ابو يوسف رحمه الله وايي چي حقوق ساقطېږي اوامام محمد رحمه الله وايي چي نه ساقطېږي مګر هغه وخت چي دوي دوه يي په نامه ياد کړي، او تفصيل د دلائلو د ائمه ثلاثه وو رحمهم الله په لويو شرحو کي د قدوري مطالعه کړه "فانه لايناسب حال المبتد.

كتاب الظهار

دا کتاب دي په بيان کي د ظهار.

پوه سه:- چي د خلع او ظهار تر مابين چونکه مناسبت وو ددې کبله چي هريو غالبا د نشوز څخه پيدا کېږي، نو ددې سببه مصنف رحمه الله يو ځاي سره راوړه، او فرق ددوي دوو په مابين کي دادي چي نشوز په خلع کي د ښځي د خوا وي، او په ظهار کي د نر د خوا.

فائده:- خلع که څه هم د ښځي د خوا ده پر ظهار يي د مخه کړه ولي په خلع کي تحريم او قطع د نکاح راځي کمامر، او په ظهار کي قطع د نکاح نه راځي کما سيأتي كذا قال الامام الطحاوى رحمه الله، اوظهار په لغت کي شا په شا کېدو ته وای، او په اصطلاح د فقهاء رحمهم الله کي مشابه کول دي د ماينې کما سيأتى امثلة الكل په داسي اندام سره چي کتل د سړی هغه اندام ته روا نه دي دده داسي ښځي ته چي وده ته يي نکاح

حرامه وي لکه مور، خور، وغيره حتی که څه هم درضاع د جهته وده ته
حرامه وي لکه رضعي مور يا خور وغيره، كذا فی الملتقی.

فائده:- شرط د صحت د ظهار دادي چي هغه ښځه به په نکاح کي د
سړي وي په نکاح صحيحه سره نو ظهار و مينځي ته نه دي صحيح ولي
چي هغه خو ماينه نه ده، او داغه رنګه ظهار نه دي روا وهغه ماينې ته
چي د بائن طلاق ورکړی وي ولي هغه هم اوس بالفعل د ده ماينه نه ده،
او داغه رنګه وداسي ښځه ته ظهار نه دي صحيح چي په نکاح فاسده
سره يي په نکاح کړې وي كما مر فی كتاب النكاح.

پوښتنه:- دا عقد ولي په نامه سره د ظهار مسمّی سو، او سره د دې
چي سړی ماينې ته ووايي چي ته پر ما لکه زما د مور نس، يا د مور
ورون داسي يې مثلا دا هم ظهار دي كما سيئاتی؟

جواب:- چونکه په عربو کي د اول الامر څخه شائع دا وو چي ماينې ته
يي وويل چي ته يي پر ما لکه د مور شا، او شا ته په عربی کي ظهر
وايي نو ځکه دا عقد په دغه نامه مشهور سو، او په شرع کي که څه هم
ذکر د ظهر نه وي پکښې بلکه د نورو اندامو پکښې وي هم د ظهار په
نامه مسمّی سو، للعلة المشتركة.

قال القدوری رحمه الله" واذا قال الزوج لامرئته انت علی كظهر
امی حرمت علیه" او که وويل مېړه خپلې ماينې ته چي ته پر ما لکه
زما د مور شا، نو ماينه ده ته حرامه سوه.

فائده:- که يي داسي وويل چي ستا سر يا لاس چي تعبير دکل څخه
يي کېږي وشبيهه، او يا يې داسي ورته وويل چي ستا نيمئ يا دريمه
چي جزء شائع دي، او يايي پر ځاي د ظهر داسي وويل لکه فرج د مور،

يا نس د مور، يا کوناتئ د مور وغير ذالك، او يا يي د مور په ځاي کي
خور، ياعمه يا خاله ياده کړه وغير ذالك من المحرمات الابدية.

فائده:- که يي داسي ورته وويل چي ته پر ما داسي يي لکه ستا خور
دا ظهار نه دي، ولي خوښينه خو ابدي حرامه نه ده، نو په دې ټولنو
مذکوره صورتو کي ماينه ورته حرامه سوه، که دده نيت د ظهار وي او
که نه وي او که يي قسم غرض وي هم ظهار دي ولي دا الفاظ په ظهار
کي صريح دي، او حرمت د ماينې په قرآن کريم او په احاديث نبويه ﷺ
کي مفصلاً ذکر سوي قال الله تعالی، والذين يظاهرون من نسائهم الی
آخر الآية"

قال" لايحل له وطيها ولا مسها ولا تقبيلها حتی يكفر عن
ظهاره" نو نه دي روا دغه مظاهر مېړه ته وطي د هغې ماينې سره او ده
ته روا نه ده مسه کول د هغې او نه مچه اخيستل د هغې څخه تر هغه
پوري چي کفاره د ظهار يي نه وي ادا کړې.

پوښتنه:- چي د ظهار په باره کي په قرآن جيد کي داسي راغلي دي
"من قبل ان يتماسا" يعني کفاره د ظهار به ورکوي د مخه تر تماس د
مېړه او ماينې، نو د مس حقيقت خو لمس دي لکن بعض اهل المذاهب
د مس څخه معنا مجازي اخلي چي وطي دي، مونږ وايو چي څه ضرورت
دي چي د مسه څخه معنا مجازي اخلي ولي قرآن پر خپل حقيقت محرم
د لمس دي پر مظاهر باندي.

سوال:- نو حرمت د وطي د هغې ښځي په څه شي سره ثابتېږي؟

جواب:- وطي او دا غه رنګه مچه اخستل خو د افرادو څخه د مسي
لغوي دي نو ټوله که وطي دي او که مچه او که مس دي حرمت يي په

نص د قرآن ثابت دي، هذا حاصل ما فی فتح القدير وغيره من كتب الفقة الحنفي، په هدايه كي وايي چي ظهار په جاهليت كي طلاق بائن وو، نو شرعي شريفي د ظهار حكم و تحريم موقت ته راوګرځوي او اصل تحريم يي پر ځاي دي، او انتهاء د تحريم يي كفاره وګرځوله، قال الله تعالى، والذين يظاهرون من نسائهم ثم يعدون لما قالوا فتحرير رقبة من قبل ان يتماسا الى آخر الآية" نو ددې آيت مبارك څخه ثابته سوه چي تحريم د ظهار په كفاره سره پورته كېږي، حكمت الهی په دې كي دادي چي ظهار چونكه يو منكر او بد او درواغ قول دي، نو شرعه شريفه جزاء ومظاهر ته په تحريم موقت سره وركړه لكن چونكه الفاظ د ظهار نه د طلاقِ بائن صريح الفاظ دي او نه كنايي نو ځكه يي قائل ته د تحريم موبد جزاء ورنه كړه، هدايه، دروښ.

قال" فان وطئها قبل ان يكفر استغفر الله ولاشيئ عليه غير الكفارة الاولى" او كه چېري وطي كړه هغه ماينه د مخه تر كفاره ورکولو، نو طلب د بخښي دي د خداي پاك ﷻ څخه وغواړي او نور پر ده هيڅ شي نسته بېله كفارة اولى يعني نوره جريمه نه لري ولي چي په حديث شريف كي چي روايت يي ابن عباس ﷺ كړي راغلي دي، چي يو سړي د ماينې سره ظهار كړي وو او كفاره يي نه وه وركړې، چي په سپوږمۍ داره شپه كي يي د ماينې په پښو كي پازيبونه ليدلي وه نو شيطان غلبه پر وكړه او جماع يي ورسره وكړه او سحار ونبي عليه السلام ته راغلي، او ماجرا يي تولە ورته بيان كړه عليه الصلوة والسلام ورته وويل "استغفر الله ولاتعد حتى تكفر" يعني طلب د بخښي د خداي ﷻ څخه وكړه او بيا وطي مه ورسره كوه تر څو چي دي كفاره نه وي وركړې، نو

بل شي يي پر ده نه كي لازم كه لازم واي عليه السلام به يي بيان ورته كړی واى، كذا فی شروح القدوری.

قال" ولايعاود حتى يكفر" او بله پلا دي وطي نه ورسره كوي تر څو چي يي كفاره نه وي وركړې.

مسئله:- كه سړي د ماينې سره ظهار وكړی، او بيا دی مرتد سو او بيرته يي اسلام راوړی او بيا يي هغه ښځه په نكاح كړه نو په نېز د امام اعظم رحمة الله عليه يي ظهار پاته دي بحاله، او ياران رحمة الله عليه وايي چي پسله ارتداد يې هغه د مخه ظهار لغوه سو، نيا بيع.

قال" والعود الذى يجب به الكفارة هو ان يعزم على وطئها" او ګرځېدل چي په قرآن مجيد كي ذكر سوي دي چي په هغه سره كفاره لازميږي، هغه دادي چي دی تينګ قصد لري چي د ماينې سره به وطي كوم، قال الله تعالى " ثم يعدون لما قالوا" حاصل د كلام د مصنف رحمة الله عليه چي پر هغه مظاهر كفاره سته چي دده قصد او عزم پس له ظهاره داوي چي د ماينې سره به وطي كومه، او كه يي چېري قصد ددې وو چي پر ما حرامه سي او قصد د وطي يي هم نه وي بيا كفاره نسته باندي، او كه يي بېرته قصد د وطي وكړی بيرته كفاره پر راګرځي، او كه يي بيرته دوهم وار عزم د وطي فسخ كړی بيرته كفاره ساقطېږي، ثم وثم، كذا فی الجوهره.

قال" واذا قال انت على كبطن امى او كفخذها او كفرجها فهو مظاهر" او كه مېړه ماينې ته داسي وويل، ته پر ما داسي يي لكه زما د مور نس، او يا زما د مور ورون، او يا زما د مور كوس، نو دي مظاهر دي، په هدايه كي وايي چي په اصل ظهار كي خو تشبيه وه د تول

مور سره او دلته تشبيه د هغه اندام سره د مور چې دده کتل وهغه اندام ته حرام دي.

قال" وكذالک ان شبهها بمن لايحل له النظر اليها على سبيل التابيد من محارمه مثل اخته او عمته او امه من الرضاعة" او داغه رنګه مظاهر دي که يې تشبيه د مايني وکړه د هغه چاسره چې ناروا وه وهغې ته کتل، يعني د هغې مخصوصو اندامو ته مګر د همېشه د پاره نه موقت، د محرماتو څخه دده لکه خور، عمه، خاله ، او يا رضعي مور،او يا رضعي خور وغيرها ، وقد مر بعض التفصيل فيه.

قال" وكذالك ان قال راسك على كظهر امى او فرجك او وجهك او رقبتك او نصفك او ثلثك" او داغه رنګه ظهار دي که مېړه ومايني ته داسي وويل، چې ستا سر پر ما لکه د مور شا، اويا ستا کوس، او يا ستا مخ، او يا غاړه، او يا ستا نيمئ، او يا ستا دريمه،

دليل ددې مسائلو دادي، چې د راس لفظ تعبير د ټولې ذاته څخه په عربي کې کېږي، او داغه رنګه لفظ د وجه په معنا ذات راغلي دي او رقبه هم په معنا د ټول ذات مستعمله ده، او لفظ د فرج په ښځه کې کنايةً د ټوله ذات ددې تعبير کيداى سي، نو په دې ټولو ګويا ده داسيې وويل، انت على كظهر امى" او نصف او ثلث خو جزء شائع دي نو حکم د ظهار دده څخه وکل ذات ته ساري کېږي لکه څوک چې مايني ته ووايي، نصفك او ثلثك طالق" نو ښځه طلاقېږي، فع، در.

قال" وان قال انت على مثل امى يرجع الى نيته فان قال ارت به الكرامة فهو كما قال، وان قال اردت الظهار فهو ظهار وان قال اردت الطلاق فهو طلاق بائن وان لم يكن له نيه فليس بشيئ" او که سړي مايني ته وويل چې ته پر ما باندې په مثل د مور يې، نو رجوع دي وکړه سي دده ونيت ته، يعني ده ته دي وويل سي چې ستا په دغه خبره کې څه مطلب وو يعني مقصد دي څه وو، ولي ده يو کلام مبهم المعنى ووايه نو دى به کشف د خپل مراد کوي، نو که ده وويل چې زما مقصد عزت وركول مايني ته وه، نو لکه دى چې وايي هغسي ده، ولي عزت وركول وچاته په تشبيه سره په عربو بلکه په ټوله اهل لسان کې شائع ده، لکه په پښتو کې يو سړى وبل ته ووايي ته داسي يې لکه زما ستر ګې، او که ده وويل چې زما غرض ظهار وو، نو ظهار دى ولي چې ده تشبيه د مايني وکړه د ټولې مور سره نو په ټوله مور کې خو شا وغيره اجزاء د مور داخل دي لکن چونکه صراحةً تشبيه په اندام سره د مور لکه د شا وغيره نسته نو ځکه نيت ته ضرورت سته كذا فى الهدايه، او که ده وويل چې زما اراده طلاق وو بيانو طلاق بائن دي، ولي چې د ده غرض تشبيه د مور سره په حرام والي کې مراد وه نو ګويا ده داسي ورته ووايل چې انت على حرام كامى" او حرمت بېله طلاق بائن نه راځي، ه، د ، او که د لره هيڅ نيت نه وو نو هيڅ شي نسته.

پوه شه:- چې دا قول د امام اعظم رحمه الله عليه دي، او امام ابو يوسف رحمه الله عليه وايي چې دا قول دده ايلاء ده، او امام محمد رحمه الله عليه وايي چې دا قول ظهار دي، امام اعظم رحمه الله عليه وايي چې دا قول د سړي احتمال د تشبيه فى الكرامة لري، او احتمال د تشبيه فى التحريم لري چې طلاق بائن سي،

او احتمال د ظهار يي هم سته او په يوه کي صريح نه دي، نو لازمه داده چي پر نيت دده اعتماد وکړه سي، لکه ټولي کناياتي چي موقوف پر نيت دي کما مر فی الطلاق، نو چي دی هيڅ نيت نه لري نو پر هيڅ شي دلالت نه کوي، بخلاف انت طالق فانه صريح فی الطلاق، وبخلاف انت علی کظهر امی فانه صريح فی الظهار، وبخلاف انت علی حرام کامی، فانه صريح فی الطلاق البائن، ولابی يوسف ومحمد رحمة الله عليه دلائل مذکورة فی الشروح اعرضنا عنها لکون الفتوی علی قول الامام اعظم رحمة الله عليه.

قال القدوری" ولا يکون الظهار الا من زوجته فان کان ظاهر من امته لم يکن مظاهراً" او نه سي کيدلای ظهار مګر د ماينې سره نو که سړي د ظهار لفظ مستعمل کي د مينځي سره هغه سړی مظاهر نه دي، اولالقوله، والذين يظاهرون من نسائهم الآية" نسائهم ماينو ته د خلګو وايي، وثانياً ظهار لکه د مخه چي تېره سوه د جاهليت د وخت د طلاق څخه رانقل سوي دي او مينځي ته طلاق نسته نو ظهار هم نسته، وثالثاً چي حل د وطی په مينځه کي تابع د ملك د رقبې دي، او په منکوحه کي مقصود بالذات دي نو قياس د مينځي پر منکوحه نه کول کېږي په باره کي د ظهار، ه، د.

قال" ومن قال لنسائه انتن علی کظهر امی کان مظاهرا من جماعتهن وعليه لکل واهدة منهن کفارة" که يو سړي وويل وډېرو ماينوته، يعني دوې درې يا څلور، تاسي پر ما لکه د مور شا ياست، نو دی مظهار د ټولو ماينو دي او پر ده باندي د هري يوې په ځای کي کفاره سته، ولي چي ده نسبت د ظهار وټولو ته وکړي.

قال" وکفارة الظهار عتق رقبة فان لم يجد فصيام شهرين متتابعين فمن لم يستطع فاطعام ستين مسکينا کل ذالک قبل المسيس" او کفاره د ظهار ازادول دي د مريي يعني اولاً او که يي مريي نه وو يعني طاقت د رانيولو يي هم نه وو نو بيا دي دی روژې ونسي دوې مياشتي پر له پسې، او که يي طاقت د روژو نيولو نه وو بيادي ډوډۍ ورکړي شپېتو (۶۰) مسکينانو ته، او دا ټولي کفارې به مخته تر جماع وي، او مذکوره ترتيب په قرآن مبارك کي صراحة ذکر دي.

مسئله:- مريي چي ازادوي نيت د کفاره ظهار به ورسره يو ځای کوي او که يي نيت د کفارې وروسته وکړي، او يا يې نيت ګرسره نه وو کړي کفاره يي نه صحيح کېږي، طحاوی جامع الرموز.

مسئله:- که د مظاهر پلار مريي وو د يو چا مظاهر رانيوي وروسته يي نيت د کفارې وکي نو د کفارې غاړه يي نه په خلاصېږي ولي د سړي پلار چي مريي وي او زوي يي رانسي هغه خو پخپله ازادېږي، نو مظاهر دي په يوه ټك دوه نښانه نه ولي، دروښ.

فائده:- پوه سه چي د عتق او دصوم د کفارې قبل المسيس راڼي خو په نص د قرآن ثابت دي ولي چي په دواړو کي "من قبل ان يتماسا" راغلي دي، او د اطعام په باره کي که څه هم دا قيد په قرآن کريم کي نسته لکن صاحب هدايه وايي چونکه کفاره ظهار پاي ته رسونکي د حرمت د وطي ده نو لازماً تر وطي تقديم غواړي.

قال" ويجزء فی ذالک عتق الرقبة المسلمة والكافرة والذكر والانثٰی والصغير والكبير" او کافی ده په کفاره د ظهار آزادول د مسلمان مريي او د کافر مريي، او د نر او د ښځي،او د بالغ او کوچني مريي، ولي رقبه چې په قرآن مجيد کې راغلې ده دا ټولو انواعو ته شامله ده، او امام شافعي رحمه الله وايي د کافر مريي ازادول په کفاره کې نه دي، روا په دليل د دې چې کفاره خو حق الله ﷻ دي نو څرنګه به صحيح وي صرف د حق الله و عدو الله ته چې کافر دي، لکه چې د زکوة ورکول وکافر ته نه دي روا ددې جواب صاحب الجوهره داسي ورکړي دي چې رقبه د ظهار خو په قرآن کريم کې مطلق ذکر سوې ده د قيد څخه د ايمان او قياس پر زکوة يې نه دی روا ولي چې شرط دقياس دا دی چې په مقيس کې به نص نه وي کما تقرر فی الاصول او دلته خو په مقيس کې چې کفاره ظهار د نص قرآني موجود دی.

درښ وايي - چې په بعضې کفاراتو کې لکه کفاره د قتل خطا چې د کافر آزادول نه دي روا په هغو کې قرآن پاک داسي ويلي دي "فتحرير رقبة مومنة"

قال" ولا يجزئ العمياء ولا مقطوعة اليدين و الرجلين" او کفايت نه کوي په کفاره کې په دواړوسترګو روند مريی يا هغه مريی چې دواړه لاسونه يې پرې وي او دواړه پښې يې هم پرې وي، ولي چې جنس منفعت چې په مريي کې فوت دی هغه مريی کالعدم دی، نو په رانده منفعت د ليدو فوت دی او چې لاسونه يې پرې وي او پښې يې هم پرې وي په هغه کې منفعت د تګ راتګ فوت دی، ق. درويش

پوه سه:- چې پښې د سړي دواړي پرې وي، لکن لاسونه يې دواړه روغ وي په هغه کې جنس منفعت د لاسو خو نه دي فوت کما هو الظاهر، او د پښو منفعت که څه دواړي پرې نه وي فوت والي چې دي په دواړو بغلو کې لکړي ونسي تګ راتګ کولای سي، او که يې لاسونه دواړه پرې وه فقط په هغه جنس منفعت د لاسو فوت دي، وهذا الاحتمال لم يذكره المصنف رحمه الله لظهوره فافهم.

قال" ويجوز الاصم" او په کفاره کې کوڼ مريي روا دي لکن داسي کوڼ چې په زوره نعره پر وکړه سي اوري يې او که چېرې مورزاده کوڼ وو چې ګونګئ به نو هم وي چې په عربي يې اخرص بولي هغه نه دي روا، لانه فائت جنس المنفعة، جوهره.

مسئله:- که يې غوږونه چا ځندي پرېکړي وه هغه روا دي، لانه فائت الزينة لا فائت المنفعة كما هو الظاهر.

مسئله:- او که يې پزه ځندي پرې کړي وه هغه روا دي ولي چې د پزې په پرې کېدو سره ښائست د مخ ځي، منفعت يې باقي دي چې بويول د شي دي، او که يې ذکر ځندي پرې کړي وو هغه روا دي، ولي چې ذکر ګرسره نه لري لکه مينځه خو روادي نو چې پرې وي خو په طريق اولى روادي. ج. د.

قال المصنف رحمه الله" ويجوز مقطوع احدى اليدين واحد الرجلين من خلاف" او روا دي په کفاره د ظهار کې هغه مريي چې يو يې لاس پرې وي او يوه يې پښه، لکن د مخالف جانب څخه يعني لاس د يوې خوا څخه او پښه د بلې خوا څخه، ولي چې داسي سړی نه د جنس منفعت څخه د لاس چې تينګول د شي دي محروم دي، او نه د پښو د

منفعت څخه چي تګ راتګ دي، ولي چي د پرې لاس په بغل کي لګړه ونسي او پر هغه روغه پښه تلای سي کما هو المعلوم بالتجربة، او که يې لاس او پښه د يوه طرف څخه پرې وه بيا د جنس منفعت څخه د پښو محروم دي، که څه هم د منفعت د لاس يې چي بطش دي محروم نه دي کما يدل عليه التجربة.

فائده سنيه: پوه سه چي بحث او مسائل د مريانو په کفاراتو کي او يا کتاب الاعتاق، او يا کتاب المکاتب، يا کتاب المدبر، يا کتاب ام الولد، وغيرها من المسائل المتعلقه بالعبيد والاما، چي د قديم الزمان الى يومنا پوري د فقهاء مجتهدينو او علماء نامدار رحمهم الله په کتابو کي د مذاهبو اربعه وو مسطور دي داده هغه وخت اوزمان سره سمون لري چي اهل اسلام په غزواتو مصروف وه د جهاد فی سبيل الله کارنامې جاري وي، او د کفارو بنديان نر او ښځي به غلامان او مينځياني د مسلمانانو په لاس کي وه، او په اوسنۍ زمانه کي چي کفار غالبه سوه او د جهاد او غزا سلسله صرف د دفاع د پاره جاري ده، او د مريتوب او مينځي توب سلسله په ټوله اسلامي نړۍ کي قطعه سوه، نو ددغو مسائلو زده کړه په ننۍ زمانه کي صرف او صرف د پاره د تبرک په اثارو د مجتهدينو رحمهم الله جاري ده، او په اميد ددې چي امکان لري چي خداي ﷻ به بيرته اسلام ته غلبه پر کفارو متنوعه ورکړي او بيرته به از سر نو سلسله د غلامۍ جاري سي، او فوق الذکر مسئلو ته به ضرورت پيدا سي.

قال" ولا يجوز مقطوع ابهامى اليدين" او نه ده روا په کفاره کي هغه مريي او مينځه چي دوې ښې ګوتي يې د دواړو لاسو پرې وي ولي

ښېګول د شي چي جنس منفعت د لاسو دي په ښو ګوتو پوري تعلق لري.

قال" ولا يجوز المجنون الذى لا يعقل" او نه دي روا په کفاره کي هغه ليونئ چي هيڅ عقل نه لري، ولي د ټولو اعضاوو څخه نفع اخيستل موقوف پر عقل ده، نو ليوني فاقد د ټولو منافعو دي.

قال" ولايجوز عتق المدبر وام الولد" او نه دي روا عتق د مدبر او ام الولد په کفاره کي د ظهار.

پوه سه:- چي مدبر هغه مريي دي چي بادار ورته ووايي چي زما د مرګه پس ته آزاد يې، او ام الولد هغه مينځه ده چي د سړي يعني د بادار څخه ولد لري چي هغه هم پسله مرګه د بادار پخپله ازاد پرې نو چونکه دوي دوه مستحق د عتق دي، او همېشه توب د مريي توب او مينځي توب په دوي کي ممکن نه دي نو رق ددوي ناقص دي، او رقبه د عتق ظهار خو مطلق ذکر سوې ده او قانون دادي چي مطلق رجوع وفرد کامل ته کېږي، نو ددې وجهې ذ دغو دوو عتق په کفاره ظهار کي نه دي روا، کذا فی الهدايه والعنايه مع زيادة من العبد العاصی محمد عبيد الله القندهاري الايوبی غفرله الباری.

قال القدورى ة" والمكاتب الذى ادىٰ بعض المال فان اعتق مكاتبا لم تود شيئا جاز" او داغه رنګه نه دي روا عتق د هغه مکاتب چي بعض مال يي مولی ته ورکړي وي او بعض مال پر پاته وي.

پوه سه:- چي مکاتب هغه مريي ته وايي چي د بادار سره عقد وکړي چي زه به تاته مثلا زر روپۍ درکړم په دوه کښته مثلا ما ازاد کړه مولی دا عقد قبول کړي نو دغه مريي ته مکاتب وايي چي دی يداً حر دي

يعني خپل په لاسو به د خپل بدل الكتابت د پاره خواري كاږي، او رقبةً مريي دي ولي عليه السلام وايي چي، المكاتب عبد ما بقى عليه درهم اذا عرفت هذا" نو پوه سه چي هغه مكاتب چي يو كښت روپۍ يي بادار ته ورکړي وي، د هغه عتق په كفاره كي نه دي روا ولي چي عتق د كفاره بايد محضاً لله وي، او دلته خو مولى يو څه روپۍ هم اخيستي دي، نو خالص د پاره د خداي ﷻ نه سو عتق ددغه مكاتب، او هغه مكاتب چي هيڅ بدل الكتابه يې مولى ته نه وي ورکړي د هغه عتق محضاً لله دي نو په كفاره كي درپرې، ق، دروېش

قال القدوري رحمه الله "فان اشترى اباه او ابنه وينوى بالشراء الكفارة جاز عنها" او كه چا رانيوي پلار خپل يعني چي د يو چا مريي وي، او يا زوي خپل او نيت يي وو په رانيولو كي د كفارې روا دي عتق ددوي د كفارې څخه.

پوه شه:- چي نيت كفارې به يې د شراء سره يو ځاي وي او كه يې وروسته نيت وكړي بيا د كفارې غاړي نه په خلاصېرې كما مر من قبل.

قال" وان اعتق نصف عبد مشترک من الكفارة وضمن قيمت باقية فاعتقه لم يجز عند ابى حنيفة رحمه الله" او كه چا ازاده كړه نيمه حصه د مشترك مريي د ده او د بل چا د كفارې څخه د ظهار او وروسته د هغې بلي حصې تاوان وشريك ته وركړه او هغه حصه يي هم پسي ازاده كړه، د كفارې غاړي نه په خلاصېرې په نيز د امام اعظم رحمه الله ولي چي عتق تجزيه او تقسيم قبلوي په نيز د ده رحمه الله يعني چي د يوه مريي نيمه حصه دى ازادوي او نيمه حصه مريي وي، نو د نيمي حصې په ازادولو سره هغه بله حصه د شريك ناقصه سوله ولي

هغه شريك د همېشه لپاره خپله حصه مريي نه سي ساتلای بلكه يا به معتق شريك وده ته ضمان د ده د حصې ورکوي او پر هغه دا بله حصه هم ازادېرې كه معتق غني وو، او يا به د مريي څخه طلب د سعي كوي چي په پيسو برابرولو سره ته خپله نيمه حصه زما څخه ازاده كړه، نو معتق چي مريي رانيوي هغه نقصان دده ملك ته رانقل سو نو چي ده احصه ازاده كړه نو ده پوره كامل مريي د كفارې څخه نه كي ازاد بلكه نصف كامل او نصف ناقص يي ازاد كړي، نو ځكه د كفارې څخه نه درپرې.

قال المصنف رحمه الله" وقال ابو يوسف ومحمد رحمهما الله تعالى يجزيه ان كان المعتق موسرا وان كان معسرا لم يجز" او امام ابو يوسف او امام محمد رحمه الله وايي چي د كفارې غاړي په خلاصېرې كه معتق غني وو، او كه معتق مسكين وو د كفارې غاړي يي نه په خلاصېرې، په دليل ددې چي عتق په نيز د يارانو رحمه الله تجزيه نه قبلوي، نو چي معتق نيم مريي ازاد كړي نو ټوله مريي ازاد سو نو چي معتق غني وي او د هغې نيمي تاوان وشريك ته وركړي نو ټوله مريي دده پر ملك بې نقصانه ازاد سو نو د كفاره څخه درپرې، او چي معتق مسكين وي هغه باقي حصه پر ده ازاده سوه بېله عوضه د ده د خوا ولي د هغې حيصې په ازادي كي مريي خپله سعي كوي، من، دروېش

قال" وان اعتق نصف عبده عن كفارته ثم باقية عنها جاز" او كه سړي ازاد كړي نيم مريي د كفارې څخه، وروسته يې هغه بل نيمې هم ازاد كړي د كفارې څخه روا دي، يعني زمنوږ د ائمه وو ثلاثه وو په نيز رحمه الله اما په نيز د يارانو خو لكه په مسئله سابقه كي معتق غني وي،

واما په نېز د امام اعظم رحمة الله عليه که نقصان په حصه باقيه کي راغلي خو د معتق پر ملك په سبب د اعتاق عن الكفارة راغلي، ومثل هذا لا يضر الكفارة بخلاف المسئلة السابقة فان النقصان قد حصل على ملك شريكه فافترقا، جوهره، دروبش.

قال" وان اعتق نصف عبده عن كفارته ثم جامع التى ظاهر منها لم يجز عند ابى حنيفة رحمة الله عليه" او که يي ازاد کړي مظاهر نيم مريي خپل د کفارې څخه او بيا يې جماع وکړه د هغې بنځي سره چې ده ظهار ورسره کړي وو، او وروسته يې هغه بله حصه هم ازاده کړه نه دي رواپه نېز د امام اعظم رحمة الله عليه ولي دی عتق ته تجزيه روا بو لي کما مر نو دې سړي خو نيم مريي پسله جماعو ازاد کړي او سره ددې چې عتق به بعد المسيس وي په نص د قرآن مجيد، او ياران وايي او ائمه ثلاثه رحمة الله عليه هم چې د کفارې غاړه په خلاسي سوي ولي چې ددوي تولو په مذهب کي عتق تجزيه نه قبلوي نو ده چې نيم مريي قبل المسيس ازاد کړي ګويا ګرده يي قبل المسيس ازاد کړي.

قال" فان ان لم يجد المظاهر ما يعتقه فكفارته صوم شهرين متتابعين ليس فيها شهر رمضان ولا يوم الفطر ولا يوم النحر ولا ايام التشريق" او که چېرې مظاهر نه درلودي مريي چې ازاد يي کړي، نو کفاره د ظهار دده دوې مياشتي روژې دي پرله پسې چې په هغو دوو مياشتو کي به د روژې مياشت نه وي او نه به د کوچني اختر ورځ او نه به د لوي اختر ورځ او نه به ايام د تشريق پکښې وي.

پوه سه:- چې تتابع د دوو مياشتو خو په نص سره د قرآن ثابته ده او په مياشت کي د روژې جوړ مقيم سړي ته بله روژه لکه د کفارې نه ورسره ځائېږي، او د دوو اخترو ورځي او ايام تشريق کي روژه ممنوع ده نو کامل روژه چې د کفارې ده ددغو ورځو په روژه سره نه اداکېږي، نو که مظاهر د دغو ورځو روژې په کفاره کي داخلي کړي نو تتابع د شهرينو فوت سوه، چې په نص د قرآن مشروط وه.

مسئله:- که د بنځي څخه په قصد روژه وخوړل سوه، او يا قتل خطاء ځندي سوی وو، او دې کفاره د روژو دوې مياشتي چې په هغو کي هم تتابع شرط ده نيول يي، او حيض ورغلي هغه تتابع يې تاوان نه لري ولي چې دا دوې مياشتي متتابعين د حيض خالي نه سي پيداکولای نو افطار ددې ضروري دي، الضرورات تبيح المحضورات قاعده کليه.

مسئله:- که بنځي روژې د کفارة اليمين نيولې او حيض ورغلي نو روژې به د سره راګرځوي ولي چې مده د روژو د کفارة اليمين خو لږ ده، بله حيضه هم پيدا کېږي.

مسئله:- که بنځي مثلا د کفارة الظهار روژې نيولې نو دا لنګه سوه، نو چې د نفاس شپې يي تېري سوي بهرته به روژې د سره راګرځوي، او يا په مابين کي د روژو ناجوړې سوه چې روژه يې نه سوه نيولای نو چې جوړه سي هم به روژې د سره راګرځوي، ولي چې نفاس او ناجوړې په دوو مياشتو کي نادره پېښېږي او بناء د احکامو شرعيه وو پر نوادرو نه کېږي بلکه بناء يې پر اعم اغلب ده، تبين،ودرښ.

قال القدوری رحمة الله عليه" فان جامع التى ظاهر منها فى خلال الشهرين" او که جماع وکړه مظاهرد هغه ماينې سره چې دې ته يي د

ظهار الفاظ ويلي وه، په مابين کي ددوو مياشتو روژو، په عنايه کي وايي چي د قيد د التى ظاهرا فائده داده چي که مظاهر د بلې مينې سره جماعي وکړې، نو که داسي وطي وې چي تتابع د روژو يې باطله ول لکه جماع د ورځي په قصد سره نو د سره نيول د روژو لازم دي بالاتفاق، او که داسي وطي وې چي تتابع د روژو يې د مابين څخه نه وړه لکه وطي د ورځي لکن په هېره او يا وطي د شپې که په قصد وي که په هېره، نوچونکه تتابع د روژو نه قطع کېږي نو استيناف نسته بالاتفاق.

قال" ليلاً عامداً او نهاراً ناسياً" د شپې په قصد سره او د ورځي په هېره سره، په عنايه کي وايي چي د ورځي وطي يې ولي په هېره سره مقيد کړې؟ ولي که يې د ورځي په قصد سره وطي وکړې نوروژې د سره راګرځول بالاتفاق پر مظاهر لازم دي.

پوه سه:- چي د شپې د قصد قيد اتفاقي دي، ولي چي د شپې وطي په عمد او نسيان کي فرق نه کوي ولي چي روژه نه په فاسد ډول نو تتابع نه قطع کېږي.

قال" يستانف عند ابى حنيفة ومحمد رحمهما الله" روژې به د سره راګرځوي په نېز د امام ابو حنيفه او امام محمد رحمه الله، او قاضي ابو يوسف رحمه الله وايي چي شرط د استيناف د روژو فساد د روژې دي نو که د شپې يا د ورځي ناسياً وطي وکړي استيناف لازم نه دي، وفى البحر الرائق، وحاشية الطحطاوى رحمه الله على الدر المختار، چي صحيح قول د طرفينو رحمه الله دي، ولي چي مامور به په قرآن مجيد کي روژې ددوو مياشتو پر له پسې چي د جماعو څخه به خالي وي، نو که مظاهر وطي وکړي په مابين کي د دغو دوو مياشتو نو کفاره قبل

المسيس نه سوه چي مامور به ده، او که يې د ورځي روژه ماته کړه تتابع د روژو د مابين څخه ولاړه.

قال" فان افطر يوما بعذر او بغير عذر استانف" نو که يې روژه ماته کړه يوه ورځ يعني په قصد سره که په عذر سره وي لکه چي مريض سي، او که ببله عذره وي نو روژه به د سره راګرځوي بفوات التتابع.

قال" وان الظاهر العبد لم يجز فى كفارته الاالصوم فان اعتق المولى عنه او اطعم لم يجز" او که مريي ظهار وکړي د ماينې سره، نو نه ده روا کفاره د هغه مګر روژې، ولي چي مېړه يې اهل د ملك نه دي که يې بل سړي تمليك ورته وکړي هم دى يې ملك نه ګرځي لان مايده للمولى، او که مالك دده د خوا مريي ازاد کړي او يا ډوډۍ ورکړي هم دده غاړې نه په خلاصېږي ولي چي کفاره خو عبادت دي نو فعل د بل سړي فعل دده نه ګرځي، مجمع الانهر

قال" فان لم يستطع المظاهر الصيام اطعم ستين مسكيناً او يطعم كل مسكين نصف ساع من بر او صاماً من تمر او شعير او قيمتك ذالك" او طاقت نه درلودي مظاهر د روژو نو اطعام دي ورکړي شپېتو مسکينانو ته، لقوله تعالى "فان لم يستطع فاطعام ستين مسكينا.

پوه سه:- چي لفظ د اعطاء غالباً په تمليك کي مستعملېږي، يعني چي هر مسکين ته خپله نيمه کاسه د لاسه ورکړي، او لفظ د اطعام په تمليك او اباحة دواړو کي مستعملېږي اباحت معني دا ده چي مسکينان

مېلمانه کړي او ډوډۍ ورته کښېږدي چې وېخوري، نو مصنف چې لفظ د اطعام ووايي او اعطاء لفظ يې نه ووايي اشاره يې وکړه چې په کفاره کې تمليك او اباحة دواړه روا دي، برجندي، او لفظ د مسکين يې د د دې لپاره ووايي چې غنې ته يې اطعام په کفاراتو کې که تمليکا روا دي او نه اباحة، ولي چې په قرآن مجيد کې لفظ د "ستين مسكيناً" راغلي دي.

مسئله:- که چا مال خو درلودي لکن پورونه پر باندي وه هغه هم مسکين دي کفارات ورته روا دي، بدائع، او ورکوي به هر مسکين ته نيمه کاسه يعني دوه کيلو د غنمو يا اوړه د غنمو، او يا يوه کاسه د خرما، او يا يوه کاسه د اوربشو او يا قيمت د دغو مذکوره شيانو به مسکينانو ته ورکړي، قياسا على صدقة الفطر حيث يجوز فيها دفع القيمة.

قال المصنف رحمه الله "فان غداهم وعشاهم جاز قليلاً كان ما اكلوا اوكثيراً" او که يې غرمه ډوډۍ ورکړه وشپېتو (۶۰) مسکينانو ته او مانښام يې هم ورکړه رواده که لږ تر مقدار د نيمې کاسې دوي وخوري، او که ډېره وخوري.

پوه سه:- چې په بعضو نسخو کې د قدوري داسې راغلي دي "وغشاهم" هغه نسخه غلطه ده ولې تغديه بېله تعشيه وبالعکس د کفارې په ځای کې نه دربږي، کذا فی المبسوط، او د امام اعظم رحمه الله څخه داسې روايت هم راغلي دي که يې تغديه شپېتو مسکينانو ته ورکړه، او تعشيه يې نورو شپېتو مسکينانو ته ورکړه د کفارې غاړه يې نه په خلاصېږي.

فائده:- امام شافعي رحمه الله وايي چې په کفاره کې تمليك لازم دي، او اباحة کافي نه دي، قياسا على الزكوة وصدقة الفطر، او بل دليل يې دادي چې په تمليك سره هر حاجت چې فقير لري په دفعه کېږي بخلاف الاباحة، په هدايه کې وايي چې قياس د کفارې پر زکوة او يا پر صدقة الفطر نه دي صحيح ولي چې په زکوة کې خو "اتو الزكوة" راغلي دي ايتاء تمليك ته وايي، او په صدقة الفطر کې اداء لفظ راغلي دي هغه هم تمليك ته وايي او په کفاره کې اطعام لفظ راغلي دي چې هغه عام دي اباحة او تمليك دواړو ته شامل دي بلکه ډېر استعمال يې په اباحة کې دي، آه مع زيادة.

قال" وان اطعم مسكينا واحدا ستين يوما اجزئه" او که مظاهر اطعام ورکړي يعني که تمليکا يا اباحة وي ويوه مسکين ته شپېته ورځې رواده، يعني د کفارې غاړه په خلاصېږي، دا زمونږ مذهب دي، او امام شافعي رحمه الله وايي چې ستين مسكينا په قرآن کريم کې نصاً راغلي دي، نو شپېته (۶۰) کسان لازم دي، مونږ وايو چې د مسکين د هري ورځې حاجت عليحده دي، نو دا يو مسکين په دوهمه ورځ کې لکه بل مسکين دي، نو بناء على هذا دا يو مسکين شپېته ورځې لکه شپېته مسکينان دي، نو په اعتبار ددې چې شپېته نفره منصوص دي مونږ يې دفعه ويوه مسکين ته د ټولې کفارې روا نه بولو كما سيأتي ګويا زمونږ په نېز د شپېتو مسکينانو څخه مراد عام دي که حقيقة وي شپېته وي او که حکما.

قال المصنف رحمه الله "وان اعطاه فی يوم واحد لم يجزه الا عن يومه" او که يې ورکړه ومسکين ته ټوله کفاره نه ده روا مګر د يوې

ورځي د پاره، ولي چي مظاهر خو مامور دي په رد د شپېتو وځو ولم يوجد.

قال" وان قرب التى ظاهر منها فى خلال الاطعام لم يستانف" او که مظاهر نزدېکت وکي يعني وطي يې وکړې د هغه ښځي سره چي ده ظهار کړی وو د هغې سره او دا جماعي په مابين د اطعام وې نو اطعام د سره راګرځېدل نه غواړي، ولي چي د اطعام په باره کي قرآن مطلق دي يعني "من قبل ان يتماسا" نسته پکښې.

سوال:- نو ولي مونږ اطعام قبل المسيس واجب بولو؟

جواب:- په سبب ددې چي شايد مظاهر به قادر سي پر اعتاق يا پر روژو، مجمع الانهر.

قال" ومن وجب عليه كفارتا ظهار فاعتق رقبتين لاينوى لاحدهما بينتها جاز عنهما وكذالك ان صام اربعة اشهر او اطعم مائة وعشرين مسكينا جاز" او که پر سړي واجبې سوې دوې کفارې د ظهار، يعني د دوو مامنو سره يې ظهار کړي وو، نو ده دوه مريان آزاد کړه ددغو دوو کفارو د پاره مګر نيت د تعين د مريي يې ونه کړي، يعني دا مريي د فلانی ماينې د ظهار د پاره، او دا مريي د فلانی ماينې د ظهار د پاره دي، رواډي د دواړو کفارو څخه، ولي چي جنس د کفارو يو دي نو حاجت وتعين ته نسته، پر خلاف ددې چي يوه کفاره ظهار پر لازم وي او بله کفاره د قتل خطاء پر لازمه وي او دی دوه مريان آزاد کړي او نيت د تعين ونه کړه هغه نه دي روا، ولي جنس د کفارو مختلف دي، فلا بد من نية التعين، او داغه رنګه روا دي که يې څلور

مياشتي روژې ونيولې او يا يې يوسل و شپېتو (۱۶۰) مسکينانو ته ډوډۍ ورکړه د دواړو کفارو په ځاي کي ده، والدليل مامر چي جنس د کفارو يو دي.

قال" وان اعتق رقبة واحدة عنهما او صام شهرين كان له ان يجعل ذالك عن ايتهما شاء" او که مظاهر د دوو مامنو يو مريي آزاد کړي د دواړو کفارو څخه، او يا يې دوې مياشتي روژې ونيولې يعني د دواړو څخه، نو د دواړو غاړي خو يې نه په خلاصېږي لکن دی اختيار لري چي وګرځوي دغه يوه کفاره د هري ماينې د ظهار څخه چي يې ګرځوي، او امام زفر رحمه الله وايي چي دغه کفاره د يوې څخه نه صحيح کېږي، دی وايي چي دا يوه کفاره چي پر دواړو تقسيم کړي نيمه کفاره وهري يوې ته رسېږي، ا نيمه کفاره خو باطله ده، نو يوه کفاره هم د مېړه د زيمې څخه نه ساقطېږي، دی قياس پر هغه مسئله کوي چي يو سړی يو مريي د کفاره ظهار او د په قصد روژه ماتولو په باره کي نو خو د يوې کفارې غاړي نه په خلاصېږي، مونږ وايو چي دا قياس مع الفارق دي ولي په مانحن فيه کي خو جنس يو دي، او په مقيس عليه کي خو جنس مختلف دي فلا يقاس بينهما فافهم.

ابيات متفرقه

بشنو ازني چون حكايت ميكند " از جدائيها شكايت ميكند
هر كسي كه دور ماند از اصل خويش" باز جويد روزه گار وصل خويش،

مثنوي معنوي.

احب الصالحين وليس منهم " لعل الله يرزقني صلاحا، محقق رباني

آے تھے هم مثل بلبل سير گلشن کرچلے " ديکه مالی باغ اپنا هم تو اپنے گھر چلے دنيا اور آخرت.

همت بلند دار که نزد خدا وخلق به باشد بقدر همت تو اعتبار تو، مرزا غالب.

اگر بهر سر موي دو صد هزار باشد" هنر بکار نيايد که بخت بد باشد، احوال معاصرين.

دا باران چي پر همه مځکو اوري " مشرف کي ذات د کيميا ولي، رحمان

عمر تهر سو په تقرير او په تحرير کي "خداي ﷻ به کله يادوم زه په ضمير کي عاصي

چو بينم دين احمد در غريبي " دلم سوزان از چشم خون جاري، حميد مرحوم

کتاب اللعان

دا کتاب په بيان کي د احکامو د لعان دي چي يوه شرعي مسئله ده لکن په اوسنی زمانه کي لعان دغه مسئله هيڅ وجود نه لري، يعني که سبب د وجوب د لعان لکه راچي به هم سي پيدا هم سي، لکن تر قضاء پوري خلګ نه رسوي.

پوښتنه:- په لعان کي (چي په دې کتاب کي به راسي عنقريب) چي په دې مسئله کي لعان هم سته او غضب هم سته نو ولي يې يوازي لعان په عنوان کي د کتاب ذکر کړي دي؟

ځواب:- چونکه لعان د جانبه څخه د نر دي، او شروع هم د نر څخه کېږي او غضب د جانبه څخه د ښځي دي او دهغې څخه وروسته پوښتنه کېږي نو هرشي چي په وجود کي د مخه وي په ذکر کي هم بايد د مخه سي

سوال:- دواړه به يې ذکر کړي واى؟

جواب:- چونکه ددوي دوو تر مابين تلازم وو نو يې ځکه په يوه سره اکتفاء وکړه.

پوه سه:- چي لفظ د لعان مصدر دي معنا يې ترتل او لېري کول دي، حتی چي معنا د لعنة الله علی ابی جهل مثلا " لېريوالي دي دده د رحمت عام څخه د خداي ﷻ نو ځکه پر مسلمان لعنت ويل ناروا دي. قال القدوري رحمه الله" اذا قذف الرجل امرئته بالزنا" که يو سړي خپل مايني ته ښکنځل وکړه په زنا سره، يعني نسبت د زنا يې ورته وکړی چي زنا کاره يې، مراد يې د زنا څخه په پښتو کي چي مثلا ته مرداره يې، يا رنډی يې، يا خلګو ته کوس ورکوې.

پوه سه:- چي په عوامو کي د پښتو دا الفاظ ډېر و مايني ته مستعملېږي، لکن چونکه ماينه ددې طاقت نه لري چي مرافعه وقاضي ته وکړي، نو ځکه د لعان راتلونکي مسئلې اوس نسته، لکن دا الفاظ ګناه کبېره ده نو پر سړي لازمه ده چي توبه پر وکاږي.

قال" وهما من اهل الشهادة والمرئة ممن يجد قاذفها" او مېړه او ماينه دواړه به اهل د شهادة وي يعني اداء د شهادة به يې قاضي منظوره وي، نو ځکه قذف په مابين کي د مريي مېړه او د مينځي مايني تر مابين نسته، او ښځه به داسي وي چي قاذف به يې په حد کېږي يعني چي بېګانه سړی مذکوره الفاظ ودې ته ووايې.

تفريع:- که يو سړي ښځه په نکاح فاسد سره په نکاح کړې وه او دخول او وطي يې ورسره کړي وې وروسته يې مذکوره الفاظ ورته وويل قذف تر مابين نسته، او يا يو سړي کونډه ښځه په نکاح کړې وي او د هغې

سرهٔ زوي يا لور مجهول النسب ورسره وي نو د هغو تر مابين هم لعان نسته، حاصل عنايه.

مسئله:- وجوب د لعان پر مېړه موقوف دي پر مطالبه د ماينې، ولي چې دا نسبت د زنا ودې ته پېغور او رنګ بدتيا ددې ده نو دفعه يې پر مطالبه د دې موقوفه ده کما سيئاتی، نو ځکه دروېش وويل چې په پښتنو کې رواج د قذف پاته دي.

قال" او نفی نسب ولدها" يا يې نفي کړی نسب د عيال د ماينې د خپله ځانه څخه، يا يې داسي ورته وويل چې دا ستا عيال ولد الزنا دي چې په پښتو کې يې ارمني بولي، او يا يې داسي ورته وويل چې دا ستا عيال زما څخه نه دي، ولي ده چې نفي د ولد ددې د ځان څخه وکړي نو قاذف سو ودې ته، او قذف سبب د لعان دي.

پوښتنه:- په نفي سره د ولد د ځان څخه خو دي قاذف بالزنا وماينې ته نه دي، ولي چې احتمال ددې سته چې دا ولد دي د بل چا وي، او دا دي زانيه نه وي لکه دا چې په شبه د ماينې بل چا وطي کړې وي؟

جواب:- دا احتمال خلاف المتبادر دي، ولي چې فقهاء رحمۃ اللہ علیہ په اجماع سره وايي، چې که يو سړي وبل ته وويل چې ته د خپل پلار زوي نه يې، نو دی قاذف دي مع ان الاحتمال المذکور موجود فيه ايضاً.

پوښته:- چې په بنايه کې وايې چې د غه نفي د ولد به د مخه تر اقرار په ولديت سره وکړي او داغه رنګه د مخه تر مبارکی ورکولو نو د خلګو او دده د خوا قبلولو چې دا قبول د مبارکيو په حکم کې د اقرار بالنسب دي، ولي چې په دې دوو صورتو کې خبره دده يعني د ولد د ځان څخه نفي کول قذف موجب د لعان دي.

قال" وطالبته المرئة بموجب القذف فعليه اللعان" او چې طلب کې ښځې د حکم د قذف چې حد دي نو پر مېړه لعان لازم دي.

پوه سه:- چې طلب د ښځې ددې لپار غواړي چې دا خو حق ددې چې پېغور د زنا د ځانه دفع کړي، نو چې دا يې طلب نه کوي نو پر مېړه لعان نسته، ط.

مسئله:- طلب د ښځې مشروط په دې دي چې په مجلس کې به د قاضي وي، بحر، بدائع.

مسئله:- فوراً طلب ددې شرط نه دي او ددې په سکوت سره ددې حق نه باطلېږي که څه دراز مده ساکته وي ولي چې ډېره مده تېرېده سره حد قذف او قصاص نه باطلوي، اس، منح.

قال" فان امتنع حبسه الحاکم حتی یلاعن او یکذب نفسه فیحد" او که چېرې مېړه وويله چې زه لعان نه کوم نو حاکم دې بندي کړي تر هغو چې يا لعان ته اماده کېږي، او يا ووايي چې ما پر ماينې درواغ ويله، نو که يې داسي اقرار وکړي نو قاضي دي ده ته حد قذف ورکړي، دليل د جبس دادي چې دا لعان د ښځې د خوا پر ده حق مستحق دي او دی يې هم پر دفعه قادر دي، نو تر هغو به بندي وي چې يا د ښځې د حق غاړه په لعان باسي او يا وحد قذف ته تيارېږي په اقرار د درواغو، حاصل جوهره.

قال القدوري رحمۃ اللہ علیہ" فان لاعن وجب علیها اللعان فان امتنعت حبسها الحاکم حتی تلاعن او تصدقه فتحد"

او که مېړه کلمات د لعان چي ژر به راسي ان شاء الله وويلي، نو بيا واجب ده پر ښځه کلمات د لعان او که دې منع وکړه د لعان څخه حاکم دي دا بندي کړي ولي چي پر دې باندي د مېړه حق باندي سو تر هغو دي دا بندي وي چي يا دا لعان کوي، او يا ووايي چي زمامېړه رشتيا ويل يعني ما زنا کړې ده، نو به دې ته حد ورکړه سي يعني حد د زنا.

قال" وان كان الزوج عبداً او كافراً او محدوداً فى قذف فقذف امرئته فعليه الحد" او که مېړه کافر وو، صورت يې دادي چي مېړه او ماينه دواړه کافران وه او ښځي اسلام راوړي، او مېړه ودې ته قذف وکړي يعني نسبت د زنا، د مخه تر دې چي پر ده اسلام عرضېږي، عنايه، نو پر مېړه يې حد قذف لازم دي يعنيلعان نسته، ولي چي کافر اهل د لعان نه دي چي اهل د شهادت نه دي نو موجب اصلي د قذف دي پر ده جاري سي چي حد دي، او داغه رنګه چي مېړه يې مريي وي نوچونکه اهل د شهادت نه دي نو د لعان اهل هم نه دي نو اصلي حکم د قذف چي حد دي لګيږي، او يا داغه مېړه ته يو وار دمخه حد قذف ورکړه سوي وي نو چونکه دى اهل د شهادت نه دي ولي چي د محدودين فى القذف په باره کي خداي ﷻ وايې "ولاتقبلوا لهم شهادة ابداً" نو اهل د شهادت نه دي چي په لعان کي شرط دي نو حکم اصلي د قذف چي حد دي پر ده دي جاري سي، والله اعلم بالصواب، دروېش.

قال القدوري رحمه الله" وان كان الزوج من اهل الشهادة وهى امة او كافرة او محدودة فى قذف او كانت ممن لايحد قاذفها فلا حد عليه فى قذفهاولالعان" او که مېړه اهل د

شهادت وو يعني مسلمان وو او مريي نه وو او محدود فى القذف هم نه وو لکن ماينه يې مينځه وه چي اهل د شهادت نه وه او يا کافره وه يعني د اهل کتاب څخه او يا ښځه محدود فى القذف ګرځېدلې وه د مخه او يا ښځه داسي وه چي ددي قاذف په حد نه کېدي يعني يا کوچنۍ وه يا لېونۍ وه او يا مشهوره زانيه وه، نو پر مېړه نه حد سته نه لعان په قذف د مذکوره ښځو.

پوه سه:- حد چي نه سي کيداى پر مېړه په دې سبب چي اصلي حکم د قذف د مېړه په خوا لعان وو زمونږ په نېز نو حد ته هلته تک کېږي چي لعان دده د خوا متعذر وي او په مذکوره مسئلو کي خو دده د خوا حد متعذر نه دي ولي چي دى اهل د شهادت دي، او لعان چي پر ده نسته ددې سببه چي جواب د لعان دده بايد ښځه هم په لعان ورکولاى سي او په مانحن فيه من المسائل کي خو ښځه اهل د لعان نه ده کذا فى الهدايه، په مجمع الانهر کي وايي چي قاضي دى دغه قاذف مېړه ته تعذير ورکړي ولي پر دغي ماينې يې عيب ووايې او ددې رنګ، يې وربد کړي.

قال" وصفة اللعان ان يبتدى القاضى بالزوج" ولي نص قرآني هم ابتداء په زوج کړې ده او په فعل د ﷺ هم ابتداء په زوج سره وه.

فيشهد اربع مرات يقول فى كل مرة اشهد بالله انى من الصادقين فيما رميتها من الزنا ثم يقول فى الخامسة لعنة الله عليه ان كان من الكاذبين فيما رما ها به من الزنا يشير اليها فى جميع ذالک" او د لعان صفت او بيان دا دي چي قاضي دي

شروع وکړي په مېړه سره نو دی به د قاضي په مخ کي څلور واره شاهدي اداء کوي، او دی به وايي په هره پلا کي زه شاهدي ادء کوم چي په تحقيق زه د رشتيا ويونکو څخه يم په هغه خبره کي چي ما يې نسبت کړي ودې ته چي زنا ده، او وروسته پنځم وار به داسي وايي لعنت خدايﷻ دي وي پرده که به دي وي د درواغ ويونکو څخه په هغه خبره کي چي ما ودې ته کړې ده يعني زنا، او په هر وار کي به دی وخپلي ماينې ته اشاره کوي تا چي دا احتمال دفع سي چي دده په قصد او په زړه کي بله ښځه وي.

مسئله:- نر چي د لعان کلمې وايي په ولاړه به يې وايي، او ښځه به يې هم په ولاړه وايي، او امام کرخي رحمۃ اللہ علیہ وايي چي ولاړه شرط د لعان نه ده بلکه صرف د پاره د شهرت او د بل چا د عبرت د پاره په ولاړه به يې وايي.

قال" ثم تشهد المرئة اربع شهادات تقول فی کل مرة اشهد بالله انه لمن الکاذبین فیما رمانی به من الزنا وتقول فی الخامسة ان غضب الله علیها ان کان من الصادقین علیها فیمارمانی به من الزنا" او بيا دي ښځه څلور واره شاهدي اداى کړي او په هر وار کي به داسي وايې زه شاهدي د خداي ﷻ د پاره اداى کوم دغه زما مېړه د درواغ ويونکو څخه دي په هغه شي چي ده يې ماته نسبت کړي دي د زنا څخه، او پنځم وار به وايي چي غضب د خداي ﷻ دي وي پردې که به دی د صادقانو څخه وي په نصبت کي د زنا وما ته.

فائده:- په هر وار به دا هم اشاره کوي ومېړه ته کما مر.

پوه سه:- چي د نر تر څلورو شاهدیو وروسته لعنت الله ویل، او د ښځي د څلورو شاهدیو وروسته غضب الله ویل آه، وجه يې داده چي د ښځو په خلو کي د لعنت لفظ ډېر رائج دي نو دوي په هغه باق نه کوي، او د نرو په خلو کي د غضب لفظ ډېر رواج لري، لکه يو چا ته چي درد ورسي نو دی ورته وايې چي د خداي ﷻ په غضب اخته سي لکن اعتبار اکثر اغلب لره دي، نو دا سوال نه واردېږي چي بعض خره امیان لفظ د لعنت ډېر وايې.

قال القدروي رحمۃ اللہ علیہ" واذا التعنا فرق القاضی بینهما" چي مېړه او ماينې د لعان الفاظ سره استعمال کړه نو قاضي دي دوي سره جلا کړي.

فائده:- امام زفر رحمۃ اللہ علیہ وايي چي فرقت په لعان ويلو سره د دواړو واقع کېږي يعني د قاضي تفريق ته ضرورت نسته" وهو المشهور من مذهب مالك رحمۃ اللہ علیہ او دا مذهب د امام احمد رحمۃ اللہ علیہ او د ابن عباس ﷺ هم دي، او امام شافعي رحمۃ اللہ علیہ وايي چي د نر په لعان سره فرقت واقع کېږي ولي چي نر څلور واره پر ماينې شاهدي اداء کړه په زنا سره او بيا يې لعنت پر خپل ځان هم ووايې نو عقل سليم دا وايې چي ددوي تر مابين الفت وروسته نه دي ممکن نو په بقاء کي د نکاح فائده نسته او پر دې دليل دا سوال واردېږي چي بايد چي لعان ته د ماينې ضرورت نه وي، الاان يقال انه لمراعات ظاهر النص، او زمونږ دليل هغه حديث دي چي بخاري او مسلم يې روايت کړي دي چي ابن عمر ﷺ يې روايت کړي دي، چي يو سړي د ماينې لعان وکړي يعني په عصر نبوي ﷺ کي، ففرق

النبی ﷺ، او داسي په هيڅ روايت کي نه دي راغلي چي آنحضرت ﷺ وروسته تر لعان د نر سم دستي حکم د تفريق صادر کړي دي، کمال، جوهر، در.

قال" وكانت الفرقة تطليقة بائنة عند ابى حنيفة ومحمد رحمهما الله وقال ابو يوسف رحمه الله يكون تحريما مؤبدا"

او دا جلا کول د قاضي دوي لره طلاق بائن دي په نېز د امام اعظم رحمه الله او محمد رحمه الله او امام ابو يوسف رحمه الله وايي چي دوي دوه د ابد د پاره سره حرام سوه يعني پس د عدت نکاح جديد هم نسي ورسره کولای، دليل د قول د ابو يوسف رحمه الله هغه حديث دي چي عليه الصلوة والسلام وويله، المتلاعيان لا يجتمعان ابدا والى هذا الحديث ذهب زفر رحمه الله والحسن البصري رحمه الله.

الجواب:- چي معنا د حديث مذكور داده چي متلاعنان چي پر صفت او حال د داغه تلاعن باقي وي نو نسي سره يو ځاي کيدلای، يعني پس له تلاعنه هم نر ښځه زانيه بولي او ښځه دی درواغ جن بولي، او د طرفينو رحمه الله دليل دادي چي دا فرقت د مېړه د خوا پر نکاح عرضي پېښ سو يعني چي مېړه وماينې ته وويل چي ته زنا کړې ده، نو دا فرقت عارضي پر نکاح داسي دي لکه چي ميړه ماينې ته ووايې، انت طالق" او د بائن والي وجه يې داده چي هر تفريق چي قاضي يې وکړي هغه طلاق بائن دي، كما تقرر فى كتب الفقه.

قال" وان كان القذف بولد نفى القاضي نسبه والحقه بامه"

او که چېرې وو قذف د مېړه په نفي سره د ولد د ماينې د ځانه ځخه يعني داسي يې ورته وويل چي دغه عيال دي زما ځخه نه دي، نو قاضي دي نفي کړي نسب د هغه ددغه لار ځخه او د پلانۍ ښځي د عيال په

نامه دي يې خلګو ته معرفي کړي، ولي د مېړه غرض خو هم داغه وو چي دغه ولد د ځانه ځخه نفي کړي حتی چي لعان ته يې ځان وسپاره نو قاضي پسله لعان دده دا غرض تسليم کړي، او بل دليل دادي چي په حديث کي د ابن عباس رضي الله عنه داسي راغلي دي چي ﷺ تفريق وکړی په مابين کي د هلال بن اميه او دده د ماينې پس له لعان ځخه او حکم يې وکړي چي اوس نو ولد د ښځي دي.

قال القدوري رحمه الله" فان عاد الزوج و اكذب نفسه، يعني وروسته تر لعان؛ حده القاضى" ولي ده اقرار وکړي پر وجوب د قذف پر ده، وحل له ان يتزوجها" او که مېړه راوګرځېدي د نسبت ځخه د زنا چي ده ماينې ته کړی، او خپل ځان يې په هغه نسبت کي درواغجن کړي قاضي دي دی په حد کړي، او روا ده هغه ملاعن مېړه ته چي نوې نکاح وکړي د هغې قبلي ماينې سره ولي چي حکم د لعان چي عدم جواز د نکاح وو پورته سو په تکذيب سره دده د خپل ځان.

مسئله:- که ماينې وروسته تر لعان تصديق د ميړه وکړي په نسبت کي د زنا ودې ته يعني ويويل چي زما مېړه رشتيا ويل ما زنا کړې وه، قاضي به دا په حد کړي ولي چي اقرار په موجب د حد زنا يې وکړي، او بېرته يې نکاح سره روا ده، په جواز کي د نکاح په دواړو صورتو کي امام ابو يوسف رحمه الله او امام زفر رحمه الله او ائمه ثلاثه سره مخالف دي هغه وايي ابدا يې نکاح نه ده سره روا وقد مر دليله وجوابه عنقريب.

قال" وكذالك، يعني نکاح يې سره روا ده، وان قذف غيرها فحد به" او داغه رنګه حکم دي که سړي بېګانه ښځي ته قذف يعني

نسبت د زنا وکړي او ده ته حد قذف ورکړه سو، بيا ده تکذيب د خپل ځان وکړي لکن پر دغه سړي حد قذف نسته للتداخل بين الحدين.

او زنت فحدت" صورت ددې مسئلې دادي چې سړي وخپلې مايني ته قذف د زنا وکړي نو د مخه تر لعان دې ښځي د بل سړي سره زنا وکړه، نو يا په اقرار د دې او يا په شاهدانو دې ته حد زنا ورکړه سوه نو هغه د مخه مېړه ته د دې نکاح رواده ولي چې د لعان حکم د دې د خوا مات سو ولي دا پسله زنا اهل د شاهدي نه ده نو اهل د لعان هم نه ده کما مر.

سوال:- چې ښځي اقرار په زنا وکړي يا په شاهدانو ثابته سي، او حال دادي چې ښځه خو مېړه داره ده حد خو د دې رجم دي، بيا څنګه حکم د روا او ناروا جاري کېږي؟

ځواب:- دادي چې معنا د حددت جلدت دي صورت د مسئلې دادي چې لعان بعد النکاح قبل الدخول بيا دا ښځي زنا وکړي نو حد د ښځي په دغه صفت سره دره وهل دي نه رجم، ولي دا محصنه نه ده او د شروط څخه د احصان، الدخول بعد النکاح الصحيح ولم يوجد فی، عنايه.

قال" وان قذف امرئته وهی صغيرة او مجنونة فلا لعان بينهما ولاحد" او که يو سړي قذف وکړي وماينې ته چې هغه بالغه نه وه،اويا ليونۍ وه نولعان ترمابين ددوي نسته اونه پرمېړه حد قذف سته، په هدايه کي وايې چې د لعان شرط خو دادي چې دا ښځه يعني ماينه د سړي به داسي ښځه وي که بېګانه سړی ودې ته قذف وکړي هغه په حد کېږي، او سره ددې چې صغېړې يا ليونۍ ته بېګانه قاذف خو نه په حد کېږي، نو د مېړه څخه يې حکم د لعان هم پورته سو ولي چې لعان

خو د مېړه په باره کي قائم مقام د حد قذف دي، وکذا لو کان الزوج صغيرا او مجنونا آه، هدايه.

قال القدوري رحمه الله" وقذف الاخرس لا يتعلق به للعان" او د ګونګي نسبت د ماينې وزنا ته يعني په اشاره سره تعلق د لعان بينهما نه لاړموي، ولي چې لعان خو لکه حد قذف په صريح الفاظو سره تعلق لري ولي چې په اشاراتو کي د ګونګي شبه سته والحدود تندرئ بالشبهات، وفيه خلاف الشافعي رحمه الله، هدايه.

قال" واذا قال الزوج هذا الحمل ليس منی فلا لعان" او که مېړه وويل وماينې ته چې دغه ستا موجوده حمل زما نه دي نو لعان نسته.

پوه سه:- چې دا مذهب د ابي حنيفه رحمه الله او زفر رحمه الله دي، ولي دا متعين نه ده چې حمل سته او که يې داغسي نس پرسېدلي دي، فلا يصر قاذفا بالشك، او ياران وايې که دغه ښځه تر شپږ مياشتي کم لنګه سوه نو دی قاذف دي لعان به کوي للتيقن بوجود الحمل عند ما قال ذالك، او که پر شپږ مياشتي يا بالالنګه سوه بيا لعان نسته، لعدم التيقن بالحمل عند قول الزوج، د امام اعظم رحمه الله د خوا جواب دادي چې مېړه چې فی الحال قاذف دي نو دده قذف ګويا په شرط سره متعلق سو، ګويا مېړه داسي ورته وويل چې که به ستا حمل موجود وي هغه زما څخه نه دي او سره ددې چې تعليق د قذف په شرط پوري نه دي روا

قال" وان قال زنيت وهذا الحمل من الزنا تلاعنا" او که مېړه ماينې ته داسي وويل چې تا زنا کړې ده او دا موجوده عمل په تاکي د

زنا څخه دي نو به لعان سره کوي، ولي دي د زنيت په ويلو قاذف دي او وروسته خبره خو دده د پاره د نفي د ولد د ځان څخه ده.

قال" ولم ينف القاضي الحمل منه" او قاضي دي نه نفي کوي حمل د مېړه څخه، ولي چې د حمل حال خو معلوم نه دي چې وي به او که نه.

قال" واذا نفى الرجل ولد امرئته عقب الولادة او فى الحال التى تقبل التهنية فيها وتبتاع آلة الولادة فيها صح نفيه ولاعن به" يعني نسب يې دده څخه نه ثابتېږي، او د مايني سره به لعان کوي، او که نفي کي مېړه ولد د مايني دده وروسته تر ولادته او يا په هغه حال کي چې خلګو به وده ته مبارك باد ويلای، او رانيول کيدل به اسباب د ولادة لکه زانګو سيزنې د کوچني د پېچلو شيان او يا د هغه د اوارېدو شيان، نفي يې صحيح دي او لعان به هم کوي ولي چې ده نفي د ځان څخه وکړه نو دی قاذف سو مايني ته په زنا سره.

قال" وان نفاه بعد ذالك لاعن ويثبت النسب" او که يې نفي د ولد وکړه او وروسته تر قبول د مبارك باد د خلګو او تر رانيولو د اسبابو د ولادت د لعان خو به د مايني سره کوي ولي خو په نفي سره د ولد لره نسبت د زنا وښځي ته موجود سو نو دی قاذف سو نو مقتضی د قذف د مايني چې لعان دي پر ځاي کوي به يې، او نسب يې په دې ثابت دي چې ده مبارك باد د خلګو قبول کړي او نور هم د نسب قبلولو کارونه يې وکړه کمامر.

قال" وقال ابو يوسف ومحمد رحمهما الله تعالى يصح نفيه فى مدة النفاس" او امام ابو يوسف او امام محمد رحمهما الله وايي چې نفي د ولد په ټوله مده کي د نفاس صحيح دي، او امام شافعي رحمه الله وايي که يې بالفور نه کي نفي نسب يې ثابت دي، او په بل قول کي دده رحمه الله تر درو ورځو پوري نفی صحيح دده وروسته تر درو ورځو نسبت ثابت دي، د ټولو مذهبو دلائل په شروح مفصله وو کي د قدوري دي مطالعه سي.

قال" وان ولدت ولدين فى بطن واحد"

پوه سه:- چې بطن واحد دا بولي چې ددې دوو د ځېږېدو تر مابين کم تر شپږ مياشتي وي.

فنفى الاول واعترف بالثانى ثبت نسبهما وحد الزوج" که ښځي وځېږول دوه کوجنيان په يوه نس چې په پنډ تو يې غبرګولیان بولي، نو مېړه ددې اول نفي وکړه يعني دا زما عيال نه دي، او اقرار يې وکړی په ثاني سره يعني چې زما د ابو څخه دي، نو نسب خو د دواړو ثابت سو دده څخه ولي چې غبرګولیان خو د يوه سړي د ابو څخه پيدا کېږي، چې ده دوهم ومنی چې زما دي نو اول هم دده دي او مېړه ته دي يمين د قذف ورکړي قاضي، ولي په نفي د اول خو دي قاذف سو او په اقرار د دوهم ده ځان قاذف کړي نو حد قذف پر لازم دي.

وان اعترف بالاول ونفى الثانى ثبت نسبهما ولاعن" او که ده اقرار وکړي په اول سره چې زما ولد دي او دوهم يې نفي کړي نسب خو ددواړو ثابت سو لما مر چې غبرګولیان خو د يوه سړي د اوبو څخه پيدا کېږي او په نفي د ثاني دی قاذف سو نو د مايني سره به لعان کوي.

کتاب العدة

دا کتاب دي په بيان کي د عدې د ښځي چي مختلف اقسام لري چونکه عده د مېړه او ماينې د جلاوالي په ټولو صورتو کي که طلاق وي او که موت د مېړه موجوده وه، نو ځکه مصنف رحمه الله تر طلاق او ظهار او ايلاء او لعان وروسته راوړه.

پوه سه:- چي عدت پر دري قسمه دي، ګاهي په حيضو وي، او ګاهي په مياشتو وي، او ګاهي په وضع الحمل سره وي چي دا دري سره اقسام به په دې باب کي راسي ان شاء الله.

فائده:- عده په لغت کي شمېرلو ته وايې، نو چونکه په عده شرعيه کي شمېرل د حيضو يا د مياشتو وغيره سته نو ځکه د عدت په نامه مسمی سوه، او په شريعت کي هغه مدت چي شرعا مقرر سوي د پاره د پېژندلو د رحم د ښځي چي خالي دی د اولاد ځخه او دا په اعتبار د اصل وضع فلايرد سوال بالصغيرة ولآيسة.

قال القدوري رحمه الله" واذا طلق الرجل امرئته طلاقا بائنا او رجعيا او وقعت الفرقة بينهما بغير طلاق" که طلاقه کړه سړي ماينه خپله په طلاق بائن سره او يا په طلاق رجعي سره لکه د مخه چي تېره سوه او يا جلاوالي د دوي تر مابين بې طلاقه راغلي لکه ماينه چي مدخول بها وي او وروسته دا د بونځي سره وطي وکړي نو پر مېړه ببله طلاقه حرامه سوه.

قال" وهی حرة ممن تحيض فعدتها ثلثة اقراء" او دا ښځه حره وي نو که مسلمانه وي او که کتابيه وي، د حري قيد ددې لاره دي چې د

مينځې ماينې عدت دوه حيضه دي، او دې ښځې ته حيض ورځي، اعتراض دي د صغيرې او آيسې ځخه نو عدت ددوې دري اقراء ده.

والاقراء الحيض" او اقراء حيضو ته وايې زمونږ په مذهب، او بعض فقهاء رحمهم الله د نورو مذهبو وايې چي عده ددغه ښځي دري طهره ده، ودلائل المذاهب والجواب عنها فی الشروح المطولة.

قال" وان كانت لاتحيض من صغر او كبر فعدتها ثلثة اشهر" او که ښځې ته حيض نه ورتلي په سبب د کوچنيوالي او يا د کلان سالۍ په سبب چي آيسه يې بولي نو عده ددې دري مياشتي ده چي، قال الله تعالى "والائی يئسن من الحيض من نسائكم ان ارتبتم فعدتهن ثلثة اشهر.

قال" وان كانت حاملا فعدتها ان تضع حملها" او که چېرې دا مطلقه ښځه حامله وه نو عده ددې دا ده چي حمل کښېږدي يعني لنګه سي حتی که څه هم لږ وخت تر طلاق وروسته لنګه سي ، لقوله تعالى" واولات الاحمال ان يضعن حملهن" او هغه ښځي چي درلودونکي وي د حمل عده يې دا چي حمل کښېږدي.

وان كانت امة فعدتها حيضتان وان كانت لاتحيض فعدتها شهر ونصف" ولي چي مياشت خو تنصيف قبلوي، او که چېرې دا مطلقه ښځه مينځه وه نو عده ددې دوه حيضه دي دا په سبب د دې چي حيض خو نه نيمی کېږي، ورنه بايد عده ددې بايد پر نصف د عدې د حري وايې يعني يو نيم حيض، قال عليه الصلوٰة والسلام طلاق الامة تطليقتان وعدتها حيضتان" يعني هغه طلاق چي مينځه مغلظه په

طلاقېږي دوه طلاقه دي لکه د حري چې دري دي ولي طلاق هم تنصيف نه قبلوي.

قال" واذا مات الرجل من امرئته الحرة فعدتها اربعة اشهر وعشرة ايام" او که مړ سو سړی د خپلي ماينې څخه يعني دی مړ سو ماينه يې پاته سوه نو عده د ماينې څلور مياشتي او لس ورځي ده.

وان كانت امة فعدتها شهران وخمسة ايام" او که چېرې مېړه مړ سو او ماينه يې مينځه وه د بل چا نو عده يې دوې مياشتي او پنځه ورځ ي ده، خداي پاك ﷻ په قدآن مبارك كي وايې "والذين يتوفون منكم ويذرون ازواجا يتربصن بانفسهن اربعة اشهر وعشرا" او هغه کسان چې وفات سي د تاسي څخه او پرېږدي ماينې نو دوي به انتظار کوي څلور مياشتي او لس ورځي يعني بل مېړه به نه کوي.

پوه سه:- چې په دغه عده کي مدخول بها او غير مدخول بها ماينه سره برابر دي، ولي آيت شريف مطلق دي د مدخول بها او غير مدخول بها فرق يې نه دي کړي، لکه صرف يې د مېړه مرګ سبب ددغې عدې ګرځولي دي.

فائده:- په مذکوره احکامو کي د عدې مينځه او مکاتبه او مدبره سره برابر دي،

قال القدوري رحمه الله" واذا ورثت المطلقة فى المرض، اي مرض الموت، فعدتها ابعد الاجلين عند ابى حنيفة ومحمد رحمهما الله" او که ميراث يوړي هغې ماينې چې مېړه طلاق ورکړي وو

په مرض موت کي نو عده ددې هغه لېږي مده د دوو عدو چې يوه عده دري حيضه ده او بله عده څلور مياشتي او لس ورځي ده.

سوال:- څلور مياشتي او لس ورځي خو تر دروو حيضو معلوم داره لېږي مده ده ولي چې ښځي ته په هره مياشت کي يو وار حيض ورځي نو خو په دري مياشتي کي دري حيضه پوره کېږي ما معنى ابعد الاجلين؟

جواب:- دا لازمه نه ده چې هري ښځي ته به په مياشت کي حيض ورځي ولي بعض ښځي ممتدة الطهره وي، دوې دري بلکه بالاتر هغه پاکي ګرځي وروسته بيا حيض ورځي، نو په داسي ښځه کي ابعد الاجلين دري حيضه دي کما لايخفى.

فائده:- بعض مړونه د ماينو څخه يې بد راځي نو چې دی په مرض الموت ناجوړی سي دده په خيال نو ماينې ته طلاق ورکړي فراراً عن ميراثها، ودې ښځي ته امرئة الفار وايې، نو ددې ښځي په باره کي د شريعت پاك فيصله داده چې دا په عده کي وي او مېړه يې مړ سي نو دا ميراث ورلاى سي په اتفاق زمونږ د مذهب د امامانو رح، خو طلاق يې يو بائن ورکړي وي او يا دري طلاقه لکن په عده کي اختلاف سته مذهب د امام اعظم رحمه الله خو هغه دي چې په متن کي ذکر سو، او امام محمد رحمه الله هم د امام اعظم رحمه الله سره متفق دي،او امام ابو يوسف رحمه الله وايې چې عده ددې ښځي دري حيضه ده، دی وايې چې د عدې لزوم خو پر دې په سبب د طلاق دي، وقد مر ان عدة طلاق ذات الحيض ثلث حيض، او په ميراث کي دې ته برخه ورکول خو په سبب ددې دي چې مېړه يې متهم دي چې په طلاق سره دی ددې د ميراث څخه تښتي نو دا په عدې پوري څه کار لري، او امام اعظم رحمه الله او امام محمد رحمه الله وايې

چي دغه ښځه چي طلاقه سوه په حال کي د مرض الموت په حکم کي د هغي ښځي وګرځيده چي مېړه ځندي مړ سي بيله طلاقه په باره کي د ميراث نو په باب کي د عدې په طريق اولی لکه هغه ښځه ده ولي چي ميراث په شك سره نه ثابتېږي او عده خو احتياطا ثابتېږي نو چونکه دغه ښځه ذات الوجهين ده يعني هم مطلقه ده او هم متوفی عنها زوجها ده نو احتياطا دي د ابعد الاجلين عده تېره کړي.

قال المصنف رحمه الله "وان اعتقت الامة فی عدتها من طلاق رجعی انتقلت عدتها الی عدة الحرائر" او که آزاده سوه د مالك د خوا مينځه چي ماينه د يو چا وي په عده کي د طلاق رجعي نقل کيږي عده ددي وعدې ته د حرو ښځو، په دې سبب چي ملك د مېړه په دې کي قائم دي من کل وجه.

قال "وان اعتقت وهی مبتوتة او متوفی عنها زوجها لم تنتقل عدتها الی عدة الحرائر" او که مينځه ماينه د سړي ازاده کړه سوه او دا په عده کي وه د طلاق بتي يعني قطعي طلاق چي يا يو بائن طلاق دي او يا دري طلاقه دي او د عدې په ورځو کي مېړه مړ سو نو نه نقل کېږي عده ددې وعدې ته د حرو ښځو ولي چي ملك نکاح ددې ښځي خو زائل سوي دي په طلاق بائن سره، او يا دمېړه په مرګ سره.

قال "وان كانت آيسة فاعتدت بالشهور ثم رئت الدم انتقض ما مضی من عدتها وكان عليها ان تستانف العدة بالحيض" او که ښځه يعني مطلقه نااميده وه د حيض څخه نو دې عده په مياشتو تېرولې، نو عده د مياشتو يې لاته وه پوره چي دې وينې وليدلې يعني د

حيض نو ماته سوه هغه عده د مياشتو ددې او پر دې لازمه ده چي عده په د سره راګرځوي په حيض سره.

قال" والمنكوحة نكاحا فاسدا والموطوئة بشبهة عدتهما الحيض فی الفرقة والموت" او هغه ښځه چي په نکاح فاسده سره په نکاح سوي وي، لکه نکاح بېله شاهدانو، يا د يوې خور په عده کي د هغې د بلي خور سره نکاح کول، او يا نکاح کول د پينځمي ماينې په عده کي د څلورمي ماينې، او يا وطي سوې وي په شبه سره لکه ښځي چي ورولي ښځه وغير ته د مېړه هغه يې وطي کړي په دې شبه دي چي واى زما ماينه ده، عده ددواړو په حيض سره ده که يې طلاقه کړي او که يې مېړه مړسي.

پوه سه:- چي د موت په صورت کي هلته پر دې عده د حيض سته چي هغه مړ مېړه ددې سره وطي کړي وي او که يې وطي نه وې ورسره کړي نو بيا هيڅ عده نسته، جوهره، بنايه، در.

سوال:- عده د موت خو څلور مياشتي او لس ورځي ده نو ولي دلته عده په حيض سره ده؟

جواب:- عده مذکوره د موت خو د پاره د حرمت د نکاح او احترام د نعمت د نکاح وه چي په مرګ سره زائله سوه، او نکاح فاسده او وطي بالشبه خو هيڅ احترام نه لري صرف دا عده د پاره د طلب د پاکي د رحم د ښځي ده د ولد څخه نو موت او فرقت دواړه پکښې برابر دي.

فائده:- د استبراء رحم د پاره يو حيض کافي دي ولي که دا ښځه حامله واى حيض نه ورتلي.

قال" واذا مات مولى ام الولد عنها او اعتقها فعدتها ثلث حيض" او كه مړ سو بادار د هغي مينځي څخه چې د بادار څخه لنګه سوې وه، او يا دغه ام ولد بادار ازاده کړه نو عده ددې په دواړو صورتو کې درې حيضه دي ولي ددې نعمت د فراش د بادار څخه زائل سو نو مشابه د عدة النكاح سره ده، قال صاحب الهداية ثم امامنا فيه عمر ﷺ فانه قال عدة ام لولد ثلث حيض.

قال المصنف رحمه الله" واذا مات الصغير عن امرئته وبها حبل فعدتها ان تضع حملها فان حدث الحبل بعد الموت فعدتها اربعة اشهر وعشرة ايام" او كه چېرې مړ سو کوچنی د ماينې څخه يعني ماينه يې پاته سوه او ماينه يې حمل داره وه نو عده يې داده چې لنګه سي، دا مذهب د امام اعظم رحمه الله دي او امام محمد رحمه الله په دليل ددې قول د خداي تعالى ﷻ "واولات الاحمال اجلهن ان يضعن حملهن" او امام ابو يوسف رحمه الله وايې چې عده يې څلور مياشتي او لس ورځې ده ولي دا حمل خو د ثابت النسب کوچني څخه نه دي ولي چې کوچني اهل د احبال نه دي، او كه چېرې وروسته تر مړګ د کوچني حمل پيدا سو نو عده ددغې ښځې څلور مياشتي او لس ورځې ده، ولي دا حمل خو يقينا عند الموت نه وو نو عده د وضع الحمل پر دې نسته بلکه عده د ميړه د مړګ پر دې سته.

قال" واذا طلق الرجل امرئته فى حالة الحيض لم تعتد بالحيضة التى وقع فيها الطلاق" او كه يو سړي طلاقه کړه ماينه په حيض کې نو اعتبار نسته دغه حيض لره چې په هغه کې طلاق واقع

سوي دي يعني دا حيض په عده کې نه شمېرل کېږي ولي طلاق خو درې حيضه کامل غواړي په نص د قرآن، ددې موجوده حيض خو څه وخت نهرسوي دي نو کامل حيض نه دي.

قال المصنف رحمه الله" واذا وطئت المعتدة بشبهة" پوه سه:- چې مراد عدة د طلاق بائن ده ولي چې که طلاق رجعي وو خو دغه وطي رجوع ده او مراد د شبهې څخه دادي چې مېړه ووايې چې زما خيال دا وو چې ددې وطي ماته روا دي، يعني که وطي کړه سوه ښځه چې په عده کې د طلاق وه.

فعليها عدة اخرىٰ وتداخلت العدتان فيكون ماتراه من الحيض محتسبا منهما جميعا واذا انقضت الاولى ولم تكمل الثانية فعليها اتمام الثانية" نو پر دې باندې بله عده سته ولي وطي چې سبب د عدې وو پيدا سو او دا دوې عدې تداخل خوري يعني يوه په بل کې داخلېږي حتى چې وروسته دا يو حيض ووينې د دواړو عدو څخه حسابل کېږي او كه اوله عده تېره سوه او دوهمه عده نه وه پوره سوي نو پر دې لازم دي چې دوهمه عده به هم پوره کوي،

صورت د دې مسئلې داداي چې يوه ښځه مېړه په طلاق بائن طلاقه کړه، نو دې عده پوره کول مثلا يو حيض يې تېر کړی وو چې بيا مېړه وطي ورسره وکړې، نو پر دې خو بله نوې عده په سبب د وطي لازمه سوه ولي چې طلاق خو باقي دي، نو د هرې عدې د پاره خو درې حيضه غواړي لکن دا درې حيضه تداخل سره کوي يعني يو حيض ددواړو عدو څخه حسابل کېږي نو چونکه دې خو يو حيض تېر کړي دي نو دا چې دوه حيضه نور تېر کړي اوله عده خو پوره سوه او د دوهمي عدې يو

حيض پاته دي نو پر دې واجبه ده چي يو حيض به بل تېروي چي دوهمه عده هم ختمه سي، او امام شافعي رحمۃ اللہ علیہ وايي چي دوې عدې تداخل نه قبلوي که دواړي عدې د يوه جنس څخه وي يعني دواړي په حيضو سره وي او يا دواړي په مياشتو سره وي، او يا ددوو جنسو څخه وي يعني يوه په حيضو سره وي او دوهمه په مياشتو سره وي، وعليک بالتامل فی استخراج تلک الصورالثلاثة فتکون علی بصيرة، نو د ده په نېز دا به اول عده پوره کوي او بيا دي شروع په دوهمه عده کوي دی وايي چي دواړي حقان واجبان دي فلا يتداخلان کسائر الواجبات، مونږ وايو چي عده په مذکوره صورتو کي د پاره د برائت د رحم مشروع دي نو په صورت کي د تداخل هم هغه غرض پر ځاي کېږي.

قال" وابتداء العدة فی الطلاق عقيب الطلاق وفی الوفاة عقيب الوفاة فان لم تعلم بالطلاق والوفاة حتی مضت مدة العدة فقد انقضت بها" او که ښځه نه وه خبره په طلاق د مېړه دې لره، او يا نه وه خبره د مېړه په مرګ لکن په اندازه د عدې د طلاق او يا د عدې د وفات تربص يي وکړي نو په دواړو صورتو کښې يې عده تېره سوه، او حضرت علي رضی اللہ عنہ وايي چي ابتداء د وفات د عدې د هغه وخت څخه ده چي ښځه د مېړه په وفات خبره سي که څه هم ډېري مياشتي وروسته خبره سي، مونږ وايو چي عدة خو مضی ته د زماني معهودي وايي، وذالک موجود وان لم تعلم به، او انقضاء د عدې ددې پر فعل توقف هم نه لري ولي چي دا خبره هم وي لکن دا پرهېز نه کوي چي پر معتدي هغه پرهېز لازم دي لکه ترک د زينت، بيا هم چي هغه وخت پوره کي عده تېره سوه.

قال القدوري رحمۃ اللہ علیہ" والعدة فی النکاح الفاسد عقيب التفريق بينهما او عزم الواطی علی ترک الوطها" او عده په نکاح فاسده کي يعني هغه صورتونه چي مونږ بيان کړه وروسته تر تفريق د حاکم په مابين کي د مېړه او ماينې يعني چي حاکم حکم د تفريق صادر کړي عده د ښځي شروع سوه، او د هغه وخت څخه شروع کېږي چي مېړه قصد وکړي پر ترک د وطی ددې.

پوه سه:- چي مطلق عزم قلبي د مېړه نه دي کافي لکه د ظاهر څخه د متن چي فهمېږي ولي چي عزم د زړه مبطن او پټ شی دي ښځه څه په خبره ده بلکه په خوله به اظهار د عزم کوي يعني داسي به وايي مثلا ترکت وطيها او عزمت علی عدم وطيها فيما بعد وامثال ذالک، کما فی الجوهرة.

قال القدوري رحمۃ اللہ علیہ" وعلی البتوتة" او پر هغه ښځه باندي چي نکاح يې بيخي قطعه سوې وي يعني مېړه حق د رجوع نه لري، چي هغه درې قسمه ده (۱) اول هغه ښځه ده چي د مېړه سره خلع وکړي (۲) او دوهمه هغه ښځه ده چي مېړه درې طلاقه ورکړي وي (۳) دريمه هغه ښځه ده چي مېړه يې يو طلاق بائن ورکړي وي، ع

والمتوفی عنها زوجها" او هغه ښځه چي مېړه يې ځندي مړ سوي وي "قال عليه الصلوٰة والسلام لايحل لامرئة تومن بالله واليوم الآخر ان تحد علی ميت فوق ثلاثة ايام الا علی زوجها اربعة اشهر وعشرا"

ترجمه:- نه ده روا هيڅ ښځي ته چي ايمان يې پر خداي جل جلالہ او پر ورځ د آخرت راوړي وي، چي احداد به کوي يعني ترک د زينت کوي پر هيڅ مړي باندي يعني که يې پلار وي او که يې زوي وغيره وي مګر احداد به

کوي پر مېړه باندي څلور مياشتي او لس ورځي، ه، در.

اذا کانت بالغة مسلمة الاحداد" نو پر کوچنۍ نجلۍ چې مېړه يې مړ سي احداد نسته ولي چې دا په نعمت د نکاح نه ده پوهېدلې چې پر زوال يې غم وکړي، د مسلماني قيد يې څکه ولګوي چې که ماينه کافره وي يعني د اهل کتابو څخه وي احداد نسته باندي ولي چې دا په فروع د اسلام نه ده مکلف، نو پر دغو دوو ښځو چې مسلمانه وي او بالغه وي احداد لازم دي.

والاحداد ان تترک الطيب والزينة والدهن" او احداد پرېښول دي د خوشبويې هر قسم چې وي او د زينت يعني ټوله هغه شيان چې ښځي ځان په ښائسته کوي لکه سرخي و سفيده لاسونه سره کول بنګړي په لاس کول ګوتمۍ په ګوتو کول غوڑوالي په غوږو پوري ځړول او خوشبويه جامه وغيره، قاضي خان، او داغه رنګه د غوړولو څخه د سر او مخ د زيتون وغيره په تېلو سره که څه هم خوشبويه نه وي.

پوه سه:- چې د احداد د لزوم يوه وجه داده چې د تاسف او غم او خوابدي ښکاره کړي پر زوال د نعمت د نکاح په مرګ د مېړه او بل داده چې دا شيان چې ذکر سوه د خلګو رغبت جلبوي ددې ونکاح ته او دا خو په عده کې ممنوع ده د نکاح، نو دواعي د نکاح اشياء مذکوره ده هم دي يې نه کوي چې آخر په زنا اخته نه سي، او په صحيح حديث کې راغلي دي چې عليه السلام منع کړه معتده د سترګو د تورولو څخه، او غوړول د سر خو زينت د وښتيانو دي.

پوه سه:- چې په هدايه کې وايې چې سترګې تورول يا بله دوا د جهت د عذره نه ده زينت دا رواده.

مسئله:- که چېرې د ښځې د سر غوړول عادت وه او دې ته په تجربه معلومه وه چې سر نه کې غوړ د سر درد ورته پيدا کېدي، نو د عدې په شپو کې هم سر غوړول ورته روا دي، کذا فی الهدايه، د شرعي شريفي خلاف رواج د خلګو خصوصا د پښتنو.

پوه سه:- چې په ډېرو پښتنو کې دا رواج دي چې د چا پلار يا لوي زوي ځوان يا ورو وغيره مړسي د فاتحه خوانۍ وروسته د هر اختر ورځ چې راغله يعني ددغو اقرباوو مرګ څلور پنځه مياشتي مثلا د مخه تر اختر واقع سوي وي، نو ددغه مړي د کور که يې نر وي که يې ښځي وي په دغه اول اختر نه نوي کالي اغوندي او نه بل د اختر دخوشالۍ مناسبت کوي، بلکه خيرن کالي يې اغوستي وي او په دي غم پر هغه مړي کوي او په دغه اول اختر اقربا او شناخته ګان د مړي ټوله د هغه زاړه مړي د فاتحه خوانۍ د پاره راځي او تر درو ورځو پوري دا فاتحه خواني دوام لري، او د مړي د کوره حسب الطاقت ودغو فاتحه خوانانو ته ډوډۍ غورمې وغيره ورکول کېږي، دا فعل سخته ګناه او ډېر ناجائز کار دي، هغه حديث نبوي ﷺ لايحل لامرئة آه، عنقريب تېر سو دليل پر ناروا والي ددغه رواج نور خلګ پوهېږي.

قال" والکحل الا من عذر" او په رنجو دي سترګي نه توروي مګر د عذر د لاري يعني چې سترګي يې خوږېږي.

ولاتختضب بالخناء" او لاسونه يا پښې دې نه سره کوي په نکرزو ولي چې نکرزي هم زينت دي او هم طيب په اول الوهلت کې.

ولاتلبس ثوبا مصبوغا بورس ولا بزعفران " او نه به اغوندي هغه جامه چې په ګل ورس او يا په زعفران رنګ سوي وي.

پوښتنه:- په پخوا زمانه کي خو سپينو کالو ته عارضي رنګ ښځو ورکاوه، اوس خو رنګونه د کالو د ښځو کارخانه يې پاخه رنګونه دي آيا اوس هم رنګه جامې ومعتدي ته روا نه دي؟

ځواب:- د اوس رنګه جامې د ښځو فرق سره لري يو داسي رنګه جامه ده چي د هيڅ زينت د پاره يې ښځې نه اغوندي بلکه د کور د استعمال د پاره، ولي د ښځو سپين کالي په اوسنۍ زمانه کي بېخي نا رواجه دي، نو دغه سي رنګ داره جامې ومعتدي ته روا دي، او يو هغه رنګ داره جامې دی چی ښځي يې د زينت د پاره اغوندي ياد مېړه د پاره يا په واده وغيره کې اغوندی د هغو اغوستل ورته ناروا دي، ويدل علی ماقلنا هغه قول د مجمع الانهر چي د ورس او زعفران د رنګ کړو جامو تر عنوان لاندي ليکلي دي اذيضوح منها رائحته الطيب، وروسته وايي چي دا منعه هلته ده چي جامه نوې وي چي زينت پکښې راځي او که جامه زړه وه زينت نه پکښې پيدا کېدي، فلا باس بلبسه، انتهى.

قال القدوری رحمۃ اللہ علیہ " ولااحداد علی کافرة ولاصغيرة وعلی الامة الاحداد" او احداد نسته پر کافري ماينې چي مېړه يې مړ سي "لما مرمنا وجهه" او نه احداد سته پر صغيرې ماينې ولي خطاب د احکامو الهيه وو ددې څخه پورته دی، لمامر منا" او پر مينځه احداد سته يعني چي مېړه يې مړ سي احداد به کوي ولي چي دا مکلف ده، او په حقوق د خدای جل جلالہ مخاطب ده.

قال المصنف رحمۃ اللہ علیہ " وليس فی عدة النكاح الفاسد ولافی عدة ام الولد احداد"

او نسته په عده د نکاح فاسدې او نه په عده کي د ام الولد احداد، ولي چي نکاح فاسده خو نعمت نه وه چي ښځه تاسف پر وکړي، او ام الولد خو د سره په نکاح کي نه وه بلکه مولی په ملك يمين وطي ورسره کولي او شرعاً احداد د پاره د تاسف پر زوال د عقد د نکاح صحيح دي.

ولاينبغی ان تخطب المعتدة: او نه ښايي چي څوك مرکه وکړي وه معتدې ته، ولي چي مرکه خو دپاره دنکاح وي او معتده خو د نکاح څخه ممنوع ده.

ولاباس للتعريض فی الخطبة" او پروا نسته په تعريض سره مرکه کول ومعتدې ته.

پوه شه:- چي تعريض په لغت کي ميل الکلام الی العرض، او په اصطلاح کي دادي چي يوه خبره وکړي او غرض اصلي بله خبره وي، په مانحن فيه تعريض ومعتدې ته دادي چی هغې ته سړی داسي ووايي چي ته ډېره ښائسته يې او يا داسي ورته ووايي چي ډير خلق ستا شوقيان دي او يا داسي ورته ووايي چي زه هم د نکاح اراده لرم، وامثال ذالك، او دا ورته ووايي، قد سمعت ما قلت او تصريح نه ده ورته روا چي داسي ورته ووايي چي زما اراده ده چي تا په نکاح کړم.

پوه شه:- چي مصنف رحمۃ اللہ علیہ تعريض و مطلقي معتدې ته روا بللي دي يعني که معتد د وفات وي او که د طلاق وي، لکن په ډېرو متنو او شروحو او فتاواو کي يې جواز د تعريض په معتدې د وفات سره مقيد کړي دي په تنويرالابصار کي وايي،وصح التعريض فی معتدة الوفات آه، او په درمختار کي وايي، لاالمطلقة اجماعاً، ولي دا تعريض سبب کړځي د عداوت د ده او د طلاق ورکونکي،

ومثل هذا في مجمع الانهر وجامع الرموز وردلمختار وغيرها من الشروح والفتاوى.

قال رحمه الله "ولايجوز للمطلقة الرجعية والمبتوتة الخروج من بيتها ليلاً ونهاراً" او نه دي روا وه ومطلقي ښځي ته که په رجعي طلاق وي يعني يا يو يا دوه طلاقه يې ورکړي وي او يا په طلاق قطعي سره طلاقه وي يعني يا واحد بائن طلاق وي او يا دري طلاقه وي، وتل د کور څخه ددې نه ده ورځي او نه د شپې لقوله تعالى په باره کي د مطلقات، ولاتخرجوهن" تاسي اې مړو مه باسي مطلقات د کورو څخه ولايخرجن" او نه دي وځي پر خپل سر د کورڅخه الا ان ياتين بفاحشة" مګر نه دوي راتګ وکړي په فاحشه سره.

پوه شه:- چي عبدالله بن مسعود رضي الله عنه تفسير د فاحشې په زنا سره کړی دي يعني که دې زنا وکړه نو د پاره د حد ورکولو دې د کوره وباسي دليل د عدم جواز د خروج دادي چي نفقه د مطلقې ښځي خو پر مېړه ده نودا وتلو ته څه ضرورت لري.

فائده:- او که نابالغه وه هغي ته خروج روا دي، لعدم کونها مکلفة بالاحکام الشريعة، او که طلاقه سوې ماينه د بل چا مينځه وه هغې ته هم خروج روا دي ولي په سبب ددې چي پردې باندي خدمت د بادار لازم دي نو دا وه خروج ته د کور څخه د مېړه مجبوره ده او که مطلقه ماينه ذميه وه پر هغې هم اوسېدل په کور کي د مېړه واجب نه دي ولي چي اهل زمه په احکامو شرعيه وو مخا طب نه دي.

فائده:- هغه ښځه چي مېړه يې وفات سوي وي چونکه دا نفقه نه لري نو دي ته وتل د پاره د نقفې روا دي د ورځي، مګر شپه به بل ځای نه

تېروي الاضرورة لکه دغه کوټه ښځه چي داسي ناجوړي ورپېښه سي چي اپريشن ته ضرورت وي نو دا د پاره د اپريشن شپې او ورځي په هسپتال کي تېرولای سي ولهذا.

قال المصنف رحمه الله "والمتوفى عنها زوجها تخرج نهارا وبعض الليل ولاتبيت فى غير منزلها" او هغه معتده چي ددې څخه مېړه وفات سوي وي هغه د ورځي وتلای سي يعني په طلب د نفقې او يا د کور د بلي سودا د پاره او بعض د شپې د ولي چي ګاهي دا تر لمر لوېدو پوري په نفقه پيدا کولو سره مشغوله وي او شپه به نه تېره وي په غير کي د خپل کور ولاتنس الاستثناء الذى ذكرناه.

قال القدورى رحمه الله "وعلى المعتدة ان تعتد فى المنزل الذى يضاف اليها بالسكنى حال وقوع الفرقة" او لازمه ده پر معتدې ښځي يعني که معتده د طلاق وي او که معتده د وفات الزوج وي چي عده به يې تېره وي په هغه کور کي چي دې ته يې نسبت د اوسېدو کيږي په حال کي د وقوع د جلاوالي ددې او د مېړه تر مابين يعني که جلاوالي په طلاق وي او که جلاوالي په مرګ د مېړه وي، اما معتدة الطلاق فلما مر قوله تعالى ولاتخرجوهن من بيوتهن الاية" او شك نسته چي بيت مضاف وښځه ته هغه کور دي چي دا پکښې اوسيږي.

فرعه:- که ښځه د پلارکره مثلا تللې وه او مېړه طلاق ورکړی پردې واجب ده چي د مېړه کور ته به راځي او عده به هوري تېره وي، كذا قال فقهاء رحمهم الله مذهبنا.

قال" فان كان نصيبها من دار الميت لايكفيها واخرجها الورثة من نصيبهم انتقلت" او كه وه برخه د ښځي چي مېړه يې مړ سو په سراى كي د مړى ددې نه بسېده يعني كوچني عيالونه يې درلوده او ورثه وو دا وشړل د خپلو برخو څخه د سراى د مړي، نو دې ته روا دي چي نقل مكان وكړي يعني د پلار يا ورنړو مثلا كور ته ولاړه سي او هورې عده تېره كړي ولي چي دا نقلي مكان په عذر سره د مجبوريت دي والضرورات تبيح المحذورات، او په عباداتو الهيه وو كي مجبوري ډېر رول لري، په هدايه كي وايي چي كه معتده په منزل منسوب كي دغلو څخه بېرېدله او يا ددې څخه چي خونه به راباندي ونړېږي، او يا يې مېړه په هغه سراى كي په كرايه پروت وو، او دې د كرايې طاقت نه درلودي، نو د هغه سراى څخه ودې ته وتل روا دي، يعني كه معتده د طلاق وي او كه معتده د وفات الزوج وي، مع. در.

قال رحمة الله عليه" ولايجوز ان يسافر الرجل بالمطلقة الرجعية" او نه ده روا چي مېړه سفر كوي په مطلقه رجعيه سره، او امام زفر رحمة الله عليه وايې روادي، دى وايې چي سفر لكه مچه داسي دي نو رجعت دي، مونږ وايو چي سفر خو په نكاح پوري كار نه لري ولي چي سفر خو سړى په مور او خور وغيره سره هم كولاى سي نو حكم د مچي به څرنګه ولري.

قال القدورى رحمة الله عليه" واذا طلق الرجل امرئته طلاقا بائنا" د بائن قيد د پاره ددې دي كه يې په رجعي طلاق طلاقه كړې وي او په عده كي په نكاح كړې خو داغه دده رجوع ده، بيا چي قبل الدخول په نكاح كړې هيڅ ولور پرده نسته ولي چي ولور خو يې ورکړى دي او دا

ښځه خو په هغه نكاح سابق كي پاته ده او په دې ښځه صرف اتمام د عدې لازمه ده بالاتفاق.

قال المصنف رحمة الله عليه" ثم تزوجها فى العدة" ولى كه چېرې وروسته تر عدې په نكاح كړه نو كې وطي ورسره وكړې او بيايې طلاق كړه نو هم پوره ولور پر لازم دي او هم نوې عده پر ښځه لازمه ده، او كې دخول نه وو په كړي او طلاق يې كړه نو نيم ولور پر لازم دي او عده هيڅ نه لري.

وطلقها قبل ان يدخل بها فعليه مهر كامل وعليها عدة مستقبلة وقال محمد رحمة الله عليه نصف المهر وعليها تمام العدة الاولى" او كه چېرې طلاقه كړه نر خپله ماينه په طلاق بائن سره او بيايې په نكاح كړه په عده كي او بېرته يې طلاقه كړه د مخه تر وطي كولو ددې نو پر نر پوره ولور سته او پر دې ښځه بله عده تېرول لازم دي او امام محمد رحمة الله عليه وايې چي پر ده نيم ولور دي، او پر ښځه پوره كول د اولي عدې لازم دي.

پوه شه:- چي ښځه چي په عده كي وي په هغه د مخه نكاح كي وطي داسي دي لكه په وروسته نكاح كى امام اعظم رحمة الله عليه او ابو يوسف رحمة الله عليه وايې چي نعم، نو دغه ښځه چي مېړه په عده كي په نكاح كړه كه يې څه هم په دوهم نكاح كي وطي نه وي ورسره كړي داده اول نكاح په وطي سره مدخول بها ده، او د مدخول بها خو مهر كامل پر مېړه لازم دي او چي بيايې طلاقه كړه د مدخول بها پوره عده تېرول لازم دي، نو هغه د مخني عده كان لم يكن وګرځيده، او امام محمد رحمة الله عليه وايې چي د هغې مخكي نكاح وطي ددې نوي نكاح نه كنړل كيږي نو چونكه قبل الوطي

په نوي نکاح کي ده طلاقه کړه نو د قبل الوطي طلاق خو نيم ولور کيږي او چونکه په نوي نکاح کي دا غير مدخول بها ده نوعده پردې نسته البته هغه زړه عده به پوره کوي، عنايه، ودر.

قال القدوری رحمۃ اللہ علیہ " ويثبت نسب ولد المطلقة الرجعية اذا جائت به لسنتين" يعنی د وقته څخه د طلاق، او اكثر مالم تصر بانقضاء عدتها" او ثابتيږي نسب د عيال د مطلقه رجعيه ښځي يعني د مېړه څخه يې نسب دي که چېري دا راوړي دا عيال پر دوه کاله او يا بالاتر دوه کاله لنګه سي، تر هغو چي دې اقرار نه وي کړي دمخه تر لنګول چي زما عده تېره سوله يعني په حيضو سره ولي چي دا اقرار اقرار په تېريدو د عدې وکړی خو دا د مېړه څخه بائن سوه نو حمل ددې تر بينونت وروسته دي نو ځکه يې نسب د مېړه څخه نه ثابتيږی.

پوښتنه:- چي کومه مده د حمل شپږ مياشتی ده او اكثر مده يې دوه کاله زمونږ په نېز.

پوښتنه:- د دغی مطلقې چي په وخت کي د طلاق يې حمل نه وو نو د دې عده خو په حيضو ده نو دري حيضه خو په درو مياشتو کي پوره کيږي نو څرنګه ددې ولد چي د وقت څخه طلاق بالاتر دوه کاله تير سي ثابت النسب دي ددې د مېړه څخه کيداي سي چي دوه کاله اکثره مده د حمل ده؟

ځواب:- نه شرعا نه عادة دا لازمه ده چي هري ښځي ته د په مياشت کی يو حيض ورځي بلکه داسي ښځي ډېري دي چي ممتدة الطهره وي بعض په (۶) مياشتي کي يو حيض ورځي او بعض داسي ښځي هم سته چي په کال کي يو حيض ورځي نو چونکه دي اقرار په تېرېدو د عدې نه

دي کړي نو دا ممتدة الطهر ده او چونکه طلاق رجعي دي نو مېړه ته خو يې وطي روا دي نو مېړه په اثناء کي د عدې ددې سره وطي کړي، او دې به حمل اخستي وي چي تر دوه کاله وروسته وضع حمل وسو نو مېړه په دغه وطي سره رجوع ودې ته کړی ده نو ځکه نسب د ولد د ده څخه ثابت دی.

قال رحمۃ اللہ علیہ " وان جائت به لاقل من سنتين بانت من زوجها" او نسب د ولد د ده څخه دي ولي چي امکان لري چي دې به په نکاح کي حمل اخستي وي او يا په عده کي د طلاق رجعي، او بائن په دې سوه چی عده په وضع الحمل سره تيره سوه.

سوال:- مېړه د دې مراجع بولل کيږی؟

ځواب:- ولي خو دا احتمال سته چي حمل دي د نکاح په وخت اخستي وي، او دا هم احتمال سته چي د عدې په وخت کي دې اخستي وي، والرجوع لايثبت بالشک قاله صاحب الهداية.

قال القدوری رحمۃ اللہ علیہ " وان جائت به لاكثر من سنتين يثبت نسبه وكانت رجعة" صاحب هدايه وايي چي دې راتګ وکي په ولد سره بالاتر دوه کاله نو نسب يې په دې ثابت دي ده مېړه څخه چي مېړه به يې پسله طللاقه په عده کي وطي ورسره کړي وي ولي لنګون ددې تر اكثر مدې د حمل چي دوه کاله وه بالاسوه نو په سبب د حسن ظن پر مسلمانه ښځه چي دې زنا نه ده کړې، نو وطي په عده کي خو رجوع د مېړه ده، انتهى مع زياده.

قال رحمة الله عليه " والمبتوتة يثبت نسب ولدها اذا جائت به لاقل من سنتين" او د مبتوتې يعني په طلاق بت قطعي طلاقه سوې وي يعني يا دري طلاقه يا طلاقه واحد بائن سره ثابتيږي نسب د عيال د دې د مېړه څخه چې ددې لنګون کم تر دوه کاله وي تاچې مور مېړه واطي وبولو په نکاح کي ولي چې په عده کي د ته وطي روا نه دي.

قال القدوری رحمة الله عليه " واذا جائت به لتمام السنتين من يوم الفرقة لم يثبت نسبه الاان يدعيه الزوج" او که راتګ وکړی ښځي په ولد سره پر پوره والي د دوو کلو د ورځي څخه د جلاوالي د مېړه څخه د دغي مبتوتې، نو نسب د ولد خو يې نه ثابتيږي ولي چې مېړه ته وطي د مبتوتې خو په عده کي نه دی روا، او په نکاح سابق کي هم علوق او حمل نسي کيدای ولي د فرقت د وخته څخه دوه کاله پوره سوه، مګر هلته نسب ثابتيږي چې مېړه دعوه د نسب وکړي.

قال صاحب الهدايه رحمة الله عليه ، لانه يحتمل ان يكون الولد قائما وقت الطلاق فلا يتيقن بزوال الفراش قبل العلوق فيثبت النسب احتياطا.

دروښ وايي:- چې دا احتمال چې صاحب هدايه پېښ کړی دي ډېر نادر دي، لما قلنا آنفا لکن د جهت د احتياط په نسب کي او د مېړه د نسب د دعوې اعتبار ورکړه سو.

قال القدوری رحمة الله عليه " ويثبت نسب ولد المتوفى عنها زوجها مابين الوفات وبين سنتين" او ثابتيږي نسب د ولد د هغي ښځي چې مېړه يې مړ وي په مابين کي د زماني د وفات او د دوو کلو لکن دا حکم هلته دي چې دغه ښځه په زمانه کي د وفات د مېړه صغيره نه وي

قال رحمة الله عليه " واذا اعترفت المعتدة بانقضاء عدتها ثم جائت بولد لاقل من ستة اشهر ثبت نسبه" او که چېرې اقرار وکړي معتده ښځي په دې سره چې زما عده تېره سوه او بيا راوړي ولد کم تر شپږ مياشتي ددې د اقرار څخه نو نسب يې د مېړه څخه ثابت دي ولي چې مور يقينا پوه سوو چې هغه اقرار ددې درواغ وه ولي چې اقل مده د حمل شپږ مياشتي ده په اجماع سره، بلکه زمور يقين دي چې دا په وخت کي د اقرار حامله وه.

قال رحمة الله عليه " وان جائت به لستة اشهر لم يثبت نسبه" او که راتګ وکړی معتدې په ولد سره پر شپږ مياشتي نسب د ولد يې د مېړه څخه نه ثابتيږي ولي چې مور يقينا د دې هغه اقرار درواغ نه سو ګڼلای ولي چې احتمال لري چې په وخت کي د اقرار ددې په تېرېدو د عدې دا حمل نه وو، او وروسته دا حمل پيدا سوی د زنا څخه، حاصل مافی الهدايه.

قال القدوری رحمة الله عليه " واذا ولدت المعتدة ولدا" خواه معتده د طلاق رجعي وي او يا د طلاق بائن وي او يا د وفات د مېړه وي.

لم يثبت نسبه عند ابی حنيفة رحمه الله الاان يشهد بولادتها رجلان او رجل وامرئتان الاان يكون هناک حبل ظاهر او اعتراف من قبل الزوج فيثبت النسب من غير شهادة" او که راتګ وکړي معتدې په ولد سره، نه ثابتيږي نسب د هغه د مېړه څخه د معتدې مګر هغه وخت چې شاهدي ادا کړي دوه نر او يا يو نر او دوې ښځي په لنګېدو سره د دې او يا حامله توب يې ښکاره وي چې تر

سپرو میشاتو د مخه لنګه سي د طلاق او یا د وفات د وخت څخه، او یا په صورت کي د طلاق مېړه اقرار وکي په لنګواله ددې نو په دې ټولو صورتو کي بیا نسب د هغه ثابتیږي.

وقال ابو یوسف ومحمد رحمهما الله تعالی یثبت فی الجمیع شهادة امرئة واحدة.

دروېش وایي:- چي چونکه دلائل د دواړو مذهبو اوږده وه او دقیق الفهم وه نو ځکه ما صرف نظر وکړی د راوړو څخه د هغو که د تفصیل شوق څوك لري نو شروحاتو ته د قدوري دي رجوع وکړي.

قال المصنف رحمه الله علیه " واذا تزوج الرجل امرئة فجائت بولد لاقل من ستة اشهر منذ یوم تزوجها لم یثبت نسبه"

او که په نکاح کړه یو سړي یوه ښځه هغې راوړی ولد په کمه مده کي تر شپږو میاشتو د هغه وخت څخه چي ده دا په نکاح کړې وه نسب یې نه ثابتیږي ولي چي یقینا دا معلومه سوه چي ددې ښځي حمل تر نکاح د مخه دي چي تر اقل مدته د مخه خو د حمل وجود او زېږېدل اجماعا نه کیږي.

قال القدوری رحمه الله علیه " وان جائت به لستة اشهر فصاعدا یثبت نسبه ان اعترف به الزوج او سکت وان جحد الولادة یثبت بشهادة امرئة واحدة تشهد بالولادة" او که ښځي راتګ وکړی په ولد سره پر پوره شپږ میاشتي یا بالاتر شپږ میاشتي نو نسب یې ثابتیږي د مېړه څخه که ده اقرار وکړی په نسب سره او یا پته خوله وو، ولي خو نکاح قائمه او مده د حمل هم پوره ده او که مېړه د لنګیدو څخه

د مایني یکلخته منکره وو بیا لنګواله د هغې په شاهدي سره د یوې ښځي ثابتیږي چي هغه شاهدي ادا کړي په لنګواله سره ولي چي نسب خو په فراش قائم سره د یوې ښځي ثابتیږي ولي د سړي خو مایني ده او نفس لنګول په شاهدي د یوې ښځي په اجماع ثابتیږي، ،در.

قال القدوری رحمه الله علیه " واکثر مدة الحمل سنتان واقله ستة اشهر" او اکثره مده د حمل چي د ښځي په رحم کي پاتېدای سي دوه کاله ده او کمه مده د حمل چي تام الاعضاء ولد پیدا کیږي هغه شپږ میاشتي ده.

پوه سه:- چي غالبه لنګول د ښځو (۹) میاشتي دي.

فائده:- دا مذهب چي په متن کي ذکر سو زمونږ حنیفیانو رحمهم الله دي، او د آئمه ثلثه وو رحمهم الله مذهب دادي چي اکثر مده د حمل په رحم کي د مور د پاته کیدو څلور کاله ده، او د عباد رحمه الله چي داغسي یو روایت د امام مالك رحمه الله څخه هم راغلي دي وایي چي اکثره مده د حمل پنځه کاله ده او امام ربیعه رحمه الله وایي چي اکثره مده د حمل اوه کاله ده، او د امام زهري رحمه الله څخه روایت دي چي اکثره مده د حمل شپږ کاله ده.

پوه سه:- چي د مذکوره مذهبو دلائل صرف حکایات دي لکه چي وایي چي عبدالعزیز الماجشوني د مور څخه پر څلور کاله وزېږېدي، او دوي وایي چي د ماجشون د قبیلې د ښځو دا عادت دي چي پر څلورم کال لنګیږي، او دوي وایي چي ضحاك د مور څخه پر څلور کاله پوره وزېږېدي چي د مخ غاښونه یې ښکاره سوي وه او ده خندله نو ځکه ضحاك نوم پر کښېښو، زمونږ دلیل هغه حدیث د سیدنا عائشة رضي الله تعالي عنها دی چي دې وویل چي عیال د مور په رحم کي بالاتر دوه

کاله نسي پاته کېدای، ولو بظل المغزل" که څه هم په قدر د ګرځېدو د سایه د څرخ لرګي وي چې ښځي ورته پر پېچي، وفی روایة بفلکة المغزل یعني په قدر د ګرځېدو د هغه لرګي، او دا یو مثال دي د لږې زمانې ولي چې د څرخ د لرګي سایه ښځي ژر ژر ګرځي.

سوال:- دا خو د عائشة رض خپله رایه وه حدیث د علیه الصلوة والسلام خو نه دي.

ځواب:- صحابه کرام ﷺ که نر وي او که ښځي وې مقدار ونه د شرعي شیانو په عقل سره نه بیا نه وی بلکه ټوله محمول پر سماع دي د رسول الله ﷺ څخه کما ثبت فی اصول الفقه، او حکایات احتمال د غلطیا لري او بل سبب د دغو حکایاتو دا هم کیدای سي چې ښځي هغه وخت خپل ځان حمل داره بولي چې حیض یې قطع سي او شك نسته چې قطعه والي د حیض خو په حمل لکه چې کیدای سي دغه رنګه د بعضي ناجوړې په سبب هم کیدای سي نو امکان لري چې د یوې ښځي حیض دي د ناجوړې په سبب دوه کاله بند وي او وروسته دا حامله سي، او دوه کاله وروتسه لنګه سي نو د دې په خیال دا پر څلور کاله لنګه سوه، مجمع الانهر، ودروښ.

قال القدوری رحمة الله علیه" واذا طلق الذمی الزمیة فلاعدة علیها" که طلاقه کړه زمي نر زمیه ښځه، زمي هغه بولي چې په دار اسلاك کي یې زمه یعني تبعیت قبول کړي وي" نو عده پر هغې زمیه نسته دا مذهب دي د امام اعظم رحمة الله علیه لکن دا حکم هلته دي چې د دې په دین کي د طلاق عده نه وي.

مسئله:- که د زمیې ښځي مهره مړ سي پر دې باندي عده د وفات نسته که د دوي په دین کي داغسی وه، او امام ابو یوسف او امام محمد رحمة الله وایي چې په دواړو صورتو کي پر ښځه عده سته ولي چې دا په دار اسلام کي اوسېږي نو باید د اسلامي اصولو سره مطابق رفتار وکړي، امام اعظم رحمة الله علیه وایي چې عده خو حق الله او حق الزوج ده اوزمي په حقوق الله مخاطب نه دي لکه لمونځ روژه وغیره، کذا فی الجوهره.

قال رحمة الله علیه" وان تزوجت الحامل من الزنا جاز النکاح ولایطاها حتی تضع حملها" او که نکاح وکړه یوې ښځي چې حمل داره وه د زنا څخه یعنی د یو سړي سره، نکاح خو یې روا ده لکن مهره به وطي نه ورسره کوي تر هغو پورې چې لنګیږي، علیه الصلوة والسلام وایي چې نه دي وطي کوي حامله د زنا تر هغو چې حمل اږدي یعني لنګیږي.

مسئله:- که ناکح هغه زاني وو بیا وطي ورته روا دي ولي چې دی خپل کښت او بوي بخلاف غیر الزاني، ولي هغه خو د زاني کښت او بوي او دا په شریعت کي ناروا ده، کما جاء فی الحدیث النبوی ﷺ.

کتاب النفقات

دا کتاب په بیان کي د نفقو د احکامو او اقسامو دي.

پوه سه:- چې مصنف رحمة الله علیه چې د نکاح او طلاق د احکامو او اقسامو د بیان څخه فارغ سو نو شروع یې په بیان کي د احکامو د نفقو وکړه.

فائده:- چونکه نفقې ډېر اقسام لري لکه نفقه د مطلقې، او نفقه د ماینې، او نفقه د ذوي الارحام، او نفقه د مریانو چې دا دوه آخیر اقسام

يې په نکاح او طلاق پوري هيڅ علاقه نه لري نو ځکه مصنف رحمة الله عليه عليحده کتاب ورته وضح کړي.

پوه سه:- چې نفقه هغه طعام ته وايې چې يو څوک يې وبل چا ته ورکړي او يا په حکم د طعام وي لکه کالي جامې وغيره او چونکه اسباب د نفقې درې دي، (١) زوجيت او متعلق د زوجيت چې طلاق يا وفات دی (٢) قرابت او دريم (٣) ملك دي نو مصنف رحمة الله عليه شروع د اول سبب څخه وکړه چې ډېر مناسب وو د زوجيت او طلاق او عدت سره نويې داسي وويل.

النفقة واجبة للزوجة على زوجها" دليل يې کتاب الله دي، لينفق ذو سعة من سعة، ولقوله تعالى وعلى المولود له رزقهن وكسوتهن بالمعروف، ولقوله تعالى اسكنوهن من حيث سكنتم من وجدكم" د اول آيت ترجمه" حتمابه انفاق کوي خاوند د قدرت برابر د قدرت سره يعني بعض مړونه مسکينان وي د مسکنت د طاقت سره به برابر انفاق کوی، او بعض به اغنيا وي هغه به د غنا پر طاقت برابر انفاق کوي معنی دا چې پر مسکين باندي نه ده لازمه چې نفقه د غنيانو به ماينی ته ورکوي او غني سړی دي هم دومره ګنجوسي نه کوي چې ماينې ته نفقه د فقراء ورکوي، او داغه رنګه په اوږده حديث کې د جابر رضي الله عنه چې روايت يې مسلم او ابو داود رحمة الله عليه کړي دي راغلي دي، ان لهن، ای لزوجات، عليكم، ای الازواج، نفقتهن وكسوتهن بالمعروف، ای المعلوم فی الشرع وهو مايكون بقدر طاقة الازواج" او عقلا هم بايد د ماينې نفقه پر مېړه واجبه وي ولي چې ماينه بندي په کور کې د پاره د خدمت د زوج او د اولادو د ده او نورو ضروریاتو د کور وي، نو هرڅوك چې بندي وي د

يو چا د پاره نو نفقه به يې هم هغه سړی ورکوي، يعنی نفقه واجب ده پر مېړه د زوجې که دا فقيره وي او که غني وي ولي چې د دې غنا خو حق د دی پر چا نه ساقطه وي، لکه د يوه غني سړي چې پر بل پور باندي وي، کي وطي کړي او که نه، منح.

پوه سه:- مېړه که مسکين وي او که غني که حاضر وي او که غائب د ماينې نفقه پر واجب ده.

قال القدوری رحمة الله عليه " **مسلمة كانت او كافرة اذا اسلمت نفسها فی منزله فعليه نفقتها وكسوتها وسكناها**" نو که يې ماينه مسلمانه وي او يا کافره وي يعني د اهل کتابو څخه، ولي چې د مشر کي ښځي نکاح و مسلمان ته نه ده روا هغه وخت چې ښځه ځان وسپاري ومېړه ته د مېړه په کور کي، يعني د پلاره په کور کي چې وي که څه هم مېړه يو شپه شپه د جماعو د پاره د خسر کور ته ورځي خو نفقه د ماينې نه ده پر لازمه، بلکه چې د ده کورته راغله چې په اصطلاح يې واده بولي نو پر مېړه نفقه او کالي او خونه د اوسېدو واجب ده، لکن په نهايه کي وايي چې شرط د نقل د مېړه کور ته نه دي لازم په ظاهر الرواية کي، په مبسوط کي وايي چې وروسته تر صحت د عقد نفقه د ښځي لازمه ده که څه هم د پلار په کور کي وي او د مېړه کور ته واده سوې نه وي، وهو ظاهر الرواية كذا فی العناية.

دروېش وايي:- حکم په کبيره ماينه کي دي چې د پلار په کور کي ناسته وي، نه په صغيره کي لکه امام شافعي رحمة الله عليه چې وايي چې نفقه د ښځي لازمه ده که څه هم په زانګو کي وي.

مسئله:- که صغيره ښځه يعنی نابالغه د مېړه کور ته واده سوه نو که قابله د وطي وه چي بعض فقهاوو رحمۃ اللہ علیہ يې تقدير په نهه (٩) کاله سره کړي او بعض فقهاء وايي چي تقدير نه دی صحيح ولي هغه په بدن پوري د ښځي اړه لري حتی چي بعض نابالغه نجوني چي په صورت ډېري چاغي وي پر (٨) اته کاله مثلا دا قابل د وطي وي، او که چېري داسي صغيره وه نو نفقه يې واجبه ده، او که داسي صغيره وه چي قابل د وطي خو نه وه لکن مشتهاته وه چي مېړه بيله کوسه په کوناټو وغيره کي نفع پر اخستای سوه نو د هغې نفقه هم واجب ده، کذا فی الذخيره.

اوکه دومره صغيره وه چي داغه قدر نفع هم مېړه نه سوای پر اخستای نو نفقه يې نه ده واجبه که څه هم په کور کي د مېړه وي، کذا فی کمال الدرايه

قال القدوری رحمۃ اللہ علیہ " يعتبر ذالك بحالهما موسرا كان الزوج او معسر" اعتبار د نفقې په حال پوري د مېړه او ماينې دواړو اړه لري کې مېړه غني او که مسکين وي د دې مسئلې خصاف رحمۃ اللہ علیہ داسي تفصيل کړي دي که چېري مېړه غني وو او ماينه هم غني وه نو پر مېړه د اغنياو نفقه واجبه ده، او که مېړه مسکين وو او ښځه هم مسکينه وه نو پر مېړه نفقه د مسکينانو لازمه ده، او که مېړه غني وو او ښځه مسکينه وه نو پر مېړه تر غني ښځي کښته او تر مسکيني ښځي بالا نفقه واجبه ده، او که مېړه مسکين وو او ماينه يې غني وه نو د مسکيني ښځي تر نفقې لږ لوړه او د غني ښځي تر نفقې لږ کښته نفقه واجبه ده، او شيخ ابوالحسن الکرخي رحمۃ اللہ علیہ وايي چی اعتبار په غني او مسکنت کی حال لره د مېړه دي، وهو قول الشافعي رحمۃ اللہ علیہ ايضا ويدل علی مذهبه قوله

تعالی، لينفق ذوسعة من سعته ومن قدر عليه لذقه فلينفق مما آتاه الله" فالله عز وجل اعتبر حال الزوج فی الايسار والاعسار.

درويش وايي:- چي تحقيق د دي مسئلې اختلافيه دي، په ردالمحتار او شرحو کي د قدوري دي مطالعه سي.

قال القدوری رحمۃ اللہ علیہ " فان امتنعت من تسليم نفسها حتی يعطيها مهرها فلها النفقة" او که ماينې منع وکړه د تسليم د خپل ځان ومېړه ته يعنې کور ته د مېړه نه ورتله، تر هغو پوري چي زما ولور راکوي نو دې لره نفقه سته يعنې ناشزه نه ګڼل کيږي ولي دا خپل حق غواړي، ظلم د ميړه په خوا کی دی.

قال" وان نشزت فلا نفقة لها حتی تعود الی منزله" او که ماينه د ميړه د کوره ووتل نو نفقه يې نسته څو بېرته راځي د ميړه کورته ولي د مېړه د خوا چي پر دې باندې بنديز وو هغه دې ختم کړي او نفقه خو جزاء د احتباس وه، او چي بېرته د ميړه کور ته راسي احتباس دې راوګرځاوه نو نفقه يې حق دي.

مسئله:- که ماينې د مېړه په کور کي خو وه لکن کوس يې نه ورکاوه نفقه يې واجبه ده، ولي احتباس خو باقي دي او پاته کوس نه ورکول هغه خو د مېړه د وسه پوره ده په زور دي کار او وطي ورسره وکړي، کذا فی الهدايه.

قال القدوری رحمۃ اللہ علیہ " وان كانت صغيرة لايستمع بها فلانفقة لها وان سلمت اليه نفسها" او که چېري ماينه ببخي کوچنۍ وي چي په هيڅ وجه د دې څخه مېړه نفع نه سي اخستلای نه په جماعو او نه د کناټو د انزال په واسطه نو د نفقې حق نه لري ولي مانع د نفع اخستولو

د دې د خوا دي چې د دې صغر دي، لکن ولور يې حق دي که څه هم دا وسپاري خپل ځان ومېړه ته، او که چېرې مېړه د ساتېرې د پاره او يا د کور د خدمت د پاره دا په کور کې ساتلې وه بيا يې نفقه واجبه ده جوهره.

قال رحمة الله عليه " وان كان الزوج صغيرا لايقدر على الوطى والمرئة كبيرة فلها النفقة من ماله" او که مېړه کوچنی وو د ماينې د وطي قدرت يې نه درلود او ماينه يې لوه وه نو نفقه يې حق ده د مېړه د مال څخه ولي چې عجز د جماعو څخه خو د مېړه د خوا دي د دې د خوا نه دي، او که دواړه کوچنيان وه د وطي قابل يو هم نه وو نو بيا يې نفقه نه ده واجب حتی چې حد ته د استمتاع رسېږي، جوهر.

قال القدوری رحمة الله عليه " واذا طلق الرجل امرئته فلها النفقة والسكنى رجيعا كان او بائنا" او که طلاقه کړه يو سړي ماينه خپله نو دې لره نفقه سته او د اوسيدو ځای هم که رجعي طلاق وي او که بائن او امام شافعی رحمة الله عليه وايې چې په بائن طلاق سره طلاقي سوي ښځې لره نفقه نسته مګر که حامله وه نو په سببه د حمل چې د نر ولد دي نفقه د مور يې واجب ده. والد لائل للفريقين طويلة الاڑيال والتفصيل فی الشروع وبحر الرائق والشامی وفتح القدير وغير.

قال القدوری رحمة الله عليه " ولانفقة للمتوفى عنها زوجها" او نفقه نسته هغې ښځې لره چې مېړه ځندي مړوي يعني نفقه د عدي د مياشتو نه لري ولي داچې په کور کې بندي ده د حق الزوج په سبب نه ده، بلکه عدت د وفات حق الله دي، او دا اوسېده د دې د ميړه په کور کې عبادت موجب دي د ثواب د دې د پاره او په دې عده برائت د رحم د دې هم نه

دي مقصود، که هغه وای نو عده بې په حيضو وايې او بله خبره دا ده چې نفقه د عدې د ورځو خو کرار کرار پر مېړه لازمېږی، مېړه چې مړ سو نو خو دی هيڅ ملك نه لري، هدايه در.

قال القدوری رحمة الله عليه " وكل فرقة جائت من قبل المرئة بمعصية فلا نفقة لها" او هر جلاوالي د مېړه او د ماينې چې د ماينې د خوا راسي په يوه ګناه سره لکه ښځه چې د مېړه د بلي ماينې د زويه سره زنا وکړي، او يا مرتده سي نو د نفقې حق نه لري ولي خو دې بغير حقه ځان د مېړه څخه بند کړي، كذا فی الهدايه.

مسئله:- اوسېده په کور کې د مېړه مستحق او واجب دي نو د دې په معصيت سره نه ساقطيږي، عنايه.

قال المصنف رحمة الله عليه " وان طلقها ثم ارتدت سقطت نفقتها" او که مېړه ماينه طلاقه کړه يعني دا مسلمانه وه وروسته تر طلاق دا مرتده سوه نفقه يې ساقطه سوه ولي حق د مېړه چې عده ده او يا رجوع ورته کول که طلاق رجعي واى د دې د معصيت په سبب ساقط سو، نو حق د دې چې نفقه وه هم دې په لغته ووهله، او که د مخه تر طلاق مرتده سوه هم نفقه يې نسته بلکه په طريق اولی.

قال المصنف رحمة الله عليه " وان امكنت ابن زوجها من نفسها فان كان بعد الطلاق فلها النفقة وان قبل الطلاق فلا نفقة لها" او که قدرت ورکې ښځې د مېړه و زوي ته پر خپل ځان يعني وطي يې ورسره وکړي نو که دغه وطي که ورسته تر طلاق وې نو دي لره نفقه سته او د مخه تر طلاق وطي ورسره وکړې بيا نفقه دې لره نسته ولي په اول

صورت کي تر فرقت وروسته دې زناه وکړه او په دوهم صورت تر فرقت د مخه دي د تمکين الزوج ګناه وکړه نودې خپل حق د نفقې په خپله د لاسه ورکړي.

قال" ولو حبثت بدين" او که بندي سوه ښځه يعني ماينه د سړي په پور کي چي پر دې باندي وو.

پوه سه:- چي په مبسوط او په جامع کي وايي که ښځه ظلما بندي سوې وه يعني بېله پوره، د هغې هم دغه حکم دي.

او غصبها رجل کرها فذهبت بها" او يا غصب کړې وه دا ښځه يو سړي نو يې بېولې وه د کوره څخه.

پوه سه:- چي ذهب بها تفسير د غصب دي ولي چي د کور يې نه بوزي هغه خو غصب نه دي.

او حجت مع محرم" او ياحج ته تللې وه سره د محرم سړي.

فلا نفقة لها" نو په درو سره صورتو کي دې لره نفقه نسته، ولي چي احتباس د مېړه فوت سو لکن دا مذهب دي د امام اعظم رحمة الله عليه او د امام محمد رحمة الله عليه، او صحيح هم دغه مذهب دي او امام ابو يوسف رحمة الله عليه وايي که ښځي چي په پور کي بندي سوه، او دې قدرت پر آدا کولو د پور نه درلو دي او يا ظلما بندي وه نفقه يې حق ده، لکن په مجمع الانهر کي وايي که مېړه وه بندي خانې ته رسېدي او د دي سره يې وطي کولای سوای نو نفقه يې واجب ده.

قال المصنف رحمة الله عليه" واذا مرضت في منزل الزوج فلها النفقة" او که ښځه ناجوړې سوه په کور کي د مېړه نو دې لره نفقه سته

ولي دې خو خپل ځان مېړه ته سپارلي دي، او احتباس د دې هم موجود دي او ناجوړي خو د طرف څخه د خداي پاک جل جلاله ده، او مېړه که وطي نه سي ورسره کولای په سبب ددې د ناجوړي لکن بيا هم خو يې په دې د کور دروازه خلاص ده، او د وحشت د يوازي والي خو مېړه په دې سره سره د ناجوړي خلاص دي نو دا ناجوړي لکه حيض داسي ده، نو دا ناجوړي مانع د حق د دې چي نفقه ده نه ده لکه حيض چي که څه هم مانع ده وطي دي لکه نفقه يې واجب ده.

مسئله:- که ښځه د پلار يا ورور په کور کي ناجوړې سوه بيا نفقه يې نسته، ولي احتباس د مېړه د خوا فوت سو او نفقه خو کما مر جزا د احتباس ده.

قال رحمة الله عليه" وتفرض على الزوج نفقة خادمها اذا كان موسرا ولايفرض لاكثر من خادم واحد" او فرض ده پر مېړه نفقه د خادم د ماينې يعني که ماينې د کور يو خادم ښځه پيدا کړي وه د هغې نفقه هم پر مېړه واجب ده لکن چي مېړه د ښځي غني وي، او که مسکين وو فلا يكلف نفسا الا وسعها، دليل د لزوم د نفقې د خادم دادي، چي هغه شيان چي ماينه په کور کي احتياج ورته لري هغه پر مېړه دي نو خادم هم د ما تحتاج اليه څخه دي، او نه ده فرض نفقه د بالاتر يوه خادم ولي چي ضرورت ورته نسته.

قال رحمة الله عليه" وعليه ان يسكنها في دار مفردة ليس فيها احد من اهليه الا ان تختار ذالک" او فرض ده پر مېړه باندي چي ماينه به اوسوي په جلا سرای کي چي په هغه سرای کي هيڅوک د قريبانو څخه ددې نه وي ولي د هر ځله ښځه د قريبانو څخه د مېړه تنګيږي يعني په

سرخي وو سپيده د مېړه سره ازاده ګوزاره نه سي کولای بلکه د خسر او خوابنې او د خوندو د مېړه غالبا په جنګ او جدل به اخته وي، کماهو المجرب فی زماننا، مګر که دې مايني خوا بده کړه چې زه ستا د قربانو سره اوسېږم نو بيا عليحده سرای پر مېړه فرض نه دي لکن، دروېش وايي، چې دا به ډېره نادره ښځه وي.

واقعه:- زمونږ کور ته يو وخت ښځي راغلي وې زمونږ د ښځو سره يې مجلس کاوه زه پخپله خونه کې ناست وم او دوي د باندي، نو يوې ښځي وبلي ته چې هغې بلي ښځي لور چاته ورکړې وه دې ښځی ورته وويل چې، تاچې لور ورکړې ده زوم دي ټکتر او ټېله درلوده؟

هغې ورته وويله هو درلوده يې نو هغې بلي ښځي ورته وويل چې نو دي ولي لور ورکول ظالمي، زه ودې خبري ته حيران سوم چې ټکتر او ټېله په نکاح پوري څه اړه لري وروسته چې هغه ښځي ولاړې ما د خپلو ښځو څخه پوښتنه وکړه چې دا ټکتر او ټېله دې ښځو څه شي بولي هغو راته وويل چې د ټکتر څخه مراد خسر وو او د ټېلې څخه مراد خوابنې وه.

قال القدوری رحمۃ اللہ علیہ " وللزوج ان يمنع والديها وولدها من غيره واهلها من الدخول عليها" او مېړه دا حق لري چې منع کړي مور او پلار د ماينی او زوی د ماينې چې د بل مېړه څخه وي او نور قربان د دې لکه ورونه او خوندي د دې چې سرای ته د مېړه د ننه د ملاقات دده د ماينې د پاره ورځي ولي چې کور خو خاص ملك د ده دي نو دي حق لري چې بل څوك ځندي منع کړی.

قال القدوری رحمۃ اللہ علیہ " ولايمنعهم من النظر اليها ولامن كلامهم معها فی ای وقت اختاروا" اونه دي منع کوي مېړه مور او پلار يعني او نور محرمان د ماينې د کتلو څخه ودې ته، او نه دي منع کوي د خبرو څخه ددې سره يعني د سراي په دروازه کي، ولي په داسي منع کي خو قطعه د وصلي رحمي د دې او د قربانو تر مابين راځي، او دا قطعه حرام ده او د مېړه په دې کي ضرر هم نسته ولي چې داخل ته د سرای د ده نه ورځي نو دا ملاقات هروخت چې د قربانو زړه وغواړي که د شپې او که د ورځي، هدايه.

دروېش وايي:- که د قربانو په دخول وه سرای ته د دوي مېړه ضرر لیدي نو په منع کولو کي کراهت هم نسته، او که يې صرف دوي په دغه منع سره زهېرولې نو بيا يې منع کول مکروه دي.

قال المصنف رحمۃ اللہ علیہ " ومن اعسر بنفقة امرئته لم يفرق بينها" او که مېړه مسکين وو په ورکه کي د نفقې د ماينې يعني د طاقت يې نه وه پوره جلاوالي دي نه کيږی په مابين کي د دوي يعني قاضي دې حکم په جلا والي نه کوي ولي چې تفريق خو خالص ضرر د مېړه دي او تاخير د نفقې خو ډېر ضرر د ماينې نه دي ولي خو دابه استدانت وکړي پر مېړه کما سيئاتی، او امام شافعي رحمۃ اللہ علیہ وايي چې فورا دې سره جلا کړي، دی قياسه وي پر مجبوب او پر هغه غني مېړه چې نفقه ماينې ته نه ورکوي مورږ وايو چې دا قياس مع الفارق دي، کما لايخفی.

ويقال لها استدانی عليه" او د قاضي د خوا دي وويل سي ښځي ته چې ته طلب د پور کوه د خلګو څخه پر زمه د مېړه يعني د خلګو څخه

په قدر د نفقې د دې او کوچنيانو د دې چې زما ميړه يې بيا درکوي د قاضي په امر د استدانت، فائده داده چې ښځه بل وخت د پوره وړو حواله په امر د قاضي پر ميړه کولای سي.

قال القدوری رحمۃ اللہ علیہ" واذا غاب الزوج وله مال فی يد رجل يعترف به وبالزوجية فرض القاضی فی ذالک المال نفقة زوجة الغائب واولاده الصغار ووالديه ويامنها كفيلا بها ولايقضی بنفقة فی مال الغائب الالهٰؤلاء" او که ميړه د ښځې غائب وو او ده مال درلودی په لاس کی د يو سړي يعنې که يې پور پر باندې وي او که يې امانت ورته ايښې وي او هغه سړي هم اقرار کاوه په مال د غائب چې زما سره سته او په دې يې هم اقرار کاوه چې دغه غائب د دې ښځې ميړه دي يعنې که هغه سړي يا خو اقرار په مال د غائب د ده سره نه کاوه، بلکه منکر وو، او يا يې اقرار په مال د غائب خو کاوه مګر د دې څخه چې دغه ښځه د هغه ماينه د منکر وو، نو بيا قاضي پر دغه سړي د غائب د ماينې او د عيال د هغه نه سي فرضولای، او چې دا دوه شرط پيدا وي نو دي قاضی مقرره کړي نفقه دي ښځې او د کوچنيانو د دې او د مور او پلار د ميړه، يعنی چې دوی محتاجه وي، په هغه مال کې د غائب يعنې په قدر د کفايت او قاضي دي ضامن واخلي د ښځې څخه چې ماته دومره نفقه رسېدلې ده تاچې بله ورځ انکار ونکړي او قاضي دي حکم نه کوي په مال کې د غائب په نفقې سره د ماسوی د دغو مذکوره کسانو.

قال القدوری رحمۃ اللہ علیہ" واذا قضی القاضی لها بنفقة الاعسار ثم ايسر فخاصمته تمم لها نفقة الموسر" او که قاضي حکم وکړي پر ميړه د ماينې د پاره په نفقه د مسکنت يعنې چې ميړه مسکين وو او وروسته ميړه غنې سو او ماينې يې دعوه د نفقه ايسار وکړه نو قاضي دي ورپوره کړي ودې ته نفقه د موسر او غنې ميړه يعنې پر ميړه دي حکم وکړي چې نفقه د غنې ورکوه.

قال" واذا مضت مدة ولم ينفق الزوج عليها وطالبته وبذالک فلاشيئ لها الاان يكون القاضی فرض لها نفقة او صالحت الزوج علی مقدارها فيقضی لها بنفقة مامضٰی" او که يوه مده تېره سوه او ميړه نفقه نه وه ورکړې ماينی ته، وروسته ماينې طلب وکې د تېرو سوو مياشتو مثلا د نفقې نو دې لره د مامضٰی د نفقې حق نسته ولې چې نفقه د ماينې شرعا صله رحمي ده د ميړه د خوا، ولاتملك الصلة الا بالقبض" مګر هغه وخت د مامضٰی نفقه د دې حق دي که قاضي ودې ته نفقه ايښې وه ولي حکم د قاضي نافذ دي پر هرچا، او يا ميړه او ماينې د مخه لا پر اندازه مقدار د نفقې صلح سره کړې وه نو بيا هم ښځه مطالبه د مامضٰی د نفقې کولای سي ولې چې د دوي ولايت پر خپلو ځانو بالا دي تر ولايت د قاضي پر دوي باندې.

دروبش وايي:- چې په دې مسئله کې امام شافعی رحمۃ اللہ علیہ مخالف دي ومزيد التفصيل والدلائل يطلب من الشروح.

فيقضٰی لها بنفقة مامضٰی" نو حکم دي وکړه سي په نفقه د تېرې زمانې د ښځې د پاره په دواړو صورتو کې.

قال" فان مات الزوج بعد ماقضٰى عليه بالنفقة ومضت شهور سقطت النفقة" او که مړ سو مېړه پسله دې څخه چې پر ده باندې قضاء او حکم د نفقې سوي وو او څو مياشتې تېرې سوې نفقه ساقطه سوه، په مجمع الانهر کې وايي که ماينې پور کړي وو په امر د قاضي نو هغه نفقه نه په مرګ اونه په طلاق ساقطېږي، وهو الصحيح ولي چې قاضي ولايت همه جانبه لري، نو پور کول د ښځې په امر د قاضي لکه پور پخپله د مېړه د نفقې د ماينې د پاره او هغه په مرګ د مېړه نه ساقطېږي نو د قاضي په امر پور هم په موت د زوج نه ساقطېږي يعني ورته به يې د ده د ماله څخه ورکوي، دليل د سقوط د نفقې چې په متن کې ذکر سو هغه خبره ده چې مونږ قبلا ذکر کړه چې نفقه شرعا صله رحمي د مېړه د خوا او صلاحت قطعه سو ولي په مرګ سره مال د وارثانو حق دي، په مرګ قبل القبض ساقطېږي لکه هبه قبل القبض، كذا فى الهدايه ودر.

قال المصنف رحمه الله عليه" وان اسلفها نفقة سنة ثم مات لم يسترجع منها بشئ" او که پېشکي ورکړې وه مېړه ماينې ته نفقه د يوه کال او مېړه مړ سو يعني تر کال تېرېدو د مخه نو طلب د بېرته ورکولو د ماينې څخه نسي کيدای يعني ورثه د ميت دا دعوه نه سي کولای ولي چې مونږ وويله چې نفقه لکه هبه ده او هغه بعد القبض، وموت الواهب ورثه حق د بېرته اخستو نه لري، فكذا النفقة.

وقال محمد رحمه الله عليه يحتسب لها نفقة مامضٰى وما بقى للزوج" او امام محمد رحمه الله عليه وايي چې ښځې ته دي په حساب د تېرو

سوو مياشتو نفقه ورپرېږي دي او پاته نفقه د مېړه ده، يعني ورثه د مېړه دي د ښځې څخه بېرته واخلي، وهذا مزهب الشافعى رحمه الله عليه ايضا والدلائل فى المبسوطات.

قال المصنف رحمه الله عليه واذا تزوج العبد حرة فنفقتها دين عليه يباع فيها" او که چيرې په نکاح کړه مريي حره ښځه نو د هغې نفقه پور دي پر ده چې مريي پکښې خرڅېږي. تفصيل المقام، که مريي ماينه وکړه بېله اجازې د بادار نو نکاح يې نه ده صحيح، نو نفقه هم حق نه لري که څه هم وطي ورسره وکړي نو مريي د هغې په نفقه کې نه خرڅېږي، او دغه رنګه په ولور کې د هغې پر بادار نه ده لازمه چې مريي به خرڅوي، ولي چې مريي خو د نکاح په باره کې ممنوع وو، نو وجوب د مهر يې د بادار پر ذمه نسته البته چې مريي ازاد سي بيا به يې ماينه مطالبه د مهر ځندي کوي او مولي کولای سي چې د طرف د ده څخ فديه د ولور ورکړي او که مريي مړ سو بيا ولور ساقط سو، او د حري د قيد فائده داده که مريي مينځه د بل سړي په نکاح کړه نو هغه مستحق د نفقې نه ده چې بادار د ښځې دوي دوه يوځای شپې تېرولو ته پرې نږدي، او که يې حره ښځه په اجازه د مولي په نکاح کړه نو نفقه د هغې او دغه رنګه ولور د هغې پور دي په زمه کې د مريي نو چونکه نکاح په اجازه د بادار ده نو دا پور نقل کېږي ورقبې ته د مريي چې ملك د مولى ده نو ځکه مريي پکښې خرڅېږي چې مولي يې برداشت د پور نه لري، لکه چې پر عبد ماذون فى التجارة پور باندې سي، نو مريي په هغه پور کې خرڅېږي، فكذا فى نفقة الحرة ومهر.

قال المصنف رحمه الله "واذا تزوج الرجل امة فبوئها مولاها معه منزلا فعليه النفقة وان لم يبوئها فلا نفقة لها عليه"

او که یو سړي په نکاح کړه مینځه یعني د بل سړي نو بادار د مینځي دوي دوه سره اله کړه په یوه کور کي نو پر مېړه نفقه د هغې مینځي ماینې واجبه د ولي چي احتباس د مېړه د خوا پر دې راغلي او جزاء د احتباس نفقه ده، او که مولي پسله یوځای کېدو څخه د مینځي او مېړه د مینځي څخه د کور د خدمت طلب وکړي نفقه د مېړه څخه ساقطه سوه ولي چي مینځه د ده د احتباس څخه ووتله، او که بادار خو د دې څخه طلب د خدمت نه کاوه لکن دې ګاهي ګاهي د بادار د کور خد مت ورکاوه بیا نفقه پر مېړه لازمه ده، او که بادار خپله مینځه د مېړه سره نه کړه یوځای بیا حق د نفقې نه لري.

قال القدوری رحمه الله "ونفقة الاولاد الصغار على الاب لا يشاركه فيها احد كما لا يشاركه فى نفقة الزوجة احد"

او نفقه د کوچنیانو اولادو پر پلار ده په لزوم کي د نفقې د دوي هیڅوك نه دي ورسره شریك، یعني نه لویان ورونړه نه اکاګان وغیرهم لکه په نفقه کي د ماینې د سړي چي هیڅوك یې په نفقه کي ورسره شریك نه دي، قال الله تعالى وعلى المولود له رزقهن، او مولودله پلار ته وایې.

قال" فان كان الصغير رضعيا فليس على امه ان ترضعه ويستاجر الاب من ترضعه عندها" او که کوچنی شیر خوره وو نو پر مور یې لازمه نه ده یعني شرعا چي ودې خپل زوي ته تی ورکوي، ولي چي نفقه د کوچني خو پر پلار ده او رضاع خو د کوچني نفقه ده، او مور

به یې شاید د تي ورکولو څخه عاجزه وي، او دلیل د عجز د دي امتناع د رضاع څخه ورنه کوچنی خو پر مور تر پلار ګران وي، قال الله تعالى "لاتضار والدة بولدها" یعني ضرر دي نه رسول کېږي ومور ته په سبب ددې د کوچني، یعني سره د عجزه پلار دا مجبوره کوي پر رضاع باندي، او سره ددې فقهاء رحمهم الله وایې چي د جهت د تقوي دي مور امر سي چي تی ورکوه، نو دا رضاع داسي ده لکه د بنځي جارو کول د کور ډوډۍ او دېګ پخول د کور کالي د مېړه پرېول، که څه هم قاضي یې نه سي مجبوره کولای پر دغو کالو لکن دیانة پر دې واجب دي، او پلار به د کوچني د پاره بله بنځه شیدې ورکونکې پیدا کوي چي هغه به هم کوچني ته شدې ورکوي د مور په حضور کي.

مسئله:- که د کوچني پلار ته مرضعه نه پیدا کېده او یا کوچني د بلي بنځي تی نه رودي نو بیا دې مور مجبوره کړي پر رضاع باندي ولي چي کوچني ضائع نسي، او دې مذهب ته قدوري رحمه الله او شمس الائمه السرخسي رحمه الله تللي دي، او په ظاهر الرواية کي وایې چي په دغه صورت کي دي هم مور نه مجبوره کوي پر رضاع ولي چي کوچنی نه ضائع کېږي په غړو یا بارتنګو یا په تورو چایو هم ژوند کولای سي، وفى المجتبى الاصح انها تجبر فى تلك الحالة وبه جزم فى الهدايه، والخانيه وعلى هذا الفتوىٰ، وفى فتح القدير هو الاصح، ولي چي کوچنی بېله شیدو د بنځي ناجوړی کېږي.

دروېش وایي:- چي دا فتوىٰ په پخوا زمانې پوري مبني ده چي کوچني ته به یې د مور د شیدو پر ځای یا غوړي یا بارتنګ ورکوله او یقینا په هغه سره کوچني مریض کیدي او دائمي ژوند یې نه سوای په کولای،

واما اليوم والزمان الحاضر فالفتوىٰ عندى على ظاهر الرايه، ولي په داكثري نصاب كي د هر عمر كوچنيانو لپاره خارجي د عيبه پاكي شيدې يعني پوډر راځي چي په هغو شيدو سره په بعض اوقاتو د مور تر شيدو بالاكوچني وده او پرورشت كوي، كما هو المعلوم بالتجربة، اللهم الان يقال ان الفتوىٰ على خلاف ظاهر الرواية كما صدر عن هؤلاء العلماء الكرام رحمهم الله انما هو فى الصحارى البعيدة عن البلاد التى لا تصل الى تحصيل اللبن المذكور والفتوىٰ تختلف باختلاف الازمنة والامكنة ولها امثلة كثيرة فى كتب الفقه فافهم ولاتسرع فى الرد والقبول والله اعلم بالصواب.

قال القدوري رحمه الله " فان استاجرها وهى زوجته او معتدته لترضيع ولدها لم يجز" او كه سړي مور د كوچني مزدوره كړه چي خپل كوچني ته دي تى وركوه، او دا ښځه د سړي فالحال هم ماينه وه، او په عده كي د طلاق رجعي وه اجماعا ودې ته دا مزدوري اخستل نه دي روا، او كه په عده كي د طلاق بائن وه نو بيا ومور ته مزدوري اخستل روا دي، ولي د مېړه ملك په طلاق بائن سره زائل سو نوددې او اجنبيه ښځي فرق نسته يعني اجنبيه ته خو مزدوري اخستل روا وه ودې مطلقې ته كه څه هم په عده د طلاق بائن وي مزدوري اخستل روا دي، وهو الصحيح، جوهره، در.

او دليل د عدم جواز د مزدوري اخستلو په صورت كي د ماينې او يا دعدې د طلاق رجعي دادي چي خداي پاك جل جلاله وايې "والوالدات يرضعن اولادهن حولين كاملين الآية" كه څه هم عبارت قرآني جمله خبريه ده لكن

دلته په معنا د امر ده يعني مندي به لزوما شدې وركوي وخپلو عيالو ته پوره دوه كاله.

سوال:- چي امر الهي موجود دي نو مېړه ولي ښځه نسي مجبوره كولاى پر ارضاع د كوچني كما مر فى متن السابق؟

جواب:- عدم جبر خو په دې سبب وو چي مونږ وايو چي شايد مور به معذوره وي د ارضاع څخه لكن اوس چي دې اقدام وكړي پر ارضاع د مزدورى په سبب نو مونږ ته دا معلومه سوه چي دا د ارضاع څخه عاجزه نه ده، مجمع، در.

قال القدوري رحمه الله " وان انقضت عدتها فاستاجرها على ارضاعه جاز" او كه د ښځي عده تېره سوه او بيا ددې مېړه دا مزدوره كړه پر رضاع ددې ولد هغه روا ده، ولي چي نكاح په تېربدو د عدې بالكل د مابين څخه ولاړه او دا بېگانه ښځه سوه، هدايه.

قال" وان قال الاب لااستاجرها وجاء بغيرها فرضيت الام بمثل اجرة الاجنبية كانت الام احق به وان التمست زيادة لم يجبر الزوج عليها" او كه مېړه وويل چي زه دا مطلقه چي عده يې تېره سوي ده، د ولد د رضاع د پاره نه مزدوروم بلكه بېگانه ښځه مرضعه يي پيدا كړه، نو هغه مور د كوچني راضي سوه د هغې بېگانه ښځي په مقدار د مزدورى يعني د مخه يې ډېر مقدار مزدوري غوښته لكن اوس راضي سوه، نو مور حقداره ده تر بېگانه ښځي ولي د مور شفقت ډېر دي، او د خپل ولد نه پالنه كوي تر بېگانه ښځي كما لايخفى، دروېش.

قال القدوري رحمه الله" ونفقة الصغير واجبة على ابيه وان خالفه فى دينه كما وجبت نفقة الزوجة على الزوج وان خالفته فى دينه" او نفقه د نا بالغه اولاد واجبه ده پر پلار يعني كه كوچني مال نه درلودي، يعني چي يوچا وصغير ته مثلا هبةً روپۍ نه وي وركړي كه څه هم صغير مخالف وي په دين كي د پلار څخه مثلا پلار يې يهودي يا نصراني وي او كوچنى كه څه هم نا بالغه وي لكن عاقل وي او دين د اسلام يې قبول كړي وي، نو كه يې پلار غني وي او كه مسكين نفقه د زوي پر واجبه ده، لكه چي واجبه ده نفقه د ماينې پر مېړه كه څه هم زوجه په دين كي مخالفه وي، مثلا مېړه يې مسلمان وي او ماينه نصرانيه وي، وجه د وجوب د نفقې د ماينيي داده چي دا نفقه لكه ولور د بنځي په عقد كي د نكاح واجبه ده، او هر هغه مال چي په سبب د عقد لازم سي او عقد صحيح هم وي كما مثلنا هغه په اختلاف سره ددين كار نه لري لكه ثمن د مبيعې، او دليل د نفقې د صغيرانو پر پلار هغه حديث دي چي هنده چي ماينه د ابي سفيان رضي الله عنه وه وعليه السلام ته يې وويل چي ابو سفيان ډېر بخيل سړي دي، ماته او زما اولاد ته دونده شي نفقه نه راكوي چي زما او د عيال بس سي نو عليه السلام ورته وويل چي "خذى من ماله ما يكفيك وولدك بالمعروف" يعني په پټه دده د ماله څخه دومره شى اخله چي ستا او د عيال بس سي لكن بالمعروف يعني بېله اسرافه بالكه معتاده نفقه اخله، بخاري، قطع، دروښ.

زېرى

اسانه فقه پښتو چي پر مسائل دينيه وو مشتمله ده ډېر ژر به چاپ شي.

كتاب الحضانه

كتاب ثابت دي په بيان كي د روزني د كوچنيانو، يعني چي د مېړه او ماينې تر مابين جلاوالي راسي په سبب د طلاق د عيال د روزني حق د چا دي.

قال" واذا وقعت الفرقة بين الزوجين فالام احق بالولد، وان لم تكن الام فام الام اولى من ام لاب فان لم تكن ام الام فام الاب اولى من الاخوات فان لم يجد جدة فالاخوات اولى من العمات والخلات" او كه جلا والي راغلي په مابين كي د مېړه او ماينې، فالام يعني مور د كوچني ډېره حق داره ده يعني تر ټولو قريبانو د كوچني، په صحيح حديث كي راغلي دي چي يوه بنځه وعليه الصلوة والسلام ته راغله او داسي يې ورته وويل چي زما زوي زما نس يعني زما رحم دده د پاره ظرف وو، او زما غېږ دده د پاره ځاى وو، او زما تى دده د پاره مشكوله وه، او اوس يې پلار زما څخه كرځوي، نو عليه الصلوة والسلام ورته وويل چي ته حق داره يې تر پلار د كوچني چي تا مېړه نه وي كړي، او بله خبره داده چي مور اشفق ده پر ولد تر پلار او په تربيه د كوچني بنه پوهېږي تر پلار، او په حديث آخر كي راغلي دي چي څه فرقت واقع سو په مابين كي د عمر رضي الله عنه او دده د ماينې او عمر رضي الله عنه غوښتنه د اولاد كوله، نو ابو بكر صديق رضي الله عنه په لويه مجمعه كي د صحابه وو رضي الله عنهم حضرت عمر رضي الله عنه ته داسي وويل، چي د مور نارې ستا تر عسلو ډېري فائده مندي دي كوچني ته، نو حضرت عمر رضي الله عنه هم راضي سو او صحابه رضي الله عنهم وو هيڅ چا ترديد د رايي د حضرت ابو بكر رضي الله عنه ونه كړي فكان اجماعا منهم،

دروبش ناقلا من المواضع المختلفة، او که چېري د کوچني مور نه وه يعني يا مړه وه او يا يې بل مېړه کړي وو نو هغه لکه مړه دا سي ده ولي چې د موجوده مېړه د زاړه مېړه د اولاده څخه عموما بد راځي، نو بيا د مور مور ده چې د کوچني انا کېږي د مور د خوا اولی په حضانة د کوچني ولي چې مذکوره انا په شفقت کي لکه مور د کوچني دا سي دي کما يدل عليه التجربة، تر ام الاب، او که ام الام نه وه يعني مړه وه بيا نو ام الاب اولی ده په حضانة کي د کوچني تر خوندو، ولي چې هغه انا په جمله کي د مندو ده او شفقت يې تر خوندو ډېر دي، او که چېري انا نه وه نه د مور د خوا نه د پلار د خوا بيا نو خوندي د کوچني اولی دي تر عمه ګانو او خاله ګانو دده په سبب د قرب قرابت تر عمه او خاله.

پوه شه:- چې بعض فقهاء وايي چې خاله تر خوندو اولی ده، يقول عليه الصلوٰة والسلام الخالة والدة، ای مثل الوالدة والتجربة يشهد بذالک.

قال القدوري رحمه الله" وتقدم الاخت من الاب والام ثم الاخت لام ثم الاخت لاب" او د مخه ده خور د کوچني چې په مور او پلار دواړو يې خور وي، ولي چې دوه قرابت والا بهتره ده تر يوه قرابت والا، ثم او وروسته د مخه ده هغه خور چې د مور د خوا د کوچني خور وي، ولي چې د مور طرف ترجيح لري د پلار پر طرف، او وروسته نو خور د پلار د خوا يعني تر عمه ګانو او خاله ګانو ترجيح لري، او که دا ټولي نه وي بيا نو حضانت د عمه ګانو او خاله ګانو دي.

قال" وينزلن كما نزلت الاخوات ثم العمات ينزلن كذالك" او ترتيب لري خاله ګاني لکه ترتيب د خوندو، يعني ذات قرابتين اولی

دي تر ذات قرابة واحدة وروسته ذات قرابة الام اولی ده تر ذات قرابة الاب، او عمه ګاني هم پر دغه ترتيب دي.

قال" وكل من تزوجت من هٰؤلاء سقط حقها فی الحضانة الا الجدة اذا كان زوجها الجد" او هري ښځه ددغو مذکوراتو څخه که يې مېړه وکړي د هغې حق په حضانت کي ساقط سو، مګر نه انا د کوچني چې مېړه د هغې د کوچني نيکه وي، که د مور د خوا نيکه وي که د پلار د خوا، په حديث شريف کي راغلي دي چې يوه ښځه يعني چې دا او ددې مېړه سره جلا سوي وه، په باره کي يې د خپل ولد د عليه السلام څخه پوښتنه وکړه نو عليه السلام ورته وويل چې ته حقداره يې د ولد چې مېړه دي نه وي کړي، او وجه ددې خبري داده چې مونږ مخ کي وويل چې د ښځي د نوی مېړه د زاړه مېړه و عيال ته په ډېر ذلت ګوري او بد يې اسېږي، او په دې کي معلومداره ضرر د کوچني دي، نو ځکه حق د حضانت ددغو ښځو ساقطېږي.

قال القدوري رحمه الله" فان لم تكن للصبی امرئة من اهله فاختصم فيه الرجال فاولاهم به اقربهم تعصيبا" او که نه وه د کوچني د قريبانو څخه ښځه چې ذکر يې تېر سو په ترتيب سره، نو په کوچني دعوه وسوه د نرو قريبانو يعني دصبي په حضانت کي، نو اولی د نرو هغه قريب دي چې اقرب ددوي وي په عصوبت کي.

پوه شه:- چې د عصباتو بعد او قرب دي په سراجي کي په باب کي د عصباتو مطالعه سي اجمالا بيان يې دادي چې پلار تر ټولو اولی دي، او بيا نيکه تر ټولو مقدم دي او تر هغه وروسته ورور د کوچني چې لاب او ام وي، وروسته زامن دي ددوي په ترتيب سره وروسته بيا اکا د کوچني

دي او بيا زامن د اکا دي اصل ددې حضانت مېراث دي، او ولايت د نکاح دي، قطع، در، مجمع، په هدايه کي وايې چي صغيره نجلۍ دي داسي نر ته په حضانت نه ورکوي چي هغه يې محرم نه وي لکه د اکا زوي تحرزاً عن الفتنة آه.

قال" والام والجدة احق بالغلام حتى ياكل وحده ويشرب وحده ويلبس وحده ويستنجي وحده" مور او انا حقداره دي په نر کوچني سره يعني تر پلار هغه وخته پوري چي ډوډۍ که وچه وي او که لنده يوازي خوړلای سي، يعني ببله دې چي بل څوک يې په خوله ورکوي، او اوبه چښللای سي پخپله يعني ببله کهمك د مور او د انا، او کالي قميص او پرتوګ وغيره اغوستلای سي يوازي، او استنجاء وهلای سي خپله يعني پرتوګانې پخپله خلاصولای سي، او بولي او غول خپله کولای سي، او استنجای هم خپله وهلای سي او بيا خپل پرتوګانې خپله يوازي ترلای سي، او امام خصاف رحمه الله اوه (۷) کاله سن ورته ايښي دي، للغالب فی هذه الامور، بلکه مذکور فی المتن او د خصاف مذهب تقريباً سره يو شي دي، ولي چي عليه اسلام وايې چي تاسي امر کوي خپل کوچنيان په لمانځه سره چي اوه کاله ته ورسېږي، او دا ښکاره خبره ده چي لمونځ ببله اوداسه او استنجاء نه دي روا، او ابوبکر الرازي رحمه الله نهه (۹) کاله سن ورته ايښي دي، دی وايې چي په عادت کي کوچنی پر امور مذکوه وو قدرت نسي پيدا کولای تر نهه کاله په کم عمر کي، لکن فتوی پر قول د خصاف رحمه الله ده.

فائده:- مراد د استنجاء څخه ټوله اودس دي، او وروسته تر دغي اندازې يې بيا پلار د مور څخه جلا کولای سي، تا چي پلار يې عادات

او آداب د نرو وروښوي، او په بيع او شرا يې اموخته کړي، او مور يا انا دونده قدرت نه لري چي کوچني ته دي آداب او اخلاق د نرو ورزده کړي.

قال" وبالجارية حتى تحيض " يعني مور او انا حقداره دي په حضانت د ښځي کوچنۍ تر هغه وخته پوري چي دې ته حيض ورځي، ولي ښځه که څه هم د نرو مذکوره مرتبې ته ورسېږي، خو بيا هم دا محتاجه ده د ښځو د آدابو زده کېدو ته، او محتاجه ده د ډوډۍ پخېدو طريقوته او د کټوي وپخېدوته، او د کالیو رغېدو ته، وغير ذالك بما يحتاج اليه النساء فی بيت الزوج، او مور او انا دا مذکوره کارونه ډېر ښه ورښولای سي تر پلار، وروسته تر دې کارو زده کړي او وروسته تر حيض دا محتاجه ده ومېړه ته او پلار په دې باره کي ښه تجربه او قدرت لري تر مور وغيره او کفو وغير کفو سره پېژني، او ښه او بد خلګ سره جلاکولای سي، ولي پېغله ښځه چي د ښځو په اختيار کي وي لويه ښېره د زينا پر سته، او نر خو غيرت مند دي څوک ددوي پر پېغلو لنډو ناوړه اقدام نسي کولای، نو ځکه دي دا نجلي وپلار ته وسپارل سي، او په نوادرو رواياتو کي د هشام عن محمد رحمه الله داسي روايت راغلي دي چي نجلي چي حد ته د شهوت ورسېږي نو پلار ته دي وسپارل سي، وهذا صحيح وبه يفتی فی زماننا زمان الفتن وحب الشهوات فی النساء المراحقه وكثرت الضاق، نو چي نجلۍ يولس (۱۱) کاله ته ورسېږي دا يې حد د شهوت دي او فقيه ابو الليث رحمه الله نهه کاله وحد ته د شهوت مقرر کړي دي.

د دروېش خپله ذاتي فيصله داده:- چي د صحرا او د ښارو بايد فرق وکړل سي، ولي چي په صحراء کي يا په يوه محدوده قريه کي څو

کورونه وي ښه او بد نران پکښې معلوم وي، او نر که څه هم د زنا شوقي وي خو بيا هم د ښځې پر نا بالغه نجلۍ د بل چا تعرض نسي کولای، او بل د صحراء نجوني په خيرونو جامو کي وي او سپېره مخان يې وي، نو د چا شهوت هم نه ورته کښږي، او د صحراء نجوني ساده لوحه وي، د زنا او کوس ورکولو په قصه کي هم نه وي نو د صحراء په نجونو کي بايد فتوی په قول د هشام عن محمد رحمۃ اللہ علیہ چې يولس کاله دي ورکړه سي، او په ښارو کي چونکه ښځي او نجوني نر او هلکان د زنا په کار ډېر ښه پوهېږي، او د کور ښځي چې خپلې لنډې بازار يا دکان ته د سودا د پاره استوي شوندۍ ان يې ورسره کي او په بارخو ګانو سرخي وروموږي او سپېڅه په وکي، نو که نجلۍ څه هم بدرنګه وي په سرخي او سپېڅې او په سرو شوندۍ انو ښائسته معلومېږي، او په ښارو کي ډېر بد هلکان سته چې تر احاطه لاندي نسي راتلای، نو ځکه په ښارو کي دي فتوی په قول د فقيه ابو الليث چې نهه کاله يې د نجلۍ د پاره تاکلي دي ورکړل سي.

فائده:- دا ټوله بيان چې دروښ وکړي دا د تجربې څخه وايي، وللناس فيما يعشقون مذاهب" شايد چې ملا کندل او ملا خوشدل به وايي چې ته ځوك يې چې فتوی ورکوې.

دروښ وايي:- چې ورور د بل په عيبو پسې مه ګرځه وخپل عيبو ته متوجه سه، عذر من صنف قد استهدف.

قال المصنف رحمۃ اللہ علیہ" ومن سوى الام، والجدة احق بالجارية حتى تبلغ حدا تشتهى" او ماسوا د مور څخه انا حقداره ده د حضانت د نجلۍ تر هغه وخته پورې چې نجلۍ وحد ته د اشتها رسېږي،

يعني چې د نر اشتها ورته کښږي، ولي د ماسوا د مور او انا څخه پر نجونو کنټرول کم دي نو د فتنې ښېره سته:

قال المصنف رحمۃ اللہ علیہ" والامة اذا اعتقها مولاها وام الولد اذا اعتقت فهى فى الولد كالحرة" او مينځه چې بادار يې ازاده کړي او داغه رنګه ام الولد چې په مړګ د بادار ازاده سي نو هره يوه ددوي لکه حره ښځه ده په باره کي د ولد ددوي، يعني بادار يا ورثا د مړي حق د خصومت په حضانت کي نه ورسره لري مخروجهما عن ملكه.

قال" وليس لامة وام الولد قبل العتق حق فى الولد" او نسته مينځي او ام الولد لره د مخه تر عتق حق د حضانت په عيال کي ددوي ولي چې دوي د حضانت څخه عاجزه دي ولي چې دوي مشغوله په خدمت د مولى د کور دي سائر اليوم.

قال" والذمية احق بولدها مالم يعقل للاديان او يخاف عليه ان يالف الكفر" او ذميه ښځه لکه نصرانيه مثلا چې د مسلمان ماينه وي، حقداره په حضانت د ولد ده تر پلار تر هغو پورې چې کوچنی د کفر او اسلام په فرق نه وي پوهېدلي، او يا ښېره ددې نه وي چې د کفر سره به يې الفت پيدا سي.

قال" واذا ارادت المطلقة ان يخرج بولدها من المصر فليس لها ذالک الاان تخرجه الى وطنها وقد كان الزوج تزوجها فيه"

او که مطلقې ښځي اراده وکړه چې دا اوباسي خپل ولد د ښار څخه يعني هغه ښار چې پلار يې په هغه ښار کي وي، نو دې لره دا حق نسته ولي چې په دې کي د پلار ضرر دي چې ګاهي ګاهي بې خپل عيال ليدي

او ښځه يې دده څخه غائبه وي، مګر که ښځي ولد خپل اصلي وطن ته وړي نو بيا حق لري، لکن په دې شرط چې مېړه دا په هغه وطن اصلي کې ددې په نکاح کړې وي، لکن که په دار حرب کې دوي نکاح سره کړې وي، نو ښځه يې دار حرب ته نه سي ښولای للخطر فی ذالك کما لایخفی، مجمع، در.

قال" وعلی الرجل ان ینفق علی ابویه واجداده وجداته اذا کانوا فقراء وان خالفوه فی دینه" او پر نر يعني نه پر ښځي واجبه نه ده چې نفقه به ورکوي مور او پلار او نيکه ګانو ته چې دوي مسکينان وي، که څه هم دوي ددې څخه په دين کې مخالف وي، يعني دی مسلمان وي او هغه کافران، په هر نوع کافر چې وي، د پلار او مور د نفقې دليل دا قول د خداي پاك ﷻ دي چې په باره کې د مور او پلار نازل سوي دي، چې مور او پلار دواړه کافران هم وي "صاحبهما فی الدنیا معروفا" يعني ته ګذاره کوه د مور او پلار سره د معروف او احسان پر طريقه، او دا به معروف نه وي چې زوي ورجي او غوښي او د خداي ﷻ نور نعمتونه خوري او مور او پلار يې د لوږې مري او د نيکه ګانو او اناګانو نفقه چې پر لمسي واجبه ده ددې سببه چې دوي هم په جم کې د ابا او امهاتو دي، نو هم دا سبب دي چې پلار د مړي نه وي نيکه يې د ميراث برخه وړي، او مصنف رحمه الله ددوي فقر شرط کې ولي که دوي اغنيا وي نو نفقه ددوي په خپل مال اولی ده.

قال القدوري رحمه الله" ولاتجب النفقة مع اختلاف الدین الا لزوجته والابوین والاجداد والجدات والولد وولد الولد" او نه ده واجبه نفقه سره د اختلاف ددين مګر نه ماينې لره، ولي چې په عقد د

نکاح د مېړه سره دا بندي ده وقد مر من قبل، نو چونکه نفقه د ښځي عوض د احتباس ده نو ددې سببه که دی غني هم وي نفقه يې پر مېړه واجبه ده، نو اختباس په يو والي پوري د ملت اړه نه لري او د مور او پلار او نيکه ګانو او انا ګانو بيان دمخه تېر سو، او د اولاد صغار او کبار چې فقراء وي او داغه رنګه ولد الولد که څه هم کافران وي ددې سببه واجب ده چې اولاد لکه د سړی جزء داسي دي نو لکه د خپل ځان نفقه، ځان چې په کفر پوري اړه نه لري نو جزء هم په کفر پوري اړه نه لري.

مسئله:- که دغه کسان په دار حرب کې که څه هم مسکينان وي نفقه يې پر مسلمان زوي لازمه نه ده، لانا نهينا عن البر حق من يقا تلونا فی الدین، هدایه، منح، در.

قال" ولا یشارک الولد فی نفقة ابویه احد" او نه دي شريك د زوي سره په نفقه کې د مور او پلار دده هيڅ څوك يعني ورونړه او خوندي او اکاګان وغيرهم، ولي چې مال د زوي لکه د پلار مال دي کما جاء فی الحدیث النبوي ﷺ "انت ومالك لابیك" نو ګويا پلار په مال د زوي غني دي، او د غني نفقه خو پر چا نه ده واجبه.

قال المصنف رحمه الله" والنفقة واجبة لکل ذی رحم محرم اذا کان صغیرا فقیرا او کانت امرئة بالغة فقیرة او کان ذکرا زمنا او اعمٰی فقیرا یجب ذالك علی مقدار المیراث" او نفقه واجبه ده پر سړي د هر چا چې قريب وي د ده يعني په نسب کې او محرم يعني نکاح يې سره ناروا وي يعني يو نر فرض کړي او بله ښځه نکاح يې سره ناروا وي، نو په نسب کې قريب وو او محرم نه وو لکه د اکا زوي او يا

محرم خو وو لکن د نسب قریب یې نه وو لکه رضعي ورور، نو نفقه پر سړي نه ده واجبه، بنایه بحذف، چې هغه کوچنی وي او فقیر وي ولي چې کوچنی فقیر خو د کار او کسب څخه عاجزه دي او د غني نفقه خو د خپله ماله څخه ده، او یا ښځه وه بالغه فقیره یعني چې مېړه نه لري، او یا نر وي لکن شل او یا ړوند وي فقیر نو دا نفقه په اندازه د میراث د سړی.

دروېش وایي:- چې ترتیب او تفصیل د میراث د عصباتو په دې کتاب کې ډېر ګران او بې فائدې دي، ولي چې متعلیمان ددې شرحي به هیڅ فائده پروا نه خلي ولي چې سراجي چې وضع یې د میراث د ویشلو د پاره ده، هوړې دغه تقسیم د میراث د زوي الفروض او عصباتو ډېر مشکل دي، نو ځکه ما دا تفصیل صرف نظر کړي او که د تفصیل شوق لري نو دي سراجي مطالعه کړي او یا لوي شرحي د قدوری وه ګوری او انشاء الله العزیز بعض تفاصیل د میراث به په دوهم جلد کې د دې شرحي د قدوری راسي، نو تر هغو انتظار وکړی چې دروېش د دوهم توك د نکاح د قدوري و هغه ځای ته ورسېږي، ومن الله التوفیق.

قال القدوری رحمۃ اللہ علیہ" و تجب نفقه الابنة البالغة والابن البالغ الزمن علی ابویه اثلاثا علی الاب الثلثان وعلی الام الثلث"
او نفقه د بالغ زوی چې شل وي او د لور چې بالغه وي، یعني چې مېړه نه لري پر پلار او پر مور ده، پر پلار باندي دوې حصې او پر مور باندي یوه حصه یعني په اندازه د میراث د دوی.

پوه سه:- چې دا روایت د خصاف رحمۃ اللہ علیہ دي او په ظاهر الروایة کې توله نفقه پر پلار ده، وینبغی ان یفتی بظاهر الروية.

قال رحمۃ اللہ علیہ" ولا نفقة واجبة علی الفقیر" او نفقه د هیڅ قریب پر فقیر سړي واجبه نه ده، یعني ببله ماینې ولي چې د فقیر په خپله نفقه پر اقرباو لازمه ده، نو پر ده څرنګه د قریب نفقه واجب سي.

قال" وان کان لابن الغائب مال قضی علیه بنفقة ابویه وان باع ابواه متاعه فی نفقتهما جاز عند ابی حنیفة رحمۃ اللہ علیہ"
او که چېرې وو غائب زوی لره مال، قاضي دي حکم پر مال د غائب په نفقه د پلار او مور وکي یعني چې فقیران وي، او که پلار او مور خرڅ کړي مال او سامان د مسلمان غائب زوي په نفقه کې خپل روا دي په نېز د امام اعظم رحمۃ اللہ علیہ، او یاران رحمۃ اللہ علیہ وایي چې د غائب د مال که منقول وي او که غیر منقول وي مور او پلار ته نه ده روا خرڅول یې، و هو القیاس فی مال الغائب" او امام اعظم رحمۃ اللہ علیہ وایي چې ابوین لره حق د تملك سته په مال کې د زوي، او منقول مال چونکه حفاظت غواړي نو په انفاق د مور او پلار کې خرڅول د حفاظت یو قسم دي، او غیر منقول لکه مځکه او باغ هغه خو په خپله محفوظ دي نو ځکه مصنف رحمۃ اللہ علیہ وویل.

قال" وان باع العقار لم یجز وان کان لابن الغائب مال فی ید ابویه فانفقامنه لم یضمنا" او که چیري وو ابن غائب لره مال په لاس کې د ابوینو نو دي په نفقه کې مصرف کې عند الاحتیاج نو پر دوي ضمان د زوي د خوا نسته ولي خو دوی خپل حق واخستی ولي چې نفقه د دوی واجبه ده په وخت کې د فقر پر زوی باندي.

قال المصنف هدایه رحمۃ اللہ علیہ" واذا کان له مال فی ید اجنبی فانفق علیهما بغیر اذن القاضی ضمن" او که ابن غائب لره مال

وو په لاس کی د بېګانه او هغه بیګانه سړي دا مال مصرف کی په نفقه کي د ابو ینو د غائب لکن بېله اجازې د قاضي نو دغه اجنبي ضامن دي وه ابن غائب ته چي هغه مال به ورکوي، او که دغه سړي د قاضي اجازه اخستې وه نو بیا ضمان پر ده نسته، ولي چي په اول صورت کي خو دی د حفظ المال د پاره غائب مختار کړی وو، او په دوهم صورت کي خو قاضي لره ولایت قائمه سته.

قال القدوری رحمۃ اللہ علیہ "واذا قضی القاضی للولد والوالدین ولذی الارحام بالنفقة فمضت مدة سقطت" او که قاضي حکم وکړی پر یو سړي یعني چي غني وو د ولد، مور و پلار او د نور اهل قرابت د ده په نفقه سره نو څو میاشتي مثلا تېري سوې یعني مذکوره کسانو طلب د نفقې نه وکړی، نو د هغو تېرو میاشتو نفقه یې ساقط سوه ولي نفقه د پاره د حاجت او مسکنت وه ځکه د غني نفقه پر سړي لازمه نه ده، نو دوی چي داڅو میاشتي طلب د نفقې نه کاوه نو معلومه داده چي د دوی ګزاره کېدله، او د دې څخه مخالف دي نفقه د ماینې چي قاضي حکم په وکړي او دې یې څو میاشتي طلب وه نه کړي پر مېړه د مامضی من الشهور نفقه هم واجبه ده، ولي ماینه که څه هم غني وي نفقه یې پر مېړه د بخلاف هو لاء المزکورین، هدایه، ودر.

قال المصنف رحمۃ اللہ علیہ "الا ان یقضی القاضی بالاستدانة علیه" مګر هغه وخت د مامضی نفقه هم پر سړي لازمه ده که قاضي ودغو کسانو ته حکم ورکړی وو چي تاسي پور کوي د ده پر زمه.

قال "وعلی المولی ان ینفق علی عبده وامته" ولي چي په حدیث شریف کي راغلي دي چي آنحضرت ﷺ وفرمایله د مریانو په باره کي، انهم اخوانکم جعلهم الله تحت ایدیکم فاطعموهم مما تاء کلون والبسوهم مما تلبسون ولاتعذلوا عباداللہ.

فائده:- ظاهر د حدیث شریف خو پر دې دلالت کوي که سړي په کور کي ورجي او غوښي او چرګان خوړله او هغه کالي یې اغوستل چي ګز یې مثلا په سل کالداري وو مریي ته به هم هغه خواړه ورکوي او هم هغسي کالي ورکوي، لکن فقها رحمۃ اللہ علیہ وایې چي نبه کار خو هم داغه دي یعني حدیث پر استحباب محمول دي، لکن هر چي وجوب دي هغه مطلقي نفقه د مریي پر بادار واجبه ده، کذا فی حواشی البخاری.

قال المصنف رحمۃ اللہ علیہ "فان امتنع من ذالک وکان لهما کسب اکتسبا وانفقا منه" او که منع وکړه بادار د نفقې څخه د مریي او مینځي، او د دوي کسب زده وو نو خپل کسب دي کوي او د هغه څخه دي د خپل ځان نفقه برابروي.

وان لم یکن لهما کسب اجبر المولی علی بیعهما" او که د مریي او مینځي هیڅ کسب نه ووزده چي ډوډۍ په برابر کړي او مولی خو نو هم ډوډۍ نه ورکوله، نو دې قاضي بادار مجبور کړی دا مریي او منځه خرڅه کړه تادوي د مرګ څخه د لوڑي خلاص سي.

صورت د عدم قدرت د مریي پر کسب دادي چي شل وي مثلا او د مینځي دادي چي ډېره سپین سړي وي څوک مزدوري نه ورکوي، او یا ډېره مردار خوره وي څوک یي نه مزدوره وي، او وجه د اجبار پر خرڅلو

داده چي دوي خو حق د نفقې پر بادار درلودي نو چي بادرا يې حق نه ورکوي نو چي خرڅ يې کړي هم به د دوي حق پر ځاي سي يعني پر بل مهربانه بادار به پېښ سي چي هغه به نفقه ورکوي، او د بادار په بيع کي ضرر هم نسته ولي خو ثمن به لاس ته ورسي، هدايه.

کتاب العتاق

دا کتاب دي په بيان کي د آزادولو د مريانو او يا منځيانو او د اقسام او احکامو د عتاق.

پښانه فائده:- چونکه په اوسنۍ زمانه کي په ټوله نړۍ کي د مسلمانانو په ديارو کي مريان او منځيانې نسته په قرار د معلوماتو د دروښ نو د هغو د احوال تحقيق او بيان د عتاق د اقسامو تفصيل په دې مختصره شرحه کي مناسب نه دي خصوصا و مبتديانو ته د پښتنو، چي د دوي په وطنو کي نوم د مريي خو سته لکن مصداق يې نسته نو ځکه دروښ په دغو مباحثو کي ډېر تفصيل نه کوي.

سوال:- ولي دا کتابونه او بابونه چي د عتق په متعلق کي دي نه حذف کوي؟

جواب:- د تبرک په اثارو سره د مذاهب اربعه وو رحمة الله عليه نه حذف کوم، اما په علت مذکوره د تفصيل څخه ډډه کوم لکه صرف او صرف ترجمه لفظي د عربي الفاظو بيانوم.

پوښتنه:- که خداوند متعال ﷻ وه مسلمانانو ته قدرت پر کفارو ورته ټه برخه کړی او بېرته مريان او منځياني و عالم وجود ته راغلې بيابه نو د دوې د احوالو بيان داغسي مهمل پاته سي؟

ځواب:- هرګز نه ولي زمانه د علماو څخه د دين نه خالي کېږي، او کتابونه او شروحي د هغو او د فتاواو کتابونه د مريانو او مينځيانو په احوالو سره ډک دي د هغو څخه به استفاده وکړه سي.

پوښتنه:- عربي کتابونه د قدماو رحمة الله عليه او د متاخرينو علماو رحمة الله عليه په تفصيل واره بيان د عقائدو د اهل سنة والجاماعة رحمة الله عليه او په بيان د فرائضو او د واجباتو او د سننو وغيرها ډک وه نو ماته څه محبوريت وو چي پر نورظلم دي شرح وکړه او پر ابوالمنتهى دي تفصيلي شرح وکړه او پر شروط الصلوة او د قدوري پر حصه د عباداتو او پر حصه د نکاح دي شرحي وکړې په پښتو ژبه او دا هم اراده لرې ان شاء الله تعالى چي د جناياتو څخه نيولې تر پايه پوري هم په پښتو شرح وکړې او پر نورالايضاح دي په درې (۳) غټو جلدو سره هم په پښتو شرحه کړې ده؟

ځواب:- ماڅو واره پخپلو پښتو کتابو کي ويلي دي چي زما مقصد صرف او صرف د پاره د رضا د جل وعلا د خپل پښتون قوم خدمت دي هغه قوم چي پښتو خط ويلای سي او د عربي د ترجمې څخه عاجزه وي که نر وي او که ښځي، او زما مقصد دادي چي دې قوم ته په خپلو کورو کي په خپل مورنۍ ژبه استادان پيدا کړم او انشاء الله تعالى په دې مقصد کي زه سل په سل کي کاميابه يم، البته حاسدان به هرځه وايي لکن د هغو په خبرو زما پروا نسته ولي دنيا په حسد کي روانه ده.

واقعه:- د يوه ملا چې څه ناڅه زما سره يې حسد کړلودي او زما نوشته به يې د نالائق کار په نظر کتله، نو دغه مولوي صاحب يوه شپه خوب ليدلي وو، او يو بل عالم ته يې دا خوب ويلي وو چي ډېر خلک ناست وه او مانخود په وښله او في نفر مي يو يو موټ ورکوله، او په

دې مابين کې مولوی عبيدالله راغلي او هغه في نفر يوه يوه لمن ډکه وښله نو د هغه بل عالم ته ويل چې زما زړه دده سره د حسد څخه پاک سو، او زه بيا وايم چې دا خوب ليدونکې عالم که يې زما غيبت کړی وي او که يې پر مابهتان ويلي وي، او که يې زما سره څه کړي وي ما ټوله د ته بخښلي په سبب د دغه بشارت آميزه خوب دده په حق کې د عاصي.

قال القدوری رحمة الله عليه" العتق يقع من الحر العاقل البالغ فی ملکه" آزادول د مريي يا مينځي واقع کيدای سي د حر سړي چې عاقل او بالغ وي په خپل ملك کې.

فاذا قال لعبده او امته انت حر او معتق او عتيق او محرر او حررتك او اعتقتك فقد عتق نوی العتق او لم ينو" که مالك ويل وه مريي ته يا وه مينځي ته چې ته حر يې، او يا آزاد شده يې، او يا عتيق يعنی آزاد سوې، او محررا يې، او يا ماته ازاد کړی يې او يا ما تاته عتق درکړي دي نو هغه آزاد سو که د ده نيت د عتق وي او که نه وي.

قال" وكذالك اذا قال راسك حر او رقبتك او بدنك" او دغه رنګه ازادېږي که يې ويل ستا سر حر دي، او يا ستا غاړه حره ده، او يا ستا بدن حر دي. او قال الامته فرجك حر" او يا يې مينځي ته ويل چې ستا کوس حر دي.

وان قال لا ملک لی علیک ونوی بذالک الحرية عتق وان لم ينو لم يعتق" او که يې ويل چې زه پر تا ملك نه لرم او قصد يې حريت وو، نو ازاديږي او که يې نيت نه وو نه آزاديږي.

وكذالك جميع كنايات العتق" او داغسي حکم دي د ټولو کناياتو د عتق.

وان قال لاسلطان لی عليك ونوی به العتق لم يعتق" او که يې ويل چې بادشاهي نه لرم پر تا باندي او نيت يې هم د عتق وو، نه آزاديږي.

و اذا قال هذا ابنی وثبت علی ذالك او قال هذا مولای او يا يامولای عتق" او که يې ويل چې دا مريي زما زوي دي او پردغه خبره هم ټينګ وو، او يا يې وويله چې دا زما بادار دي، او يا يې نعره وروکړه اې زما باداره، آزاد سو. وان قال يا ابنی او يا اخی لم يعتق" او که يې نعره مريي ته وکړه چې اې زويه او يا اې وروره نه آزاديږی.

قال" وان قال لغلام لايولد مثله لمثله هذا ابنی عتق عليه عند ابی حنيفة رحمة الله عليه وعند هما لايعتق" او که مالك ويل وداسي مريي ته چې د دونه عمر سړی وي چې د دوند عمر سړی بادار دي نه سوای زېږولای، داسي ويل چې دا زما زوي دي، نو په نېز د امام اعظم رحمة الله عليه پر ده آزاد سو، او ياران وايي نه آزاديږي.

ولو قال لامته انت طائق" او که يې ويل وه مينځي ته چې ته پر ما طلاقه يې. ونوی به الحرية لم تعتق" او د ده نيت په دې وينا کې

حريت وو، نه ازاديږي. وان قال لعبده انت مثل الحرة لم يعتق" او كه يې مريي ته وويل چي ته لكه حره ښځه يې نه ازاديږي.

وان قال ما انت الاحر عتق" او كه يې مريي ته وويل چي ته نه يې مګر حر ازاد سو.

قال القدوری رحمۃ اللہ علیہ" واذا ملك الرجل ذارحم محرم منه عتق عليه" او كه يو سړی مالك سو د داسي چا چي خاوند د قرابت نسبي وو، او محرم هم وو يعني نكاح يې هم سره حرامه وه نو پر ده بېله اختياره ازاد سو.

واذا اعتق المولى بعض عبده عتق عليه ذالك البعض ويسعى فى بقيته قيمته لمولاه عند ابى حنيفة رحمۃ اللہ علیہ وقالا يعتق كله" او كه يو بادار آزاده كړه يوه حصه د خپل مريي يا نصف ياثلث مثلا نو پر مولي هغه قدر حصه آزاده ده، او مريي به كوشش كوي په مزدوري وغيره سره چي د باقي حصې قيمت ومولى ته اداء كړي، دا په نېز د امام اعظم رحمۃ اللہ علیہ او ياران رحمۃ اللہ علیہ وايي چي توله مريي ازاد سو.

قال المصنف رحمۃ اللہ علیہ" واذا كان العبد بين شريكين فعتق احدهما نصيبه فان كان موسرا فشريكه بالخيار ان شاء اعتق وان شاء ضمن شريكه قيمة نصيبه وان شاء استسعى العبد" او كه يو مريي وو په مابين كي د دوو شريكانو، نو يوه شريك حصه خپله آزاده كړه نو كه دغه معتق غني وو نو هغه بل شريك ته يې اختيار دي كه دی هم خپله حصه مفته آزاده وي او كه يې خوښه وي ضمان ده

شريكه څخه واخلي د قيمت د خپلي حصې او كه يې خوښه وي طلب د سعي دي مريي څخه وكړي.

قال القدوری رحمۃ اللہ علیہ" وان كان المعتق معسرا فالشريك بالخيار ان شاء اعتق نصيبه وان شاء استسعى العبد وهذا عند ابى حنيفته رحمه الله" او كه آزادونكى شريك مسكين وو نو هغه بل شريك اختيار لرى كه دى هم خپله حصه آزاده وي او كه طلب د سعي د مريي څخه كوي او دا مذهب دي د امام اعظم رحمۃ اللہ علیہ.

وقال ابو يوسف ومحمد رحمهما الله ليس له الاالضمان مع اليسار والسعاية مع الاعسار" او ويلي دي امام ابو يوسف رحمۃ اللہ علیہ او امام محمد رحمۃ اللہ علیہ چي نسته هغه بل شريك لره بېله ضمانه سره د غنا د متعق اولى، او سعايه د مريي څخه په وخت د مسكنت د معتق.

قال القدوری رحمۃ اللہ علیہ" وكذالك اذا ورثاه والشريك بالخيار ان اعتق نصيبه وان استسعى العبد" او دغه حكم دي كه دوو كسانو ته يو مريي په ميراث پاته سو، او پر يوه آزاد سو نو دا بل شريك لره اختيار دي كه خپله برخه آزاده وي او كه د مريي څخه سعايه غواړي د دې مسئلې صورت دادي چي يوې ښځي د مېړه زوي يعني چي د بلي مايني څخه يې وو رانيوی او دا مړه سوه يو يې ورور پاته سو او يو يې مېړه نو نيمه حصه خو د مريي ددې ښځه د مېړه ده، لكن چونكه دا خو زوي دي پر ده خو آزاد سو كما مر، اوس نو بل شريك د مريي چي د ښځي ورور دي اختيار د عتق او سعايه لري.

قال القدوری رحمۃ اللہ علیہ " واذا شهد كل واحد من الشريكين على الآخر بالحرية سعى العبد لكل واحد منهما فى نصيبه موسرين كانا او معسرين عند ابى حنيفة رحمه الله"

او كه شاهدي ادا كړه هر يوه د دوو شريكانو د مريي پر هغه بل شريك د حريت د مريي، يعني هر يوه دا وويل چي تا خو خپله حصه آزاده كړې ده، يعني هغه بل شريك د دې څخه منكر وو نو مريي دي د دواړو مالكانو د هغه حصې قيمت ور برابر كړي، كه دا دواړه مالكان غنيان وي او كه مسكينان وي په نېز د ابو حنيفه رحمۃ اللہ علیہ.

وقالا ان كانا معسرين سعى لهما وان كان احدهما موسرا والآخر معسرا سعى للموسر ولم يسع للمعسر" او ياران رحمۃ اللہ علیہ وايي چي په صورت مذكوره كه دواړه مالكان مسكينان وه نو مريي دي د هر يوه په نصيبه كي كوښښ وكړي، او كه يوه غني وو او بل مسكين وو د غني د حصې قيمت دي مريي ور برابر كړي او د مسكين لپاره دي سعي نه كوی.

قال القدوری رحمۃ اللہ علیہ " ومن عتق عبده لوجه الله تعالى او للشيطان او للصنم عتق" او كه چا مريي آزاد كړی لپاره د رضا د خدای جل جلالہ او يا د شيطان لپاره او يا د بت لپاره نو مريي آزاد سو.

قال المصنف رحمۃ اللہ علیہ " وعتق المكره والسكران واقع" او آزادول د مجبوره كړي سړي او د مست نشه سړي واقع دي.

واذا اضاف العتق فى ملك او شرط صح كما يصح فى الطلاق" او كه يې نسبت وكړي د عتق و ملك ته يعني د بل چا مريي ته يې وويل كه زه ستا مالك سوم پر ما آزادېږه، او يايې وشرط ته نسبت وكړي يعني خپل مريي ته يې وويل كه تا پلاني كار وكړی پر ما آزاد يې صحيح دي يعني مريي آزادېږي د ملك په وخت كي، او يا د وقوع الشرط په وخت كي لكه چي نسبت د طلاق و ملك يا و شرط ته صحيح دي.

واذا خرج عبد الحربى من دارالحرب الينا مسلماً عتق" او كه راووتی د يو حربي كافر مريي د دار الحرب څخه زمونږ دارالاسلام ته نو هغه مريي آزاد دي.

واذا اعتق جارية حاملا عتقت وعتق حملها ، واذا عتق الحمل خاصة عتق ولم يعتق الام" كه سړي ازاده كړه مينځه چي حمل داره وه، دا آزاده سوه او حمل د نس يې هم آزاد سو، او كه يې آزاد كړی يوازي حمل هغه حمل خو آزاد سو، او مور يې نه ده آزاده.

و اذا اعتق عبده على مال فقبل العبد عتق فاذا قبل صار حرا و لزمه المال" او كه بادار آزاد كړی پر يو مال باندي يعني هر مال چي وي، او مريي قبول كړي آزاد سو يعني دستي او چي قبول يې وكړي آزاد خو سو او هغه مسمّی مال پر لازم دي.

ولو قال ان اديت الى الفا فانت حر صح ولزمه المال" او كه يې ورته وويل كه تا ماته زر روپۍ راكړې نو ته حر يې عقد صحيح او پر مريي مال لازم دي.

قال المصنف رحمة الله عليه" وصار ماذونا فان احضر المال اجبر الحاكم ولمولي علي قبضه وعتق العبد" او وه ګرځېدي مريي د بادار مجاز، يعني كه مزدوري كوي كه سوال وغيره، نو چي مريي هغه مشروط مال حاضر كړي او مولي نه اخستي نو حاكم د وخت دي مولي مجبور كړي پر اخستو د هغه مال او مريي آزاد سو.

قال القدوری رحمة الله عليه" وولد الامة من مولاها حر وولدها من زوجها مملوک لسيدها وولد الحرة من العبد حر" او عيال د مينځي د بادار د خو آزاد دي، او ولد د دې د مېړه د خوا مريي دي د مولي د دې، او ولد د حري ښځي د مريي څخه آزاد دي.

باب التدبير

باب ثابت دي په بيان كي د تدبير.

پوه سه:- چي تدبير په لغت كي و آخر ته د كار كتل دي او په شريعت كي هغه دي چي په كتاب كي به راسي.

قال القدوری رحمة الله عليه" اذا قال لمملوكه اذا مت فانت حر او انت حر عن دبر مني او انت مدبر او قد دبرتک فقد صار مدبرا" او كه بادار و مملوك ته خپل كه نر وي او كه ښځه وويل چي هر وخت چي زه مړ سوم نو ته آزاد يي، او يا يې داسي ورته وويله چي ته آزاد يي د شاګرځولو څخه زما يعني وروسته ترما، او يا يې ورته وويل چي ته مدبر يې، او يا داسي په تحقيق ماته مدبر كړي يې، نو په ټولو الفاظو سره مريي مدبر سو چي دا ټوله صريح الفاظ دي.

قال المصنف رحمة الله عليه" لايجوز بيعه ولاهبته وللمولى ان يستخدمه ولواجره" نو نه ده روا مولي ته خرڅول د مكاتب او نه وچاته هبه كول د ده، او بادار ته روادي چي طلب د خدمت څندي وكړي او يا يې د يو چا مزدور كړي.

وان كانت امة فله ان يطائها وله ان يزوجها" او مولي ته روا ده چي وطي وكړي ددې سره كه مدبره ښځه وه او يا يې بل سړي ته په نكاح وركړي.

قال" واذا مات المولى عتق المدبر من ثلث ماله ان خرج من الثلث" او چي بادار مړ سي نو آزاد ېږي مدبر د دريمي حصه څخه د مال د ده چي په ثلث كي دده قيمت ګنجائش وي.

فان لم يكن له مال غيره يسعى فى ثلثى قيمته" او كه مولي نور مال بېله دغه مدبر نه درلودي نو به مريي كوشش كوي چي دوه ثلثه د قيمت كي خپل ورثه وو ته د مولي برابر كړي.

وان كان على المولى دين يسعى فى جميع قيمته لغرمائه" او كه پر مولي پور باندي وو يعني په اندازه د قيمت د مدبر نو به مدبر كوشش كوي چي ټوله خپل قيمت وه پوره ورڅوته د مولي برابر كړي.

قال" وولد المدبرة مدبر" او ولد د مدبري مينځي هم تبعا مدبر دي.

قال المصنف رحمة الله عليه" وان علق المولى موته على صفة مثل ان يقول ان مت من مرضى هذا او فى سفرى هذا او من مرض

كذا فليس بمدبر ويجوز بيعه وان مات المولى على الصفة التى ذكرها عتق كما يعتق المدبر المطلق" او كه معلق كي يعني پيوند كي يو بادار مرګ خپل پر يوه صفت باندي مثلا داسي ووايي كه زه مړ سوم ددغه موجوده مرض څخه، او يا مړ سوم په دې سفر كي او يا زه په فلاني مرض مړ سوم، نو دا مريي مدبر نه دي او خرڅېده يې روا دي او كه مولى مړ سو پر هغه صفت او مال چي ده ذكر كړى وو، مريي آزاد سو لكه چي آزاد ېږي مدبر مطلق، يعني چي ببله قيده مدبر وي.

فائده مهمه:- د مخه تېره سوه چي بيع د مدبر ناروا ده، او په حديث كي د بخاري وغيره داسي راغلي دي چي ﷺ د يوه صحابي رضي الله عنه مدبر مريي خرڅ كړى، نو د هغه حديث مبارك محل هم دغه مدبر مقيد دي كذا ذكره شامي الحديث.

باب الاستيلاد

باب ثابت دي په بيان كي د استيلاد.

پوه سه:- چي استيلاد طلب ته د ولد وايي لكن په عرف كي د فقهاو رحمة الله عليه طلب دي د ولد د مينځي څخه.

قال القدورى رحمة الله عليه " واذا ولدت الامة من مولاها فقد صارت ام ولد له لايجوز له بيعها ولاتملكها وله وطئها واستخدامها واجارتها وتزويجها" او كه وزېږ وي مينځي د باداره څخه ولد كه نر وي او كه ښځه نو دغه مينځه ام الولد د بادار ګرځي چي حكم يې دادي

چي نه دي روا بادار ته يې خرڅول، او په ملك كي وچاته وركول يعني ببله خرڅولو لكه په هبه مثلا، او روا دي بادار ته يې وطي كول او خدمت په كول او د چا مزدوروول او په نكاح وچا ته وركول.

قال القدورى رحمة الله عليه " ولايثبت نسبه اى نسب ولد الامة منه الا ان يعترف به المولى فان جائت بولدبعد ذالك ثبت نسبه منه بغير اقرار فان نفاه انتفى بقوله" او نه ثابتېږي نسب د ولد د مينځي يعني د مولي څخه مګر هغه وخت چي بادار اقرار په وكي چي دا زما ولد دي، او كه مينځي پسله اقراره په اول ولد سره بل ولد يې راوړى د هغه نسب د بادار څخه دي ببله نوي اقراره، او كه مولي ولد ثاني د ځان څخه نفي كړي نو دده په قول نفي سو.

وان زوجها وجائت بولد فهو فى حكم امه" او كه بادار خپله مينځه وه يوه چاته په نكاح وركړه او دي د هغه مېړه څخه ولد راوړي نو ولد يې هم په حكم ددې دي يعني مريي د مور د بادار.

واذا مات المولى عتقت من جميع المال ولاتلزمها السقاية وللغرماء ان كان على المولى دين" او چي بادار د ام الولد مړ سي نو دا آزاد ده د تولې مال څخه د بادار او پر دې نه ده لازمه سعايه د پوره وړو د پاره كه يې پر بادار پور باندي وو.

قال المصنف-رحمة الله عليه- " واذا وطى الرجل امة غيره بنكاح فولدت منه ثم ملكها صارت ام ولودله" او كه چا وطي وكړې د مينځي سره د بل چا په نكاح سره يعني مولي ودې سړي ته خپل مينځه

په نکاح ورکړي وه، بيا مېړه مړسو د هغي مينځي يعني په هره طريقه چي وي نو هغه مينځه د ده ام ولد وګرځېده.

واذا وطی الاب وجارية ابنه فجائت بولد فادعاه يثبت نسبه منه وصارت ام ولد له وعليه قيمتها" او که وطي کړه پلار مينځه د زوي د ده، نو هغه د مينځي عيال پيدا سو، نو پلار دعوه وکړه چي دا عيال يې د ما څخه دي نو نسب يې د پلاره څخه خو ثابتېږي او دا مينځه ام الولد د پلار وګرځېده، او پر پلار لازم دي چي قيمت د مينځي به زوی ته ورکوي.

قال المصنف رحمه الله "وليس عليه عقرها ولاقيمة ولدها" او نسته پر واطي پلار باندي ولور د مينځي، او نه قيمت د ولد ددې.

قال وان وطی اب الاب مع بقاء الاب لم يثبت النسب منه وان كان الاب ميتا يثبت النسب من الاب" او که وطي کړه نيکه مينځه د لمسي سره د پلار د ژونده نو نسب يې نه ثابتېږي د نيکه يعني که يې څه هم دي دعوه وکړي، او که پلار د لمسي مړ وو بيايې نسب د نيکه څخه ثابتېږي لکه چي ثابتېږي نسب د پلار څخه.

قال المصنف رحمه الله "وان كانت الجارية بين شريكين فجائت بولد فادعاه احدهما ثبت نسبه منه وصارت ام ولدله وعليه نصف عقرها ونصف قيمتها وليس عليه شی من قيمة ولدها" او که وه مينځه په مابين کي د دوو شريکانو، نو دې راتګ وکړي په ولد سره يعنی لنګه سوه نو دعوه د هغه ولد يوه شريك وکړه نو نسب د هغه ولد خو د هغه څخه ثابت سو، او مينځه ام ولد د هغه شريك وه ګرځېده

او پر دغه شريك لازم دي نيم ولور د مينځي او نيمايي قيمت د دې، او نسته پر ده باندي هيڅ شی د قيمت څخه د ولد ددې.

قال القدوری رحمه الله "فان ادعياه معا ثبت نسبه منهما وكانت الامة ام ولد لهما وعلي كل واحد منهما نصف العقر تقاصى بماله على الاخر ويرث الابن من كل منهما ميراث ابن كامل وهمايرثان منه ميراث اب واحد.

او که چېري دعوه وکړه دواړو شريکانو يوځای په دغه ولد يوه ويله زما ولد دي بل ويل زما دي، نو نسب دده د دواړو شريکانو څخه ثابتېږي او مينځه ام الولد د دواړو ده، او پر هر يوه نيمی ولور د مينځي لازم دي چي هغه سره مجرا کړي يو د بله سره، او ميراث وړي زوي د هر يوه ميراث د کامل زوي، او دوي دوه د زوي ميراث دواړه د يوه پلار ميراث وړی.

قال" واذا وطی المولى جارية مكاتبة فجائت بولد فادعاه فان صدقه المكاتب ثبت نسبه منه وكان عليه عقرها وقيمة ولدها ولاتصير ام ولد له وان كذبه المكاتب فى النسب لم يثبت نسبه منه" او که وطي کړه مولي د مريي مينځه يعني چي ده مکاتب کړي وو نو هغه لنګه سوه او ولد يې پيدا سو، نو بادار د مريي دعوه وکړه چي دا ولد زما څخه دي نو يې مکاتب تصديق وکړي، نو نسب يې د مولي څخه د مکاتب ثابتېږي او پر مولي يې ولور سته، او قيمت د ولد هم پر سته، او دا مينځه ام ولد د هغه نه ګرځي، او که

مکاتب د مولي تکذيب وکړي په نسب کي نو نسب يې نه ثابتېږي د مولي څخه.

کتاب المکاتب

دا کتاب دي په بيان کي د مکاتب.

پوه سه:- چي د مکاتب صيغه د اسم مفعول ده د کتابة څخه مشتق ده د کتابت ډېري معناوي په لغت کي راغلي دي مناسب معنا دلته ليکل دي ولي په دې عقد کي هم د بادار او مکاتب قرار داد د دوي ترمابين نوشته کېږي تاچي د بلي ورځي د پاره وثيقه وي.

قال القدوری رحمة الله عليه" واذا کاتب المولی عبده او امته علی مال شرطه عليه وقبل العبد ذالک العقد صار مکاتبا" او که عقد د کتابت وکي يو بادار د خپل مريي سره، او يا د مينځي سره پر مال باندي هرقسم مال چي وي لکن جنس د مال او مقدار د هغه به معلوم وي، او بادار د دغه مال ورکړه پر مريي شرط وکړځوله يعني د حر والي د پاره او مريي هم دا عقد قبول کړي نو دی مکاتب سو.

قال المصنف رحمة الله عليه" ويجوز ان يشترط المال حالا ويجوز موجلا ومنجزاً" او روا دي چي مولي دا شرط کړي چي مال فی الحاله به راکوي، او دا هم روا دي چي مال مشروط په مدت وي يعنی درې مياشتي وروسته مثلا دا مال راکوي، او دا هم روا دي چي په قسطو به يې راکوي مثلا هره مياشت به سل روپی راکوي.

قال القدوري رحمة الله عليه" ويجوز کتابة العبد الصغير اذا کان يعقل الشراء والبيع" او روا دي مکاتب جوړول د کوچني مريي يعنی چي بالغ نه وي که دي داسي وو چي په شراء او بيع پوهېدي.

قال" واذا صحت الکتابه خرج المکاتب عن يد المولی" او چي کتابت صحيح سو نو ووتي مکاتب د لاس څخه د مولي يعني يدا حر سو.

ولم يخرج عن ملکه" او د ملکه څخه يې نه دي وتلي يعني رقبة مريي دي.

فيجوزله البيع والشراء والسفر" نو روا ده ورته رانيول د مينځي او خرڅول د مينځي او سفر کول ويو خوا ته.

ولايجوزله التزوج الا ان ياء ذن له المولی" او نه ده روا وده ته نکاح کول مګر نه که بادار اجازه ورته کړې وه.

ولايهب ولايتصدق الا بالشيئ اليسر" او نه به هبه کوي مکاتب او نه به خيرات کوي، مګر نه په يو لږه شی سره چي په عرف کي رواج وي. ولا يتکفل" او نه به مکاتب د چا د پور ضامن کېږي.

فان ولد له ولد من امة له دخل فی کتابته وکان حکمه مثل حکم ابيه وکسبه له" نو که وزېږېدي ده لره ولد يعني مکاتب چي کوزده يې په اجازه د مولي کړې وه لکن ولد د مينځي څخه وو نو هغه ولد هم په کتابت کي د مولي داخل سو، او حکم د ولد لکه حکم د پلار دده دي او کسب د ولد دده د پلار دي.

قال القدوری رحمۃ اللہ علیہ " فلو زوج المولی عبده من امته ثم کاتبهما فولدت منه ولد دخل فی کتابتها وکان کسبه لها"
او که چېرې په نکاح ورکړه بادار و مريي ته خپل مينځه، او وروسته يې دوارړه مکاتب کړه نو د مينځي د مريي مېړه څخه ولد پيدا سو، نو هغه ولد د مور په کتابت کي داخل دي او کسب د زوی د مور دي.

قال المصنف رحمۃ اللہ علیہ " ولو وطئ المولی مکاتبته لزمه العقر وان جنٰی علیها او علی ولدها لزمته لجناية ولو تلف مالالها غرمه" او که وطي کړه بادار خپله مکاتبه مينځه نو پرده لازم دي ولور، او که يې کوم جنايت وکړي پر دې يا پر ولد د دې پر ده لازم دي تاوان د جنايت، او که يې تلف کي مال د دې نو تاوان بې ورکوي.

قال" واذا اشتری المکاتب اباه او ابنه دخل فی کتابته"
او که رانيوي مکاتب مريي خپل پلار يا زوي يعني هغه بيا د بل چا مريان وه د ده سره په مکاتب والي کي داخل سوه.

وان اشتری ام ولده مع ولدها دخل ولدها فی الکتابة ولم يجزله بيعها" او که يې چېرې رانيول دغه مکاتب مور د ولد د ده، سره د ولد د دې، نو ولديې په کتابت کي داخل دي، او مکاتب ته نه ده روا چې دغه مينځه خرڅه کړي ولي د ده ام الولده.

قال القدوری رحمۃ اللہ علیہ " وان اشتری ذا رحم محرم منه لا ولادله لم يدخل فی کتابته عند ابی حنيفة رحمۃ اللہ علیہ " او که رانيوي مکاتب خپل قريب نسبي چې محرم يې هم وو لکه ورور، خور، وغيرهما مګر د

ولاد علاقه نه وه د دوي ترمابين، يعنی نه يې پلار وو او نه يې زوي، نه داخلېږي هغه په کتابت کي د مکاتب په نېز د امام اعظم رحمۃ اللہ علیہ.

قال القدوری رحمۃ اللہ علیہ " واذا عجز المکاتب عن نجم نظر الحاکم فی حاله فان کان له دين يقبضه او مال يقدم عليه لم يعجل بتعجيزه و التظره عليه اليومين او الثلاثة وان لم يکن له وجه وطلب المولی تعجيزه عجزه الحاکم ونسخ الکتابة، وقال ابو يوسف رحمۃ اللہ علیہ لايعجزه حتی يتوالی عليه نجمان"
او که چېرې عاجزه سو مکاتب د يوه کښته څخه نو فکر دي وکړي حاکم په حال کي دده، نو که د مکاتب پر يو چا پور باندي وو چې د ځندي اخستي، او يا يو مال د مکاتب را روان وو، نو تلوار دي نه کوي حاکم په حکم کي د عجز د هغه، او انتظار دي ورته وکړي دوې ورځې يا دري ورځې، او که و مکاتب لره هيڅ وجه د روپو د لاري نه وه، او بادار يې د حاکم څخه طلب د حکم د تعجيز وکړي نو حاکم دي حکم په عجز د ده صادر کړي، او کتابت دي ور فسخ کړي، او امام ابو يوسف رحمۃ اللہ علیہ وايي چې حاکم دي تر هغو حکم د عجز نه صادره وي چې پرده دوه نجم او کښته پوره نسي.

قال القدوری رحمۃ اللہ علیہ " واذا عجز المکاتب عاد الی حکم الرق وکان مافی يده من الاکتساب لمولاه" او که چېرې مکاتب عاجزه سو د اداء څخه د مال الکتابت نو بېرته راګرځي وه حکم ته د رق او مريي توب، يعني يدا او رقبة دوارړه مريي سو، او هغه شي چې د ده په لاس کي وي د ګټلي مال څخه هغه د مولي دي.

قال" فان مات المكاتب وله مال لم تنفسخ الكتابة وقضى ما عليه من اكتسابه وحكم بعتقه في آخر جزء من اجزاء حياته وما بقي فهو ميراث لورثته ويعتق اولاده"
او كه مړ سو مكاتب او ده لره مال وو، يعني كافي دده د كتابت يا بالاتر هغه نو كتابت يي نه فسخ كېږي بلكه ادا دي كړه سي هغه پور د مولي چي پر ده باندي دي د ګټلي مال څخه د ده، او حكم دي وكړه سي د حاكم د خوا په آزادۍ د دغه مكاتب په آخري جز كي د ژوند د ده، او هغه پاته روپۍ د مكاتب ميراث دي د ورثه وو د پاره، او آزاد سوه هغه اولاد د ده چي په كتابت كي د ده سره داخل وه.

قال المصنف رحمه الله" وان لم يترك وفاء وترك ولدا مولودا في الكتابة يسعى في كتابت ابيه على نجومه فاذا ادى حكمنا بعتق ابيه قبل موته وعتق الولد" او كه مكاتب دونده مال نه وو پرې ايښي يعني چي اداء د كتابت د ده دي په وكړه سي او پاته وو يو عيال چي د پلار د كابت په وخت كي زوكړي وو نو هغه ولد دي كوشش وكړي په اداء كي د كتابت د پلار پر كښتو د پلار پس چي هغه ولد ادا كړي پور د پلار د كتابت نو موږ حكم كوو په عتق سره د پلار د ده د مخه تر مرګ او حكم كوو په عتق سره يعني چي د پلار سره په كتابت كي داخل وو.

قال القدوري رحمه الله" وان ترك ولدا مشترى في الكتابة قيل له اما ان تودى مال والكتابة حالا و الاردت في الرق"
او كه مكاتب مړ سو او دده يو ولد پاته سو چې ده په وخت كي د كتابت

رانيولي وو، نو دي د هغه زوی ته وويل سي چي يا به ته مال د كتابت د پلار دستي تحويلوې او كه يې نه كې تحويل ته مريي توب ته ورګرځي.

واذا كاتب المسلم عبده على خمر او خنزير او على قيمته نفسه فالكتابة فاسدة" او كه يې مكاتب كړي مسلمان خپل مريي پر يو مقدار د شرابو او يا سركوزي، او يا پر قيمت د ده، نو كتابت يې فاسد دي، ولي چي شراب او سركوزي خو مال نه دي په حق كي د مسلمان او قيمت د مريي خو مجهول دي.

فان ادى الخمر والخنزير عتق ولزمه ان يسعى في قيمة نفسه ولاينقص عن المسمى ويراد عليه" نو هغه مكاتب وده ته راوړه شراب او يا سركوزي، نو مكاتب خو آزاد سو او پر ده لازمه ده چي مسمى به كوي په قيمت كي د ځان، او تر مسمى دي نه كموي او تر مسمى زياتېږي.

وان كاتبه على حيوان غير موصوف فالكتابة وجائزة وان كاتبه على ثوب لم يسم جنسه لم يجز وان اداه لم يثق"
او كه يې مكاتب كي مريي پر يو حيوان يعني يا آس يا خر يا غويي مثلا نو كتابت يې روا دي كي څه هم صفت د حيوان نه وي بيان كړي، او كه يې مكاتب كړي مريي پر يوه جامه چي جنس يې نه كړي معلوم چي يا په تترون او يا پاج وغيرها نو كتابت يې نه دي روا، او كه يې نفس ثوب يعني توكر، ورته راوړي مريي نه آزاديږي.

قال المصنف رحمه الله" وان كاتب عبديه كتابة واحدة بالف درهم فان اديا اعتقا وان عجز رد الى الرق وان كاتبهما على

ان كل واحد منهما ضامن عن الاخر جازت الكتابة وايهما ادى عتقا ويرجع على شريكه بنصف ما ادى" او كه يو مولي مكاتب كړه دوه مريان په يوه عقد د كتابت په زر روپۍ نو كه دواړو ادا كړي هغه مبلغ دواړه آزاد سوه، او كه دواړه عاجزه سوه دواړه و مريي توب ته ګرځي، او كه يې داسي عقد ورسره كړي وو چي هر يو ضامن دي د هغه بل روا دي كتابت يې نو هر يوه چي هغه زر روپۍ ادا كړي دواړه ازاد سوه او هغه اداكوونكى به رجوع كوي پر شريك باندي چي هغه بل مريي دي په نيمي د زرو روپو چي ۵۰۰ روپۍ دي.

قال القدوری رحمۃ اللہ علیہ" واذا عتق المولى مكاتبه عتق بعتقه وسقط عنه مال الكتابة" او كه پس له كتابته بادار آزاد كړي مريي چي مكاتب وو يعني مفت يې ازاد كړي نو هغه مكاتب ازاد ېرې د مولي په ازادولو سره، ولي چي ملك د مولى خو پرده سته، او ساقطه سوه د مكاتبه څخه هغه مال چي مولى په كتابت كي پر ده شرط كړى وو، ولي خو دى په عتق سره حر سو.

قال القدوری رحمۃ اللہ علیہ" واذا مات مولا المكاتب لم تنفسخ الكتابة وقيل له اد المال الى ورثة المولى على نجومه فان اعتقه احد الورثة لم ينفذ عتقه وان اعتقوه جميعا عتق وسقط عنه مال الكتابة" او كه مړ سو مولى د مكاتب، كتابت يې نه فسخ كېږي، او مكاتب ته دي وويل سي چي وركړه بدلي د كتابت و ورثه وو ته د مولى، او كه هغه آزاد كړي يوه د ورثه وو څخه نه چلېږي

عتق د هغه، او كه ټوله ورثه وو جميعا آزاد كړي نومكاتب ازاد سو او مال د كتابت ځندي ساقط سو.

قال المصنف رحمۃ اللہ علیہ" واذا كاتب المولى ام ولده جاز وان مات المولى سقط عنها مال الكتابة" او كه مكاتبه كړه مولى ام الولد خپله كتابت يې روا دي، او كه مولى مړ سو نو ساقط سو د دې څخه مال د كتابت ولي خو ام الولد په مرګ د مولى ازاده سوه.

وان ولدت مكاتبته منه فهى بالخيار ان شائت مضت على الكتابة وان شائت عجزت نفسها وصارت ام ولده" او كه لنګه سوه مكاتبه مينځه يعني چي د مولى سره يې عقد د كتابت كړې وو، د باداره څخه لنګه سوه نو دا مينځه اختيار لري كه يې خوښه وي پر هغه كتابت دي ولاړه سي يعني بدل د كتابت دي ادا كړي او ځان دي آزاد كړي، او كه يې خو ښه وي ځان دي عاجزه كړي، نو به دا ام لولد د بادار وګرځي يعني وروسته تر مرګ د بادار به ازاده سي.

قال" وان كاتب مدبرته جاز" كه مولى مكاتب كړه هغه مينځه چي ده د مخه مدبره كړې وه يعني ورته ويلي يې وه چي پس له مرګه زما ته آزاده يې نو دا عقد د كتابت روا دي.

فان مات المولى ولا مال له وغيرها، كانت بالخيار بين ان تسعى فى ثلثى قيمتها او جميع مال الكتابة" كه بادار مړ سو نو دې لره اختيار دي كه په دوه ثلثه قيمت كي خپل سعي كوي د ورثه وو د پاره، او كه په ټول مال كي د كتابت، نو په اول صورت كي به په تدبير آزاده سي او په دوهم صورت كي به په كتابت آزاده سي.

قال" وان دبر مكاتبه صح التدبير ولها الخيار ان شائت مضت على الكتابة وان شائت عجزت نفسها وصارت مدبرة"
او كه مولى مدبره كړه هغه مينځه چي ده د مخه د دې سره عقد د كتابت كړي وو، نو دا تدبير صحيح دي نو د دې اختيار دي كه يې خوښه وي د كتابت پر لار دي ولاړه سي، او كه يې خوښه وي ځان دي عاجزه كړي، او دا به د مولى مدبره مينځه وګرځي،

وان مضت على كتابتها فمات المولى ولامال له فهى بالخيار ان شائت سعت فى ثلثى مال الكتابة او ثلثى قيمتها عند ابى حنيفة رحمه الله. نو كه دا پر لار د كتابت باندي روانه سوه نو په دې مابين كي يې مولى مړ سو، او مال يې نه درلودي يعني ببله دغي مينځي نو دا بيا اختيار لري كه يې خوښه وي سعي دي وكړي په دوو حصو كي د مال د كتابت او يا په دوه ثلث كي د قيمت خپل يعني د پاره د ورثه وو په نېز د امام اعظم رحمه الله.

قال القدورى رحمه الله" وان مات المولى عتق مدبروه وامهات اولاده و ولائهم له" او كه مولى مړ سو ازاد سوه ټوله مدبر مريان د ده، او ټولي مينديي د اولادو مينځياني، او ميراث يې د ټولو د مولى دي يعني اولاثم ينتقل الى ورثة المولى.

ومن ملك ذارحم محرم منه عتق عليه وولائه له" او كه څوك مالك سو د داسي مريي چي نسبي قرابت يې درلودي او نكاح يې هم حرامه وه نو پرده ازاد سو، او ميراث يې هم د ده دي.

قال رحمه الله" واذا تزوج عبد رجل امة الاخر فاعتق مولى الامة وهى حامل من العبد عتقت وعتق حملها و ولاء الحمل لمولى الام لاينتقل عنه ابدا" او كه په نكاح كړه مريي د يو سړي مينځه د بل سړي يعني په اجازه د مالكانو، وروسته ازاده كړه مينځه خپل بادار، مينځه خو ازاده سوه او حمل يې هم آزاد سو يعني په تبع د مور او ميراث د مولى د حمل څخه د مور دي، او نه نقل كېږي د ده څخه ابدا لكن دا حكم هلته دي چي تر عتق د مينځي وروسته تر شپږ مياشتي كم پيدا سي.

قال" فان ولدت بعد عتقها لاكثر من ستة اشهر ولدا فولائه لمولى الام فان اعتق الاب جر ولاء ابنه وانتقل من مولى الام الى مولى الاب" او كه چيري دغه مينځه پسله عتقه پر اكثر تر شپږ مياشتي يې ولد راوړي نو كه ازاد كړه سو پلار د ولد يعني مولى الاب دا خپل مريي هم ازاد كړي نو دغه پلار چي ازاد سو كش يې كي ميراث د زوي او نقل يې كړي دغه ميراث د مولى خځه د مور و مولى ته د اب.

قال القدورى رحمه الله" ومن تزوج من العجم بمعتقة العرب فولدت له اولادا فولاء ولدها لمواليها عند ابى حنيفة ومحمد رحمهما الله وقال ابو يوسف رحمه الله يكون ولاء اولادها لابيهم لان النسب الى الابا" او كه په نكاح كړه يوه حر عجمي، عجم ماسوى ته د عربو وايي" يوه مينځه چي هغه معتقه د يو عربي وه، نو دي بنځي وزيږول ډېر اولادونه د هغه عجمي څخه نو ميراث د دې مينځي د اولادو هغه چاڼه دي چي دا مينځه يې ازاده كړې ده، يعنى د هغه عرب مالك

په مذهب کي د امام اعظم رحمة الله عليه او امام محمد رحمة الله عليه ، او امام ابو يوسف رحمة الله عليه وايي چي ميراث د اولادو د دې نښځی د پلار دي ولي چي نسب خو د پلار و خواته دي.

قال" واذا اعتق المكاتب عبده على مال لم يجز واذا وهب على عوض لم يصح" او که چېري ازاد کي عبد مکاتب يو مريي چي ده په وخت د کتابت رانيولي وو په مال باندي، نو دا عقد نه دي صحيح او که يې چاته و بخښي په شرط د عوض دا هبه نه ده صحيح.

وان كاتب عبده جاز" که مکاتب مريي خپل مريي مکاتب کي روا ده

فان ادى الثانى قبل ان يعتق الاول فولائه للمولى الاول" او که ادا کړي يعني بدل د کتابت دوهم مريي د مخه تر دې چي آزاد سوی وو اول مريي يعني پر هغه اول مريي بدل کتابت د مولی باندي وو، نو ميراث د دوهم مريي اول مولی لره دي.

وان ادى الثانى بعد عتق المكاتب الاول فولائه له" او که چېري ادا کي بدل الکتابت دوهم مکاتب وروسته تر عتق د مکاتب اول نو ميراث د ثاني مکاتب د هغه اول مکاتب دي.

كتاب الولاء

دا کتاب دي په بيان کي د احکامو د ولاء.

پوه سه:- چي د ولاء لفظ په زور د واو دي، او مصدر يې ولايت هم په زور د واو دي، د ولايت معنی په لغت کي کهمك او محبت ده او په شرعه شريفه کي هغه ميراث ته وايي چي د طرف څخه د مريي پسله

مرګه د ده وه بادار ته د ده ورکړه کېږي چي بيان به يې په متن کي راسي که خدای جل جلاله کوله.

قال" اذا اعتق الرجل مملوكه فولائه له وكذالك المرئة تعتق" که يو نر ازاد کړي مريي خپل که، مريي نر او کهٔ مينځه وي که يې عتق په مال سره وي او که بېله ماله نو ميراث د هغه مريي معتق لره دي (لقوله عليه السلام الولاء لمن اعتق) په هغو شرطو چي په علم ميراث کي يې بيان مجود دي او دغه رنګه حکم دي د نښځي چي مريي ازاد کړی.

قال القدورى رحمة الله عليه" فان شرط انه سائبة فالشرط باطل والولاء لمن اعتق" او که مريي دا شرط کي چي زه به سائب يم، يعني ميراث زما تاته نسته نو دا شرط باطل دي، ولاء او ميراث د هغه چا دي چي مريي ازاد کړي وي يعني مولی، ولي دا شرط معارض د هغه حديث دي چي (الولاء لمن اعتق).

قال" واذا ادى المكاتب عتق وولائه لمولاه وكذالك ان اعتق بعد المولى فولائه لورثة المولى" او که مکاتب ادا کي يعني بدل الکتابت نو آزاد سو، او ميراث يې د بادار دي، او داغه رنګه که مريي آزاد سو پسله مرګه د مولی يعني کتابت يې وروسته ادا کړي نو ميراث يې د ورثه وو د مولی دي.

قال القدورى رحمة الله عليه" وولاء العتاقة تعصب" او ميراث د عتاقه ګرځول دي د ښکانه سړي چي مولی عتاقه دي قريب د مريي لکه عصبه نسبي.

فان كان للمعتق عصبة من النسب فهو اولى منه" نو كه چيري وه مريي لره عصبه د نسب د خوا څخه نو هغه عصبه نسبي اولى دي تر مولى العتاقه.

پوه سه:- چي عصبه هغه څوك دي چي د اصحاب الفرائض د خوا يعني چي معيني حصې په قرآن او حديث كي لري، كه څه ميراث پاته سو نو و عصبه ته وركول كيږي، او يا اصحاب الفرائض بيخي نه وه نو ميراث عصبه ته وركړه كيږي، او عصبه دوه قسمه دي عصبه نسبي لكه اكا د اكازوي وغيره، او عصبه سببي چي مولى عتاقه، نو كه مريي چي معتق د يو چا وو مړ سو يو اكا يې پاته سو او بل يې مولى العتاقه پاته سو نو ميراث يې ټوله د اكا دي، او كه اكا وغيره عصبات نسبي نه وه نو ميراث يې د هغه بادار دي چي دي يې ازاد كړي وو.

پوه سه:- چي مباحث د ميراث او د زوى الفروض او د عصبات نسبي او سببي بلكه نورى مسائلي د ميراث به د قدوري په اخير كي راسي او د دې شرحي د دوهم ټوك په آخر كي به راسي انشاء الله تعالى، ولي د دې ټوك اختتام به پر كتاب الجنايات باندي وسي انشاء الله، او د كتاب الجنايات څخه به دوهم ټوك د نكاح قدري شروع سي كه د خداى ﷻ رضا وه.

قال" فان لم تكن له عصبته من النسب فميراثه للمعتق" او كه نه وه معتق لره چي مړ سو عصبه نسبي نو ميراث د ده مولى عتاقه لره دي.

قال المصنف رحمه الله" فان مات المولى ثم مات المعتق فميراثه لبنى معتقه دون بناته" او كه مړ وو مولى عتاقه وروسته معتق مريي مړ سو يعني چي اصحاب الفرائض او عصبه نسبي نه وي، نو ميراث يې د معتق زامنو لره د مولى عتاقه دي، او لونړي يې حق نه پكښي لري.

قال" وليس للنساء من الولاء الا ما اعتقن او اعتق من اعتقن اوكاتبن او كاتب من كاتبن او دبرن او دبر من دبرن" او نسته ښځو لره د ميراثه څخه د مريي يا مينځي حيسه، مګر د هغه مريي چي دوي په خپله آزاد كړي وي، او يا هغه چا ازاد كړي وي چي ښځو يا هغه ازاد كړي وي مثلا ښځي يو مريي ازاد كړي او هغه بيا يو مريي رانيوي او بيايي ازاد كي او د ښځي ازاد كړي مريي مړ سو وروسته يې هغه بل مريي مړ سو او نسبي قريبان يې نه درلوده نو ميراث يې هغي ښځي لره دي، او يا دوي په خپله مكاتب كړي وي، يا هغه چا چي دوي مكاتب كړي هغه مكاتب كړى وي او يا ښځو مدبر كړي وي، او يا د ښځو مدبر مدبر كړي وي.

سوال:- د مدبري ښځي د مدبر ميراث ودې ته رسيده څرنګه ممكنه به وي ولي چي مدبر مريي خو هغه مريي بولي چي د مولى تر مړګ وروسته آزاديږي نو مينځه چي مريي لري او هغه دا مريي مدبر كړي نو دا مريي خو هلته ازاديږي چي باداره ښځه مړه سي، نو اوس دغه مدبر چي بل مريي رانسي او هغه هم خپل مريي مدبر كي نو چي دوهم مولى مړ سي خو دده مريي ازاديږي نو دې دوهم مدبر لره چي عصبه نسبي نه وي

نو هغې ښځي ته يې څرنګه ميراث رسيږي ولي هغه خو د وخته مړه ده؟

ځواب:- د دې مسئلې صورت دادي چې يوې ښځي خپل مريي مدبر کړي وروسته دا مرتده سوه او دار حرب ته ولاړه، او قاضی په سبب سره د لحاق ددې په دار حرب سره حکم د مړينې د دې جاري کي نو هغه د دې مدبر خو ازاد سو، وروسته دا ښځه بيرته مسلمانه سوه او دار اسلام ته راغله نو هغه مريي چې د دې د لحاق په وخت کي ازاد سوي وو هغه يو مريي رانيولي وو او هغه يي مدبر کړي اخر د ښځي اصلی مدبر مړ سو نو د هغې مدبر خو د مخه لا ازاد سوي وو، اخر دا دوهم مدبر هم مړ سو او اقربا يې نسبي نه درلوده نو ميراث د دغه مريي هغې اولي ښځي لره دي، کذا فی جميع کتب الفقه والميراث.

قال المصنف رحمه الله "او جر ولاء معتقهن او معتق معتقهن" او يا راکش کړی ښځي ميراث د معتق خپل او يا د معتق د معتق د دوي، و قد مر صورة جر الولاء فعليها قياس هذا.

قال المصنف رحمه الله "واذا ترک المولی ابنا و اولاد ابن آخر فميراث المعتق للابن دون بنی الابن لان للکبير اولی" او که پرښنول مولی يعني مولی چې مړ سو يو يې زوي پرښنو، او نور اولاد وه د بل زوي يعني لمسيان، چې هغه زوي هم مړ وو، نو ميراث د مريي معتق د ده د زوي دي، نسته ميراث زامنو لره د هغه بل زوي ولي ولاء خو مشر لره ده ولي هغه مړ مولی ته نزدې دي، علی قياس العصبات النسبيه کما سيأتی ان شاء الله تعالی.

قال القدوری رحمه الله "واذا اسلم رجل علی يد رجل و والاه علی ان يرثه ويعقل اذا جنی، او اسلم علی يد غيره وولاه فالولاء صحيح" او که اسلام راوړي يو سړي چې کافر وو پر لاس ده يوه بل مسلمان سړي يعنی د مسلمان په نصيحت او کوشش سره هغه کافر مسلمان سو، او بيا يې داسي عقد ورسره وکړي چې نو مسلم وه هغه بل مسلمان ته وويله چې زما ميراث به ستا وي يعني که زه مړ سوم او زما ديت او تاوات به ته ورکوي که ما يو جنايت وکړي، او يا اسلام پر لاسه د يوه سړي راوړي وو، او عقد مولات يې د بل سړي سره وکړي، فالولاء صحيح يعني دا عقد صحيح دي، او په نبز د د نرو امامانو رحمه الله عقد موالات نه دي صحيح او هيڅ شئ نه دي، او که دغه نوي مسلم مړ سي او هيڅ قريب د ذوی الفروض او عصباتو څخه نه لري نو مال دې په بيت المال کي کښيږي دي او مولی موالات ته دې نه ورکوي و دلائل فی الکتب المبسوطه.

قال المصنف رحمه الله "وعقله علی مولاه فان مات ولا وارث له فميراثه للمولی وان کان له وارث فهو اولی منه" او ديت، که ده څوک په خطا کي مړ کړي، او داغه رنګه د جناياتو نور تاوان يې پر مولی د موالات دي، او دغه نو مسلم که مړ سو او وارث يې نه درلو دي نو ميراث يې د مولی د موالات دي، او که نو مسلم لره وارث وو د ذوی الفروض څخه او يا د عصباتو څخه نو هغه وارث اولی دي تر مولای موالات کما قال فهو اولی منه.

قال المصنف رحمه الله "وللمولى ان ينتقل عنه بولائه الى غيره ما لم يعقل عنه فاذا عقل عنه لم يكن له ان يتحول بولائه عنه الى غيره، وليس لمولى العتاقة ان يوالى احدا" او روا ده نو مسلم مولى لره چې نقل کړي خپل موالات د هغه اول مولى څخه و بل چا ته يعنى د بل چا سره عقد د موالات وکړي تر هغو پورې چې اول مولى د ده يو تاوان د جنايت د ده نه وي ورکړي، او که مولى اول د ده د بعضو جناياتو تاوان ورکړي وو بيانو نو مسلم د بل چا عقد د موالات نسي کولای، او نسي کولای چې مريي چې چا ازاد کړي وي چې دي دي ولاء د عتاقت وبل چا ته نقل کړي هر څوك چې وي.

دروښ وايي:- چې په لوی توفيق د خداي ﷻ اوله حصه د قدوري چې د کتاب النکاح څخه شروع سوې وه پر کتاب الجنايات باندې ختم سوه په ورځ د چهار شنبې شهر المبارك رمضان (۱۴۲۳ ه ق) د کوټې په ښار کې فلله الحمد والثناء والتوفيق الحسن، او دوهمه حصه د کتاب الجنايات څخه شروع کيږي تر آخر پورې د قدروي ان شاالله عزوجل، او د عباداتو حصه ډير د مخه دروښ شرح پر کړی وه.

او که جل مجده توفيق راکړي د کتاب البيوع د حصې او د کتاب الشفع د حصې په دوه جلد کې به شرح و شائقينو ته وړاندې سي چې مجموع قدوري به په پنځه جلده کې شرحه سي ان شاء العزيز وما ذالك على الله بعزيز والحمد لله اولا وثانيا والصلوة والسلام على نبى محمد وعلى آله وصحبه ابداً وسرمداً.

اعلان

چون که قاري فضل الحق صاحب خوش نويس عزيز په نوشته کې ددې حصې ډيره عرق ريزي کړې ده او مصرف مالي يې هم پکښې کړي دي لهذا دروښ د دې حصې د طباعت او کتابت ټوله حقوق و قاري صاحب مذکور ته هبه کړي دي، هيڅ کتاب فروش ته حق د کتابت او طباعت د دې حصې نسته البته په تجارتي مراعات هرڅو عدده چې مطلوب وي د نامبرده د مکتبې څخه دي يې خريداري کوي، وما علينا الا البلاغ.

محمد عبيدالله نقشبندي کندهاري ايوبي غفرله الباري.

مهم زېرى

د مفسر العصر حضرت ايوبي مدظله العالى تفسير **تفسير ايوبي** پر پنځلسو (۱۵) جلدو مشتمل ډېر ژر به د علم تفسير تشنه ګانو ته وړاندې سي انشاء الله العزيز

الناشر:- مکتبة القراءت والتجويد

نمبر	مضمون	مخ
شمار	د نکاح قدوري د ضرورت په اړه	۳
۱	ښهانه فائده	۵
۲	مقدمه	۷
۳	کتاب النکاح	۱۲
۴	تبصره	۱۶
۵	واقعه	۱۹
۶	تنبیه	۲۸
۷	احتیاط	۲۹
۸	دروښ وایي	۳۳
۹	دروښ وایي	۳۶
۱۰	فائده	۳۹
۱۱	فائده	۴۱
۱۲	فائده	۴۵
۱۳	دروښ وایي	۵۶
۱۴	پوښتنه او ځواب	۶۰
۱۵	دروښ وایي	۶۲
۱۶	مسئله	۶۶
۱۷	سوال ځواب	۷۰
۱۸	پوه سه	۷۶
۱۹	تجربه	۷۸
۲۰	دروښ وایي	۸۲
۲۱	پوه سه	۸۹
۲۲	سوال ځواب	۹۵
۲۳	تنبیه	۹۸
۲۴		

نمبر	مضمون	مخ
۲۵	کتاب الرضاع	۱۰۲
۲۶	حکایت	۱۱۵
۲۷	کتاب الطلاق	۱۱۸
۲۸	فائده سنیه	۱۲۵
۲۹	فائده دروښ وایي	۱۳۱
۳۰	سوال ځواب	۱۳۴
۳۱	فائده مهمه	۱۴۴
۲۳	المصد الاول	۱۶۱
۳۳	المقصد الثاني	۱۶۲
۳۴	المقصد الثالث	۱۶۲
۳۵	فائده سنیه	۱۶۶
۳۶	فرعه	۱۶۷
۳۷	باب الرجعة	۱۶۸
۳۸	کتاب الایلاء	۱۸۳
۳۹	کتاب الخلع	۱۹۳
۴۰	کتاب الظهار	۲۰۳
۴۱	فائده سنیه	۲۱۴
۴۲	سوال ځواب	۲۲۴
۴۳	ابیات متفرقه	۲۲۵
۴۴	کتاب اللعان	۲۲۶
۴۵	تفریع	۲۲۷
۴۶	کتاب العدة	۲۴۰
۴۷	فرعه	۲۵۵

نمبر	مضمون	مخ
۴۸	سوال ځواب	۲۵۹
۴۹	کتاب النفقات	۲۶۵
۵۰	سوال ځواب	۲۸۳
۵۱	کتاب الحضانة	۲۸۵
۵۲	د دروښ ذاتي فيصله	۲۸۹
۵۳	کتاب العتاق	۲۹۸
۵۴	واقعه	۲۹۹
۵۵	باب التدبير	۳۰۶
۵۶	فائده مهمه	۳۰۸
۵۷	باب الاستيلاد	۳۰۸
۵۸	کتاب المکاتب	۳۱۲
۵۹	کتاب الولاء	۳۲۴
۶۰	اعلان	۳۲۹

اعلان

چونکه قاری فضل الحق صاحب خوشنویس عزیز
یه نوشته کی دد حصی دیره عرق ریزی کړیده، او مصرف
مالی فی هم پکښی کړی دی لهذا دا ورلیش دد حصی د طباعت
حقوق تولـه وقاری صاحب مذکورته هبه کړی، هیڅ کتاب فروش ته
دنامبرده دمکتبی حصی نشته" البته په تجارتی مراعات هرڅوعدده چی مطلوب
کوی"

د حضرت علامه "خیل الاسلام وقاری" چی "دمکتبة القراءت
والتجوید" پر نامه ئی لیکلی دی قلمدی
تل روان اوګرندی وی.

خو فضل الحق حقانی کوټه
۱۸-۵-۲۰۰۳ء

دعلم تجوید اوقراءت دمشهور و اومعتبر وکتابونو لویه اداره

دمکتبة القراءت نوی مطبوعات

جمال القرآن	پښتو/ وفارسی مع تشریحات جدیده
فوائد مکیّه	پښتو/ وفارسی مع تشریحات جدید
مقدمة الجزریّه	پښتو/ وفارسی مع تشریحات جدیده
القول السدید	پښتو مع الحواشی جدیده
هدایة المستفید	پښتو مع الحواشی وتشریحات جدیده
مفتاح التجوید	پښتو/ وفارسی مع تشریحات جدیده
خلاصة التجوید	پښتو مع تشریحات جدیده
تسهیل التجوید	پښتو مع تشریحات جدیده
تیسیر التجوید	پښتو (زیرطبع) مع تشریحات جدیده
تجوید محمدی	پښتو مع تشریحات جدیده
معارف التجوید	پښتو مع رسم قرآن مجید
مقدمة التجوید	پښتو (زیرطبع) مع تشریحات جدیده
امانیه شرح شاطبیّه	پښتو دوٌ جلده مکمله شرح (زیرطبع)
تلخیص الطبع فی اجرام السبع	پښتو سره د (حقّ النفع) جدیده

زمونږ بنکلی اوسنی مطبوعات

○ آسانه فقه پښتو	○ مطوّل نوی کتابت
○ فوائد مکیّه پښتو	○ نورالایضاح جلده ۳
○ ارشاد الصرف فارسی	○ قدوری صلوٰة
○ تعلیم العقائد پښتو	○ قدوری نکاح
○ تعلیم الاسلام پښتو	○ شروط الصلوٰة
○ نماز پښتو خورد وکلان	○ تیسیر التجوید
○ ایساغوجی عربی نوی کتابت	○ تجویدونه
○ میر ایساغوجی عربی نوی کتابت	په هره ژبه سره دتجوید ونو مرکز

مکتبة القراءة والتجوید کانسی روډ شالدره

اسانہ فقہ

د امام ابوحنیفہ رحمہ اللہ د مذہب
یو معتمد کتاب

تالیف

مولانا شفیق الرحمٰن الندوی

پښتو ژباړه

قاری فضل الحق حقانی